د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
د علومو اکاډمي
معاونیت بخش علوم بشری
مرکز زبانها و ادبیات
د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

# کابل

په دې ګڼه کې:

- "مخ" او "مخامخ"؛ یو یا دوه جلا مفاهیمه
- سبک پېژندنه
- په لیکوالۍ او څېړنه کې د اېډېټر او اېډېټ ارزښت
- په پښتو داستاني ادب کې د لهجوي ویيونو د استعمال ...
- محمد ګل خان مومند او د پښتونولۍ په اړه یې د علمي ...
- په متني تحقیق او تنقید کې د علامه رشاد ونډه
- په ورځني ژوند کې د ژبې ارزښت او اړتیا

او نور...



- درې میاشتنۍ
- دریيمه دوره
- کال: ۱۳۹۹ لمریز
- د تأسیس کال: ۱۳۱۰ لمریز
- کابل – افغانستان

۱–۲

ژبنی، ادبي او فولکلوري څېړنیزه مجله
کابل
۱۳۹۹ لمریز کال، ۱–۲مه ګڼه

# KABUL

Quarterly Journal
Establishment 1931
Academic Publication of
Afghanistan Science Academy

Address:
Afghanistan Science Academy
Torabaz Khan, Shahbobo Jan Str.
Shar-e-Now, Kabul,Afghanistan
Tel: 0202201279

**Published:** Afghanistan Science Academy

**Editor in Chief:** Senior Research Fellow M. Nabi Salahi

**Assistant:** Research Assistant Hazrat Agha Hamdard

**Editorial Board:**

Senior Research Fellow Ph.D. Abdul Zahir Shakib

Senior Research Fellow Ph.D.  Khalilullah Ormar

Senior Research Fellow Nasrulla Naser

Research Fellow Mohammad Asif Ahmadzai

**Composed & Designed By:**

Hamdard

**Annual Subscription:**

Kabul: 960 Af.

Province: 1440 AF.

Foreign Countries : 60 $

Price of each issue in Kabul : 80 AF.

- For Professors, Teachers and Members of Academy of Science of Afghanistan: 70 AF.
- For the disciples and students of schools: 40 AF.
- For other Departments and Offices: 80 AF.

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

د علومو اکاډمي

معاونیت بخش علوم بشری

مرکز زبانها و ادبیات

د پښتو ژبې او ادبیاتو انسټیټوټ

# کابل

ژبنۍ، ادبي او فولکلوري درې میاشتنۍ څېړنیزه مجله


د تأسیس کال: ۱۳۱۰ لمریز

۱ - ۲مه ګڼه

## یادونه

- ✓ مقاله دې له یوې رسمې پتې څخه چې په هغې کې د لیکوال نوم، تخلص، علمي رتبه، د ټېلیفون شمېره او برېښنالیک پته وي، د علومو اکاډمي ادارې ته را ولېږل شي.
- ✓ رالېږل شوې مقاله باید پوهنیزه ـ څېړنیزه، بکره او له منل شوو علمي معیارونو سره برابره وي.
- ✓ رالېږل شوې مقاله، باید په بله خپرونه کې نه وي خپره شوې.
- ✓ د مقالې سرلیک، باید لنډ او له منځپانگې سره سمون ولري.
- ✓ مقاله باید د ۸۰ او ۲۰۰ کلمو ترمنځ لنډیز ولري او د څېړنې پوښتل شوې پوښتنه ځواب کړای شي. همدغه راز، لنډیز باید د یونسکو په یوې ژبې ژباړل شوی وي.
- ✓ مقاله باید د سریزې، اهمیت، مبرمیت، موخې، د څېړنې پوښتنې، د څېړنې روش، پایلې او مأخذونو لرونکې وي او په متن کې مأخذ ته نغوته شوې وي.
- ✓ مقاله باید د لیکوالۍ له اصولو سره سمه وي، املایي او انشایي تېروتنې ونه لري.
- ✓ د مقالې حجم حد اقل یې ۷ مخه او حد اکثر یې ۱۵ معیاري مخونه وي، د فونټ سایز ۱۳، د کرښو ترمنځ فاصله باید (Single ) وي او ادارې ته دې سافت او هارد کاپي دواړه را ولېږل شي.
- ✓ د مجلې کتنپلاوی د علومو اکاډمي د نشراتي لایحې له مخې د یوې مقالې د تائید او رد واک لري.
- ✓ د رالېږل شوو مقالو شننه او څېړنه د لیکوالو فکري زېږنده ده، لیکوال ته بویه چې سپیناوی یې په خپله وکړي، اداره یې په سپیناوي کې کوم مسئولیت نه لري.
- ✓ د مجلې له چاپ شوو مقالو څخه استفاده کول، بې له مأخذه جواز نه لري.
- ✓ ادارې ته رالېږل شوې مقاله بېرته لیکوالو ته نه ورکول کېږي.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**خپرندوی:** د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**مسئول مدیر:** څېړنپوه محمد نبي صلاحي

**مهتمم:** څېړنیار حضرت آغا همدرد

**کتنپلاوی:**

څېړنپوه دکتور عبدالظاهر شکیب

څېړنپوه دکتور خلیل الله اورمړ

څېړنپوه نصر الله ناصر

څېړنوال محمد آصف احمدزی

**چاپ ځای:** الهام نبي زاده، کابل ـ افغانستان

**تیراژ:** ۵۰۰ ټوکه

**پته:** د افغانستان د علومو اکاډمي، طره باز خان واټ،

کابل، نوی ښار، د شاه بوبو جان کوڅه

**د اړیکو شمېرې:**

۰۷۷۰۸۴۸۰۸٦ - ۰۷۹۹۸٦۱۲۹۹ - ۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹

**د مجلې برېښنالیک:** magazinekabul@gmail.com او info@asa.gov.af

**کلنۍ ګډون بیې:**

په کابل کې: ۹٦۰ افغانۍ

په ولایاتو کې: ۱۴۴۰ افغانۍ

په نورو هېوادونو کې: ٦۰ امریکایي ډالر

په کابل کې د یوې ګڼې بیه:

- د علومو اکاډمۍ د څېړونکو او استادانو لپاره: ۷۰ افغانۍ
- د زده کوونکو او محصلینو لپاره: ۴۰ افغانۍ
- د نورو ادارو لپاره: ۸۰ افغانۍ

# لیکلړ


| گڼه سرلیک | لیکوال | مخگڼه |
|---|---|---|
| ۱. "مخ" او "مخامخ"؛ یو یا دوه جلا مفاهیمه | څېړنوال محمد اصف احمدزی | ۱ |
| ۲. سبک پېژندنه | څېړنپوه محمد نبي صلاحي | ۱۲ |
| ۳. په لیکوالۍ او څېړنه کې د ابډېټر او ابډېټ ارزښت | څېړنوال سید نظیم سیدي | ۳۱ |
| ۴. په پښتو داستاني ادب کې د لهجوي وییونو د استعمال … | څېړندویه نازو کمال | ۵۳ |
| ۵. محمد گل خان مومند او د پښتونولۍ په اړه یې د علمي … | پوهندوی عزیزالله جبارخېل | ٦۵ |
| ٦. په متني تحقیق او تنقید کې د علامه رشاد ونډه | څېړندویه فضیله احمدي | ۷۵ |
| ۷. په ورځني ژوند کې د ژبې ارزښت او اړتیا | څېړندویه مینا مسعوده نیکیار | ۸۵ |
| ۸. د عبدالرحمن بابا گرانښت او منښت | پوهنیار سلیمان صیاد | ۹۳ |
| ۹. د پښتو ډرامې په پرمختیا کې د عبدالرؤف قتیل … | پوهنیار میرویس خالقیار | ۱۰۴ |
| ۱۰. د خوشحال خټک په اشعارو کې د ځینو فولکلوریکو… | څېړنیار عزیزالله مبارز | ۱۱۹ |
| ۱۱. د کاظم خان شیدا په شاعرۍ کې نوستالژي | جاوید آفتاب | ۱۲۸ |
| ۱۲. د میرزا خان په کلام کې د هندي کلمو څرک | څېړنیار شریف الله دوست | ۱۴۴ |
| ۱۳. میرزا او ارخاییزم | څېړندویه سونیا صمیم هوتک | ۱۵۸ |
| ۱۴. په ولسي ادبیاتو کې وریانتونه او د هغو ځانگړنې | څېړنیار یاسر پاچا | ۱۸۳ |
| ۱۵. په کاکړیو غاړو کې د ناز نومونه | څېړندویه خاطره شینواري | ۱۹۴ |
| ۱٦. سعید د خپل دیوان په منځپانگیزه او جولیزه دایره کې | څېړنیار حمایت الله ښاد | ۲۰۳ |

څېړنوال محمد اصف احمدزی

# "مخ" او "مخامخ"؛ یو یا دوه جلا مفاهیمه

# «məx» kə «maxāməx»; one or two different concepts

**Research Fellow M. Asif Ahmadzai**


## Abstract

Each language has its own natural way of making words, combinations, phrases, and idioms, as well as its own words and phrases for each purpose. The Pashto language also has its own words and composition for each of its meanings, one of which is the word (makhmakh) .

Recently, the alternative of this word (makh) has been heard and seen, therefore, we have understood the similarities and differences between these two words, this issue has been discussed with examples and with the natural construction of language.


## لنډيز

هره ژبه د لغتونو، ترکيبونو، عبارتونو او اصطلاحاتو د جوړولو لپاره خپله طبيعي لار او طريقه لري او هم د هر مقصد لپاره خپل الفاظ او کلمې. پښتو ژبه هم له همدې جملې د هر مدلول لپاره خپل الفاظ او ترکيبونه لري چې يو له هغو څخه د «مخامخ» لفظ دی. په دې وروستيو وختونو کې د همدې لفظ بديل «مخ» هم

اوربېدل او لیدل کېږي، نو د دې لپاره چې د دغو دواړو لفظونو په مشترکاتو او توپیرونو پوه شوي یو، نو همدغه موضوع د ژبې د طبیعي جوړښت له طبیعي عناصرو سره سمه د مثالونو په وړاندې کولو سره څېړل شوې ده.

## سریزه

پښتو ژبه په خپل طبیعي جوړښت کې ځینې داسې کلمې، وییونه او اصطلاحات لري چې هر یو یې د کارونې او ویلو خپل خپل ځای او مکان لري. یو له دغو څخه د «مخ» او «مخامخ» الفاظ دي چې کله کله یې په استعمال کې غلط فهمي رامنځ ته کېږي او یو د بل پر ځای کارول کېږي. په همدغې ژبنۍ موضوع دلته تم شوي یو.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

ځینې نامسلکي کسان لیدل کېږي چې په پښتو ژبه کې غیر معیاري وییونه، عبارات او اصطلاحات جوړوي او داسې ښکاري چې د پښتو ژبې اصالت او ګرامري جوړښتونو ته یې ډېر پام نه وي، نو په همدې خاطر اړینه ده، دغسې مسایل رابرسېره او حل لار یې په ښه شي.

## د څېړنې موخه

د دې لیکنې هدف دا دی چې د پښتو ژبې د ځینو الفاظو ناسمه کارونه وپېژندل شي او د هغو مخنیوی وشي.

## د څېړنې پوښتنې

۱- په پښتو ژبه کې د «مخ» او «مخامخ» د استعمال موارد کوم دي؟

۲- د «مخ» کارول کره دی که د «مخامخ»؟

## د څېړنې میتود

د دې لیکنې میتود تشریحي او مقایسوي دی.

## د مقالې متن

"مخ" او "مخامخ" دوه هغه لفظونه دي چې هم په ورځنۍ محاوره او هم په لیکنو کې ډېر کارول کېږي. پوهان د دې دواړو لغتونو لپاره دوه بېل نظرونه لري. یو دا چې "مخامخ" چې په دري ژبه کې یې معادل (روبرو – رو در رو) دی، پر ځای یې "مخ" وویل او ولیکل شي؛ خو بل نظر بیا دا دی چې نه، هماغه "مخامخ" سم دی.

د لومړۍ نظريې خاوندان د "مخ" له کلمې سره ځکه توافق نښيي چې اختصار په کې دی، يوه کلمه چې هر څومره لنډېږي، په هماغه کچه ژبه ويونکو او لوستونکو ته اسانېږي. دوی وايي:

- زه ورسره مخ شوم.
- په ځنګله کې له خطر سره مخ شوم.

د دويمې نظريې خاوندان بيا وايي چې د "مخ" پر ځای بايد "مخامخ" وکښل او وويل شي، لکه:

- زه ورسره مخامخ شوم.
- په ځنګله کې له خطر سره مخامخ شوم.

د دوی په اند، "مخ" چې په دري ژبه کې "روی" او په انګليسي ژبه کې ورته "Face" وايي، نو په همدغه پورته ډول جملو کې په يوازې استعمال به يې معنا بې خونده او دا به داسې شي، لکه چې څوک ووايي: (ورسره مخ شوم)، مطلب دا چې (همراه اش روی شدم).

په «پښتو – پښتو تشريحي قاموس» کې د «مخامخ» معناګانې داسې راغلې دي: مخ په مخ، نېغ په نېغه(۱).

په «پښتو قاموس» کې د مخامخ معنا داسې ښودل شوې ده: روبرو، مقابل، مواجه.(۲)

دغه راز د دې لفظ نورې معناګانې «مقابل»، «مقابل لوری» او «مستقيم» هم دی.

البته د "مخ" کلمه خو جوته ده چې په دري کې ورته «روی» ويل کېږي.

زما په نظر، "مخ" د استعمال خپل موارد او مناسبتونه لري او "مخامخ" خپل. لاندې مثالونو ته ځير شئ:

په مخ يې ښکل کړ.

د هغه په مخ کې يې شاهدي ووېله.

زه تاته مخ نه لرم.

مخ يې ترې واړاوه.

د ځمکې پر مخ تر ټولو غوره مخلوق انسان دی.

مخ کعبې شريفې ته کړه او لمونځ وکړه.

خپل درسونه پر مخ وړي، يا پر مخ بيايي.

د سالنگ لویه لاره د موټرو پر مخ وتړل شوه.

یا دا چې:

د دواړو په مخامخ ناسته کې یې ستونزه هواره شوه.

کمپیوټر ته مخامخ کښېناستم.

حکومت او مخالفینو د سولې مخامخ خبرې پیل کړې.

بله دا چې:

له احمد سره مخ/ مخامخ شوم.

خلک له ستونزو سره مخ/ مخامخ دي.

په لومړیو اتو مثالونو کې له لرې معلومېږي چې هلته باید د "مخ" کلمه استعمال شي او په همدې سره ویلی شو چې هم جملې منطقي دي او هم بشپړې افادې لري؛ په ورپسې دریو مثالونو کې بیا "مخامخ" ځکه استعمال شوی چې هلته یواځې د "مخ" کلمې په راوړلو سره جمله سمه معنا نه پیدا کوي؛ خو په وروستیو دوو مثالونو کې "مخ" او "مخامخ" دواړه استعمال شوي دي. د دې لپاره چې دلته له "مخ" (د دري ژبې روی) سره التباس نه وي رامنځ ته شوی، نو غوره دا ده، کله چې د (روبرو/ رو در رو) مورد کاروو، نو هلته د "مخامخ" کلمه راوړل به منطقي وي او که دا مناسبت نه وي، نو یواځې د "مخ" کلمې استعمال بد نه دي.

پورتنۍ موضوع زموږ په لیکلو ادبیاتو، شعر او نثر کې تر ډېره حده حل ده، هلته "مخ" په خپل ځای او "مخامخ" په خپل ځای کارول شوی دی.

رحمان بابا وایي:

مخامخ که راته وګورې دلبره
په کاته کې دې ثواب دی وبال نشته
***
چې سبا شي ستا تر مخ پورې شرمېږي
ځکه زیست په توره شپه کاندي مهتاب(۳)

خوشحال خان خټک وایي:

مخامخ دې په ثنا په صفت سر شي
سلا بلا دربانديږ وایي پسې شا (۴)

کښېنه په انګړ کې مخامخ چې درته ګورم
تور لونګین دواړه چندڼ هار په سینه ټال کړه

***

پس له بنده دی دا عزم
د خوشحال د خاطر جزم
یا نیولی مخ مکې ته
یا مغولو سره رزم(۵)

حمید بابا وایي:

مه اړوه مخ دلبره اوړي زما ورځ
مخ کړه چې مې شپه د درد و غم شي رڼا ورځ
مخ به ځنې کوږ که اوس دا ستا غوندې دلبر
خدای چې کړوي له بدبختۍ د چا ورځ(٦)

د حمید بابا معاصر قلندر وایي:

ما وې ته به زما مخ سپین کړې دلبره
ولې تا تر مهرویانو مې مخ تور کړ(۷)

فاضل (د دې شاعر معرفي په «پښتانه شعراء» او «کلید افغاني» آثارو کې راغلې ده) وایي:

مخامخ را لره راغلل په کوڅو کې
په ژړا یې سترګې سرې وې له خماره(۸)

اخوند مصری وایي:

که مخامخ شوم له خپل یاره سره
دا دنیا به اواره کړم له روزګاره سره(۹)

محمد صدیق پسرلی وایي:

نورو پسې تګ سړی خړ مخی کړي
ګرد د لارې وګوره د شپون په مخ

پیرمحمد کاروان وايي:

بيا د کوم شهيد په څېر ديدار ته مخامخ يمه
زه د مرگ په غېږ کې د ژوند ښار ته مخامخ يمه
څه وايي چې زه مو د ماښام ځنگل ته يووړلم؟
ختمې مې تيارې کړې نور سهار ته مخامخ يمه

شاه سعود وايي:

مخامخ راته د سر قاتل ولاړ دی
خو انسان دی پرې گوزار کولای نه شم

يا دا لنډۍ:

مخامخ مه راته درېږه
زړه مې نری دی اوس به لاس در واچومه

***

مخامخ کېنه چې دې گورم
چا دې صفت راته کاوه راغلې يمه

***

تر مخامخ ناستې دې ځار شم
دا تور کالي دې څنگه خوند کوي مينه

***

مخامخ مه راخېژه لمره
مخ مې د يار په خولو لوند دی وچ به شينه

***

مخ دې د خدای له نوره ډک دی
زه د ثواب لپاره خولې پرې لگومه

د مختارالمناسک له اثره چې د مولوي گل محمد مسلم تـأليف دی، يـو نـثر را نقلوو: "کله چې منصور حج وکړ، نـو مـدينې منـورې تـه راغـی، د پيغمـبر زيـارت تـه ودرېده، نو پوښتنه يې وکړه له امام مالک څخه چې مخ روضې تـه کـړم او کـه کعبـې ته، يعني قبر ته مخامخ دعا وکړم او که مخ قبلې ته، شا قبر تـه کـړم، نـو امـام مالـک

ورته وویل چې اې منصوره! مخ څنګه ګرځوې له محمد رسول الله څخه چې هغه ستا وسیله ده او ستا د نیکه ادم وسیله و الله تعالی ته، مخ مه ګرځوه د قبر شریف څخه."(۱۰)

په پورتنیو شعري او نثري مثالونو کې دواړه یاد شوي الفاظ په خپل خپل ځای ډېر دقیق راغلي او هېڅکله یو د بل پر ځای نه دي استعمال شوي.

په (سپېڅلی قرآن) نومې د قرآن کریم پښتو ترجمه کې «مخ» او «مخامخ» سم کارول شوي دي، هلته لاندې مبارک آیتونه داسې ژباړل شوي دي:

رَبَّنَا آتِهِمْ ضِعْفَيْنِ مِنَ الْعَذَابِ وَالْعَنْهُمْ لَعْنًا كَبِيرًا(الاحزاب، ٦٨ ایت): ای زموږ ربه دوی ته دوه چنده عذاب ورکړه او دوی له یو ستر لعنت سره مخامخ کړه.

وَإِذَا لَقُواْ الَّذِينَ آمَنُواْ(البقرة، ٧٦ ایت): او کله چې دوی له مؤمنانو سره مخامخ شي.

إِذَا لَقِيتُمْ فِئَةً(الانفال، ۴۵ ایت): کله چې له یوې ډلې سره (د جګړې لپاره) مخامخ شوئ.

فَلَمَّا تَرَاءتِ الْفِئَتَانِ(الانفال، ۴۸ آیت): کله چې هغه دوه ډلې سره مخامخ شولې.

سَأُرْهِقُهُ صَعُودًا (المدثر، ۱۷ایت): ژر به هغه له ډېرو سختو ستونزو سره مخامخ کړم.

قَدْ نَرَى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاء فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَاهَا فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ(البقرة: ۱۴۴ آیت): په تحقیق سره اسمان ته ستا د مخ اړول را اړول موږ وینو، نو بې شکه موږ ستا مخ د هغې قبلې خوا ته اړوو چې ته په هغې باندې خوشحالېږې، نو مخ دې مسجد الحرام خواته واړوه(۱۱).

د دې مبارکو آیتونو په ژباړه کې دغه دواړه کلمې په مناسب ډول کارول شوې دي.

خو ځینو لیکوالو بیا د «مخامخ» پر ځای «مخ» کلمه هم استعمال کړې ده، لکه د «روښانیان او پښتو ادب» اثر لیکوال چې لیکي: «د بایزید نثر په ادبي لحاظ دومره غوره نثر نه دی.... او ځکه لوستونکي د دوی نه د مفهوم اخیستو په وخت د مشکلاتو سره مخ کېږي(۱۲)».

که د مخامخ استعمال په نورو ژبو کې وګورو، هلته یې په عوض کې «مخ» نه لیدل کېږي. په دري ژبه کې وایي: «ولسوالان میتوانند وضعیت ولسوالی های شانرا رو در رو به والی تشریح نمایند». که همدغه ډول جمله په پښتو کې لیکو، نو دلته د

«مخـامخ» کلمـه راوړل بـه مناسـبه وي. پـه عـربي کـې وايـي: انـا واجهـت معـه (زه ورسره مخامخ شوم)، نو دلته هم «واجهت»(مخامخ) راغلی، نه «وجه» چې «مخ» ته ويل کېږي.

د دې ليکنې په ترڅ کې مې يوه ورځ د همدغې موضوع په تړاو د څېړنپوه دکتـور خليل الله اورمړ نظر وپوښت. هغه يې په ځواب کې راته وويل:

که مقابل لوری ذي روح وي، نو هلتـه د «مخـامخ» کلمـه راوړل مناسـبه ده او کـه ذي روح نه وي، هلته د «مخ» د کلمې استعمال باک نه لري.

دی دا جملې سمې بولي: له مشکل سره مخ يم يا: له موټر سره مـخ شـوم؛ ځکـه دلته مقابل جانب يو غير ذي روح شـی دی، نـو کـه دلتـه «مـخ» وکـارول شي، کومـه ستونزه به ونه لري. «له احمد سره مخامخ شوم»، دلته بيا «مخامخ» ويل پـه کـار دي؛ خو له دې سره سره که همدلته «مخ» هم اسـتعمال شي، مخالفـت ورسره پـه کـار نـه دی. اصلاً په جملو کې بايد گرامري جوړښت په پام کې ونيول شي.

هغه زياتوي، پښتو يوه جامع ژبه ده. په دې اړه کوم دليل نشته چې ووايو «مخ» ليکـل غلط دی. دلته د «مخ» استعمال داسې دی، لکـه «پـوزه پـرې کـول» اصـطلاح چـې لـرو، دلته له «پوزه» څخـه جنسـاً پـوزه مـراد نـه ده، بلکـې هـدف يـې مجـازي معنـا ده او هغـه شرمول دي. بله دا چې پښتو ژبه بېلا بېلې لهجـې لـري، پـه يـو شـمېر لهجـو کـې شـايد «مخامخ» وي او په ځينو کې «مخ» چې دا په خپله د ژبې غنامندي ښيي(۱۳).

يوه ورځ مې همدغه موضوع له استاد حبيب الله رفيع سره هم شريکه کـړه. هغـه (له احمد سره مخ شوم) جمله کې د «مخ» له استعمالولو سره مخالفت وښود او ويـې ويل: مخامخ تقابل ته وايي، نو په دې جمله کې بايد «مخامخ» وکارول شي. يـو شـی چې په ژبه کې وي، ولې هغه ووېستل شي، پـه دغسـې جملـو کـې د «مـخ» کـارول، جواز نه لري او دا يو نوی خو ناوړه عمل دی چې د ځينو له خوا ويل او ليکل کېږي.

دی زياتوي: که خبره د اختصار وي، نو لنډون او اختصار هغه وخت سم دی چې فساد را نه شي، کله چې کلمه فاسدېږي، نو دا بيا لنـډون نـه شـو. ژبـه خلکـو جـوړه کړې ده او هغوی يې همداسې «مخامخ» وايي (۱۴).

څېړنپوه نصرالله ناصر هم ورته نظر لري. ده تل په علمي ناسـتو کـې د «مخـامخ» پر ځای د «مخ» کلمې له کارولو سره مخالفت ښودلی دی. وايـي: «پښـتو ژبـه ډېـرې لهجې لري، که هر پښتون په خپله لهجه ليکنه وکړي او د خپلې لهجې کلمـې غـوره

وګڼي، نو د معياري لهجې د رامنځ ته کېدو خوبونه بيا عبث دي. موږ بايد د ژبې ګرامري جوړښت او د ډېرو له خوا د کلمو کارېدل او لرغونتوب په پام کې ونيسو چې دا کار به د پښتو ژبې د معياري لهجې د لا پياوړتيا لامل شي(۱۵)».

په هره ژبه کې د الفاظو او عبارتونو جوړول ازاد دي، د يوې ژبې الفاظ او عبارات له يوې يا څو ژبو سره ښايي يو شان وي. پښتو چې يوه هر اړخيزه او پراخ بنسټه ژبه ده، د کلمو او عبارتونو په کارولو کې يې بايد دقت وشي.

خو د تأمل وړ خبره دا ده چې پورتنۍ ژبنۍ ستونزه په دې وروستيو کې تر ډېره د رسنيو او خبريالانو له خوا ايجاد شوې ده. د يوې ژبې په ښه کولو او بدرنګه کولو دواړو کې مطبوعات او ژورناليستان مهم رول لري. هغوی دي چې يو شمېر لغتونه د خلکو خولو ته ور اچوي، همدغه بيا کرار کرار د ولس پر ذهنونو اغېز کوي او هماغه سم يا غلط لفظ بيا هغوی کاروي او ليکي. سره له دې چې داسې ډېرو خوږو او کره کلمو اوسمهال د رسنيو له لارې د هر وګړي او ان د ماشوم ذهن ته لار پيدا کړې ده، ښکاره مثال يې د کرکټ لوبې شپږيزه او يا د سريالونو ځينې لغتونه دي چې خلک يې بيا په محاوره کې هم استعمالوي.

ځينې معياري رسنۍ د يادو شوو دواړو کلمو سم استعمال مراعتوي، خو د همدې ستونزې يواځينی حل رسنۍ دي چې مسئولين او خبريالان په شعوري ډول په دې موضوع پوه شي او کرار کرار هره کلمه په خپل خپل ځای کې وکاروي.

## پايله

د دې څېړنې په نتيجه کې ويلی شو: «مخ» او «مخامخ» دوه بېل ټکي او دوه جلا مفاهيم دي چې هر يو بايد په خپل ځای کې استعمال شي. د دې او دې ته ورته کلمو دقيقه کارونه به د معياري لهجې د لا پياوړتيا او غښتلتيا سبب شوې وي.

د دې لپاره چې په خبرو او ليکلو کې مو تنوع راغلی وي، نو دا هم کېدای شي چې موږ د «مخامخ» د لفظ نور مترادفات، لکه لاس و ګرېوان او يا د نورو ژبو له الفاظو، لکه مواجه څخه استفاده وشي.

دا چې د پښتو ژبې په ګرامرونو کې د «مخامخ» کلمې ځای تش پاتې دی، هيله ده د همدې او دې ته ورته کلمو د سمې کارونې بحثونو ته په کې ځای ورکړل شي.

له بلې خوا، ما د همدې څېړنې په ترڅ کې وموندله چې په پښتو ژبه کې د «مخ» کلمه له نورو کلمو سره یوځای ډېر نور عبارتونه او اصطلاحات جوړوي، لکه: چاته مخ نیول، د مخ ځای نه پرېښول، چاته مخ اړول، د چا مخ ته کتل، مخ پټول، مخ ځټ کول، مخ اخیستل، مخ ځنې اړول، مخ توریدل، مخ تک زیړ کېدل، مخ ور اړول، مخ ورگرځول، مخ تاوول....

نو وړاندیز کوم، که همدغه عبارتونه او اصطلاحات راټول شي او په هر یوه یې څېړنه وشي، د پښتو او پښتنو اروایي او اجتماعي حالات ترې ښه معلومېدای شي.

## مأخذونه


۱- پښتو- پښتو تشریحي قاموس، څلورم ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي: میدیوتیک، ۱۳۸۳هـ. ش کال، ۲۸۵۹ مخ.

۲- پښتو قاموس (پښتو- دري)، دویم ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي: خیري کتابخانه، ۱۳۸٦هـ. ش کال، کابل، ١٦٩٦ مخ.

۳- عبدالرحمن بابا، د رحمان بابا دیوان، مصحح، مدون او مقابله کوونکی: عبدالرؤف بینوا، ۱۳۲٦هـ. ش کال، پي ډي ف فایل، file:///F:/%D٩٪٨٥٪D٩٪٨٨٪D٩٪٨٤٪D٩٪٨٨٪D٩٪٨A٪٢٠٪D٨٪B٥٪D٨٪A٧٪D٨٪AD%D٨٪A٨٪٢٠٪D٨٪A٧٪D٩٪٨٥٪D٨٪A٧٪D٩٪٨٦٪٢٠٪D٨٪B١٪D٨٪B٣٪D٩٪٨٨٪D٩٪٨٤٪D٩٪٨A/Aburehma٪٢٠baba٪٢٠Dewan.pdf

۴- تشریحي قاموس، ۴۷۷ مخ.

۵- خوشحال خان خټک، کلیات. اوډنه، پرتلنه، سمون او وییپانگه: عبدالقیوم زاهد مشواني: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴هـ ش کال، ۵مخ.

٦- حبیب الله رفیع، ادبي ستوري (لومړی ټوک)، پښتو ټولنه: ۱۳۵۳ کال، ۲۰۵ مخ.

۷- پورتنی مأخذ، ۲۵۵ مخ.

۸- مخکینی مأخذ، ۲۳۲ مخ.

۹- اخوند مصری، ادبي ستوري (لومړی ټوک)، حبیب الله رفیع، پښتو ټولنه: دولتي مطبعه، ۱۳۵۳هـ. ش کال، ۱۲ مخ.

۱۰- http://www.benawa.com/pashto/library/٨٦_mokhtar_ul_manasic/١٩.php

۱۱- سپېڅلی قرآن، ژباړن: مولوي وکیل احمد متوکل، مکتبه حبیبیه: کندهار، ۱۳۸۸هـ. ش کال. بېلا بېل مخونه.

۱۲- یارمحمد مغموم خټک، روښانیان او پښتو ادب (تحقیق او ترجمه)، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي: پېښور، ۲۰۱۱م کال، ۳۰۴ مخ.

۱۳- څېړنپوه ډاکټر خلیل الله اورمړ، مرکه، نېټه: ۷/ قوس/ ۱۳۹۸هـ. ش.

۱۴- استاد حبیب الله رفیع، مرکه، نېټه: ۱۰/قوس/۱۳۹۸هـ. ش.

۱۵- څېړنپوه نصرالله ناصر، قلمي یادښت.

څېړنپوه محمد نبي صلاحي

# سبک پېژندنه

# Introduction of Style

**Research Fellow M. Nabi Salahi**


**Abstract**

The subject of my research is to study style. This subject was introduced during a scientific conference in the conference hall of the Academy of Sciences of the Islamic Republic of Afghanistan. In the conference the emphasis was laid upon the fact that style can impact an individual, but it is not feasible to imitate exactly. The types, elements and duties well as its field have been introduced. The emergence of new style and its period were also discussed in the conference.


چې دا نور شاعران کاندې هغه نه کا

رحمن کړی نوی نوی اجتهاد دی

(رحمان بابا)

یا:

د میرزا دېوان به ښه و ولې درېغه

په وحشي الفاظو ده کړ ویران شعر

(پیرمحمد کاکړ)

## لنډیز

په دې علمي ـ څېړنیزه لیکنه کې د سبک او سبک پوهنې په بېلابېلو خواوو باندې څېړنیز بحث شوی دی. په دې کې دا څرګنده شوې ده چې سبک او سبک پېژندنه په یوه ادبي او شعري لیکنه کې د بڼې او معنا دواړو له مخې ارزول کېدای شي. د دې تر څنګ د ادبي او شعري سبکونو د بېلښت اساسي ټکو ته هم اشاره شوې ده او په کې څرګنده شوې ده چې د کومو لاملونو له مخې، یو سبک له بل ادبي سبک نه جلا کېدای شي.

## سریزه

په دې مقاله کې د سبک او سبک پېژندنې علمي پېژندونه وړاندې شوې او په دې موضوع پورې اړوندو مفاهیمونو باندې علمي څېړنه شوې ده. په دې خبره رڼا اچول شوې ده چې ډېر ښه سبک هغه دی چې د لیکوال مفکوره، په ښه توګه سره تمثیل کړی شي. د سبک په پېژندنه کې د لیکنې ټول لفظي او معنوي اړخونه، لکه: د کلماتو د غوراوي او انتخاب ډول، د جملو جوړښت طرز، خیال، مفکوره، انځورونه، تکیه کلامونه، وزن، د لفظي او معنوي صنایعو استعمال او هره بله ژبنۍ ځانګړنه، د یوه ادیب او شاعر د لیکنې او سبک په پېژندنه کې ور مرسته کولی شي.

## د څېړنې موخه

د سبک علمي پېژندنه ده. هره ادبي او شعري لیکنه، د شاعر او ادیب د قلم نښه ده او د سبک موضوع، په شخص او د هغه په شعري او ادبي بریاوو او سلیقې پورې اړوند بحث دی. دلته ده چې د هغو د شکل او مضمون د ځانګړنو د معلوماتو خبره رامنځته کېږي اوهرڅوک چې کله ادبیات یا ادبي سبکونه مطالعه کوي، باید د څېړونکي او لیکوال د لیکنې په سبکي ځانګړتیاوو پوه شي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د سبک مسئله، یو شمېر پوهان د کره کتنې اصطلاح بولي او ځینې نور څېړونکي یې، د ادبپوهنې د موضوعي وېش له مخې په ادبي تیوري پورې مربوطوي. د دې موضوع د څېړنې اهمیت او ارزښت په دې کې دی چې دا ټکی روښانه شي چې سبک په اصل کې یوه مقوله او سبک پېژندنه، د بشر ـ پوهنې یوه

ځانګه ده. دا موضوع په ادبپوهنه کې هم یوه علمي او ژوندۍ مسئله ده چې د تاریخ په اوږدو کې، د ادبپوهانو له خوا ډېره مهمه بلل شوې او له بې ساري اهمیت نه ډک علمي بحث هم ور باندې شوی دی . له دې امله ویلی شو چې سبک پېژندنه، د نوم ورکو ادبي او شعري آثارو په تشخیص او پېژندنه کې ور مرسته کولی شي او په دې برخه کې حق په حقدار باندې سپارلی شي. په دې څېړنیزه مقاله کې به دا موضوع روښانه شي چې سبک اغېز لرلای شي، مګر هو به هو د تقلید وړ نه دی.

## د څېړنې پوښتنې

۱ـ څوک د سبک ښتن بللی شو ؟

۲ـ د سبک د رامنځ ته کېدو، پیدایښت او پایښت لپاره، ډېر ارزښتمن ټکی کوم دی؟

۳ـ د سبک توکي، ډولونه، دندې او ساحې کومې دي؟

۴ـ سبک څنګه تجزیه کولای شو؟

۵ ـ نوي سبکونه څه وخت رامنځ ته کېږي؟

## د څېړنې میتود

په دې مقاله کې له تشریحي ـ تحلیلي میتود څخه کار اخیستل شوی دی.

## اصلي موضوع

سبک، په حقیقت کې د شاعر او ادیب، د ژبې او لیکنې طریقه، فن، طرز، اسلوب او لاره ده او دا د سبک هغه معادل اصطلاحات دي چې د تاریخ په اوږدو کې، د سبک پر ځای باندې کارول شوي هم دي. هغه پوهنه چې په هغې کې، ټول سبکونه تر مطالعې لاندې نیول کېږي، هغه سبک پېژندنه بولي. دا ځانګه، د ټولنې، نړۍ او ژوند په اړه، د شاعر او ادیب په افادې او برداشتونو خبرې کوي او د بشري علومو په ټولو برخو کې يې، ارزښت داسې ثابت دی چې د تاریخ د پېړیو په پوړیو کې، پوهان پرې غږېدلي او خپل پېژند یې، له نورو پوهانو سره شریک کړی دی.

(پښتو ـ پښتو تشریحي قاموس)، (فرهنګ عمید) او د استاد ګل پاچا الفت (لیکوالي) آثار، د سبک په اړه، تقریباً یو ډول تعریف وړاندې کوي او هغه داسې دی:«د سبک حقیقي معنا سره یا سپین زر ویلي کول او کالب کې اچول دي. مجازاً د بیان او اظهارخاص طرز ته سبک وایی.»(۱)

د سبک په اړه، په(آریانا دایرة المعارف )، (څلورم ټوک) کې داسې لیکل شوي دي:« سبک، عربي اصطلاح ده. په لغت کې يې معنا، د فلز او سپینو زرو ویلې کول او په کالب کې اچول دي. په اصطلاح کې، هغه ځانګړې لاره ده چې شاعر او لیکوال پرې خپل ادراک او احساس بیانوي. سبک یوه شخصي- لاره ده او مکتب د څو سبکونو مجموعه جوړوي. ارستو عقیده درلوده، چې په نړۍ کې د آثارو په شمېر سبکونه هم شته دي، نوموړی نظر تر ننه پورې ډېرو ادبي څېړونکو را اخیستی او را اخلي يې.» (۲)

« د عربي د سبک په مقابل کې اروپایان د سټایل اصطلاح کاروي چې د لاتینې ژبې له (ستیلوس) څخه اخیستل شوې ده او ستیلوس هغه اله وه چې تېره څوکه یې درلوده او د هغې په وسیله به، پر مومیایي تابلوګانو باندې لیکنې کېدې. » (۳)

«د انګریزي ژبې په یوه ادبي قاموس کې راغلي دي: سبک د کلماتو هغه ترتیب ته وايي چې په خورا ښه ډول د لیکونکي انفرادیت، مفکوره او ذهني مراد څرګند کړي. سبک د دوو توکونو له ترکیب څخه جوړېږي : مفکوره او د لیکوال انفرادیت(شخصیت ـ انډیویدوالټي). هر کله چې په بشري ټولنه کې، هېڅکله هم دوه تنه عین شخصیت نه لري، نو ځکه موږ عین سبکونه، نه شو موندلی. حتی د یو سړي شخصیت هم په مختلفو وختونو او جلا شرایطو کې یو ډول نه وي. له دې امله، هغه انفرادي سبکونه چې د یوې کټه ګورۍ لاندې راځي، په نسبي ډول د ټیپولوجي د معیارونو په اساس مطالعه کېږي. په یوه سبک کې، هغه څه چې لوستونکی یې درک کوي، یواځې لیکل شوې مفکوره نه ده، بلکې ځینې نورې ضمني اشارې ور سره شته چې د لیکوال د شخصیت بېلوونکې نښې ګڼل کېږي.» (۴)

«زموږ نوي لیکوال او شاعران د سبک د خاوندېدو اندېښنه لري، خو دا د اندېښنې خبره نه ده. کله چې لیکوال، لیکوال شي او شاعر، شاعر، نو په خپله د سبک خاوند شي. د خپلې لیکوالۍ او شاعرۍ پر پرمختګ فکر په کار دی. دا لکه چې چا ټول ودانیز توکي چمتو کړي وي او لګیا وي دېوال جوړوي، خو اندېښنه یې وي چې دېوال به لوړ شي که نه. دېوال به لوړ شي که نه، خو دېوال به نه شي، کوږ وږو او کندې کپرې.» (۵)

په پښتو ادب کې موږ وایو چې یو شخص د یوه سبک خاوند وي. سبکونه موږ د اشخاصو له مخې پېژنو چې دا د فلاني سبک دی، دا د بیستاني. خو په نوره نړۍ

کې یو کس د څو سبکونو خاوند وي او د موضوع لـه بـدلون سره سـبک بـدلوي. کـه نصاب ته څه لیکي، نو په ډېره ساده او پرېکنده ژبه يـې ليکـي، خـو کـه ادبي ليکنـه کوي، بیا د الفاظو جادوگري ته هم گوري. په نصاب کې، د علم نويو زده کوونکـو تـه مخاطب یو، خو په ادبي لیکنو کې، ادب لوستو پخو لوستوالو ته، نو چې لوسـتونکی مو ببل وي، په کار ده چې د ليکلو په طرز کې مو هم توپير راشي.» (٦)

د سبک (اسلوب) د پېژندلو لپاره، د هغه تجزيه اړينه ده او بايد وليـدل شي چـې په جوړښت کې يې کوم کوم تـوکي شـامل دي. ( ادبڅېړنـه ) کتـاب کـې پـه دې اړه داسې راوړل شوي دي: ‹‹د ادبي اسلوب لومړني توکي د خپـل عصراو پېـر ځانگړتيـاوې دي. همدا ځانگړتياوې له ژبې او بيان دواړو سره اړيکـه لـري. د هغـو اړيکـه لـه ژبـې سره ډېره ژوره ده، په هغو کې د وخت مزاج، ټولنيز حالات او قومي ځانگړتياوې ډېر لـوی لاس لري. د اسلوب دويمه طريقه هماغـه د شـاعر او اديـب گوښـې طريقـه ده. مـور خپـل ټول اولادونه( بچيان) يو شان روزي، خو هر ماشوم په نوي چاپېريال کې د روزنې تـر څنگ ځانته بېل مزاج لري. فطـرت يـې د چاپېريـال د اغېـز منلـو تـر څنـگ د هغـې اظهار په خپل اندا کوي.

د اسلوب په تشکيل کې يو بل درېيم توکی هم شته او هغه د ادب مواد دي.›› (٧)

په ( ادبڅېړنه) اثر کې پر دې ټکي هم ټينگار شوی دی چې: ‹‹ ادب د شخصـيت اظهـار دی. پـه همـدې توگـه دا هـم گـورو چـې اسـلوب پـه خپلـه هـم د ليکـوال د شخصيت ښکارندوی دی، ځکه چې ښه اسلوب له تصنع او سينکاره پـاک او فطـري وي. له همدې امله دا د ليکوال د دماغ هېنداره ده. ›› (٨)

د دې لپاره چې سبک ښه وپېژندل شي، نو ډولونه او ساحې يې هم در پېژنو.

اسلوب له لويه سره په دوه ډوله دی: ‹‹انفرادي او گډ اسلوب. لومړی يې پـه هـره ليکنه کې گډ وي او دويم يې انفرادي وي.، هغه ليکنـې چـې د يـوې ببړنـۍ مـوخې لپاره تخليقېږي، هغه په گډ اسلوب کې راځي. دلته د يوه کس له انفرادي تجربو نـه د ډېرو افرادو تجربې پـه کـارېږي. درسي کتابونـه، معلومـاتي ادب، ورځپاڼـه ليکنـه، کاروبـاري ليکونـه، فلسـفه، تـاريخ او ساينسي- علـوم يـې مظهـر دي. هغـه د زيـار او زحمت په گاللو لاسته راځي. که په هغو کې د انفرادي انـداز ليکنـه اختيـار شي، نـو مقصد له منځه ځي، خو کله چې په ادب کې اسلوب يادوو، نو مطلب مو گډ اسـلوب

نه، بلکې هغه انفرادي اسلوب دی چې په هغو کې د تهذيبي او ادبي روایاتو تر څنګ د یوه ادیب ګوښی انداز هم ولیدل شي. انفرادي اسلوب د یوه انفرادي شخصیت غوښتنه کوي. روڼ اسلوب د یوه انفرادي شخصیت ښکارندوی وي. له همدې امله د اسلوب په رغونه کې، لکه نور توکي د رامنځته کوونکي شخصیت هم ستر نقش لري.» (۹)

اوس راځو د سبک ساحوته. د سبک ساحې نهه دي. د ( سبکپوهنه) اثر دغه نهه واړه ساحې داسې معرفي کوي : « ۱ـ سیمه ییز واحد سبک ۲ـ ملي سبک۳ـ په یوه خاصه مرحله کې د یو ملت د سبک مشترکه خصوصیتونه ۴ـ د یو دریځ مکتب یا نهضت سبک ۵ ـ د یو لیکوال فردي سبک د لیکوالۍ په یوه خاصه دوره کې ٦ـ د یو اثر سبک ۷ـ د یو اثر د یوې برخې سبک ۹ـ د یو اثر سبک چې پر ټولو یادو شوو ښکلاپوهنیزو پوړیو باندې اغېزه کوي.» (۱۰)

څېړنپوه عبدالله بختاني خدمتګار، په یوه تقریظ کې، د سبک او مکتب د توپیر په اړه، ګټورې څرګندونې کړې دي، هغه په دې اړه، داسې کښلي دي : "یو شمېر څېړونکي کله نا کله د مکتب او سبک فرق او توپیر او د هغو تر منځ مناسبتونو ته نه ځیرکېږي او سړی فکر کوي چې دغه کسان ددغو دواړو تر منځ فرق نه مني، نو ځکه یو د بل پر ځای استعمالېږي. په داسې حال کښې چې دا دواړه خو سره بېل مفاهیم دي چې خپلو کښې ((د عموم او خصوص)) نسبت لري. په دې معنا چې مکتب عام او پراخ دی او سبک خاص او محدود.

یو مکتب په عین حال کښې سبک هم وي، مګر هر سبک مکتب نه وي. که دا خبره لږه نوره هم څرګنده کړو، نو به ووایو چې، هر لیکوال او شاعر خپل سبک لري، مګر دا ضروري نه ده چې هر د سبک خاوند دې، د مکتب خاوند هم وي. په دې برخه کې د سبک د خاوندانو برخه او سرنوشت دغسې وي، چې د دوی له ډلې څخه هر یو یا د یوه مکتب پیروان وي او د هغه خپل «خاص سبک» د یو « عام مکتب» یوه برخه وي او یا د هغه په خپله یو خاص سبک ایجاد وي او بیا یې د نفوذ دایره پراخېږي، عامېږي، پیروان پیداکوي او یو (( مکتب)) ترې جوړېږي.

ښه مثال يې په خپله خوشحال خان دی. هغه په نظم اونثر کښې د خپل « خاص سبک» خاوند دی چې له پخوانو نه زيات توپير لري. د نورو له خوا، د هغه د« سبک» له پيروي او تداوم نه يو ادبي بهير منځ ته راغلی او ددغو ډېرو پيروانو د پيدا کيدو سره« مکتب» ترې جوړ شوی دی، نو د خوشحال خان سبک د خوشحال خان مکتب هم دی، مګر د هغه د مکتب د يوه پيرو سبک، په خپله د هغه سبک خو دی، مګر مکتب يې بيا د خوشحال خان دی." (۱۱)

له دې امله ويلی شو چې سبک د شاعر او اديب، د ليکنې لاره او طرز راښيي او د هغه څېره زموږ په ذهن کې مجسم کوي. په اصل کې، سبک د ليکوال څېره ده،خو د ډېرو شاعرانو او اديبانو په هنري آثارو کې، د ګډو فکري عناصرو په تکرار سره، د ادبي مکتب خبره مطرح کېږي او په دغه ځای کې تکرار ډېر اهميت پيدا کوي.

نو، "اوس چې دی د سبک خاوند شو، د ده سبک د دوو شيانو ټولګه ده. له لوستې ټولې ليکوالي\ شاعري څخه د ده د اخيستې اغېز او له هغې سره د توپير. د هر چا د سبک د ورته والي او توپير دا دوه وزرې وي، خو بنسټ پکې اخيستی اغېز دی. که يو شاعر يا ليکوال رنګ وانخلي، خپل سبک نه شي جوړولای. د نورو سبکونه مو د خپل سبک پر توپير او ورته والي پوه کوي. له دې امله يې هم لوست ضرور دی." (۱۲)

په ادبي سبک کې د کلماتو غوره والی، انځور جوړونه، د جملې جوړونه، د شاعر او اديب فکري دريځ، ذوق، ځان ښودنه او يا د واقعيتونو په تفسير لاس پورې کوونه ټول هغه څه دي چې د ليکوال د ژبې استعمال راښيي او د هغه له شخصي-ځانګړنو سره ډېره اړيکه لري، نو ادبي سبکونه، زياتره شخصي- او فردي جنبه لري. که څوک د نورو په سبک ليکنه کوي، د ادبياتو په تاريخ کې د ځان لپاره د پښې اېښودلو ځای نه پرېږدي. دلته د پښتو هغه نامتو خبره رايادېږي چې کاغي د زرکې پېښې کولې، خپلې يې له ياده ووتې. له دې امله، ادبپوهان، د فردي سبک د استقلال په ارزښت قايل دي.

د مکتب لغوي معنا، د ليک ، زده کړې او ښوونې او روزنې ځای دی او د ادبي مکتب اصطلاح د هغه پراخ ادبي بهير او لارې لپاره استعمالېږي چې د زيات شمېر شاعرانو او اديبانو د ليکنې يا وينا له ګډون څخه منځته راغلی وي. په اصل کې

ادبي مکتب، د هغو نظريو، ادبي او فرهنګي ځانګړنو ټولګه ده چې د يوه يا څو هېوادونو د فرهنګي، ټولنيزو او سياسي حالاتو په بهير کې رامنځته شوې وي. دغه ځانګړنې، د ليکوالو او شاعرانو د يوې ډلې په آثارو کې سره ګډې او مشترکې وي، د خپل عصر تفکر او ارمانونه منعکسوي، هغه ډله ييز سبک دی او هغه د زماني غږ دی. په دې ډول، د نورو شاعرانو او ليکوالو له تخليقي آثارو څخه د توپير او بېلتون سبب ګرځي.» (۱۳)

د ( سبکپوهنه ) اثرد سبک دندې داسې را پېژني :

«۱. د سبک يوه دنده دا ده چې په مشخصو لفظونو کې ايډيا يا مفکوره ښکاره کړي او په بار بار تکرار سره د يو ليکوال ځانګړتياوې ښيي. له دې لارې د يو ليکوال د ليکنې طرز، طريقه او روش څرګندېږي.

۲. سبک د يو ليکوال يا هنرمند مېتود او ليد لوري راښيي. له دې لارې کولی شو چې د يو ليکوال عيني او ذهني نظر، فکر او خيال څرګند کړو.

۳. د سبک بله دنده د هنري ترکيب هستول دي او د يو اثر شته والی او بقا د يوې کاملې او ټاکلې ټولنيزې پديدې په توګه تضمينوي. سبک د يو اثر د ټولنيز موجوديت له عواملو څخه دی او د هنرمند ټولنيزه تګلاره ټاکي.

۴. سبک پر لوستونکي باندې ښکلاپوهنيزه اغېزه کوي. سبک د هنر د اغېزناکۍ له عواملو څخه دی. خلکو ته د ايډيالوژۍ او عاطفې له لارې ښودنه کوي او د لوستونکو په باب د ليکوال دريځ معلوموي.

۵. سبک هنري عنعنې ته يو نوی واحد بنسټ برابروي. دغه دنده له هنري متقابلو اغېزو او اړيکو سره داسې تعلق لري چې د هنري اثر ځانګړې رغښت چې يو ټاکلی شخصيت او ټاکلی عصر يې تثبيتوي، وساتي. سبک د هنر د ودې له عواملو څخه او د هنرمند د مخکې تګ ضامن دی.

له دې ټولو څخه دا لنډيز راوځي چې د سبک اساسي دنده د يو ليکوال د فني او ځاني شخصيت، د هغه د مفکورې، ذوق او د نظريې جوهر څرګندول دي. د سبک له لارې کولی شو چې د يو ليکوال د ليکنې ليد لوری، د هغه د ليکنې بېلابېل ارزښتونه او هنرمند استعداد څرګند کړو.» (۱۴)

اوس راځو، د سبک تاریخي بهیر ته : "ډېرې لرغونې یادونې چې د سبک او د هغه د معادلو اصطلاحاتو په اړه وینو، هغه د هغو لیکنو په ترڅ کې دي چې د لرغوني یونان په کتابونو او خطابو کې راغلې دي. اپلاتون سبک هغه کیفیت ګڼلی دی چې په ځینو ادبي آثارو کې شته او په ځینو کې نشته دی. ددې فیلسوف د نظریو پر بنسټ، سبک د هغې بشپړې همغږۍ څرګندوی دی چې د لفظ او فکر تر منځ وي. په دې اساس، هغه شاعر او لیکوال د سبک خاوند دی چې د خپل فکر د بیانولو لپاره مناسبه او د بیان سمه، عالي او غوره لاره ولري. خو ارستو د اپلاتون شاګرد دا باور درلود چې سبک، په حقیقت کې د بېلابېلو عواملو محصول دی چې په یوه اثر کې را ټول شوي او هغه یې له نورو سره ورته آثارو څخه را جلا او لوړ کړی دی." (۱۵)

په حقیقت کې، په نړۍ کې، د شاعرانو او لیکوالو په شمېر سبکونه شته، چې ګڼون یې اسانه کار نه دی او په عامه معنا، هر انسان د وینا او لیکنې ځانګړی سبک لري.

"د رنسان په دوره کې چې د سبک لومړنی او دقیق تعریف وشو، هغه د فرانسوي طبیعت پوه (بوفون) له خوا وړاندې شوی دی. نوموړي څرګنده کړه چې سبک له هغه نظم او تحرک څخه عبارت دی چې وګړي یې په خپلو فکرونو کې رامنځته کوي.

دې بهیر تر اتلسمې پېړۍ پورې دوام موند او په هغې کې د یوه سبک عناصرو ته ډېره پاملرنه وشوه. په دې برخه کې، ډېر تاوده بحثونه شوي او د لیکوالو او ویناوالو له خوا ډېر تعبیرونه او پېژندنې وړاندې شوې دي. که څه هم، په ځینو کې لږ او ډېر اختلاف هم تر سترګو کېږي، خو باید ووایو چې دا لږ توپیرونه له شخصي-سلیقو، برداشتونو، د کلمو او اصطلاحاتو د انتخاب له مخې دي... په آریانا دایرة المعارف کې لیکل شوي دي چې سبک د یوه ادبي اثر له ځانګړنو څخه عبارت دی، چې هغه له نورو مشابه آثارو څخه را بېلوي. سبک یوه ځانګړې لار ده چې هر لیکوال او شاعر د خپل فکر او مطالبو د بیان لپاره هغه کاروي.

د سبک د ټینګښت او بدلون لپاره څو عنصره مهم دي چې دلته پرې بحث کېږي: تر هر څه لومړی ژبه او لیکنه یادوو، ځکه چې له هر څه زیاته او ستره ونډه لري، نو باید چې په دې برخه کې یې ارزښت کم و نه ګڼو. دویناوال د سبک ځلا او پیاوړتیا د هغه په ژبه کې ده. په دې ترتیب باید ووایو چې ژبه او لیکنه، له شاعر او لیکوال سره، د نوښت لپاره په ادبي ښکلاوو او ظرافت کې مرسته کوي." (١٦)

په سبکي څېړنو کې، په ادبیاتو کې د ژبې کارولو ته ډېره پاملرنه کېږي. (۱۷)

بله دا چې ژوره کتنه، ساده تفکر، خواشیني، احساسات، د بې پروایۍ عاطفه، عقده، تکبر او غرور، ځان غوښتنه، انساندوستي، قهر او غوسه او داسې نور. دا هره یوه داسې پدیده ده چې د یو ادیب سبک د لوړتیا او یا بر عکس د ځوړتیا خواته بیایی. ټولنیز بدلونونه، شخصي ژوند، په ټولنه کې کورنۍ، ځانګړې او ډله ییزې اړیکې، د فکر او کلام په جوړښت کې مهم ګټل کېږي او د سبک لارښوونه کوي. ارزښت یې، یا زیاتوي یا کموي. د مثال په توګه، د یوه درباري شاعر د بیان سبک چې له هر ډول ناز او نعمت نه برخمن وي، له یو صوفي او ولسي شاعر سره بنسټیز توپیر لري. د یو شاعر او ادیب، د پوهې او فرهنګ کچه، د کسب او مسلک څرنګوالی، هغه نور عناصر دي چې د ادبي سبک په جوړښت کې ډېر اغېزناک دي. د پښتو ژبې پیاوړی شاعر خوشحال خان خټک مثال راوړو چې زیاتره علمي، ملي او فلسفي اصطلاحات یې، په خپل شعر کې را نغښتي دي، تر دې کچې چې د ډېرو لپاره پرې پوهېدنه هم ستونزمنه شوې ده. د رحمان بابا په شعرونو کې عرفاني او تصوفي افکار په ډېره ساده، خوږه او رنګینه ژبه بیان شوي دي او د حمید او شیدا په شاعرۍ کې بیا ډېر لوړ تخیل تر سترګو کېږي. جغرافیایی چاپېریال هم، د شاعر او ادیب د شعر او شعري سبک په جوړښت کې بې اغېزې نه دی، ځکه چې هر شاعر او لیکوال، د خپل کار ډېر مواد له خپل چاپېریال څخه اخلي. یو ولسي شاعر د ولسي ژوند واقعیتونه په ډېره ساده او عامیانه ژبه بیانوي او داسې مثالونه او تشبهات راوړي چې په خپل ټولنیز ژوند کې ور ته محسوس دي. برعکس یو ښاري یا لوستی شاعر او لیکوال بیا عصري او ښاري ژوند او هغه مادي پدیدې چې په واک کې یې لري او ور سره په اړیکه کې دی، د هغه په شعر او لیکنو کې راڅرګندېږي.

باید ووایو چې د سبک د رامنځته کېدو یا پیدایښت او پایښت لپاره، ډېر ارزښتمن ټکی، هماغه د لیکوال او شاعر د فکر طرز او لار ده، ځکه چې سبک په خپله په حقیقت کې د شاعر او لیکوال د فکر او نړۍ لید زېږنده دی.دلته ډېره ستره او مهمه پوښتنه دا ده، چې څوک د سبک څښتن بللی شو؟! ځینې په دې باور دي، چې هر لیکوال او شاعر یو سبک لري او د همدې وینا پر اساس، دادبي آثارو رامنځته کوونکو په شمېر سبکونه، هم باید شتون ولري، مګر ځینې نور بیا

 څرګندوي چې د انسانانو په شمېر سبکونه هم شته، په دې حالت کې، که موږ سبک د هغه په عام مفهوم په پام کې ونیسو، سمه خبره ده. هر تقلید او د بل په پله پل ایښودل، بیا د نظر خاوند د سبک له ساحې او قلمرو څخه د باندې ګڼي.

بې ویلو دې پاتې نه وي، غوره دا ده، چې سبکونه د کمزورتیا او ځواکمنتیا له مخې ډلبندي کړو، مثلاً لوړ یا عالي، منځنی، کمزوری او ناتوان یې ونوموو. په بل عبارت، که سبک عالي، اصیل او پوخ وی، رامنځته کوونکی یې د پېړیو په پوړیو کې ستایل کېږي. د نړی لید تر منځ ورته والی او بنسټیزوالی، ژبني معیارونه، ټولنیزې اړیکې او پیوندونه، په حقیقت کې د سبک پېژندنې علم بنسټ ټاکي. (۱۸)

په سبک پېژندنه کې د یوه شخص د ژبې ټوله مجموعه څېړله کېږي،کومه چې، هغه له نورو بېلوي او هغه ته شخصي- ژبه وایی او کله نا کله هغه له سبک سره برابروي. لیکوال، شخصي ژبه، د خپلو افکارو د لېږد لپاره استعمالوي او د خپلو احساساتو او برداشتونو بار پرې باروي.

ژبپوه او ادبي څېړونکی دواړه، سبک تر څېړنې لاندې نیسي. ژبپوه، په یوه لیکنه کې، د ژبې د په کار وړلو ټاکلی هدف، د ژبې د جزئیاتو په پام کې نیولو سره څېړل کېږي، مګر ادبي سبک پېژندونکی، د شکل او مضمون له مخې او د ښکلو کلماتو د استعمال له پلوه تر سره کوي. په ادبي سبک پېژندنه کې، له متن سره په لومړي چلند کې، د متن اصلي سرنوشت او په هغه کې د ژبې نقش مشخصوي او هغه باید له علمي متن نه، د ادبي متن په توپیر پوه شي. په سبک پېژندنه کې، ژبه او ادبیات، دوې متفاوتې حوزې دي او ادبي ژبه، له عادي یا اخباري ژبې نه توپیرېږي او په دې برخه کې، له ډېر پخوا وخت نه ژبه معیار ګرځول شوې ده. له عادي وینا، علمي، تاریخي، مذهبي او نورو سبکونو سره، د ادبي سبک توپیر، د شعر او ادب د ژبې له مخې کېږي او په دې برخه کې ښکلاپېژندنه بنسټ او معیار نیول شوې ده او دا توپیرونه، په ټولیزه توګه،د سبک ډولونه رانښیی. په عمومي ډول، سبک درې ډولونه لري:

۱. ځانګړی، فردي او شخصي سبک.
۲. دوره یی سبک
۳. ادبي سبک.

د سبک په جوړښت او پاينښت کې، مختلف عناصر دخيل دي، چې درې توکي يې، ډېر مهم او په لاندې ډول دي :

لومړی ـ کلتوري او فرهنگي ځانگړنې: د خپلې زمانې او عصرـ خصوصيات دي، چې د يوه ليکوال په ژبه او بيان دواړو اغېز کوي.

دويم عنصر، د ادب مواد دي. کوم آثار يې کتلي او کومه خبره کول غواړي.

او درېيم عنصرـ جهان بيني( مفکوره او نړۍ ليد) دي.

موږ فکر کوو، چې د هر ليکوال او شاعرد سبک د پياوړتيا لپاره، ښايي د پوهانو له خوا ډېر څه ويل شوي او ليکل شوي وي، مگر کوم ټکي، چې په دې اړه، نورو ليکوالو ته، زما د قدرمن پلار اروانباد الحاج محمدالله خان افغان له خوا ويل شوي، وړانديز او سپارښتنه يې شوې ده، نه يوازې له گټې خالي نه دي، بلکې ډېر ارزښتناک بريښي:

«۱ ـ په ليکنه کې بيړه مه کوئ. علمي احتياط، ډېر ضرورد‌ی.

۲ـ پېښې څرنگه چې دي، دغسې يې ليکئ. بايد د تاسې ليکنه او شخصيت دواړه، يو د بل هينداره وي.

۳ـ که ليکوال فکر وکړي، ډېر څه به تر لاسه کړي. د انسان تفکر، په خبرو کې ساه باسي. بايد ليکوال، په خپلو ليکنو کې، د لوستونکي اروا محاصره کړي او په هغو باندې خپل مثبت اغېز وکړي.

۴ـ د ليکوال ليکنه، د هغه شتمني ده. بايد هر ليکوال، په خپله ليکنه کې، ټول غير ضروري شيان، اضافات او زوايد لرې کړي. دا کار، د ليکوال وړتيا ښيي.

۵ ـ پښتو ژبه، خلکو په غروکې روغه وساتله، تاسې په ښاروکې ډوبه کړه، داسې مه کوئ. هر ليکوال او شاعر، چې مازې يوـ يو نابلده لغت، پدې ژبه کې استعمال کړي، دا ژبه خرابېږي او چې خرابه شوه، بيا ورکېږي هم. لږ زړه سوی په کار دی، دا ښه کار نه دی، نور داسې مه کوئ. دا ځای دې ننښه وي او يو وخت به بيا ټول، د ما ددې خبرې ارمان وکړئ .

٦ـ تاسې د مور او پلار ژبې ته پام وکړئ. هرڅرنگه، چې هغه غږېږي، دغه وړ يې ليکئ، بيا به د تاسې ليکنه، ډېره پخه راشي.

۷ـ لنډې خبرې، د فکر د پراخوالي نښه ده. هر څه چې لیکئ، لنډ یې لیکئ، چې په اسانه، ښه او روښانه ولوستل شي. باید د تاسې لیکنه، په لوستونکي کې، د باور حس را وېښ او د هغه همت لوړ کړي.

۸ـ په لیکنه کې، د سختو او شډلو الفاظو استعمال، تصنع، تکلف، تزویر او تقلب، ډېر لوی مرضونه دي، د لیکنې ټول خوند وژني، ښکلا او جذابیت یې، له منځه وړي. که څوک په لیکوالي کې، په داسې کږه او اغزنه لاره ولاړ شي، په خپل لاس به، خپله لیکنه خرابه کړي. د موږ لیکنې، باید د ښه والي لپاره وي، نه د خرابوالي لپاره. داسې کسان، هغه چا ته ور ته دي، چې نورو ته نصیحت کوي، مگر خپل ځان ته یې پام نه وي. دا ځای دې نښه وي، چې په دې عمل سره به، د پښتو ژبې ښېرې ډوبه کړي. موږ یې وینو، چې ځینې فاکولته یان، په لغاتو غړېږي. غواړي په مصنوعي ډول، د نورو پېښې وکړي. دوی له خپلو ځانونو، ممثلین او اکټران جوړ کړي دي. په پای کې به یې، خپل طرز له یاده ووځي او د نورو طرز هم نه شي خپلوی، داسې مه کوئ. دا ډېر غلط کار دی. دا کاربه، تاسې او د تاسې مورنۍ ژبې پښتو ته، په راتلونکي کې ډېر لوی تاوان ولري.

۹ـ ما خپله لیکوالي، د ژوند پېښو، تاریخي یادښتونو اوخاطرو له لیکلو زده کړه. دغه لاره، د لیکوالۍ د زده کړې، تر ټولو لنډه او اسانه لاره ده . تاسې هم، د خاطرو له لیکلو پیل وکړئ. دا ده زه کې کامیاب شوم، تاسې هم کې کامیابېږئ او انشاءالله تعالی، وروستی بری به د ما وي.

۱۰ـ دا ټکی د ویلو وړ دی، چې د لیکوال لیکنه، د هغه عمل دی. راځئ، دا عمل، په ښه وجه تر سره کړئ. د ما له هر هغه چا، چې خبرې ښې کړي، مگر د عمل خونده یې نه وي، کرکه راځي.

د اروانباد لیکوال، د لیکنې د سبک په برخه کې ویلی شو چې:

هغه په خپله لیکنه کې، د زما پر ځای، دما لیکلی دی، د نمونې په توگه :

۱ـ د ما له اوله له دیني علماوو او پوهانو سره زیاته ناسته اوولاړه وه.

۲ـ د ما همیشه توکل په لوی خدای(ج) و.

د زموږ پر ځای یې، دموږ لیکلی دی، لکه :

۳ـ د موږ خاندان د سخي حمید خان په همکاري پنځوس میره چنده ځوانان له کورمې را ټول کړل.

۴ـ د مور، مشران، دغو پنځوسو میړو له څلورو خواوو څارل.

۵ ـ دا د مور سړي دي.

بل دا چې، د نه او څخه پرځای باندې به یې، د چې ادات ډېر استعمالاوه، لکه:

٦ـ له کابل چې راغلم. داسې نه لیکي، له کابل نه یا له کابل څخه راغلم.

د وایي پر ځای، یایی لیکي، لکه :

۷ـ بل چا ته به یې نه یایئ.

د لومړۍ پر ځای، ړومبی لیکي، لکه :

۸ ـ ړومبی خبره دا وه.

د نور پر ځای زیاتي لیکي، لکه :

۹ـ زیاتي پرې ورغلو.

د ویلي پر ځای ویل لیکي، لکه :

۱۰ـ دغه حکومت، د افغانستان د هغه وخت شاهي دولت ته هم دا ویل کړي و.

د تن او کس پر ځای، زیاتره د میړه ټکی راوړي، لکه :

۱۱ـ ما دغو شپږویشتو میړو ته وویل.

د قوماندې پر ځای، بولی لیکي، لکه :

۱۲ ـ هغو ته یې د جنګ بولی ورکړه. « تې خدای ته واچوه » دا د اروابناد افغان، په وینا او لیکنه کې، یو خاص او معنا لرونکی تکیه کلام دی، چې کله نا کله یې، په خپلو خبرو او لیکنه کې راوړي. ددغو ټکیو معنا او مفهوم دا دی، چې د خدای تعالی(ج) اراده داسې وه او داسې نور ټکي او جملې.

کله نا کله به ما ور ته وویل، چې اوس ټول لیکوال، زما او زمور لیکي. ده مبارک به ویل: ما ته مور او پلار، زما او زمور نه دي ویلي، دما او دمور یې ویلي دي. ما د خپلو ژوند پېښو، تاریخي یادښتونو او خاطرو په لیکلو کې، د مور او پلار د ژبې پیروي کړې ده او دا، د ما په نظر، د پښتو پیدایشي طرز دی. دما لیکنه، د کابو یوې پېړۍ ژوند پېښې، تاریخي یادښتونه او خاطرې دي، هغه په خپل حال پرېږدئ، تاسې نه راګرځوم. په تاسې، په لیکنه کې، د نویو معیارونو رعایت ضرور دی. په دې ډول، دده د نثر سبک، پیدایشي، ډېر طبیعي، روان، روښانه او ښکلی دی او ز ما لیکنه، دغه خوبی نه لري. » (۱۹)

د سبکونو له بدلانه سره، په ادب کې بدلون راځي او بلې دورې ته اوړي. په کلیاتو کې ادبي اصطلاحات، اصول او تخنیکونه راځي او په جزییاتو کې یې ژبه، کارېدونکې کلمې، سمبولونه، چاپېریال او نور راځي. له جزییاتو سره ځکه ادبي دوره بېلېږي یا یوه ادبي دوره ځکه پر جزییاتو ولاړه وي، چې جزییات سبکونه رانغاړي او د سبکونو له بدلانه سره په ادب کې بدلون راځي او بلې دورې ته اوړي. جزییات د پنځګرو د تشخیصاتو یا سبکونو ټولګه ده... حتی د مکتبونو په اړه، چې له همرنګه سبکونو را منځته کېږي.» (۲۰)

دا چې نوی سبک په څه ډول رامنځته کېږي. دا یوه ډېره مهمه پوښتنه ده او په دې بحث کې یې مطرح کول اړین بریښي. په دې اړه یو شمېر پوهانو ښې څرګندونې کړې دي چې تر ډېره حده پورې علمي بریښي او د انسان زړه یې مني. مور په دې اړه، یوازې د اطهر پرویز نظر را اخلو او هغه په دې ډول دي: «کله چې په دې خبره فکر کوو چې نوی اسلوب څنګه منځته راځي، نو معلومېږي چې کله کوم لوی ادیب غواړي، نوې خبرې وکړي، نو زړه یې غواړي چې د خپل بیان د پراختیا لپاره له پخوانۍ لارې راووځي، نو هغه وخت یې یو نوی اسلوب مرسته کوي، لهجه یې نوې کېږي او دا لهجه خلک په وحشت او ډار کې اچوي او هر وګړی ترې اغېزمنېږي.» ( ۲۱)

هر لیکوال په خپلو ادبي ـ هنري آثارو کې، ځانګړې تکرارېدونکې اوصاف او ځانګړنې لري، چې د لیکوال د لیکنې په طرز، افادې، معلوماتو، فرهنګي چاپېریال، تجربې ، استعداد او نورې لید پورې اړه لري، دا ځانګړنې، نه یوازې د یوه لیکوال په ټولو آثارو کې تکرارېږي، بلکې له نورو آثارو نه، د جلاوالي او بېلتون سبب ګرځي. دې ته سبک وايي.

د پښتنو لیکوالو او شاعرانو ځوان کُهول ته په کار دي، چې د خپلو افکارو د بیانولو او لیکلو لپاره، د لیکنې وړ او مناسبه ژبه خپله کړي، د خلکو خبرو او د فصیح او خوله ورو کسانو د وینا انداز ته پام و ګرځوي. دا کار له دوی سره د لیکنې د کامیاب طرز په خپلولو کې په زړه پورې مرسته کولی شي، ځکه سبک، شخصي-ژبه ده او فردي جنبه لري او په دې توګه، فردي ژبه، له ټولنیزې ژبې فرق کوي. ټول پوهان او څېړونکي، په ټولو علمي او ادبي څېړنو کې، د فردي سبک د استقلال په

ارزښت قایل دي. د لحن کشف، د شخصي سبک په پېژندنه کې ور مرسته کوي. د نمونې په توګه، د خوشحال خان لحن جدي او رندانه، د رحمان بابا قلندردانه ، د استاد سعدالدین شپون شوخ طبیعته او طنزیه او .... په سبک پېژندنه کې، تر ټولو د مخه، د لیکوال د ژبې سرنوشت ټاکل کېږي او هلته د لیکوال او شاعر له خوا، د لغتونو غوراوي او انتخاب، د جملو جوړښت، د ژبنیو توکو ترون، موادو، علمي پانګې، مفکورې او د ده په لیکنی ژبه د چاپېریال اغېزې په پام کې نیول کېږي. په ادبي ژبه کې یې د مبالغې انداز ټاکل کېږي او په دې توګه یې، له عادي او علمي ژبې نه جلاوالی او بېلتون په نښه او ښودل کېږي.

سبک، په ټولنه کې د لیکوال سرنوشت ټاکي. مطالعه او د لیکوالي مشق او تمرین، د لیکوال د سبک په پیاوړتیا او غښتلتیا کې مثبت اغېز لري او د لغتونو زېرمه، د لیکنې په وخت کې، د لیکوال مورال او روحیه پیاوړې کوي. د سبک جوړولو پر ځای، خپل هنر او نوښت ته پام اړول په کار دی. « له تمرین او پرله پسې لیکنو سره مو ښایي، سبک دومره و نه غوړېږي، خو که پر له پسې فکر پرې وکړو، ډېر سمون پکې راوستی شو. لیکوال ته په کار ده، چې د خپل سبک عیبونه او کمالونه ځانته معلوم کړي، چې داسې پکې ورځ په ورځ ښه والی راولي. ښه لیکوال هغه دی، چې خپل سبک ور ته ښه معلوم وي او نقد پرې وکولی شي. ښه لار یې دا ده، چې خپلې لیکنې ته، کله نا کله د بل له زاویې هم وګورو.» (۲۲)

د (ارستو) په قول، تقلید د انسان فطرت دی، خو په ادبیاتو کې د اغېز خبره ده. موږ اغېز منو، مګر هغه مطلق تقلید نه بولو، بلکې په دې برخه کې هم، د نسبیت خبره کوو. د یوه لیکوال د لیکنې اغېز، د بل لیکوال په لیکنه او د یوه شاعر د شعر، د بل شاعر په شعر، مګر هر څه خپله اندازه لري او په سبکي پیروي کې، دا کار هو به هو او په سلو کې سل ممکن نه دی. هر لیکوال او شاعر، د لیکنې بېل سبک لري. په لیکنه کې مثبت بدلونونه راوستل، لکه خپل مخ، په هنداره کې کتل او د هغه عیبونو ته د متوجه کیدو یوه ښه ګټوره لاره ده او یا د نورو د لیکنې د سبک له زاویې نه، خپل سبک ته کتل، چې که په دې موضوع فلاني لیکوال لیکنه کړې وای، څنګه لیکنه به یې کړې وای، په خپل سبک کې د بدلون په راوستلو سره، سبک

ښه کیدی شي. معنا دا چې، د (ارستو) په قول، په هرڅه کې چې تناسب وي، هغه ښکلی دی، نو که دغه تناسب، شاعر او لیکوال، په خپل سبک کې مراعات کړي او په کلکه سره یې ور ته پام وي، سبک یې، ښایسته او ښکلی کیدی شي.

"له دې ځایه د سړي زړه ته د نسبي نوښت خبره لوېږي. پوهان وایی، چې له شاعر و لیکواله د نسبي نوښت تمه پکار ده، د چورلټ نه." (۲۳)

## پایله

د دې څېړنې نتیجه دا ده چې لیکوال او شاعر، د خپلې ټولنې په نبض پوه شي، په ټولنه کې، د فرد په عنوان، د مسوولیت احساس وکړي ، د حقایقو په کشف پسې وګرځي او په خپلو آثارو کې ډېر عالي پېغامونه ټولنې ته وړاندې کړي. دا هېواد چې له کیسو نه ډک او له تراژیډیو نه ډک دی، باید لیکوال داسې آثار ټولنې ته وړاندې کړي چې د ټولنې په درد وخوري. روڼ او له اضافاتو لرې سبک، د مفاهیمو په سمه افاده کې ځانګړی اغېز لري. په لیکنه کې ګونګې او ژولې خبرې، مفاهیم پېچلي کوي او هغه د چا خبره، روغه خبره لیونی کوي او په ټولنه کې بې نظمي رامنځته کوي.

## وړاندیزونه

۱ـ د سبک په برخه کې دا وړاندیز کېږي چې ځوان لیکوال او شاعران، د نورو لیکوالو، ادیبانو او شاعرانو د سبک د پیروي او تقلید هڅه و نه کړي. ځکه دا د سبک یو داسې طبیعي او ذاتي اصل دی چې په هېڅ ډول، د پیروي وړ نه دی. د دې پر ځای چې د سبک په برخه کې د نورو تقلید وکړي، خپلې لیکنې دې زیاتې ژورې او پیاوړې کړي

۲ـ که چیرې یو لیکوال (د داسې انسانانو شمېر ډېر کم دی) د پیسو په مقابل کې، په نورو لیکنې او آثار ولیکي، باید په یاد ولري چې داسې کتابونه، د سبک پېژندنې تیوري پر بنسټ، په هېڅ ډول د پیسه دارانو آثار نه شي کېدلی او دا ډول آثار، د سختې او جدي پوښتنې او چیلنج وړ دي. دا ډول عمل، د علم په ډګر کې، یو مافیایی عمل دی او باید په علمي کړیو کې یې، په ډېره کلکه سره مخنیوی وشي . په دې ډول دې، د آثارو لیکنې په برخه کې، د علمي ګډوډیو او انارشیزم مخه ونیول شي. موږ په علمي کارونو کې، یو له بل سره، د بې دریغه مرستو او

همکارۍ پلویان یو، مګر باید دا مرسته او همکاري ، د پانګونې په بڼه نه وي. سازش او معامله ګري، په هره برخه کې ګناه شمېرله کېږي، که دا ناوړه عمل( سازش او معامله) په علمي ډګر کې تر سره شي، دا یو ناورین دی او باید په ګډه سره، ددې فاجعې مخه ونیول شي.

## مأخذونه

(۱) ـ هاشمي، سیدمحی الدین. د ادبپوهنې څانګې، د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز: میهن خپرندویه ټولنه، کابل، ۱۳۹۳ ل، ۲۴۲ مخ.
(۲) ـ سبک ـ آریانا دایرة المعارف(څلورم ټوک)، کابل، د علومو اکاډمي، د آریانا دایرة المعارف ریاست: نبراسکا چاپ ځای، ۱۳۹۰هـ .ل. کال، ۳۳۲مخ.
(۳) ـ هاشمي، سیدمحی الدین. د ادبپوهنې څانګې، ۲۴۰ مخ.
(۴) ـ هاشمي، سیدمحی الدین. د ادبپوهنې څانګې، ۲۴۱مخ .
(٦) ـ ښکلی، اجمل. ادبي زاويې، ٦۹مخ
(٦)ـ پرویز، اظهر. ادبڅېړنه، ژباړه: عاقله سادات. میهن خپرندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۹۳ل، ۱۹٦مخ.
(۷)ـ پرویز، اظهر. ادبڅېړنه، ژباړه: عاقله سادات. ۱۹۷مخ.
(۸)ـ پرویز، اظهر. ادبڅېړنه، ژباړه: عاقله سادات. ۱۹۲مخ.
(۹) ـ ازمون، لعل پاچا. سبکپوهنه، ۸۳مخ.
(۱۰)ـ واجد، عبدالواجد. د خوشحال خان ختک سبک او په پښتو ادب د دغه سبک اغېزې، د عبدالله بختاني تقریظ، د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز: کابل، ۱۳۸۳ ل، ز ـ ح مخونه.
(۱۱) ـ ښکلی، اجمل. ادبي زاویې، ٦۲مخ.
(۱۲) ـ هاشمي، سیدمحی الدین. د ادبپوهنې څانګې، ۲۴۱مخ .
(۱۳)سبک ـ آریانا دایرة المعارف (څلورم ټوک)، د افغانستان د علومو اکاډمي، د دایرة المعارف ریاست: نبراسکا چاپ ځای، کابل، ۱۳۹ ل، ۳۳۲مخ.
(۱۴)ـ سبک ـ آریانا دایرة المعارف (څلورم ټوک)، ۳۳۳مخ.
(۱۵)ـ فتوحی، محمد. سبک شناسی ادبی، دانشگاه فردوسی: مشهد، سال ۱۳۸۸، ص۲۳
(۱٦). ازمون، لعل پاچا. سبکپوهنه، هاشمي خپرندویه ټولنه: جلال آباد، ۱۳۹۸ل، ۸۲مخ..

(۱۷)ـ سبک ـ آریانا دایرة المعارف (ثلورم ټوک)، ۳۳۳مخ.

(۱۸) ـ صلاحي، محمد نبي. دالحاج محمدالله خان افغان(رح) لیکوالي او قلم پالنه، د افغانستان قلم ټولنه: کابل، ۱۳۹۳ ل ، ۱۳مخ.

(۱۹) ـ ښکلی، اجمل . ادبي زاویې، ٦۴ مخ.

(۲۰)ـ پروېز، اظهر. ادبڅېړنه، ژباړه: عاقله سادات. ۱۹۲مخ.

(۲۱)ـ پروېز، اظهر. ادبڅېړنه، ژباړه: عاقله سادات. ۱۹۲مخ..

(۲۲) ـ ښکلی، اجمل. ادبي زاویې، ٦۸ مخ.

(۲۳)ـ ـ ښکلی، اجمل. ادبي زاویې،٦۳ مخ.

څېړنوال سیدنظیم سیدي

# په لیکوالۍ او څېړنه کې د اېډېټر او اېډېټ ارزښت

# The Value of Editors and Edit in Writing and Research

**Assiciate Professor Sayed Nazim Sayedy**

## Abstract

Edit means editing, repairing, correcting, deleting and organizing errors. In the edit should be corrected and corrected as much as possible from errors and mistakes and an editor is a person who performs the same thing, that is, he is called an editor.

There are two types of editing, one by profession and the other by language. Professional editing is one that is done by a competent professional and has a minimum level of knowledge and a linguistic correction.

According to literary scholars, the editor is like a candle that burns itself, but gives light to others, or is a teacher who is ready for any challenge, but does not throw a flower at another's child. He is like a mechanic who is black on his furniture, but builds cars for others, like a well-digger who carries his heavy iron on all wheels, sits on the top of the machine day and night, drinks dirty water, but gives others clean, healthy and purified water, he is behind the scenes; But it confuses presidents and politicians, turns their ridiculous speeches into tragedies and realities, and turns the nation on them, but no one is aware of his existence and actions.

## لنډیز

سمون یا اېډېټ ته په انگرېزۍ کې (Editing) یا (Edit) وایي چې معنا یې سمون، رغون، اصلاح کول، غلطي لرې کول او منظمول دي، یعنې په اېډېټ کې متن باید تر وسې وسې له تېروتنو او غلطیو اصلاح او جوړ شي او اېډېټر بیا هغه څوک دی چې همدغه چارې ترسره کوي، یعنې د دغې کړنې فاعل یا ترسره کوونکي ته اېډېټر وایي.

اېډېټ دوه ډولونه لري چې یو د مسلک له مخې دی او بل هم د ژبې له مخې، د مسلک له مخې اېډېټ هغه دی چې د یو واک لرونکي څانگوال له خوا ترسره شي او علمي کچه یې لړ تر لړه تر لیکواله زیاته وي او ژبنی سمون یا اېډېټ هغه دی چې د هرې برخې اثر د اېډېټر له خوا په ژبني توگه وکتل شي او بیا منظم اصلاح شي.

د ادبپوهانو په وینا، اېډېټر د هغې شمعې په څېر دی چې خپله یې سوځي، خو نورو ته رڼا ورکوي یا هغه ښوونکی دی، چې هر ډول ننگونو ته یې ملا تړلې وي، خو د بل پر بچي یې د گل گوزار هم نه وي پېرزو، د هغه مستري په څېر دی چې خپله پر مبلاینو تک تور وي، خو نورو ته موټر جوړوي، د هغه څاه ایستونکي په څېر دی، چې په خپله درنې وسپنې په ولو لېږدوي را لېږدوي، شپه و ورځ د ماشین سر ته ناست وي، خبرنې خبچنې اوبه څښي، خو نورو ته پاکې، صحي او تصفیه شوې اوبه کاږي، دی خپله د پردې تر شا وي؛ خو ولسمشرانو او سیاسیونو ته گډوډې سموي، د هغوی د ملنډو خبرې په تراژیدیو او واقعیتونو بدلوي او ولس پرې اېلوي، خو د ده له شتون او کړنو څخه څوك خبر هم نه وي.

## سریزه

ډېر څله موږ ته لیکوالی او څېړنه یوه اسانه چاره ښکاري او فکر کوو د پنځو کربښو په تورولو سره موږ لیکوال او څېړونکي کېدلای شو، خو چې کله هم د یو څانگوال یا اېډېټر له خوا زموږ لیکنې او څېړنې د اېډېټ په سترگیو وکتل شي، نو هله یې راته معلومات وشي چې لیکوالي څومره ستونزه او له ربړو ډکه چاره ده.

د سپټمبر یوولسمه که له یوې خوا نړۍ ولړزوله او په کې یې ژور بدلون راوست، نو له بلې خوا یې فرهنگي یون هم بدل کړ چې په دغه ادلون بدلون کې پښتو ژبه هم د ډول ډول لیکنو او څېړنو شاهده وه او ده چې له بده مرغه د ډېرو ښو لیکنو ترڅنگ ډېرې بې

کاره، بې ارزښته، د اسلامي، ملي او کلتوري ارزښتو سره په ټکر کې لیکنې هم په کې زیاتې شوې چې په حقیقت کې زیاتونه نه، بلکې یوه غمونه ورته ویلای شو.

جوړې ټولنې د نورو ټولو چارو ترڅنګ دغه ډول غمونې او فرهنګي یرغل ته منظم پلانونه او د مخنیوي لارې چارې او واکونه لري، خو موږ له بده مرغه تر اوسه پورې له دغو مسایلو سره لاس او ګرېوان یو چې پرته له شکه ایډیټ او ایډیټر د دغه ډول لیکنو او مسایلو مخه نیولای شي او ترڅنګ یې زموږ پوهنیزې ـ څېړنیزې لیکنې هم ایډیټ او ایډیټر ته اړتیا لري چې سمې او منظمې یې کړي.

دغه لیکنه او څېړنه تر ډېره د ایډیټ او ایډیټر پر ځانګړنو او آړونو بحث کوي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې لومړی موږ د څېړنې له ارزښت او ګټو خبروي او په دې مو پوه کوي که چېرې یو اثر په سمه او مسلکي توګه ایډیټ نه شي، نو کومې ستونزې او ربړې زېږي، ځکه موږ د ډېرو داسې پېښو شاهدان یو چې د ناسم او سرسري ایډیټ له امله نه یوازې اثر بندي شوی، بلکې لیکوالان یې هم تر تورو تمبو شا ته اچول شوي دي، نو د دغې څېړنې اهمیت دا دی چې موږ د ایډیټ او ایډیټر له هغو ارزښتونو خبروي چې په نورو ټولنو کې یې پیدا کړي او په وسیله یې ټولنه د سمون، رغون او پرمختګ خوا ته تللې ده.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه دا ده چې موږ یو ځل بیا د دغه هېر شوي چار ارزښت ته متوجه کوي او په دې مو پوه کوي چې په پام کې نه نیولو یې څومره ستونزې او ننګونې پېښې کړې دي.

همدغه راز په پرمختللو هېوادونو کې چې یو اثر چاپ شي او څوک پرې نیوکه یا کره کتنه ونه کړي، نو لومړی پړه او بې کفایتي یې پر ایډیټر او وروسته په لیکوال اچول کېږي، خو زموږ اکثر آثار یا ایډیټر نه لري او یا یې یوازې نوم راغلی وي او دی ترې خبر هم نه وي او که کتلی یې هم وي، نو له سره یې تېر کړی وي.

## د څېړنې پوښتنې

په دې څېړنه کې تر ډېره لاندې پوښتنې ځواب شوې دي:

✍ ایډیټ څه ته وایي؟

- ✍ ایډیټر څوک دی او څنګه باید ایډیټ وکړي؟
- ✍ کوم آثار باید ایډیټ شي؟
- ✍ ایډیټ او ایډیټر د کومو معیارونو او آرونو له مخې ایډیټ کوي؟
- ✍ که یو اثر، رساله او یا مقاله ایډیټ نه شي، نو کومه ستونزه زېږولای شي؟
- ✍ که چېرې یو اثر کې ایډیټور هم موجود وي او بیا هم په کافي اندازې ستونزې ولري، نو پړه به یې ډېره د چا پر غاړه وي؟

په دې مقاله کې دا او دې ته ورته یوښتنې ځواب شوي چې تاسې یې لوستلو ته را بولم.

## ایډیټ څه شی دی او ایډیټر چا ته وایي؟

که شلمه پېړۍ له یوا خوا د لویو سیاسي بدلونونو او اخ و ډب شاهده وه، نو له بلې خوا د ستر فرهنګي انقلاب شاهده هم وه، چې نه یوازې یې په پښتو ادب، بلکې په نړیوال ادب کې یې هم پوره پوره بدلون راوست، نوي موضوعات او صنفونه په کې وپنځېدل او په ټوله معنا یې د ادب لوري ته بدلون ورکړ، چې له ښه مرغه دغه بدلون یوازې په څو هېوادونو کې د کتابونو په سپینو مخونو کې بندي پاتې نه شو، بلکې د انټرنټي پاڼو او ژباړو په وسیله یې ټوله نړۍ په ورغوي کې ځای کړه او نن سبا موږ حتا په خپلې ژبې پښتو کې هم دومره د پام وړ آثار لرو چې پخوا به په ډېرو ستونزو او ربړو پیدا کېدل، دغه آثار که له یوې خوا په پښتو کې خپله پنځېدلې یا برېښنایي شوي، نو له بلې خوا د ژباړو له لارې هم موږ ته راغلي چې له امله یې پښتو ژبه د کتابت او لیکوالۍ له پلوه ډېره غني شوه. دغه غنا په حقیقت کې له دوو لارو شوې: یو هغه لاره ده چې ډېرو ښاغلو د ذوق او مسلک له مخې لیکل او څېړل وکړل او دویم هم ډېرو ښاغلو د څو ټنګو د پیدا کولو په خاطر لیکل او څېړل وکړل، چې له بده مرغه په دغو دواړو تجربو کې ځینې یې نابریالۍ وې او له امله یې زموږ ژبې ته داسې آثار راغلل چې یا ورته اړتیا نه وه او یا یې هم د ټولنې تقدس، فرهنګ او کلتور له ننګونو سره مخامخ کړ، چې موږ یې د ډېرو پېښو شاهدان یو.

په دغو راشو درشو کې که ژبه له یوې خوا د پختګۍ او سوچه والي خوا ته لاړه، نو په ورته وخت کې د بې خوندۍ، خرابېدلو او د ټولو آرونو د پښو لاندې کولو خوا ته هم لاړه او حتا د ځینو ژباړو له امله، خو د پښتو ژبې جوړښت او سکښت هم له ننګونو سره مخامخ شو، چې تر اوسه لا هم له همدغې ستونزې سره لاس او ګرېوان

یو، نو د دې لپاره چې د علمي آثارو او ژبې د جوړښت لپاره مو له سینده کوزه را ډکه کړې وي، اړینه مې وبلله چې د دغو آثارو د سمون لپاره د اېډېټر د ارزښت او اهمیت په اړه ځینې مسایل له ګرانو مینه والو سره شریک کړم چې څنګه، په څه ډول او کوم ډول آثار باید اېډېټ کړو او څوک یې باید اډېډېټ کړي، خو وړاندې تر هرڅه لومړی باید اېډېټر یا سمونګر وپېژنو چې څوک دی او کومې ځانګړنې لري:

## اېډېټر چا ته وايي او کوم ډول مواد باید اېډېټ کړي؟

په حقیقت کې دا او دې ته ورته موضوعات هغه پوښتنې دي چې نن سبا ډېر لیکوال ورسره لاس و ګرېوان دي او زه به هڅه وکړم چې د همدغې مقالې په اوږدو کې دغه ډول پوښتنو ته تر وسې وسې ځواب ورکړم، خو تر هر څه وړاندې اړینه ده چې د اېډېټ په اړه لنډه نغوته وکړم:

اېډېټ ته په انګریزۍ کې (Editing) یا (Edit) وايي چې معنا یې سمون او رغون دی، زاهد پښتو ـ پښتو سیند یې په اړه کاږي: "تصحیح: ښځ، م. سمونه، اصلاح کونه، غلطي لرې کول." (۱) یعنې متن باید تر وسې وسې له تېروتنو او غلطیو اصلاح او چاپ شي.

خو عمید بیا تر دې هم لږ وړاندې ځي او وايي: "تصحیح: مص.(ع)، (ت. ح) سمول، جوړول، لیکنې یا کتابي تېروتنې په نخښه کول او بیا یې سمول." (۲)

نو ګورو چې په ټولو لیکنو کې که هغه مقالې وي، رسالې وي او یا هم کتابونه لومړی باید تېروتنې په ګوته او بیا یې له مسلک سره سم اصلاح کړو، خو که چېرې یې د ژبنې سمون سپارښتنه شوې وه او موږ پرې له مسلکي پلوه چندان نه پوهېدو، نو بیا اړینه ده چې د ژبې د آرونو او قوانینو په رڼا کې یې ژبنی سمون وکړو.

نو که د اېډېټ له بحثه را تېر شو او راشو اېډېټر ته، نو لکه څنګه چې مخکې هم یادونه وشوه د اېډېټ کلمې ته په انګریزي کې Editing او Edit وايي او سمونګر یا اېډېټر ته Editor وايي، خو د اېډېټر کلمه خورا بېلابېلې بڼې هم لري؛ لکه: مصحح، سمووونکی، اصلاح کوونکی، په کره کتنیزه تصحیح کې د متن مصحح، د یوې ټولګې ناظر او یا څارونکی او داسې نور.

دا چې ولې د اېډېټر کلمې ته په پښتو کې سمووونکی، مصحح، د متن سمووونکی او داسې نور وییونه کارېږي، زما په اند د نورو ګڼو لاملونو ترڅنګ یې یو لامل دا دی

چې ځینې کلمې کټ مټ معناوې نه شي ښندلای، نو ځکه باید په څو جولو وکارول شي. د ساري په ډول نن سبا د انگریزۍ د جنډر کلمې ته په پښتو او دري کې څو څو ځلې د جنسیت ویی وکارول شو، خو ژبپوهانو دا وړاندیز او یا بدیل ونه مانه، ځکه د دوی په وینا جنسیت یوازې د ویې ادبي یا اصطلاحي معنا ښندي، خو حقوقي معنا یې هېڅکله نه شي منعکسولای، نو ځکه یاده کلمه تر اوسه پورې د جنډر په بڼه پاتې ده او ښایي تر ډېره وخته همداسې پاتې وي؛ نو همداسې د اېډېټر ویی یا ترکیب هم دی، چې ډېر ځله ټولې معناوې نه شي رانغاړلی، نو ځکه تر اوسه پورې تر سموونکي یا مصحح د اېډېټر د گټنې موارد ډېر دي.

اېډېټر څوك دی؟ په افغانستان کې ډېر ځله د دغه ویي جاج په دقیقه توگه نه را اخیستل کېږي، خو په نورو هېوادونو کې کله چې د یو چا پوهنیز یا څېړنیز کتاب یا رساله چاپېږي، نو د لیکوال له لیکنې وروسته له کمپوز او ډیزاین څخه نیولې آن تر چاپ او له مطبعې څخه تر آرې مرجع پورې د اثر سمونې او را رسونې ته اېډېټ او اهتمام وایي، یعنې په حقیقت کې دوه کاره دي، هم د متن املایي او انشایي کتنه او هم یې د چاپ د چارو سمبالښت؛ خو د دې خبرې معنا دا نه ده چې گواکې د چاپ د چارو سمبالښت ته دې هم اېډېټ ووایي، یعنې د اېډېټر دنده دا ده، چې لومړی کتاب په اره نسخه کې وگوري او اصلاح یې کړي بیا یې تر کمپوز وروسته وگوري او اصلاح یې کړي او بیا یې هم تر ډیزاین وروسته وروستي پروف له سمونې سره یو ځل وگوري او خپل سمونونه دې په کې په نښه کړي، چې دقیق دي او که نه؛ ځکه له افغاني آثارو پرته د نړۍ د هر گوټ کتاب یا رساله له نظره تېره شي، انشایي څه چې ان املایي تېروتنې به هم په کې په ندرت سره وموندل شي، خو زموږ آثار بیا له دواړه ډوله تېروتنو مالامال دي، نو ځکه د اېډېټر معنا په دقیقه توگه نه جوتېږي چې څه ده او څنگه ده؟ په داسې حال کې چې د اېډېټر دنده یوازې او یوازې د متن املایي او انشایي سمون دی، نه نورې خبرې.

ښایي پوښتنه پیدا شي، دا چې اېډېټر د یو اثر، رسالې او یا هم مقالې سموونکی دی، نو خپله یې څه ډول انسان دی او باید د کومو ځانگړنو لرونکی وي؟

د ادبپوهانو په وینا، اېډېټر د هغې شمعې په څېر دی چې خپله یې سوځي، خو نورو ته رڼا ورکوي یا هغه ښوونکی دی، چې هر ډول ننگونو ته یې ملا تړلې وي، خو

د بل پر بچي يې د گل گوزار هم نه وي پېرزو، د هغه مستري په څېر دی چې خپله پر مبلاينو تک تور وي، خو نورو ته موټر جوړوي، د هغه څاه ايستونکي په څېر دی، چې په خپله درنې وسپنې په ولو لېږدوي را لېږدوي، شپه و ورځ د ماشين سر ته ناست وي، خېرنې خېچنې اوبه څښي، خو نورو ته پاکې، صحي او تصفيه شوې اوبه کاږي، دی خپله د پردې تر شا وي؛ خو ولسمشرانو او سياسيونو ته گډوډې سموي، د هغوی د ملنډو خبرې په تراژيديو او واقعيتونو بدلوي او ولس پرې ابلوي، خو د ده له شتون او کړنو څخه څوك خبر هم نه وي.

څېړونکي وايي ابډېټر بايد داسې څوك وي، چې زړه يې نرم او پوهه يې تر موخن ليکوال يو څه زياته وي، ځکه دی د ليکوالو تېروتنې سموي او ليکوال ښايي د پوهنيزو او څېړنيزو ادارو د لويو رتبو او نومونو لرونکي وي. پر همدې پار ابډېټر ته بويه چې د يو مطلب د بيان رښتينوالي، د مطالبو انتظام، فصاحت، ساده والي، بلاغت، لاسوندونو او منطق ته يې په فلسفي سترگيو ځيرنه وکړي. د چا شخصي-نظريات او يا هم ځانگړي حساسيتونه په پام کې ونه نيسي، ښايي دی خپله هم له ځينو خلکو سره مذهبي، ژبني او يا نژادي ستونزې ولري، خو د ابډېټ پر مهال بايد سترگې له هر ډول حساسيت نه ړندې او غوږونه کاڼه کړي او داسې فکر دې وکړي، چې له اره له ليکوال سره هېڅ ډول بلدتيا هم نه لري، ځکه ده اوس د انصاف تله په لاس کې اخيستې او بويه، چې خپل تتو او د بل آس سره برابر نه کړي. (۳)

کله چې ابډېټر يو متن په مسلکي توگه ابډېټ کوي، نو دې ته دې پام وکړي چې متن په کوم علم پورې اړه لري او د ده مسلك څه شی دی؟ ځکه داسې نه شي چې دی د فزيك څانگوال وي او د ابډېټ لپاره يې د بيولوژۍ يا اسلامياتو متن غوره کړی وي، که چېرې يې وړتيا ولري او په څانگواليزه توگه پرې پوهېږي، خو ښه خبره ده، خو که نه پرې پوهېږي، بيا اړينه نه ده چې دی ورته د يو عالم او يا هم د يو اديب په توگه گوتې ور وړي، ځکه دا معلومه ده چې دی به يې ژبنی اړخ جوړ کړي، خو مسلکي برخه به يې ورته دل و دول کړې وي، خو که چېرې د ژبني سمون سپارښتنه پرې شوې وي، نو د اصطلاح د لغوي او معنوي جاجونې په پام کې نيولو سره په تېوليزه توگه واك او ځواك لري چې ور سپارل شوې دنده په سمه توگه ترسره کاندي.

د ادبپوهانو په وينا، د ایډیټر شعار باید دا وي چې متن د پوهاوي را پوهاوي لپاره چمتو کوي، نه د ځان ښودنې او یا نورو ملحوظاتو په پار، ځکه په یوې خبرې پوهېدل را پوهېدل عادي خبره نه ده او ډېر ځله د ژبې پېژند هم همدا حکم کوي.

## ولې ایډیټ اړین دی؟

د هرې ژبې پښويه یا گرامر ځانته ځانگړي قوانین او ارونه لري، چې ویونکو ته یې اړین دي، خو د پښتو ژبې پښويه بیا زموږ لپاره ډېره اړینه ده او همدا لامل دی، چې ایډیټ یې هم اړین گڼل کېږي، ځکه په موجوده لیکدود کې ډېر داسې گرافیمونه لرو، چې په جمله کې د گڼنې پر مهال یې په دقیقه معنا پوهېږو، خو که د ویې په توگه وکارول شي، نو ښايي د بل ویي معنا ترې واخیستل شي؛ د ساري په ډول ښايي موږ د (زړه) د ویي معنا هم خانم پیر، کهنه او هم دل او قلب واخلو، دا ځکه چې د ویي په توگه کارول شوی، خو که چېرې په جمله کې وکارول شي؛ نو بیا یې دقیقه معنا معلومېږي، همداسې نور ویي هم در واخله، نو ځکه ایډیټر اړ دی چې په پښتو متونو کې ایډیټ وکړي او په اره معنا یې ځان پوه کړي، چې لیکوال څه ویل غواړي او څه ډول لوستونکو ته یې وړاندې کول غواړي.

پر دې سربېره د ایډیټ د اړینوالي بل لامل دا هم دی، چې ایډیټ د یو اثر پوهنیز، څېړنیز او مادي ارزښت زیاتوي. په دې معنا که چېرې موږ له املایي او تر یو حده انشایي تېروتنو څخه ځان وساتو او لوستونکو ته یو زړه راښکونکی اثر وړاندې کړو، بې له شکه زموږ د اثر د هر اړخ د ارزښت تله به درنه وي.

په نورو هېوادونو کې د ایډیټ ارزښت په دې ډېر دی، چې هلته ایډیټر ته د یو کتاب یا اثر د ایډیټ لپاره حق الزحمه ورکول کېږي او دا حق الزحمه هغه وخت ډېرېږي، چې کله کتاب ډېر مینه وال پیدا کړي او مینه وال هغه مهال ډېرېږي، چې کتاب ښه ایډیټ او له تېروتنو نه پاك چاپ شي، ځکه په دې کار سره نه یوازې د لیکوال او مطبعې نوم ځلېږي؛ بلکې خلك ورته هم د یو شخصیت او معیاري ارگان په سترگه گوري. (۴)

پر ایډیټر ډېر ځله دا تور هم پورې کېږي، چې نوموړی له اثر یا کتاب سره ډېر وخت غیرعادلانه انصاف کوي او نیم په نیمه کتاب لرې کوي، خو که حقیقت ته ځیر شو بیا داسې نه ده، ځکه کله چې یو ځوك یو کتاب یا هم رساله په دقیقه توگه

له نظره تېروي، نو هرو مرو يو څه زماني واټن نيسي او په دغه زماني واټن کـه ابـډېټر له ياد اثر سره دومره مينه پيدا کـوي، چـې ان د هغـې د ليکـوالۍ دعـوه هـم کـولای شي، څکه نوموړی په کې د ليکوال په څېر سمه خواري کوي او هڅـه کـوي، چـې د خپلې مينې او د خپل نامه پـه پـار يـو داسـې کـره او پـه زړه پـورې اثـر لوسـتونکو تـه وړاندې کړي، چې تنده يې پرې خړوبه شي، ان په ډېرو مواردو کـې ابـډېټر او ليکـوال پـه ځينو موضوعاتو کې په ورځو ورځو په بحث او د لاسوندونو په وړاندې کولـو تېـروي، ترڅـو کتاب کره او سم شي، خو په افغاني ټولنه کې موږ بيا ډېر ژر په ابډېټر منفي رايې زياتو.

په هر حال، لکه څومره چې يو ليکوال په خپل اثر حق لري، نـو ابـډېټر يـې هـم کـابو تر هماغې کچې حق لري، ځکه ده هم ورته د زړه غوښې ورکړې وي او شپې يې ورتـه پـه ويښه سبا کړې وي، د شکمنو مسايلو لپاره يې کتابونه او مأخذونه پسې کتلي وي، خـو د زړه شك يې ايستلی وي، ښايي د دغې چارې د ارزښت او بيان لپـاره د علومـو اکـاډمۍ د ځينـو څېړونکـو او ابـډېټرانو تجربـې ښـې څرګنـدونې او زړه چـاودنې ولـري، چـې پـه څرګندولو سره يې د دغې چارې پوهنيزه تله نوره هم درنېدای شي.

ډېر ځله داسې هم شوي چې يو ليکوال يو مهال د احساساتو قرباني شوی او پـه شعوري توګه يې غوښتي، چې يو څوك يا يـوه ډلـه تخريـب کـړي او پـر ضـد يـې څـه ولـيکي، خـو ابـډېټر دغـو مسـايلو تـه پـه دقيقـه توګـه ځيرنـه کـوي او د حـالاتو پـه مساعدېدلو سره ليکوال په دې قانع کوي، چې دا کار هم جنجـال لـري او هـم د ده شخصيت ته زيان رسوي. د دې کار بېلګې موږ په افغانستان کې په کوټو کوټـو لـرو، ان يو شمېر لوی ليکوال چې يو مهال پرې د زندانونو سختۍ راغلي او يا هم د وخـت له رژيمونو څخه په تنګ شوي، نو پسې بد رد يې ويلي، خو اوس پـه خپلـو ليکنـو تـر ډېره پښېمانه دي او په اورېدلو يې پښېمانېږي.

ما يو مهال د زيري جرېدې لس کلن الفبايي فهرست چمتو کاوه، د کار په اوږدو کـې مې داسې ليکنې هم ولوستلې، چې نېغ په نېغه يو ليکوال د بل ليکـوال پـر ضـد ليکلـې وې او ان د هغه پر شخصيت سربېره يې د هغه کورني حريم ته هم نغوتې کـړې وې، خـو د لږ وخت په تېرېدلو سره يې بيا هڅه کړې وه، چې تر وسې وسې له يـادو خپرونـو څخـه د خپلې ليکنې پاڼې وشکوي، چې همداسې يې کړي هم ول، خو لـه نېکـه مرغـه د ګڼـو شمېر يې تر زرو رسېده او ټولـو تـه د درنـو ليکوالـو لاسرسی يـو څـه سـتونزمنه او ناشـونې

خبره وه، نو که په داسې حالاتو کې موږ پیاوړي اېډېټران لرلای او د روابطو پر ځای یې ضوابطو ته ارزښت ورکولای، هېڅکله به داسې ستونزه نه رامنځته کېدله.

نو اېډېټر ته بویه چې ډېر ځله د ټولنې حالات هم په پام کې ونیسي، دا خبره ځکه تکراروم چې یو لیکوال به د احساساتو قرباني شوی وي، خو اېډېټر یې باید مخه ونیسي، ښایي یو مهال د یوې خبرې زغمل شونې نه وي، خو لیکوال غواړي هغه خبره وړاندې کړي، نو که اېډېټر فلسفي او تحلیلي سترګی په سترګو کړې وي، کولای شي لیکوال قانع کړي او له خپل کار څخه یې منع او یا هم د حالاتو د نازکوالي له امله د محدود وخت لپاره منع کړي او که داسې ونه کړي، نو د لیکوال لیکنه ناورین رامنځته کولای شي.

نو دغو ټولو مسایلو ته په کتلو سره اوس پوښتنه دا ده اېډېټر کله او څنګه په خپل کار کې بریالی کېدلای شي؟

په ځواب کې باید ووایو، د اېډېټر بریالیتوب د هغه په شخصي روابطو پورې اړه لري، نوموړي ته بویه چې له لیکوال سره ښې اړیکې ولري او په ځینو مسایلو کې د ده ملګرتیا لیکوال پر ځینو خبرو قانع کړي، پر دې سربېره د ده ملګرتیا دا ګټه هم لري چې نوموړی لیکوال په ښه توګه پېژندلای او درك کولای شي او ټولنپوهنه ده ته د لیکوال د لاسوندونو ځوابونه او استدلالونه مومي، نو ځکه له لیکوال سره د اېډېټر ملګرتیا د ده په کار کې اساني راوړي. البته د دې خبرې معنا دا نه ده چې ګواکې لیکوالان بل ډول خلك دي؟ لیکوالان هم انسانان دي او تر نورو حساس. عام وګړي وایي چې لیکوال د ټولنې سترګې دي دا ځکه چې دوی هرې خبرې ته ځیر وي او په دقیقه توګه یې له نظره تېروي، پر دې بنسټ د اېډېټر ملګرتیا له لیکوال سره کومه ځانګړې ستونزه نه لري او په ډېرې اسانی سره کولای شي، چې له لیکوالو سره د دوستی مراندې وغځوي. (۵)

ادب څېړونکي وایي چې د اېډېټر لپاره په لاندنیو ځینو مهمو مسایلو پوهېدل په کار دي:

- ✓ څه ډول اېډېټ: ځانګوالیز، منځپانګیز، جوړښتیز، ژبنیز او که فني.
- ✓ د اثر ډول: موجوده اثر څه ډول دی، یعنې پنځونه، تألیف، ژباړه او که سمونه ده.
- ✓ اثر څه ډول منځپانګه لري: پوهنیزه، څېړنیزه، رسنیزه، ذوقي اوکه تخیلي.

✓ د کومو موخو لپاره کارول کېږي: سرچینو، عوامو او که درسي موخو لپاره.
✓ د اثر ګومره والی: مقاله، رساله، کتاب او که ټولګه ده.
✓ د اثر لوستونکي څوك دي: ماشومان، ځوانان، زلمیان، زده کړیالان او که د پوهنیزو او اکاډمیکو چوکاټونو خلك. (٦)

ایډېټر ته په کار دي لومړی په دې خبرو ځان پوه کړي، دی چې کوم اثر ایډېټ کوي، په کوم ډول آثارو کې راځي او نومړی د کوم ډول ایډېټ واك لري، تر دغو خبرو وروسته نومړی تصمیم نیولای شي چې څه وکړي، ځکه ډېر ایډېټران د دې ټولو خبرو ورتیاوې نه لري او اړ دي، چې په یاد اثر کې یوازې یوه برخه یې د ایډېټ لپاره غوره کړي او یا هم داسې کس د ایډېټ لپاره په ګوته کړي چې د یادې پوهې ځانګوال او واك لرونکی وي.

د دې لپاره چې پر پورته ځرګندونو په دقیقه توګه پوه شو، اړینه ده چې ځینو برخو ته یې لنډې نغوتې وکړو:

## ✓ څه ډول ایډېټ

یو شمېر څېړونکي وایي چې ډېر ځله پوهنیز – څېړنیز آثار ایډېټ ته ډېره اړتیا نه لري، په داسې حال کې چې دا خبره اپوټه ده، په ځانګړې توګه په افغانستان کې، ځکه زموږ په هېواد کې تر نورو عادي آثارو او مقالو پوهنیز - څېړنیز آثار ډېرې سمونې او ایډېټ ته اړتیا لري، آن دغه پوهنیز آثار که د اکاډمۍ یا پوهنتون هم وي، بویه په تخصصي توګه ایډېټ شي او تر نورو آثارو زیاته څېرنه ورته وشي؛ ځکه د داسې آثارو علمي پانګه درنه او مینه وال یې زیات وي او ډېر ځله د کانې کرښې بلل کېږي.

پورته هم نغوته وشوه چې د تخصصي موادو د ایډېټر علمي کچه باید د لیکوال له کچې سره سمه او یا تر هغه اوچته وي، ځکه د پوهنیزو آثارو ایډېټ د ورځپاڼې یا عادي سیاسي لیکنو په څېر نه دی، بلکې خورا پراخه حوصله او ډېره پوهه غواړي. که چېرې زموږ پوهنیز او څېړنیز اثر ژباړه وي، ایډېټر ته بویه چې په لومړي پړاو کې اصطلاحات او د دواړو متونو ژبې سره پرتله کړي او په دې ځان پوه کړي، چې موخنې ژبې ته د راژباړل شوې ژبې ترکیبونه او اصطلاحات لکه څنګه چې باید وي، هماغسې دي او که نه؟

ښایي په دې پړاو کې د ایډېټر کار یو څه ستونزمن وي او د معادلو اصطلاحاتو موندنه یې تر یو ځایه ستړی کړي، خو ګټه یې دا ده چې اثر به له پردیتوبه وژغوري

او د خپلې ژبې لوستونکو ته به يې د هغوی په خوښه او د هغوی په ژبه چمتو کړې وي. بل ډول پوهنيز او څېړنيز اثر د تألیف په بڼه دی، چې لږه برخه يې د څېړونکي شننه او ډېره برخه يې د پرديو له آثارو څخه را اخيستنه او که ساده يې ووايم اقتباس دی. په دې برخه کې که د ايډېټر د پوهې کچه پراخه او تر بهرنيو کتابونو پورې رسېدلې وي سم له واره يې معلومولای شي، چې د ده تر لاس لاندې اثر کې د کومو ژبو له آثارو څخه ګټنه او اقتباس شوی دی، په دې صورت کې د ده کار نور هم اسانېږي او په دې پوهېږي چې را اخيستنه يې د څوم لاس را اخيستنه ده.

کومې خبرې چې پورته يادې شوې، دا ټولې په «څه ډول ايډېټ» کې راځي، خو "د اثر ډول" او "اثر څه ډول منځپانګه لري" موادو په ايډېټ کې لاندې خبرې اړينې دي:

✍ د مطالبو تلخيص، تقليل – کره او نږه او يا هم حذفول.

✍ ځای پر ځای کول.

✍ سپړنه، بدلون، سمونه او جوړونه.

✍ زياتوالی.

✍ بياکتنه او سمونه.

✍ د اسلوبو ترتيب او منظمول.

پر پورته موادو سربېره په ايډېټ کې د حذف يا ځينو برخو لرې کول هم اړين دي، چې په وسيله يې متن د روانوالي او ساده والي خوا ته ځي، ځکه موږ وينو په ځينو موادو کې يوه خبره په څو ډوله الفاظو کې بيان شوې وي، خو منځپانګه او جاج يې يو وي، ځکه د حذف خبره هم په ايډېټ کې اړينه ده. البته يو شمېر څېړونکي په دې اند دي هره هغه بېلګه، بې ځايه خبره، د ليکوال د نظريو تکرار، بې ځايه حاشيه روي، نا اړينې خبرې، مبتذل مطالب، بې ځايه درناوی او ترټنه، داسې خبرې چې په هغه کې د ليکوال نظر نه څرګندېږي او کومه ځانګړې معنا هم ونه ښندي، د داسې لاسوندونو او لاملونو په ګوته کول چې له اره اساس او بنسټ نه لري او يا هم له داسې اخځليکونو څخه ګټنه کول، چې څېړنيز او پوهنيز ارزښت نه لري او يا هم کره او نږه نه وي، راوړل کېدلای شي د حذف تر شپول لاندې راشي او لرې شي، په دې کار سره نه يوازې د متن په ساده والي کې مرسته شوې، بلکې د لوستونکي د وخت له ضايع کېدلو او زړه توری څخه يې هم مخه نيول شوې ده.

دغه راز د متن نړه او کره کول هم هغه مهال کېږي یا هغه مهال یو متن کره او نړه کېږي، چې نقل قولونه، شواهد او ویناوې له حده زیاتې اوږدې او بې مسوولیته شي، په دې معنا ډېر ځله موږ یو متن انتقالوو یا ترې اقتباس کوو، خو هڅه نه کوو چې د اقتباس په ټولو شرایطو ځان پوه کړو، بس خوشحاله یو چې خبره مو کره کړې او په کنډه برابره ده، په داسې حال کې چې په نامستقیم ډول مو له څېړنې سره خیانت کړی دی.

په ابډېټ کې چې کله له پورته پړاوونو څخه واوړو، نو د بل پړاو وار را رسېږي، چې هغه ته ځای پر ځای کول او که ساده یې ووایم ډلبندي وایي، په دې معنا څېړنیزه مقاله یا رساله له خبري یا ژورنالیستي مقالې سره خورا ګورټ توپیر لري، ښایي ژورنالیستي مقاله داسې پیل او پر مخ بوځو، چې موخه مو یوازې او یوازې د خپلې خبرې بیانول وي، خو په څېړنیزه مقاله کې بیا پر دې خبرو سربېره د څېړنیز ار په پام کې نیول هم دي؛ یعنې لومړی بویه د موضوع میتود مشخص شي بیا یې پوښتنه وپوښتل شي، ورپسې د موضوع شالید او په هغه پسې د موضوع آره منځپانګه او څېړنیزه چاره او بالاخره پایله یا نتیجه ګیري، وړاندیزونه او اخځلیکونه بیان شي او په اوسنیو پوهنیزو مقالو کې لومړی سریزه، بیا لنډیز، د څېړنې اهمیت او مبرمیت، د څېړنې موخه، د څېړنې پوښتنې (اصلي او فرعي)، کلیدي کلمې او بالاخره اصلي متن راځي، خو له پوهنیزو او څېړنیز مقالو پرته نورې مقالې بیا دا ځانګړنې نه لري. البته دا حکم قطعي نه دی، که هره مقاله دا پړاوونه ولري، نو له نعمت څخه نعمت الله جوړېږي، خو که ویې نه لري ډېر باك ځکه نه کوي چې په افغانستان کې همداسې کړندود دود دی.

ځینې څېړنیزې مقالې پر پورته ترتیب سربېره د لمنلیکونو، حواشیو، تعلیقاتو او تدوین ربړې هم لري، چې د ابډېټر بله پازه پر دې کارونو پوهېدل او په سمه توګه یې ترسره کول دي؛ یعنې سمون هم دی، ځکه یوازې زیاتول او کمول هر څوك کولای شي، خو په ځانګوالیزه توګه سمون او رغښت یې خورا بسنده وړتیا غواړي.

پر دې خبرو سربېره موږ په یو ځای کې د اصلاح او تعدیل خبره هم یاده کړه، له اصلاح او تعدیل یا سمون او رغون څخه موخه دا ده، یو شمېر نظرونه او څرګندونې او یا هم شواهد داسې وي چې د تأمل وړ وي، خو یو شمېر څېړونکي غواړي چې د

خپلو لاسوندونو او استدلالونو په وسیله دغه تأمل له منځه یوسي، د ساري په ډول یو ځوك را ولاړېږي او وایي چې د خوشحال بابا ټول نظمي او یا شعري كلام څلوېښت زره كړې دی، خو بل كس په داسې حال كې چې یوه یوه كړې یې شمېرلې او له نظره یې تېره كړې، وايي چې د بابا كلام ټول ټولټال پنځه څلوېښت زره بیته دی او دا يې هم ثبوت، نو دغه ډول دلایلو ته چې تأمل له منځه وړي او په لاسوندونو یې زباتوي سمون او رغون وایي.

## توضیح

په څېړنیزو متونو كې ډېر ځله ځینې خبرې یا اصطلاحگانې او نومونه سپړنې او توضیح ته اړتیا لري، چې بویه په لمنلیك كې وسپړل شي، د ساري په ډول موږ په پښتو ژبه كې د نړۍ د ادبیاتو په اړه یوه مقاله لیكو، چې په یو ځای كې یې د زیوس، هومر او یا هم ټرای ښځې یادونه كېږي، خو زموږ لوستونكي ښايي له دې نومونو سره دومره بلد نه وي او یا یې دا نومونه اورېدلي وي، خو په اړه یې معلومات نه لري، نو څېړونكي ته په كار دي چې د هر یوه له نامه سره ستوری وركړي او په اړه یې په لمنلیك كې لنډ او ځغلنده معلومات وركړي، چې لږ تر لږه د لوستونكي سر پرې یو څه خلاص شي.

## زیاتونه

په څېړنیز متن كې زیاتونه هم اړینه او جوړوونكې خبره ده، خو په دې شرط چې لیكوال یا څېړونكی له اېډېټر سره همغږی وي، په دې معنا څېړونكي ښایي د یوې خبرې د تائید یا رد لپاره خورا ډېر لاسوندونه او اقتباسونه را اخیستې وي، خو هغه لاسوند چې په دې برخه كې برخلیك جوړوونكی او بنسټیز دی، هغه ترې پاتې وي او یا د یو داسې پیاوړي لیكوال نقل قول ترې پاتې وي، چې كولای شي د یاد څېړونكي لیكنه په یاده برخه كې سل په سلو كې تائید او یا هم رد كاندي، خو څېړونكي به یا نه وي را اخیستې او یا به یې هم ورته پام نه وي شوای، نو اېډېټر ته بویه چې د داسې خبرو په اړه معلومات ولري او وكولای شي په څېړنیزو متونو كې بنسټیز او اساسي نقل قولونه پیدا او ځای پر ځای كړي.

## بیا كتنه او سمونه

یو شمېر څېړونكي دا عادت لري چې كله لیكنه بشپړه كړي، نو سم له واره یې اېډېټر ته د كتنې لپاره وركوي، اېډېټر یې هم له یو ځل كتنې وروسته چې یوازې

املايي تېروتنې يې سمې کړې وي، بېرته څېړونکي ته سپاري، په داسې حال کې چې څېړنه ډېرې کتنې، بيا کتنې او سمون ته اړتيا لري، په دې معنا ښايي په څېړنه کې د ځينو ليکوالو يادونه شوې وي، چې د ژوند او مړينې نېټې يې په ټولو متونو کې يو ډول خپرې شوې وي، خو حقيقت داسې نه وي، چې ښه بېلګه يې د پښتو ژبې د ستر صوفي شاعر عبدالرحمن بابا د ژوند او مړينې په اړه ده، چې په اړه يې ټول څېړونکي په يوه خوله نه دي، په دې معنا ځوك يې په ۱۰۴۲، ځوك يې په ۱۰۴۴ هـ.ق او ځوك يې هم په ۱۰۴٦هـ.ق او ۱۰۴۸هـ.ق کې زوکړه دقيقه بولي او همداسې يې مړينه هم در واخله، خو نوی څېړونکی او ايډيټر يې ښايي په اړه داسې دقيقه او کره نېټه پيدا کړي، چې د نورو ليکوالو يا ورته هډو پام شوی نه وي او يا يې هم دغه اخځ ته، چې ياد ليکوال لاسرسی پيدا کړی، لاسرسی نه وي شوای. يا هم په بله بېلګه کې لولو، چې يو مهال خوشحال بابا اروپايي ټولنې ته په الوتکه کې يون کړی او دا خبره خورا ډېرو ليکوالو او څېړونکو همداسې نقل په نقل را اخيستې وي، خو اوس ورته د ياد څېړونکي پام شوی، چې په هغه وخت کې اصلاً الوتکې جوړې شوې نه وې او که جوړې هم وې، نو د ګوتو په شمار او هغه هم په داسې هېوادونو کې وې، چې دلته چا نه پېژندلې، نو د داسې تېروتنو مخنيوی لومړی د څېړونکي او بيا ايډيټر کار دی، چې متن لومړی سم او له سمون وروسته يې بيا بيا وګوري او هرې خبرې ته يې په دقيقه توګه ځېرنه وکړي.

## د اسلوبو ترتيب او منظمول

کله چې زموږ څېړنه څېړونکي او يا هم ايډيټر له پورتنيو ټولو بټيو څخه تېره کړه بيا نو د ترتيب او اوډون وار يې را رسي، په دې معنا ښايي زموږ ټوله څېړنه کره او نږه شوې وي، خو ترتيب يې سم نه وي، د سريزې خبرې په پايلې او د پايلې خبرې په منځپانګه يا ار متن کې راغلې وي، نو په داسې حال کې د څېړونکي او ايډيټر دنده دا ده، چې ترتيب يې منظم او د څېړنې له ارونو سره سم چمتو کړي. د ساري په ډول په متن کې يو شمېر اصطلاحګانې راغلې وي، خو يا نه وي توضيح شوي او يا هم په لمنليك کې نه وي، همدا شان د نورو ليکنو ذکر شوی وي، خو نه په الفبايي سيستم او نه هم په کرونولوژيك ډول يا هم فهرستونه کې معرفي شوي وي (۷)، خو ګډوډ يعنې نه سم موضوعي وي او نه هم سم الفبايي، لکه زما د ماسترۍ تيزس چې د زېري جريدې لس

کلن الفبايي فهرست و، خو زما د زده کړې پوهنتون را باندې ګډوډ کړ، نه يې الفبايي ته پرېښود او نه يې هم موضوعي ته، دواړه نومونه يې راباندې په کې ځای پر ځای کړل، په داسې حال کې چې په دې نزاکتونو او توپيرونو ښه خبر وم.

## ژبنی ايډيټ

د سمون يا ايډيټ په اړه مو په نورو بحثونو کې ډېرې خبرې وکړې، اوس هڅه کوو چې په يو متن کې د ژبني ايډيټ په اړه خبرې وکړو او دا معلومه کړو، چې په يو متن کې ژبنی ايډيټ څومره اړين دی.

د ژبني ايډيټ دنده دا ده، چې د ليکوالۍ تېروتنې، له معياري ژبې څخه وتل يا په کې ناغېړي کول، د يو متن په روانوالي او ساده والي کې ستونزمنې او کونګې خبرې، د ناڅرګندو او رکيکو تعبيرونو لرې کول، سبکي ناغېړۍ او ستونزې په جدي توګه په پام کې ونيسي او موخه يې دا ده، چې په لومړي ګام کې همدغه ډول تېروتنې سمې کړي.

ژبڅېړونکي وايي، په ژبني سمون کې يو شمېر داسې بريد پولې هم شته، چې د کره کتنې په برخه کې تر لوړې پوړۍ پورې رسېږي، چې ايډيټر په کې عاجز وي؛ خو نوموړي ته په کار ده دا خبره په ذهن کې ولري، چې ياده ليکنه د ده نه، بلکې د ليکوال په نامه خپرېږي او نوموړی يې يوازې سموونکی يا ايډيټر دی، ځکه د دواړو نامه ته خيال کول په کار دي.

ډېر ځله موږ وينو چې ايډيټر د يو چا د متن ژبه يا سبك بدلوي، خو دې ته يې پام نه وي چې ياده ليکنه د ايډيټر په نامه نه، بلکې د ليکوال په نامه خپرېږي او هر څنګه چې د ليکوال خوښه وي، بايد هماغسې خپره شي، ځکه ځينې ليکوال مينه لري چې ليکنه يې په سيمه ييزه لهجه خپره شي او يا ځينې داسې وييونه او جملې وکاروي، چې ده ته خوند ورکوي او په شعوري توګه يې استعمالوي، خو نور يې يا نه خوښوي او يا ښايي هغه معنا چې ليکوال يې ترې اخلي نور يې ترې نه شي اخيستلای. البته ژبني ايډيټر ته په کار دي چې ليکوال د ليکنې په نزاکتونو او د خلکو په حساسيتونو پوه کړي، خو دا حق نه لري چې ليکنه يې په خپل سر ور بدله کړي.

که چېرې موږ متن په کره کتنيزه توګه له نظره تېروو او سمون په کې راوړو، نو بيا په کې هر ډول تصرف او لاسوهنه کفر د ادب دی، آن که چېرې په ياد متن کې فاحشې تېروتنې، لکه د وزن، قافيې، معنا او... له پلوه موجودې وي بيا هم په کې د

لاسوهنې حق نه لرو، خو دا کولای شو چې یادې تېروتنې ته غشی یا ستوری ورکړو او په لمنلیك کې یې سمه بڼه وکاږو هغه هم په لیندیو کې نه په ازاد ډول. د دې خبرو معنا دا نه ده چې ګواکې د اېډېټر لاس په ټولیزه توګه تړل شوی دی، موږ پورته هم د دې خبرو یادونه وکړه، چې اېډېټر ډېر ځله تر لیکوال هم پورته دی او پوهه یې باید تر لیکوال زیاته وي، ځکه که چېرې اېډېټر په خپله په څه پوه نه وي، څنګه به وکولای شي چې په یو متن کې سمونې راوړي، ځکه د لیکوال پوهېدل اړینه خبره ده، نو په همدې پار لیکوال که په ژبنیو تېروتنو کې یو څه تړل شوی، نو پرانیستی لاس هم لري. په دې معنا اېډېټر په املایي یا دستوري معناوو کې خورا پراخ لاس لري او هر ډول سمون چې د معیار پر اساس ولاړ وي کولای یې شي، خو د دې معنا دا نه ده چې ګواکې املایي سمون اسان دی، ځکه هغه کسان چې د سمون یا اېډېټ په اړه پوهه لري تل له یو لړ لانجمنو مسایلو سره مخامخ وي، ځکه ټول اېډېټران په یوه خوله نه وي او نه د یو ډول معیار منښتې ته چمتو وي. یو شمېر لیکوال او اېډېټران ان زاړه لیکوال نه مني او نه د هغوی آرونه د ار په توګه مني، چې ډېر ځله د معیار له مخې دغه خبره د منښتې وړ نه ده، خو که چېرې زاړه اساسونه د نویو اساسونو په توګه ومنو او غاړه ورته کېږدو بیا دا خبره یو څه د تأمل وړ ده، ځکه زاړه اسلوب ډېره ځله په زړو پولو ولاړ دي او له نویو بنسټونو سره په ټکر کې واقع کېږي او یا هم د نویو خبرو منښتې ته چمتو نه وي.

اوس یو شمېر څېړونکي په دې ګروهمن شوي، چې په پخوانیو ارونو او ژبنیو اساسونو کې یو لړ ستونزې شته، خو د دې معنا دا نه ده چې موږ دې د هغوی پر کړو کارونو د بطلان کرښه را کاږو، ځکه د هغوی کارونه بنسټ یا اساس دی، وړاندې تر دې چې پر هغوی نیوکې وشي په کار ده، چې د هغوی شرایط او د هماغه مهال د ژوند حالات په پام کې ونیول شي او بیا یې په اړه پرېکړه وشي. که مبالغه ونه کړم په پښتو ژبه کې همدا اوس موږ یو شمېر لیکوال لرو، چې د اوسنی پېر لیکوال یې پر علامه والي قایل دي او ډېر ځله د هر یو له نامه سره د علامه لقب کاروي، په داسې حال کې چې د علامه په معنا ښه پوهېږي هم، خو فطرتاً یې په ذهن کې د ځینو مشرانو او اروابښادو لیکوالانو له نامه سره دا لقب راځي، نو دا خبرې په خپله دا جوتوي چې مشران باید ونمانځل شي او د کار ستاینه یې وشي،

خو اوسنی ار اوسنی دی او په کار ده، چې پرېکړې د نويو ارونو او له نويو حالاتو سره سمې وشي، نه د پخوانيو له مخې، ځکه موږ به پخوا د "کې" پر ځای "کښې" ليکل، د «خلك» پر ځای مو «خلق» ليکل، چې ژوندی بېلگه يې د استاد الفت کوټې کوټې ليکنې دي، خو اوس له دغه ډول اساس يا ليك سره همغږي نه يو.

د ژبني ابډېټ بله لويه ستونزه دا هم ده چې ډېر ځله يو شمېر ليکوال، چې د پخوانيو ليکوالو پليوني دي او تر اوسه پورې په خپلې همدغې گروهې ټينگ دي داسې استدلالونه او لاسوندونه وړاندې کوي، چې عادي ليکوال يې د ځواب هم نه دي، دوی د خپلې خبرې د پخلي لپاره دلايل هم وايي او منطق هم، چې د منطق ځوابول يې خورا پياوړی منطق غواړي او دا هغه مهال شونی دی، چې کره کتونکی او که ساده يې ووايم ژبنی ابډېټر هم پخواني فصاحتونه او بلاغتونه لوستي وي او هم د نويو منطقونو پر پوړيو يې پوړۍ ابښې وي او ښه په درز کې پرې روان وي.

هغه ځوك چې په رښتيني معنا ژبنی ابډېټر وي هغه بيا د دې خيال نه ساتي، چې ليکوال ځوك او يا څنگه سړی دی. البته زماني واټن به په پام کې نيسي، خو د نامه خيال يې ډېر نه ساتي او که د نوي عصر پر اساس يې عياروي، نو که د اقتباس خبره نه وي بيا دې پسې هم نه گرځي، چې د کوم عصر نثر دی، بس جوړوي او کره کوي يې، ځکه يو شمېر ليکوال لا تر اوسه په دې گروهه دي، چې پخواني ليکوال ځينې ستونزې لري او دا ستونزې بايد له نويو غوښتنو سره سمې او لرې شي، خو که په دقيقه توگه ورته ځيرنه وشي ډېرې داسې خبرې په کې شته، چې بايد نوی کار پرې وشي او نويو لپاره يې بنسټ ابښی دی.

په دې کې شك نه شته چې پښتو ژبه له ډېر پخوا ځپل شوې، په بسنده توگه ورته کار نه دی شوی او نه ورته د حکومتونو پام اوښتی او همدا لامل دی چې پخواني پښتو متون او اوسني پښتو متون يا پخوانۍ پښتو او اوسنۍ پښتو ژبه سره ډېر توپير نه لري، خو بيا هم د تشريحي گرامر د بنسټونو له مخې هر څه په اوړون او بدلون کې دي او ژبه بايد د وخت له غوښتنو سره سمه برابره شي، نويو ژانرونو او صنفونو ته په خپل لمن کې ځای ورکړي او د نويو خبرو د رانغاړلو زغم ولري.

په ژبني ابډېټ کې بله مهمه خبره د گړدود يا لهجې ده، له بده مرغه دا مهال د پښتو ژبې معيار د يو شمېر لهجو له خوا تر فشار لاندې دی، ځانگوال او ناځانگوال

سره ښکېل دي او هڅه کوي، چې خپله خبره د کاڼي کرښـه زبـاد کـړي، پـه داسـې حال کې چې آرونو دا ټولې خبرې جـوتې کـړې دي، خـو بیـا هـم گوتـه خپلسر-یو او موجوده حالاتو ته نیـول کېـږي، چـې د داسـې خـبرو را کـابو کـول خـورا پـوره واك و ځواك غواړي، نو ژبنی اېډېټ بیا د دې خبرو خیال چنـدانې نـه سـاتي او نـه دا فکـر کوي، چې یو لیکوال د کومې لهجې پلیونی دی، ځکـه لیکـوال چـې څـه پنځـوي د ځان لپاره یې نه پنځوي، بلکې د ټولنې او بشریت د ښېرازۍ لپاره یـې پنځـوي او دا ښېرازي د لیکوال قرباني او ریاضت غـواړي، چـې لـه ځانـه شـمع جـوړه کـړي خپلـه وسوځي، خو نورو ته روښنایي ورسوي.

البته په هر متن کې دې خبرې ته پام کول په کار دي، چـې د لیـك او وینـا ژبـه سره جوت توپیر لري او یو ځای کول یې په هېڅ اساس شونې نه ده، خو معنا یـې دا نه ده چې گواکې کلیوال ترکیبونه او بېلگې له پامـه وغورځـول شي، ځکـه یـو نـثر یـا متن ته چې ځومره خوند او هنر کلیوالـه ژبـه او بېلگـې ورکـوي هـومره یـې تکلفـي او رسمي ژبـه نـه شي ورکـولای او د کلیـوالي ترکیبونـو بلـه ښـېگڼه دا هـم ده، چـې پـه پوهاوي کې خورا ډېره مرسته کوي چې دا په خپله د څېړنې یو اصل هم دی.

که خبره یو څه ساده کړو هر پېر یا عصر ځانته ژبني قواعد او معیارونه لري، چې ډېـر ځله د ادب د تاریخ لیکوال د همدغو ژبنیو، سیاسي، اقتصادي او... توپیرونو په پـام کـې نیولو سره د دورو او پړاوونو د بېلوالي مسئله مطرح کوي او همدغه جـلاوالي د ادب تـاریخ لیکوال پر پرېکړو اړ باسي، نو ځکه وایو چې د هرې دورې ژبه د بلې دورې یا پېر لـه ژبـې سره خورا گورت توپیر لري، خو پوهېدل یې شوني دي، ځکه که چېرې مـوږ د یـوې او یـا دوو پخوانیو ادبي دورو نثر وگورو او پرې پوه نه شو، نو هلته لـه بـل ژبنـي یـا پښـوییز کـړاو سره مخامخېږو او هغه د نوې ژبې او گډود مسئله ده، په دې معنا یـو شـمېر ژبپوهـان پـه دې گروهه دي که چېرې په یوې ژبې که پنځه ځلوېښت سلنه گـډود وي، نـو هغـه بیـا د یوې ژبې لهجه نه، بلکې یوه خپلواکه یا جلا ژبـه ده، خـو یـو شـمېر بیـا دغـه سـلنه پنځـه ځلوېښت نه، بلکې پنځه شپېته گڼي، په هر حال کـه ځلوېښـت وي او یـا شـپېته خـو لـه داسې ستونزې سره مخامخېږو، نو ځکه ټینگـار کـوو چـې د ادب تـاریخ پـه دورو کـې پـه دغو نزاکتونو پوهېدل په کار دي او د یوې دورې نثر باید د بلـې دورې لـه نـثر سره دومـره ډېر توپیر ونه لري، چې لوستونکی یې په ژبه پوه نه شي او متنپوه ته یې ور وړي.

## پایله

د پایلې په توګه ویلای شو ژبپوهان وايي د ژبې اره پېژندنه دا ده چې ژبه په واقعیت کې یوه ټولنیزه، اکتسابي او ثقافتي پدیده ده، نه عضوي، فطري او طبیعي.(۸)

عضوي ځکه نه ده چې یوازې د غوښې یوه ټوټه نه ده، بلکې له کماله ډکه ښکارنده ده او فطري او طبیعي ځکه نه ده، چې د انسان د نورو غړو په څېر په طبیعي توګه فزیکي وده نه کوي او نه دومره غټېږي، چې له خولې یې بهر راووځي او یو فزیکي عمل پرې ترسره کړي، خو اکتسابي ځکه ده، چې زده کېږي او هېڅ داسې پښتون به څوك پیدا نه کړي، چې له پیدایښت سره سم یې عربي، انګریزي او یا یو شمېر نورې ژبې زده وي او پرې خبرې وکړای شي، دا وخت او حالات دي، چې په مور، نورې ژبې هم زده کوي، نو ځکه کسبي ده چې کسبېږي، خو مهمه خبره په کې پوهېدل دي، یعنې یوه ژبه چې څومره ساده او د پوهېدا وړ وي هماغومره خلکو ته د منښتې وړ وي او خلك پرې په اسانه پوهېدلای شي، نو هېڅ لیکوال اړ نه دی چې د ولس ساده او روانه ژبه د معیار په نامه دومره سخته او ستونزمنه کړي، چې آن لیکوال یې هم د پوهېدلو په پار سیندونو ته مخه کړي، ځکه د ستونزمنو او سختو الفاظ کارول نه یوازې د لیکوال د پوهې څرګندونه نه کوي؛ بلکې د نوموړي لیکوالۍ ته زیان رسوي او لوستونکي هڅه نه کوي، چې آثار یا لیکنې یې مطالعه کړي.

په ژبني ابډېټ کې یوه بله کوچنۍ مسئله د فني ابډېټ خبره ده. څېړونکي وايي د فني ابډېټ دنده جوړښتونه وي، یعنې یوه لیکنه په ظاهري توګه اوډل کېږي، چې کوم سرلیك او کومه موضوع په کوم ځای کې ځای پر ځای شي. کله چې یوه لیکنه پر جولیز جوړښت سمبال شي؛ نو بې له شکه لیکنه پر پوهنیز-څېړنیز ارزښت سربېره ښکلاییز ارزښت هم پیدا کوي او د کره کتونکو له چړې تر یو ځایه خلاصی مومي، ځکه کله چې کره کتونکی او لوستونکی په لومړي سر کې د لیکنې یا کتاب پاڼې واړوي را واړوي، خوښې یې شي هڅه کوي چې د خوښې ځایونه یې ولولي او څه ترې زده کړي. ډېر ځله داسې هم کېږي، چې ځینې لوستونکي د کتاب لومړني مخونه وګوري او یا یې جولیز جوړښت ته پام وکړي چې

ګډوډ وي، نو لري يې کړي او له هماغه پيله يې نه مطالعه کوي، خو که چېرې شکلي جوړښت يې سم وي او پوه شي، چې څه ستونزه نه لري، نو بيا پرې پيسې هم ورکوي او لولي يې هم او که ورته وخت ونه لري، نو لږ تر لږه د لوستلو په نيت يې له ځان سره خوندي کوي، چې په حقيقت کې دا ټول د فني جوړښت برکت دی.

د يو کتاب يا رسالې په فني جوړښت کې هم د نورو برخو په څېر ځينې خبرې اړينې وي، چې په لاندې ډول دي:

✍ د املايي تېروتنو سمون، که څه هم دا برخه ډېره د ژبنې ايډېټ پورې اړه لري، خو د جولې له مخې لږو ډېر پر جوليز جوړښت پورې هم اړه لري.

✍ د ليك نښو په سمه او دقيقه توګه مراعتول او له سره يې بيا بيا کتل.

✍ خورې ورې اصطلاحګانې او ګړنې جوړول، يعنې ښايي ليکوال ډېرې داسې ګړنې کارولې وي، چې تر دې وړاندې يا نه وي کارول شوې او يا هم کارول شوې وي؛ خو سمې نه وي، نو فني ايډېټر دا هر څه هم د جولې او هم د منځپانګې له مخې جوړوي.

✍ لنډيزونه، د شرحو سېمبولونه، اواز پېژندنې، فونيمونه، ابېڅې، ليك نښې.

✍ د لمنليکونو اوډون.

✍ د اخځليکونو سمون او اوډون.

✍ د ارجاعاتو بياکتنه.

✍ د ارقامو او شمېرو کارونه او د ارونو چمتو کول.

✍ د انځورونو، نقشو، شکلونو او جدولونو شرحې او چمتو کول.

✍ د فورمولونو اوډون.

✍ د واټونونو ټاکل او د سرليکونو ډلبندي کول.

✍ د لارښود او نورو فهرستونو چمتو کول.

✍ د ويي پانګې چمتو کول او اوډون.

✍ د مخونو د شمېرو او لاتينو اعدادو اوډون.

✍ د پښتۍ اوډون او سمون.

په فني جوړښت کې دا او دې ته ورته خورا ډېرې خبرې راځي چې د اوس لپاره زموږ د موضوع لمن همدومره ده، نو په ټوله کې ويلای شو چې ايډېټ او ايډېټر دا

او دې ته ورته ځانګړنې او ګټې لري چې د اوس لپاره پر همدغو خبرو بسنده کېږي او د یو اثر د سمون او رغون لپاره یې اړین بولو.

## مأخذونه

۱- مشواڼی، عبدالقیوم زاهد، زاهد پښتو- پښتو سیند، د افغانستان د علومو اکاډمي، د پښتو څېړنو نړیوال مرکز، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۸۵ لمریز کال، ۲۳۸ مخ.

۲- عمید، حسن، فرهنګ فارسی عمید، نهه ویشتم چاپ، چاپخانه سپهر: تهران، ۱۳۸۳ لمریز کال، ۳۹۹ مخ.

۳- ګیلاني، احمدسمیعي، نګارش و ویرایش، شپږم چاپ، سازمان چاپ و انتشارات وزارت فرهنګ و ارشاد اسلامي: تهران، ۱۳۸۳ لمریز کال، ۱۳۴ مخ.

۴- ویکي پیډیا، مصحیح، پوهنغونډ، د اخیستو وخت، ۱۳۹۹/۹/۱۵ لمریز کال.

۵- ویکي پیډیا، مصحیح، پوهنغونډ، د اخیستو وخت، ۱۳۹۹/۹/۱۵ لمریز کال.

٦- ګیلاني، احمد سمیعي، نګارش و ویرایش، شپږم چاپ، سازمان چاپ و انتشارات وزارت فرهنګ و ارشاد اسلامي: تهران، ۱۳۸۳ لمریز کال، ۱۳۴ مخ.

۷- نګارش و ویرایش، ۱۳٦ مخ.

۸- خویشکی، محمد صابر، پښتو غږ پوهنه او وییپوهنه، څلورم چاپ، مومند خپرندویه ټولنه: جلال اباد، ۱۳۸۸ لمریز کال، ۱ مخ.

څېړندویه نازو کمال

# په پښتو داسـتاني ادب کې د لهجوي ویيونو د استعمال څرنګوالی

# How to use Dialectic words in Literary fiction of Pashto

**Researcher Nazo Kamal**


## Abstract

Literary fiction is important part of Pashto literature, and it has various genres. However these genres came from other languages into Pashto, but over time it has gained special place in Pashto literature.

With the passage of time it has not only developed, but also embraced variety of influences. Which one of them is dialectic influence. In this article has been researched on how dialectic changes influence Pashto literary fiction? and whether if we can use dialectic words in Pashto literary fiction or not?

## لنډیز

داستاني ادبيات په ټوله کې د پښتو ادبیاتو درنه او غوښنه برخه ده چې بېلابېل چوکاټونه لري. دغه ډولونه که څه هم زیاتره یې له نورو ژبو څخه راغلي دي، خو په پښتو ادب کې یې ځانګړی ځای خپل کړی دی او تر دې حده عام شوی چې که ووایو پرته له دې پښتو ادبیات نیمګړي دي، نو کومه تېروتنه به مو نه وي کړې. د

پښتو ژبې داستاني ادب یا دغو ډولونو هم د وخت په تېرېدو سره نه یواځې دا چې پرمختګ یې کړی، بلکې ډول ډول اغېزې یې هم منلې دي. چې له هغو څخه یو یې هم لهجوي اغېز دی چې په دې مقاله کې پرې پوره څېړنه شوې ده او دا جوته شوې چې د لهجو او لهجوي وییونو کارونې د داستاني ادبیاتو پر کومو اړخونو اغېزې ښندلې دي؟ په داستاني ادب کې لهجوي لغتونه وکاروو که نه؟ او که استعمال هم شي نو څه ډول دې وکاروو؟ او بله دا چې د دغو اغېزو او استعمال مثبتې خواوې ډېرې دي او که منفي چې په دې مقاله کې پرې خبرې شوې دي.

## سریزه

له ډېرې پخوا زمانې څخه داستانونه ویل او اورېدل کېږي، بس توپیر یې دومره دی چې په هر پېر یا پړاو کې یې ځان ته جلا جلا شکلونه غوره کړي دي. پخوا که یو داستان و، نن داستاني ادبیات یوه لویه برخه ده چې بېلابېل ژانرونه په کې شامل دي او اوس دا دی، داستاني ادبیات له ادبي نړۍ څخه یوه نه جلا کېدونکې او په زړه پورې برخه ده. دا برخه له هېڅ ډول اغېز څخه خوندي پاتې نه ده، دا اغېز به کله ګټور او کله هم بې خونده ثابت شوی وي. له دغو اغېزونو څخه یو هم لهجوي اغېز یا د لهجوي وییونو د استعمال څرنګوالی دی، دلته پرې بحث کېږي چې د پښتو داستاني ادبیات څومره ترې اغېزمن شوي دي، یا تر کومه بریده په دغه برخه کې لهجوي وییونه کارول کېږي؟

لکه مخکې مو چې وویل داستاني ادبیات د هرې ژبې د تخلیقي برخې روښانه او په زړه پورې برخه ده او په پښتو ژبه کې د لهجو ډېروالی د دې سبب شوی چې پر داستاني ادبیاتو هم خپل اغېز ولري. دغه اغېزې کله ګټورې او کله هم د عامو لوستونکو لپاره د پوهاوي په برخه کې ستونزې پېښوي یا یې پېښې کړې دي.

هره ژبه ډېرې لهجې لري، د ځینو ژبو پر لیکدود یا لیکنۍ برخه باندې د لهجو اغېز زیات وي، خو پرځینو هغو یا هېڅ نه وي یا یې اغېز کم کړی وي او دا چې پښتو ژبه له هغو ژبو څخه یوه ده چې د لهجو شمېر یې زیات او داستاني برخه یې هم تر اغېزې خوندي پاتې نه ده؛ نو پر همدې اساس مې دغه موضوع غوره وګڼله چې د پښتو ژبې په داستاني ادبیاتو کې تر کومې اندازې لهجوي کلمې استعمال او

لیدل کېږي؟ ژبه څه ته وايي؟ لهجه څه معنا لري؟ دغه استعمال داستاني ادبیاتو ته گټه رسوي او که تاوان؟

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې داستاني ادب د ادبیاتو مهمه برخه ده او په پښتو ژبه کې دا برخه موجوده او ورځ تر بلې د پرمختگ په حال کې ده. دا چې پښتو ژبه خورا ډېرې لهجې لري نو دا صنف یې له اغېزې بې برخې نه دی پاتې شوی او اړتیا وه چې دا اغېز یا په دغه صنف کې د لهجوي وییونو استعمال وڅېړل شي چې تر دې وروسته به په دې برخه کې نورو څېړنو ته لاره هواره کړي.

## د څېړنې موخې

د دې څېړنې موخې او اهداف په داستاني ادبیاتو کې د لهجوي کلمو د کارولو څېړل او دا په ډاگه کول دي چې دغه کارونه مثبته ده که منفي؟ او که څوک په داستاني ادبیاتو کې لهجه یا د یوې ځانگړې سیمې لغتونه کاروي هم، نو څه ډول یې وکاروي، څېړل شوي دي.

## د څېړنې پوښتنې

په دې څېړنه کې دا لاندې پوښتنې ځواب شوې دي:

۱ـ داستاني ادبیات څه ته وايي؟

۲ـ لهجه او ژبه څه توپیر سره لري؟

۳ـ زموږ پر داستاني ادبیاتو د لهجو اغېز شته که نه؟

۴ـ ځینې لیکوالان په داستاني ادبیاتو کې ولې لهجوي وییونه کاروي؟

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې له تشریحي- تحلیلي او همدارنگه د اړتیا په صورت کې له انتقادي میتود څخه هم کار اخیستل شوی دی.

## اصلي متن

دا چې اول د ژبې بیا یې د لیکنۍ برخې بحث رامنځ ته کېږي، نو دلته هم لومړی پر ژبه څه نا څه غږېږو: انسان ټولنیز موجود دی او له هماغه پیله یې ټولنیز ژوند کړی

دی، همدې ټولنيز ژوند او غوښتنو پر اساس ورو ورو غږونه او بيا ژبه پسې پيدا شوې ده.
((کانديد اکاډميسين پوهاند محمد رحيم الهام د (روشی جديد در تحقيق دستور زبان دری) اثر په ۱۲ مخ کې د ژبې له ټولو تعريفونو څخه يو جامع تعريف داسې کښلی دی:
((ژبه د غږيزو سمبولونو داسې يو اکتسابي او ميثاقي سيستم دی، چې د ټولنې وګړي يې له يو بل سره د مفاهمې لپاره کاروي.)) (۱: ۲۲۷ مخ)

نو ژبه د افهام او تفهيم تر ټولو اساسي وسيله او د بشر- ارزښتمنه اختراع ده چې خپل ځانګړی جوړښتي نظام لري، همدا ژبه ده چې نورو ته خپل فکر پرې لېږدوو او په مرسته يې خپلې غوښتنې څرګندوو. همدارنګه بېلابېل دلايل لري چې په يوه ژبه کې لهجې رامنځ ته کېږي. مخکې تر دې چې دا دلايل وڅېړو، په لهجه به سره پوه شو: (( لهجه عربي کلمه ده. په لغت کې د ژبې د خبرو کولو او د تلفظ طرز او د يوې سيمې په خاصو طرزونو او اندازونو سره د يوې ژبې د کلمو تلفظ کولو ته وايي.)) ( ۱:۲۵۶ مخ)

ويلی شو چې لهجه د يوې ژبې د وينګ بېلابېلو بڼو ته وايي، يعنې د يوې ژبې ويونکي په خپل منځ کې په مختلفو بڼو سره ګړېږي، همدا مختلفې بڼې لهجه يا لهجې بلل کېږي. دا چې يوه پديده رامنځ ته کېږي، ډېر دليلونه لري، نو په پښتو ژبه کې هم ډېرې لهجې رامنځ ته شوي دي، يو ستر لامل يې جغرافيوي موقعيت دی، پښتانه په جغرافيوي لحاظ په لرو نږدې سيمو کې مېشت دي، پر همدې اساس پښتو ژبه بېلابېلې بڼې او ګړدودنه لري. د (ګړدودپوهنې) په کتاب کې په دې اړه داسې ليکل شوي دي: ((لهجې پر جغرافيايي ماحول سربېره په ټولنه کې د يوې ژبې د ويونکو له ټولنيز او اقتصادي دريځ سره هم بدلون مومي.. د ژبې پوهان په دې عقيده دي چې د ژبې لهجه هغه وخت منځ ته راځي چې ويونکي يې له خپل اصلي او طبيعي ټاټوبي څخه د بېلابېلو ټولنيزو، اقتصادي، سياسي او نظامي عواملو له امله نورو سيمو ته ولېږدېږي او هورې د نورو ژبو په ګاونډ کې واقع شي او د نورو ژبو او ثقافت تر اغېزې لاندې راشي.)) (۹:۳۸مخ)

نو دا خبره جوته شوه چې د مختلفو دلايلو له امله لکه: ټولنيز، اقتصادي، سياسي، نظامي او داسې نورو له امله پښتانه هم په بېلابېلو سيمو کې مېشت شوي دي او د جغرافيايي واټن له امله په پښتو ژبه کې ډېر ګړدودنه منځ ته راغلي دي چې زما په اند ستر لامل به يې هم همدا وي، خو پر جغرافيايي محيط سربېره ځينې نور

عوامل لکه مورفو فونيميکي بدلون چې په دې بدلون کې فونيمونه يو پر بل اوړي، لغوي تغييرات چې د ژبې په داخلي چاپيريال کې يو شمېر لغوي تغييرات د ژبو په مختلفو لهجو کې د مختلفو عواملو له کبله منځ ته راځي.)) (۴۴:۹ـ ۴۷ مخونه)

تر ژبې وروسته د ژبې د ليکنۍ برخې بحث پيلېږي، خو دلته يواځې د پښتو ژبې پر داستاني برخه غږېږو. څېړنپوه دوکتور سيد محي الدين هاشمي په دې باب ليکي: ((زموږ په فرهنګي عنعنه کې دا دود دی، چې ټول ادبيات يا ادبي آثار په لومړۍ سر کې د بڼې له مخې په دوو سترو برخو ويشي، چې يوې ته يې ((شعر)) او نظم او بلې ته ((نثر)) وايي.)) (۱۰: ۳۹مخ)

دلته له شعري برخې سره کار نه لرو. خو د وېش له پلوه نثرونه هم په دوه ډوله دي، ساده او هنري. چې يواځې هنري نثري برخه په ډېر لنډ ډول درپېژنو. ((اساسي او بنسټيزه ځانګړنه چې ادبي او ساده نثرونه سره بېلوي هغه هنريت يا ادبي او هنري ارزښت دی، د ادبي نثر د ليکوال احساس، ذوق او تمايلات د مطلب او واقعيت بيانولو له پاره په کې اساسي رول لري... د نثري ادب ژانرونه ليکوال په خپل اثر کې د هنري نثر دا لاندې ډولونه يا ژانرونه راپېژني: لنډه کيسه، ناول، ډرامه، رومان...)) (۱۰:۴۰ مخ)

د داستاني ادبياتو دا پورتني ژانرونه (ناول، لنډه کيسه، ډرامه، رومان داسې نور) له لهجوي تاثيره بې اغېزې پاتې نه دي، ځکه ليکنۍ او ګړنۍ برخې له يو بل سره نه شلېدونکې اړيکې لري، همدا ګړنۍ برخه ده چې په ليکنۍ برخه کې يې اغېزې جوتې او څرګندې دي. نو دا چې پر ژبه، لهجه، په ژبه کې د لهجو د رامنځ ته کېدو پر عواملو او داستاني ادبياتو څه نا څه سره وپوهېدو. اوس دا پوښتنه را پيدا کېږي چې ولې ډېری کسان لهجوي کلمې يا په ټوله کې په داستاني ادبياتو کې لهجه کاروي؟ د دغې پوښتنې په ځواب کې بايد ووايل شي چې: ډېری کسان په يوه ژبه کې د ګڼو لهجو موجوديت د ژبې ښکلا بولي او وايي چې د ژبې لغوي پانګه بډايوي، خو بيا هم وينو چې د لهجو ډېروالی په معياري ليکدود کې ګڼې ستونزې رامنځ ته کوي. نو دا چې په پښتو ژبه کې د لهجو شمېر زيات دی، زموږ په ليکنۍ برخه کې يې هم خپلې اغېزې لرلي دي. ځينې ليکوالان په شعوري توګه خپله لهجه يا د لهجې لغتونه کاروي او ځينې يې په غير شعوري توګه يا دا چې د بلې لهجې يا د معياري ژبې لغت ورته معلوم نه وي، د خپلې لهجې لغتونه او کلمې

استعمالوي. زیاتره لیکوالان چې د خپلې لهجې لغتونه یا وییونه کاروي، په ټوله کې دوه دلیلونه ورته راوړي:

۱- یو دا چې د لهجوي کلمو کارونه د دوی د خوندیتوب سبب کېږي، ځکه مو ډېر اورېدلي هم دي چې فلاني لیکوال په خپلو لیکنو کې ډېر لغتونه او اصطلاحات خوندي کړي دي.

۲- بل دا چې د لهجوي کلمو کارونه د داستاني ادبیاتو د ښکلا سبب کېږي، یا د داستاني ادب د ښکلا لامل یې ګڼي.

د ځینو لیکوالانو د آثارو یوه برجسته ځانګړنه د ولسي او لهجوي کلمو کارونه ده، خو که چېرې هر لیکوال د یوې مشخصې سیمې او قوم کلمې کاروي، هغه که په هر دلیل وي، نو آیا خپل پیغام او خبرې به د هرې سیمې لوستونکو ته په سمه توګه ورسوي؟ طبعاً چې ځواب به مو منفي وي. ځکه هره سیمه او هر قوم خپلې ځانګړې کلمې او لغتونه لري چې د هرې سیمې خلک نه پرې پوهېږي. مثال دی چې: ((دا غوټاشکي د یوه خوار ژواکي واړه ماشوم وې چې د ترورمی د شپو یوه تېر ماخوستن په توره دربیله کې له یخه کپنۍ اخیستی و او له ترغوني ماښام څخه د یوې وچې سړې ګولې په نامراده هیله د جګې ماڼۍ په لوی تړلي وره پورې زنګېدئ.))(۸: ۳مخ)

د پورتنۍ بېلګې په ټول متن کې د لهجې استعمال له ورایه څرګندېږي او ښایي د هرې سیمې لوستونکی د لوستو پر مهال له سختۍ سره مخامخ شي، نو دا چې لیکوال لوستونکو ته لیکل کوي او هر لیکوال غواړي چې ولوستل شي، نو لوستونکي چې د لیکوال په داستان، کیسه یا ناول کې پر لغتونو پوه نه شي، هغه بیا نه لولي او چې کله لوستل کېږي نه، نو لیکل به یې څومره اغېزمن او ګټور وي؟

په داستاني ادبیاتو کې تشریح نه ځایېږي، که موږ هر څه تشریح کوو، د لوستونکي زړه تنګېږي، داسې به بیا د یو داستاني ژانر او د یوه راپور ډېر توپیر نه وي، نو لیکوال په داستاني ادب کې باید هر څه راباندې ووینې او لوستونکي له داستاني ادب لیکوال څخه همدا تمه لري چې د تصویرونو او انځورونو په ژبه ورته وغږېږي. نصیر احمد احمدي په (راځئ کیسه ولیکو) کتاب کې لیکي: ((په ناول یا هم لنډه کیسه کې د نورو اړخونو تر څنګ تصویر ډېر ضرور دی، په جملو باید دومره زور وي چې د لوستونکي په ذهن کې حرکت پیدا کړي، هر څه ژوندي شي او د سترګو مخې ته یې ودروي.)) (۴: ۵۴ مخ)

نو ځینې لیکوال په داستاني ژانر کې د لهجوي کلمو په راوړلو او استعمال سره د تصویر جوړولو هڅه کوي، پر همدې اساس ښايي ځينې سيمه ييزې او لهجوي کلمې هم وکاروي، خو په بله لیکنه کې دا کار خلک د لیکوال په مسلکیتوب شکمنوي باید په نورو برخو او علومو کې له لهجوي کلمو او ژبې کار وانه خلو. ډېر ځله په داستاني ادبیاتو کې لهجوي کلمې ژبه تصویري کوي او یو بېل خوند او رنګ ورکوي.

د ډېرو لیکوالو کیسې او ناولونه شاید خلکو په دې خوښ کړي وي یا خوښ کړي چې ژبه یې عامیانه ده، د هرې سیمې او لهجې کلمې او اصطلاحات یې کارولي. د بېلګې په توګه زرین انځور د نور محمد تره کي په اړه چې په پښتو داستاني ادب کې ځانګړی مقام لري، لیکي: (( کومه بله خبره چې د نور محمد تره کي په ناولونو کې په ځانګړې توګه د غور وړ ده، هغه دا ده چې دغه ناولونه په حقیقت کې د پښتو متلونو، اصطلاحاتو، محاورو او د کلیو د نږه لغتونو غوره زېرمه ده.)) (۲)

دا سمه خبره ده چې خلک خپل نږه لغتونه خوښوي، د دې ترڅنګ د سوچه کلمو د خوندیتوب لامل هم کېږي، خو دلته بیا هماغه خبره مطرح ده چې دا د کلیو نږه لغتونه به هر لوستونکي ته د پوهېدا وړ وي که نه؟ نو دا جوته خبره ده چې عام لوستونکي د کلیو په ډېرو نږه لغتونو نه پوهېږي او که په لهجوي کلمو کې افراط وشي، نو یواځې به په لیکوال او د یوې ځانګړې سیمې خلکو پورې به محدود شي، دوی به پرې پوهېږي، خو د هر لوستونکي سر به پرې نه خلاصېږي او همدا د دې سبب هم کېږي چې داسې داستاني آثار لږ ولوستل شي.

همدې موضوع په اړه لیکوال نصیر احمد احمدي په خپل کتاب ((راځئ کیسه ولیکو)) کې لیکي: ((زما د لنډو کیسو لومړۍ ټولګه (سره سیلۍ) نومېږي دا کتاب ۷-۸ کاله مخکې چاپ شو، ځینو ولوست رایاده یې کړه چې کیسې دې بدې نه دي هدف لري، تصویرونه یې هم په زړه پورې دي خو په ځینو ټکو یې نه دي پوهېدلي.

هغه وخت مې دا خبره زړه ته نه لوېده، په ژبه کې مې کوم مشکل نه لید، هره کرښه هره کلمه واضح راته ښکارېده، خو وروسته مې پام شو چې په حقه ول، ما په کیسو کې ځینې داسې کلمات راخیستې وو چې یوازې زه او د غزني د قره باغ ځینې اوسېدونکي پرې پوهېدل.)) ( ۴:۳۹ مخ)، نو ښايي موږ ډېره په زړه پورې موضوع پيدا کړو، خو که د بیان او لیکلو طرز مو د عامه پوهاوي وړ نه وي، موضوع

به مو هېڅوک خوښه نه کړي او نه به چاته په زړه پورې وي. ځکه د داستاني ادبیاتو ژبه ډېره مهمه ده، پکار ده چې د هنري یا داستاني ادبیاتو لیکوال په ژبه ډېر غور وکړي، ستونزمنه او پېچلې ژبه او ویېونه ونه کاروي. همدې ته ورته موضوع احسان الله درمل داسې کاږي: ((د ولسي ژبې او لهجو بېخرته استعمال یوه ستونزه هم پېښوي، ستونزه دا ده، چې کله کله لهجوي توپیرونه دومره بارز وي، چې د نورو سیمو لوستونکي یې حسن او معنی نه شي درک کولای؛ بلکه خبره دا ده، چې په ورځنۍ ژبه کې موجود مجازي تعبیرونه هم د وخت په تېرېدو سره بدلون مومي او په دې توګه ممکن نننی لهجوي تعبیرونه د راتلونکیو نسلونو لپاره په معماوو بدل شي.)) (۷: ۳۹۹مخ)

لهجوي ویېونه ممکن زموږ داستاني ژانرونه خوندور او ښکلي کړي، خو دا به یوازې د ځینو مشخصو سیمو لوستونکیو له پاره خوندور وي، نه د ټولو لوستونکو او راتلونکیو نسلونو له پاره. نو د عام فهمې ژبې کارونه ډېره اړینه ده. د دې ترڅنګ په داستاني ادبیاتو کې باید د کرکټرونو او راوي ژبې توپیر هم وشي، که په کیسه، ناول، رومان یا هر بل نثري ژانر کې سیمه مهمه وي باید په ډیالوګونو کې د هغې سیمې لهجه وکارول شي، هلته ښایي دا وضاحت شوی نه وي چې کرکټر د کومې سیمې دی، خو موږ ته له مکالمو څرګندېږي چې کرکټر به د کومې سیمې وي، لکه:

ماشوم ته یې وویل: کوم ځای نه راغلی یې؟

ـ له سکول نه رالم جي

ـ د کوم ځای یې؟

ـ اصل کې خو د افغانستان خو پیدایش مې دلته شوی دی

ـ افغانستان ته ځې؟

ـ نه جي

ـ ولې؟

ـ الته کې جګړه دي.

له پورتنۍ مکالمې پوهېږو چې دا ماشوم په پېښور کې اوسېږي.

یا هم دا مکالمه:

ـ ځنګه سیمه دې خوشه شوه؟

ـ هو ولا، سیبانو یې ډېر خوند راکو

ـ گرمي نه ده؟

ـ یه!

له دې مکالمې پوهېږو چې کرکټر د کندهار د سیمې دی. (۴: ۴۷ مخ)

که چېرې زموږ کرکټر د کومې ځانګړې یا کلیوالې سیمې وي او هغه ته معیاري ژبه ورکوو، نو دلته د داستاني ژانرونو خوند له منځه ځي، موږ کولی شو چې کرکټر په خپله ځانګړې لهجه وغږوو، د سور رنګ تر سرلیک لاندې کیسې یو ډیالوګ دی چې: ((استاده! اغه دې نه دي اورېدلي چې ایطیاد د ژوند سرمایه ده.)) (۱۳:۱۱مخ)

د همدې کیسې یو بل ډیالوګ هم راوړو: ((غوصه ام لا دی دی، که اوس ورنه سرک کې د ترافیکي نښو پوښتنه وکې، یوه بم جواب نه کي.)) (۱۱: ۱۲مخ)

په پورتنیو بېلګو کې وینو چې په دواړو مکالمو کې کرکټر په ډېره عادي ژبه غږېږي، که دلته کرکټر په رسمي یا معیاري ژبه غږېدلی وای، د مکالمو خوند به له منځه تللی وای. موږ په ورځینې ژوند کې له خلکو سره د غږېدا پر مهال معیار ته پاملرنه نه کوو، بلکې په عادي ژبه یا لهجه ګړېږو، خو د دې لپاره چې ټول زموږ په داستاني اثر وپوهېږي نو د راوي ژبه باید معیاري وي. د کوچي ملا ناول یوه برخه ده چې: ((په لنډ وخت کې یې د شاوخوا کلیو له اوسېدونکو سره هم وپېژندل. ډېر یاران ـ دوستان یې پیدا کړل. بله ورځ یې په نژدې کلیو کې له یو چا څخه یو زوړ او له کاره لوېدلی سایکل په درې شله روپو واخیست او کاله ته یې راوړ.)) (۵: ۱۳ـ ۱۴ مخونه)

په پورته بېلګه کې وینو چې راوي راته غږېږي او د (کور) پر ځای یې (کاله) کلمه کارولې ده، که دلته معیار په نظر کې ونیسو نو د (کور) کلمه باید ولیکل شي، خو که همدا کلمه یې د کوم کرکټر له خولې لیکلې وای بیا که د (کاله) کلمه کاروي هم، لیکوال به له اصولو سره سم کار کړی وي.

نصیر احمد احمدي لیکي: ((په ډیالوګونو کې د هرې سیمې اوسېدونکی باید د هغوی په خپله لهجه وغږوو، دا کار کیسې ته خوند وربخښي او د کیسې منطق پیاوړی کوي. شاید دا پوښتنه پیدا شي چې ډېر کلمات او اصطلاحات عام فهمه نه دي یواځې یوې سیمې پورې اړه لري او ټول لوستونکي پرې نه پوهېږي، خو ادبي لیکنې هغه وخت خوندورې راځي چې نوې کلمې او اصطلاحات ولري، نویو سیمو ته مو ورولي، نویو لهجو، تصویرونو او رواجونو سره مو اشنا کړي، خو شرط یې دا دی

چې نويو نومونو، کلمو، اصطلاحاتو ترڅنګ باید په قوس کې هغه شکلونه هم ولیکو چې په هره سیمه کې د پوهېدو وړ دي.)) (۴ :۴۷مخ)

د پورتنیو خبرو په تړاو مثال راړوو چې د نصیر احمد احمدي د (زرو) ناول یو دیالوګ دی:

ـ ما رنګارنګ مرغان ویشتلي دي، خو چتکی ټوپونه وهي، تراوسه د لیندې ګیټی (تیږه) نه ده ورته سیخه شوې. (۳: ۳۹ مخ)

په دغه ډیالوګ کې پر (ګیټی) کلمې باندې ښایي ډېر کسان ونه پوهېږي خو لیکوال له اصولو سره سم هغه کلمه هم په قوس کې راوړې چې په ټولو سیمو کې د پوهېدو وړ ده. همدارنګه د یاد ناول په بل ډیالوګ کې لیکي: (( طوطي آموخته و، څرمونی (پسرلی) به راغی او د لومړۍ واورې تر اورېدو مخکې به یې ځاله پرېښودله...)) (۳: ۱٦ مخ)

په پورتني ډیالوګ کې هم ښایي هر لوستونکی په (څرمونی) کلمه ونه پوهېږي، خو لیکوال له اصولو سره سم یادې کلمې ته هغه بڼه هم لیکلې ده چې په ټولو سیمو او لوستونکو له پاره د پوهاوي وړ ده. یا هم د محمد صدیق پسرلي په کوچی ملا ناول کې لولو: ((چې ورته کتل به دې بس یو بنیان او د پاسه یې پرې یوه غزنیچی پوستینچه اغوستې وه، وړین لاس ماغوګان (دست کشې) یې په لاس کړي او پشمي جورابې یې له څپلیو سره په په پښو وې.)) (۵: ۳۳ مخ)

په پورتني مثال کې که له ( ماغوګان) کلمې سره په قوس کې د ( دست کشې) کلمه له اصولو سره سمه نه وای کارول شوې، د ډېرو سیمو لوستونکي به پرې نه پوهېدای. ځینې داسې کلمې هم شته چې په ټولو سیمو کې په لږ و ډېر توپیر ویل کېږي، خو بیا هم په هره سیمه کې د پوهېدا وړ وي، لکه: (نجلۍ، جیلکۍ، جینۍ..) زما په اند که دا او دې ته ورته کلمې په هره بڼه ولیکل شي، ډېر مشکل نه رامنځ ته کوي، البته یواځې هماغه وییونه چې د هرې سیمې لوستونکي پرې پوه شي. د (پاتې شه باران دی) یوه برخه ده چې: ((سر معلمې وویل: دا جینۍ ځانګه نومېږي، کړه وړه او ځانګړتیاوې یې د روایتي کلیوالې پېغلې برېښي.)) (٦:۳ مخ)

په پورتنۍ بېلګه کې د (نجلۍ) پر ځای د (جینۍ) کلمه استعمال شوې ده، خو د پوهاوي په برخه کې یې کومه ستونزه نه ده پېښه کړې، ځکه د هرې سیمې لوستونکي پرې پوهېدای شي.

کلمې یا لیک باید د اصلي تلفظ پر اساس هم ولیکل شي، خو ډېرې کلمې دي که د لهجوي تلفظ پر اساس یا یې په خپله لهجه ولیکو، نو د نالوستي گمان به راباندې وشي. لکه:

- زه اریانه یم - زه حیرانه یم.
- زه جامې اینځم - زه جامې وینځم.
- احمد لوبې که - احمد لوبې کوي
- ملالۍ سبک یایي - ملالۍ سبق وایي.
- لیلا ته ویه چې ډوډۍ پخه که - لیلا ته ووایه چې ډوډۍ پخه کړي.
- زه ښوونکي اووالم - زه ښوونکي ووهلم.
- اې کوم ځیه خبرې کې؟ - له کوم ځایه خبرې کوې؟
- اه! زرو، په څه نالت (لعنت) شي دې مینه راغلې وه. (۳: ۵ مخ)

په وروستي دیالوگ کې که څه هم د (لعنت) کلمه په لهجوي بڼه لیکل شوې ده، تر څنگ یې اصلي بڼه هم په قوس کې ورسره لیکلې ده چې زما په اند دلته بیا ستونزه نه پېښوي او نه په لیکوال د نالوستي گمان کېږي، خو دا نورې پورتنۍ کلمې د لهجوي تلفظ پر اساس لیکل شوي دي، که موږ هره کلمه همداسې ولیکو، هم د نالوستو فکر راباندې کېږي، آن ښایي ډېر کسان یې په معناوو هم ونه پوهېږي. نو د لهجوي کلمو کارونه ښایي د هماغې سیمو خلکو ته د عاطفې او آشنایۍ حس ورکړي، د نورو سیمو اوسېدونکو ته له ناآشنایۍ او نه پوهېدو پرته بل ډول حس نه شي ورکولی.

په پای کې دومره وایم چې هره لهجه د احترام وړ ده، خپلې ښېگڼې او خوږلنۍ لري، خو په لیکنۍ برخه کې یې استعمال د معیاري لیکدود مخه نیسي-، نو موږ باید هڅه وکړو چې معیاري لکیدود ولرو، چې هم موږ او هم هغه کسان چې غواړي پښتو ژبه زده کړي، له ستونزو سره مخامخ نه شي یا نه شو.

## پایله

له پورتني بحث څخه دا پایله ترلاسه کېږي چې د پښتو ژبې ډېرې لهجې د دې سبب شوي دي چې د پښتو پر داستاني ادب هم اغېزې ولري، موږ په ټولو داستاني ژانرونو کې لهجوي وییونه موندلی شو، که یو خوا داستاني ادب ته ښکلا وربخښي، له بلې خوا ټولو لوستونکو ته د پوهېدا په برخه کې ستونزې هم ایجادوي. نو په دې وخت کې هر

لوستونکی د لغتونو په معناوو پسې سر نه خوږوي، بلکې لنډه لاره انتخابوي او هغه دا چې له لوستو يې ډډه کوي، پر همدې اساس داستاني ادب ليکوال دې عام فهمه ژبه وکاروي او که چېرې لهجوي کلمې يا وييونه کاروي نو ترخنګ دې په قوسونو کې هغه بڼه هم وليکي چې ټول پرې پوهېږي، يا د هرې سمې لوستونکي ته د پوهېدو وړ وي.

## مأخذونه


۱. آريانا دايرة المعارف، دوهمه دوره، د افغانستان د علومو اکاډمي د دايرة المعارف د مرکز رياست: کابل، ۱۳۹٦ل کال.

۲. انځور، زرين، ((پښتو داستاني ادبيات د سياسي ـ فکري مبارزې پر کرښو))، استقلال وېبپاڼه، Istaqlal.com

۳. احمدي، نصير احمد، زرو، لومړی چاپ، مومند خپرندويه ټولنه: جلال آباد، ۱۳۹۴ل کال.

۴. احمدي، نصير احمد، راځئ کيسه وليکو، دوهم چاپ، مومند خپرندويه ټولنه: جلال آباد، ۱۳۹۳ل کال.

۵. پسرلی، محمد صديق. کوچی ملا، دويم چاپ، سروش کتابپلورنځی، ۱۳۹٦ ل کال.

٦. سالک، مصطفی. پاتې شه باران دی، څلورم چاپ، دانش خپرندويه ټولنه. (؟؟؟)

۷. درمل، احسان الله، شعرستان، لومړی چاپ، بېنوا فرهنګي ټولنه: کندهار، ۱۳۹۵ل کال.

۸. رشاد، عبدالشکور، ادبي نثرونه، لومړی چاپ، علامه رشاد اکاډمي: پوهنې مطبعه، کندهار، ۱۳۸۴ل کال.

۹. مياخېل، عصمت الله، ګردودپوهنه، دويم چاپ، ليان اميري بنسټ: هرات، ۱۳۹۷ل کال.

۱۰. هاشمي، سيد محی الدين. د ادبپوهنې څانګې، د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست: شمشاد هاشمي مطبعه، ۱۳۹٦ ل کال.

۱۱. يوسفزی، عزيزالدين. سلګۍ (لنډو کيسو ټولګه)، مومند خپرندويه ټولنه: ۱۳۹۴ ل کال.

پوهندوی عزیزالله جبارخېل

# محمد گل خان مومند او د پښتونولۍ په اړه یې د علمي نظریاتو تحقیقي او تحلیلي کتنه

# Wazeer Mohammad Gul khan Momand and Research and Analytacal review of His Scientific theores on Pashtunwali

**Assistant professor Azizullah Jabarkhel**

## Abstract

In this writing, the life of the Pashto language and Literature Period's brilliant star, writer, poet, linguist and journalist of Wazeer Mohammad Gul khan is discussed. A research has been conducted about his opinions of Pashtun's cultures. His birth, Family tree, education, occupations and his comprehensive personality (Islamic, social, Academic, Literary, Cultural, Political and National) are briefly enlightened. In the hundredth century, he is introduced as the leader of Pashtun's literary movement for the improvement of Pashto Language and Literature.

As a linguist he has written "Pashto Seend" the first published dictionary in Afghanistan, and "the Pakhto zabi Liar" the first grammar that was written by Pashto. Also, by writing of (Landaki Pakhto) he added a new treasure to the recent literature of Pashto. In his book he drew the attention of Pashtuns to their former and recent situation, and pointed out their responsibilities.

## لنډیز

په دې لیکنه کې د پښتو ژبې او ادب د معاصرې دورې لیکوال، شاعر، ژبپوهاند او ژورنالیست وزیر محمد ګل خان مومند پر لنډ ژوند لیک خبرې شوې او د پښتونولۍ په اړه یې پر علمي نظریاتو تحقیق او تحلیلي کتنه شوې ده.

د ده په زوکړه او نسب، زده کړو، دندو او پر هر اړخیز شخصیت (اسلامي، اجتماعي، علمي، ادبي، فرهنګي، سیاسي او ملي) لنډه رڼا اچول شوې او په شلمه پېړۍ کې د پښتو ژبې او ادب د پرمختګ لپاره د دغه علمي او ادبي غورځنګ د علمبردار په توګه معرفي شوی دی.

د یوه ژبپوه په حیث یې ((د پښتو سیند)) په افغانستان کې لومړنۍ چاپي قاموس او ((د پښتو ژبې لیار)) په پښتو ژبه کې لومړنۍ ګرامر لیکلی او د ((لنډکې پښتو)) په لیکلو یې د پښتو ژبې په اوسني ادب کې یو شهکار زیات کړی دی چې پښتانه یې د پښتو ژبې پخواني او اوسني حالت ته متوجه کړي او ددوی مسؤلیت یې ور په ګوته کړی دی.

## سریزه

وزیر محمد ګل خان مومند د پښتو ژبې او ادب په معاصره دوره کې هغه نومیالی شخصیت دی چې په یو لاس کې یې توره او په بل کې یې قلم و. د تورې په ډګر کې یې د هېواد د خپلواکۍ، نجات او خلاصون په لاره کې د یو پوځي جنرال په توګه خدمت کړی او د قلم په ډګر کې یې ارزښتناک آثار را منځ ته کړي او لیکلي دي.

په دې لیکنه کې کوښښ شوی چې مومند بابا په لنډ ډول مینه والو ته ور وپېژندل شي او د پښتونولۍ په اړه یې د علمي نظریاتو وضاحت او تحلیل ترسره شي.

د پښتو او پښتونوالي په اړه یې د نظریاتو بېلګې راوړل شي او پر هغو تحلیلي او تحقیقي بحث وشي چې د تشریحي میتود په رڼا کې به پرې هر اړخیزه څېړنه ترسره او د پښتو ژبې او ادب لارویانو او مینه والو ته به یې ګټه ورسېږي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې څېړنې اهمیت په دې کې دی چې د وزیر محمد ګل خان مومند د ژوند په باب لوستونکو ته معلومات ورکړل شي او د پښتونولۍ په اړه یې د علمي نظریاتو

تحليلي او تحقيقي کتنه ترسره شي، څو دده هغه اړخونه او اند روښانه شي چې تر اوسه پرې څوک چې څنګه ښايي، خبر نه دي.

## د څېړنې موخې

دا چې هره ليکنه د يو مقصد لپاره ليکل کېږي، نو دا ليکنه هم د همدې موخې پر بنسټ ليکل شوې ده، چې په لاندې توګه ورته اشاره کېږي:

۱. د پښتو ژبې او ادب مينه والو او څېړونکو ته د محمد ګل خان مومند د ژوند په باب معلومات ورکول.

۲. د مومند بابا د هغو علمي نظرياتو ښکاره کول چې تر اوسه پرې څوک سم خبر نه دي.

۳. ددې څېړنيزې مقالې په پايله کې پښتانه زلمي خپلو مسؤليتونو ته متوجه کول چې د پښتو او پښتونولۍ له اوصافو خبر او عمل پرې وکړي.

## د څېړنې پوښتنې

۱. وزير محمد ګل خان مومند څه ډول شخصيت دی؟

۲. په علمي او ادبي ډګر کې يې څه کړي؟

۳. د تورې او مېړانې اړخ يې څه ډول دی؟

۴. د پښتونولۍ په اړه څه نظر لري او څه غواړي؟

## د څېړنې ميتود

په دې څېړنه کې له تشريحي – توضيحي ميتود څخه کار اخستل شوی دی.

## اصلي متن

شلمه پېړۍ د پښتو ژبې او ادب د پرمختګ لپاره يوه زرينه دوره ګڼل کېږي، ځکه چې د دې ژبې د هر اړخيزې پرمختيا لپاره علمي او عملي هلې ځلې ترسره شوې دي، چې څرګندې بېلګې يې په لره او بره پښتونخوا کې په سرکاري او ولسي-سطحه د پښتو ادبي انجمنونو، ادبي اکاډميو او ټولنو جوړېدل او د پښتو ژبې او ادب د پرمختيا لپاره د نه ستړې کېدونکو هلو ځلو کول دي چې په پايله کې يې د زياتو ادبي (تخليقي او تحقيقي) آثارو را منځ ته کېدل او د پياوړو اديبانو، ليکوالو او شاعرانو روزل دي.

د پښتو ژبې او ادب د پرمختګ لپاره آګاهانه هڅې شوې چې په دې لاره کې څو تنه د دغه تحریک د مخکښانو په توګه حقدار او د دې ادبي غورځنګ علمبرداران ګڼل کېږي چې یو له هغو نه وزیر محمد ګل خان مومند دی چې د پښتو په اوسني ادب کې د لوړ مقام خاوند دی.

ده په ۱۲٦۳ هـ.ل/۱۸۸۴ م کال د افغانستان پلازمینه کابل د اندرابیو په کوڅه کې د محمد خورشید خان کره نړۍ ته سترګې وغړولې، نیکه یې مومن خان او غور نیکه یې عبدالکریم خان و. په ختڼه دویزی مومند او په دویزو کې حسن خېل دی. مومند بابا خپلې لومړنۍ زده کړې په خصوصي ډول په خپله کورنۍ او د سیمې له پوهانو کړې. په ۱۲۷۲ هـ.ل/ ۱۸۹۳ م. کال د حربي ښوونځي په دویم ټولګي کې شامل او په پنځو کلونو کې یې خپل نظامي تعلیم سرته ورساوه. (۲: ۱۳ مخ)

له حربي ښوونځي څخه تر فراغت وروسته د اردلیانو په غونډ کې د قوماندان په رتبه وټاکل شو. په همدې وخت کې یې هم شاهي ټولګي ته درس ورکاوه او هم یې د حربي ښوونځي د سرښوونکي په توګه دنده ترسره کوله. د دغه بریالي خدمت په پایله کې له سپه سالار صالح محمد خان سره د یاور په توګه وټاکل شو، بیا د شاهي ګارډ قوماندان او څه موده په ترکیه کې په افغاني سفارت کې د نظامي اتشه دنده ور وسپارل شوه. په ۱۳۰۰ هـ.ل (۱۹۲۱ م.) کال د حربیه وزارت د نشراتو او تبلیغاتو آمر شو. او د مجموعه عسکریه د مجلې مدیریت هم ور په غاړه شو چې د حربیې وزارت له خوا خپرېدله. په ۱۳۰۳ هـ.ل کال د پکتیا د عسکري قوماندان او تنظیمه رئیس او حاکم اعلی دنده وروسپارل شوه. په ۱۳۰٦ هـ.ل (۱۹۲۷ م.) کال د مزارشریف د ملکي پلټنې د رئیس په توګه او بیا د ننګرهار د عسکري قوماندان په توګه وټاکل شو. د محمد نادرشاه په دوره کې د محمد هاشم د کابینې د کورنیو چارو د وزیر په توګه وټاکل شو چې ورسره لومړی د ننګرهار په ولایت کې د تنظیمه رئیس په حیث او بیا د پروان ولایت د تنظیمه رئیس په توګه یې د هېوادوالو خدمت ته بدې را ووهلې. په ۱۳۱۱ هـ.ل (۱۹۳۲م.) کال د کندهار او فراه ولایتونو د تنظیمه رئیس په حیث وټاکل شو او په کندهار کې یې د پښتو ادبي انجمن بنسټ کېښود او د طلوع افغان اخبار یې هم په پښتو کړ.

په ۱۳۱۳هـ.ل (۱۹۳۴م.) کال د هېواد د شمالي ولايتونو (قطغن، بدخشان، مزارشريف او ميمنې) تنظيمه رئيس وټاکل شو چې په دې ډول د افغانستان تقريباً د ټولو ولايتونو د والي په حيث يې دنده په ايمانداري او صداقت ترسره کړه چې د دغو خدمتونو په پايله کې د لمر لوړ اعلی نښان ورکړل شو او محمد نادر خان دی خپل شپږم ورور وباله.

وزير محمد گل خان په خپل کور کې ډېر ساده ژوند درلود، هر څه يې له يوې مينې او رښتينې مينې پښتو ځار کړي وو، نه يې بنگلې غوښتلې او نه موټر او چاکر، نه يې سرمايه ډېروله او نه د جاه او جلال په فکر کې و، ډوډۍ به يې اکثره په يوه دسترخوان له مېلمنو سره خوړله.

## د پښتونولۍ په اړه د وزير محمد گل خان د علمي نظرياتو تحقيقي او تحليلي څېړنه

مومند بابا له پښتو او پښتونولۍ سره ډېره مينه درلوده، د هغه منشور د پښتو و، ناسته پاسته يې د درنو پښتنو وه، پښتو يې دوا گڼله، پښتو يې شفا او حيا گڼله، زما په اند دی ددې عصر خوشحال خان خټک دی، ځکه دی د تورې او قلم خاوند او د پښتو او پښتونولۍ په ډگر کې عملي انسان دی چې خلک يې د پښتو ژبې زده کړې، پالنې او روزنې ته رابلل او دوی يې د پښتونولۍ په اساساتو پوه کړي دي. د هغه په خيال په پښتنو کې ټگي او خيانت نه شته، پښتو د صداقت، عفت، عصمت، عظمت او غيرت نوم دی.

ده به تل له خلکو سره په پښتو خبرې کولې او دوی به يې د پښتو زده کړې او د پښتونوالي د صفاتو پېژندلو ته تشويقول. دا هيله يې درلوده چې په موږ کې داسې کسان پيدا شي چې د نورو په سترگو نه، بلکې په خپلو پښتني سترگو، پښتنو او د دوی اوس او پخوا ته وگوري او د رښتينو پښتنو صفات او مزايا او اخلاق څنگه چې ښايي بيان او څرگند کړي. څو پښتانه زلمي پوه شي چې د څه راز نيکونو لمسي- دي او ددوی اسلافو څه ډول اخلاق درلودل؟ پښتو او پښتونواله څه ده؟ چې د هغې له مخې ځان او خپله دنده وپېژني او په دغه لاره روان شي.

دی وايي چې د نورو په لاره تگ بايد ونه کړو، موږ خپل زرين تاريخ لرو، خير دی که نن وروسته پاتې يو، په نورو خلکو هم داسې حالات راغلي دي. اوس چې پښتانه

غورځېدلي او په بد حالت کې واقع دي، بيا هم د هماغو تېرو پښتنو لمسيان دي. په رګونو کې يې د هماغو پښتنو وينه بهېږي، فطرت يې هم بدل شوی نه دی. زموږ هيله دا ده چې بيا سر اوچت کړي او له خپلو نيکونو يې واړوي. له خپلې ژبې پښتو او پښتونولۍ سره د مومند بابا داسې مينه وه چې آدم خان له درخانۍ او مجنون له ليلی سره درلوده، څکه دی د پښتو د ليلی مجنون او د پښتونولۍ د درخو، آدم خان و. د پښتو ژبې او ادب يو ځلانده ستوری د وزير بابا په اړه وايي: ((ښاغلي مومند له پښتو او پښتونولۍ سره ډېره مينه درلوده، دده مجلس اومرکه د پښتو او د پښتونولۍ يوه لويه مدرسه وه، ده به تل پښتنو ځوانانو ته د پښتني خويونو درس ورکاوه، بې پښتوګي يې بده ګڼله، د دغه لوړ شخصيت او پښتني کرکټر له کبله يې د بابا لقب موندلی و او هر چا ورته د بابا توب حيثيت ورکړی و.)) (۳: ۷ مخ)

دغه راز سيد صابر شاه هم د مومند بابا په اړه داسې وايي: ((پښتانه يې تشويق کړي، تنوير کړي، حتی تهديد کړي چې پښتو وليکي. پښتو ولولي او هم خپل پښتني روايات هېر نه کړي او دا بايد په دعوی سره ووايو چې د پښتو ژبې د ترويج او د پښتنو د هوسا او بسيا ژوند او روښانه مستقبل لپاره چې چا ژوند وقف کړی و، هغه يوازې او يوازې محمد ګل بابا دی.)) ((۴: ۳۴ مخ)

په رښتيا هم چې په معاصره دوره کې مومند بابا هغه يوازنی تن و چې د پښتو ژبې د خدمت لپاره يې ټول ژوند وقف کړی و او حتی له مړينې (۲) يې ورځې وړاندې هم په روغتون کې له پوهاند رښتين نه د پښتو ژبې د کندهارۍ لهجې د يوه لغت د وضاحت غوښتنه کړې وه او ده ته يې دا دنده وسپارله.

وزير محمد ګل خان په پښتو کې ټولې خوبۍ او ښېګڼېويني وايي: ((پښتو، پښتو منل، پښتو ويل، پښتو کول او پښتو چلول دي. پښتانه په پښتو سره پېژندل کېږي او په پښتو به وپېژندل شي. پښتانه په خپل منځ کې هم په پښتو يو له بله سره پېژني. په پښتو سره عزيزان او يو پر بل ګران دي. د پښتنو خپلوي په پښتو سره ده، خپل او پردي په پښتو سره څرګندېږي او پيلېږي، پښتانه په پښتو سره پوهېږي، د پښتو خوره مرکه په پښتو کېږي، پښتانه له پښتو نه خوند اخلي، تر ټولو خوندوره مرکه د پښتو ده ...

پښتو د پښتنو تفکرات، تخیلات، ذوق او هر څه سره یو شانته او یو کوي. پښتو خورا خوږه وروري ده. پښتو صله رحمي ده. پښتو شفقت دی. پښتو مرحمت دی. پښتو مهرباني ده. پښتو مروت دی. پښتو ښېگڼه ده. کونډې یتیمان، بې وزلي اومسکینان، ړانده او گوډ، په پښتو ساتل کېږي، که پښتو وه یو د بله خوښ، یو پر بل راضي، یو پر بل به ښاد یو. که پښتو نه وه، یو د بله به ناخوښه، یو د بل نه ناراضه، او یو به هم پر بل ښاد نه شو. که پښتو وه زه به تا درنوم او ته به ما درنوې. پښتو اصلیتوب دی. پښتو سیالوالی دی. پښتو نجات دی. پښتو عزت دی. پښتو کې بې پتي، د گلتوب (حقارت) نه شته، ځکه چې پښتانه یې نه شي منلی. پښتو درندوالی (وقار) دی. پښتو د پښتنو درنول دي. پښتو کې ټیټال او تملق نشته. پښتو کې سپکه نشته، نو ځکه پښتون سپک نه دی. پښتو شرافت دی. پښتو ښه نیت دی. پښتو د پښتنو او مسلمانانو خیر غوښتنه ده. پښتو ښه اخلاق دي. پښتو سپېڅلتوب (تهذیب) دی. پښتو تدبیر دی. پښتو سړیتوب دی. پښتو انسانیت ته خدمت دی. پښتو قناعت دی. پښتو په حق درېدل دي. پښتو صبر دی. پښتو حوصله ده. پښتو هاند او کوښښ دی. پښتو دین، وطن او د پښتانه ولس ته خدمت دی. پښتو ایثار دی. پښتو فداکاري ده. پښتو تکړه توب دی. پښتو کې خیانت نشته.پښتو کې ټگي نه شته، ټک پښتون نه دی. پښتو کې غلا نه شته. پښتو کې تالا نه شته. پښتو کې ظلم نه شته، ظلم بې پښتو والي ده. پښتو د مظلوم حمایه ده، په نیمې شپې کې له غږه سره سم د پېښې ځي ته ځان رسول، پښتو ده. غله، جاني او خاین نه چیغه ویستل او نیول، یا یې وژل، پښتو ده. پښتو صداقت دی. پښتو پاک زړه دی. پښتو سلیم وجدان دی. پښتو د پښتو د نارینه وو پگړۍ او د ښځو ټیکری او پوړونی دی. پښتو پر مسلمانۍ ټینگبدل دي. پښتو پر ځان باور دی. پښتو ډوډیماري ده. جهل په پښتو ورکېږي. علم په پښتو زده کېږي. پښتو د علماوو منته او احترام دی. وطن په پښتو ژغورل کېږي. پښتو لوړ همت دی. پښتو د سمو مشرانو منته ده. پښتو د خاینو مشرانو رټنه ده. جنت پر اسلام باندې په پښتو کولو گټل کېږي، حورې غلمان او د جنت بې شمېره نعمتونه پښتو ته په پښتو لاس ته ورځي. پښتو د پښتنو د دواړو نړیو د سعادت ضامنه ده. پښتو د پښتنو د ټولنې روح دی، پښتو خو، نو پښتو ده ، پښتو ده. پښتو ده او پښتو (پښتونواله) ده.)) (۵: ٦، ۷ مخونه)

د پبښتو او پښتونولۍ لپاره د مومند بابا نظريات د کاڼي هغه کرښې دي چې د وخت د توپانونو او سېلابونو په تېرېدو سره لا ځلېږي او رڼېږي.

د ده بې پښتو او بې همته نه خو ښېدل، ((پښتو پښتانه سړي ته اجازه نه ورکوي چې د ځان گټې لپاره بل چاته تاوان ورسوي، يا خيانت وکړي، بلکې بالعکس پښتو غواړي چې پښتون سړی د نورو پښتنو مسلمانانو د گټې له پاره د ځان تاوان وکړي او پرې خوښ هم وي)). ده به ويل: (( په پښتو کې مشران او ولس د حکومت لپاره نه دي، بلکې مشران د کشرانو له پاره او حکومت د اولس لپاره دی. د دوی موقعيت او احترام د پښتنو په سترگو کې د دوی د خدمت په تناسب دی)) او د بې پښتو پښتنو خلکو په باب يې داسې ټينگار کاوه: (( درستې ښښکولې (حلاکتونه او مصيبتونه) د بې پښتوگۍ له کبله رارسېږي او نورې لانجې به هم د همدغې لارې نه راپېښې شي، حکومت د بې پښتو گۍ له امله اريان دی او لاره يې ورکه کړې او ولس د بې پښتوگۍ له لاسه بې پته، خوار و زار او ورک دی، ټول د بې پښتوگۍ په اور سوي يو، د بې پښتوگۍ په اور سوزو او د بې پښتوگۍ په اور کړېږو، د بې پښتوگۍ په اور وريتېږو، ښايي د بې پښتوگۍ له لاسه کوکې او سورې ووهو، وای پښتو ارمان پښتو.)) (۵: ۱، ۳ مخونه)

دغو پورتنيو ټکو ته که نظر واچول شي، د پښتو او پښتونولۍ په باب د مومند بابا د علمي نظرياتو اندازه ترې پوره کېدلای شي. دا ترې څرگندېږي چې پښتو يواځې د ژبې نوم نه دی.، بلکې د يو ملت کلتور، دود او دستور ټول پکې رانغښتې دی، که يو فارسي وان غلط کار وکړي، څوک نه ورته وايي، چې دا فلانی ډېر بې فارسي سړی دی او يا يو انگرېز همداسې درواخله، څوک نه وايي، چې دا فلانی ډېر بې انگرېزي سړی دی يا عرب، جرمنی او نور ...

خو يوازې پښتون ته دغه گوته نيول کېږي. څکه که يو پښتون غلط کار وکړي، ورته وايي، فلانی ډېر بې پښتو سړی دی، يا فلانی ډېر بې پښتو کار وکړ. يعنې د پښتني اوصافو خلاف يې غير انساني عمل وکړ.

نو په ده کې پښتو نشته او ناوړه انسان دی. هغه اوصاف په کې شته چې مومند بابا يې توره، وفا، مېړانه، پت، عزت، ښېگڼه، ايمانداري، مسلماني، اخلاص، صداقت، ايثار، فداکاري، ننگ، غيرت، جرأت، نارينتوب بولي. څوک چې ځانته

پښتون وايي، هغه بايد کامل مسلمان وي. الله جل جلاله په قرآنکريم کې فرمايي: ((ادخلو فی السلم کافه الاية)). (١)

ژباړه: په اسلام کې مکمل داخل شئ. يعنې په اسلام کې چې څه وي ټول ومنئ، داسې نه چې لمونځ کوئ ورسره دروغ وايئ، روژه نيسئ ورسره حرام خورئ. حج ته ځئ ورسره غيبت کوئ او سود خورئ. نيک کارونه کوئ خو ورسره گناه هم کوئ. نه، کامل مسلمان هغه دی چې ژوند د اسلام په رڼا کې د الله (ج) د ارشاداتو او د محمد (ص) د احاديثو مطابق تېر کړي.

د (پښتني دود او دستور) ترکيب له مخې او په رعايت سره يې په ټولنه کې امن راتلای شي، د ترقۍ، خوښۍ خاوند گرځېدلای شي. ځکه د دغه دستور په رعايت سره بيا څوک په غلطه لاره نه ځي، څوک په چا ظلم نه کوي، د چا ناموس ته په بده سترگه نه گوري. نه په بل ظلم کوي او نه د بل چا ظلم قبلوي، له بل سره مرسته کوي او بل هم مرستې او ښېگڼې تشويقوي. د مشرانو درناوی کوي او پر کشرانو لورينه او شفقت کوي.

په لنډه توگه د (پښتونوالي) ټولې ځانگړنې په ځان او چاپېريال کې لټوي او پيدا کوي، دغو حسينه، کريمه او عظيمه اخلاقو په پيداکولو سره د الله (ج) او د هغه د مخلوق رضا حاصلوي او د دنيا او اخرت ښېگڼې ترلاسه کوي. دا هغه څه دي چې مومند بابا ټول ژوند په دې لاره کې تېر کړی، نو ځکه يې اوس د پيسو په ځای کيسې گڼلي او هر څوک يې په درانه نوم يادوي او د پښتو او ريښتونولۍ اعلی سمبول گڼل کېږي چې د لمر د اعلی نښان وړ وگرځېد او ټولو ورته د بابا لقب ورکړی دی.

## پايله

وزير محمد گل خان مومند د پښتو ژبې او ادب د اوسنۍ دورې په ډگر کې هغه اتل دی چې د خولو په تويولو ،ايثار او فدا کارۍ د پښتو ناوې د پښتونوالۍ په ډولۍ کې د پښتانه تر کوره رسولې ده.

مومند بابا هغه څوک و چې زوکړه يې د يو نظامي شخصيت په کور کې شوې وه، نو ځکه يې په ارثي ډول د شخصيت په جوړښت کې عسکريت موجود و چې د جنرالۍ تر پوړۍ يې رسولې و او د هېواد د خپلواکۍ د تر لاسه کولو په لاره کې يې سنگر تود ساتلی و، د قلم څوکه يې داسې تېره وه چې ((د پښتو سيند)) په ليکلو

يې په افغانستان کې لومړنی چاپي قاموس رامنځته کړ او ((د پښتو ژبې ليار)) په ليکلو يې په پښتو ژبه کې لومړنی ګرامر وليکه چې د لومړني پښتو ګرامر د ليکوال په توګه يې د لومړي مقام ليکوال حقدار و ګڼل شو.

د پښتونولۍ په اړه يې علمي نظريات د کاڼي کرښې دي، ده به تل له خلکو سره په پښتو خبرې کولې او دوی به يې د پښتو زده کړې او د پښتونوالي د صفاتو پېژندلو ته تشويقول، څو پښتانه زلمي پوه شي چې د څه راز نيکونو لمسي دي.

د ده په اند، پښتو: پښتو منل، پښتو ويل، پښتو کول او پښتو چلول دي. ښتانه په پښتو پېژندل کېږي. بې همته او بې پښتو پښتانه يې نه خوښېدل. په داسې حال کې چې وزير داخله د وخت و، ولې قلم به يې په لاس و، د پښتو ژبې په اړه به يې ليکنې کولې. او پښتانه يې خپل مسؤليت ته متوجه کول.

مومند بابا د څو بعدي شخصيت (اسلامي، اجتماعي، علمي، ادبي، سياسي او ملي.) په توګه په افغانانو کې لوړ ځای لري. وزير محمد ګل خان مومند د شلمې پېړۍ د پښتو ژبې او ادب په ډګر کې د دې ژبې د پرمختيا له غورځنګ سره هغه علمبردار ملګری دی چې د خپلو پښتنو خدمتونو په نتيجه کې يې د لمر اعلی نښان تر لاسه او د افغانو له خوا ورته د بابا لقب ورکړ شو . دغه راز يې د تورې او قلم په ميدانونو کې د اتلوالۍ مقامونه تر لاسه کړل، ((د پښتوسيند))، ((د پښتو ژبې ليار))او((لنډکۍ پښتو)) په ليکلو يې د پښتو معاصر ادب کې لوړ مقام تر لاسه کړ.

## مأخذونه


۱. القرآن کريم

۲. رښتين، صديق الله. (د محمد ګل خان غمجنه مړينه)، کابل ((مجله))،....:....، ۱۳۴۳ ل. / ۱۹٦۴ م. کال، سپتمبر – اکتوبر.

۳. رښتين، صديق الله. (محمد ګل خان مومند)، د مومند بابا ياد، ساپی د پښتو څېړنو مرکز: ۱۳۸۳ل. کال.

۴. صابر، سيد صابر شاه. (د محمد ګل خان ژوند پېژندنه)، د مومند بابا ياد، د ساپي پښتو څېړنو مرکز: ۱۳۸۳ ل. کال.

۵. مومند، وزير محمد ګل خان. لنډکۍ پښتو، د پښتو ټولنې خپرونه: کابل عمومي مطبعه، ۱۳۳۷ ل. کال.

څېړندویه فضیله احمدي

# په متني تحقیق او تنقید کې د علامه رشاد ونډه

# Allama Rashad’s role in textual investigate and criticism

**Researcher Fazila Ahmadi**

## Abstract

Allama Rashad had his own method and way in writing of investigative prose and in this part more accuracy, caution, clarity and explanation was major feature of his writing.

In this article a brief study on an interesting part of Allama Rashads’ investigative prose, which is textual investigate and critique was conducted.

First, the identification and differences of the textual investigate and critique are shown, then those works of Allama Rashad that have been prepared for publication through the textual investigate and criticism are identified. In the last the two literary books, that Allama Rashad has prepared for publication in investigative and critical form are introduced to clarify Allama Rashad’s role in textual investigate and criticism.

## لنډیز

په لومړي سر کې د متني تحقیق او تنقید پېژندنه او توپیرونه ښودل شـوي دي، بیا د علامه رشاد هغه آثار چې د متني تحقیق او تنقید له لارې چاپ ته آماده شوي،

په گوته شوي دي او  په وروستۍ برخه کې هغه دوه ادبي آثار چې د ده  له خوا په تحقیقي او تنقیدي بڼه چاپ ته برابر شوي، معرفي شوي دي  تر څو د متني تحقیق او تنقید په برخه کې د پوهاند رشاد فعاله ونډه واضحه شي.

## سریزه

د هرې ژبې او فرهنګ ادبي فکري، علمي او معلوماتي ذخیره په متونو کې نغښتې ده. د دغو فرهنګي ذخایرو معرفي او پر محتوا یې د پوهېدو لپاره د متونو د تحقیق او نشر اړتیا محسوسه وه او ده، دا په دې نیامت چې علمي کړۍ او عام غوښتونکي د متنونو له محتوا خبر شي او په دې وپوهېږو چې د دې یا هغې ژبې په فرهنګي ذخیره کې فکر، علم، هنر او معلومات په کومه کچه دي، څنګه یې تحول کړی یا دا چې د تحول څرک په کې نه لګي. د پخوانیو د ضعف پر ټکو او د هغوی د کمزوریو پر عللو، د قوت او ځواکمنتیا پر رموزو یې موږ د همدې متونو له لارې پوهېدلای شو.

د یوې ټولنې پرمختګ او ترقي هغه وخت ممکنېږي چې له خپلې تاریخي او متني ورثې او سابقې خبرتیا ولري او دا خبرتیا هم زاړه متون او د پخوانیو ادبي او علمي کارنامې په لاس راکوي.

په افغانستان کې د متن څېړنې یا د متني تحقیق او تنقید په لړ کې د اکاډمیسین استاد رشاد کارونه د توجه وړ دي،  په دې لیکنه کې د علامه رشاد پرمتني تحقیق او تنقید لنډه څېړنه تر سره شوې ده.

## د موضوع موخه او مبرمیت

د علامه رشاد په آثارو کې متني څېړنه یوه درنه برخه جوړوي چې هغه علامه په کې د ځانګړي سبک خاوند و، خو له بده مرغه تر اوسه پورې  په دې  اړه  کومه څېړنه نه ده شوې  چې په متني څېړنو کې د علامه رشاد ونډه واضحه کړي. ما هم د همدې مبرمیت له مخې په دې مقاله کې د علامه رشاد د آثارو دې برخې ته لنډه کتنه کړې تر څو د څېړونکو پام دې برخې ته واړول شي.

## د څېړنې پوښتنې

۱ـ متن څه ته وایي؟

۲ـ د متني تحقیق او متني تنقید توپیرونه کوم دي؟

۳ـ د علامه رشاد آثار په متني تحقيق او تنقيد کې کوم دي؟

## د څېړنې ميتود

په دې ليکنه کې د څېړنې له تشريحي مېتود څخه کار اخيستل شوی دی.

## اصلي متن

د لغاتو په فرهنګونو کې د متن لپاره شا، د يو څه د ننه، لوړه ځمکه، د کتاب صفحې داخل، د حاشيې او څنډې مقابل معناوې راغلې دي( ۸: ۹۵ مخ) او په اصطلاح کې هر تر غور لاندې تحرير او تقرير ته متن ويلای شو. د شاعر شاعري، د نثر ليکونکي نثر، د مؤرخ تاريخ، د مکتوب نګار ليک ( خط)، د مصنف فيصله، د مفتي فتوا، د خطيب خطبه دغه ټول د متن تر سرليک لاندې راځي. پر دغو يادو شويو موضوعاتو سربېره د يوې تر بحث او څېړنې لاندې موضوع د تحقيق په لړۍ کې چې کوم روايات راټوليږي او بيا تر ضبط او تحرير لاندې راځي، هغه هم متن بللی شي. د متن اساسي شرط دا دی چې بايد ليکنی شکل ولري( ۹: ۱۱۸مخ). د تېرو زمانو د افرادو افکار او خيالات چې زموږ مخې ته راځي، هغه زياتره په ليکلي ډول وي او تر هغې چې موږ ته دا خبره نه وي معلومه شوې چې دغه ليکنه له هر ډول عيب او نقصان څخه پاکه ده، موږ دا نه شو ويلای هغه څه چې زموږ مخې ته پراته دي، هغه کټ مټ د فلاني شخص افکار او خيالات دي تر هغه چې د هغه شخص او د هغه اثر په باب څېړنه يا متني تنقيد نه وي شوی.( ۹: ۱۴۸ مخ)

متني څېړنه د متن په باب څېړنو، ګروېږونو ته وايي. د متن محقق په خپلو غوړو کې پخېږي او هره ګړۍ په دې فکر کوي چې څنګه کولای شي د متن اصلي څېره بېرته احياء کړي. (۹: ۱۲۱ مخ)

د متني تنقيد هدف دا دی چې متن څېړونکي د يو شمېر نسخو( قلمي يا چاپي) له مخې اصلي متن جوړ کړي او کره کتونکي ته داسې شواهد وړاندې کړي چې هغه وکولی شي، د دغو شواهدو پر اساس د ايډيټر( متن سموونکی) د کار صحت او سقم و ازمايي.( ۹، سريزه: ج مخ)

د متني تحقيق او متني نقد تر منځ ډېر معمولي توپير شته، د متن محقق تر لټون وروسته يو متن ټولنې ته وړاندې کوي، که په متن کې الفاظ تکراري وي يا څه

په کې حذف شوي وي او یا کوم ځای په کې خالي وي، د متن محقق دغسې خالیګاوې په خپل حال پرېږدي، له خپلې خوا په کې مداخله نه کوي.

متني نقاد د متن د ترتیب مرحلې ته د شک په سترګو ګوري او د متن د ناسمیو د له منځه وړلو لپاره زیار باسي. که په متن کې کوم ځای خالي وي، نو کله کله یې په قیاسي ډول سموي. د متن د هر لفظ په کره کولو کې خپله رایه او پوهه په کار اچوي او ګوري چې د ده کار متن ته قدر او قیمت ورکوي.

له ادبي کره کتنې سره د متني کره کتنې توپیر دا دی چې ادبي کره کتنه د یو اثر هنري ارزښت څېړي، په داسې حال کې چې متني کره کتنه د یوه اثر اصالت او صحت، د اعتبار یا وثوق اندازه معلوموي. کله چې د یوه اثر اصلي نسخه په لاس کې نه وي، متني کره کتنه د اصلي نسخې د احیا کولو لپاره هم زیار باسي. (۵: ۲۰۳ مخ)

په افغانستان کې د متن څېړنې یا د متني تحقیق او تنقید په لړ کې د اکاډمیسین استاد رشاد کارونه د توجه وړ دي. د ده کار او تحقیق د څېړنیزو اصولو په لاره کې نوې لاره ده. ده په پراخه سینه او پراخ علم سره پخواني متون کتل. زړې پاڼې یې کتلې او په لوی مسؤلیت یې تر موږه را رساوه، د هغو سمې او ناسمې برخې یې په دقت او عالمانه ډول سره جلا کړې دي (۲: ۱۲۲ مخ)

ده هم خپله د متني تحقیق او تنقید په برخه کې کار کړی او هم نورو ته لارښوونې کړي او د ده تر نظر لاندې متني څېړنې تر سره شوې دي. علامه رشاد په لسګونو متني تحقیق او تنقید د تاریخ، اسلامي علومو ، قاموسونو او ادبي برخو کې لري چې په لاندې ډول دي:

د دولت لواڼي د دیوان سریزه، په ۱۹۷۴م کال چاپ.

د واصل روښاني د څو شعرونو سریزه او سمون، په ۱۹۷۴ م کال چاپ.

ګیتا نجلي( د رابندرانات ټاګور اثر) د پښتو ژباړې سریزه، په ۱۹۷۵ م کال چاپ.

تاج( د رابندر نات ټاګور اثر) د پښتو ژباړې سریزه، په ۱۹۷۵ م کال چاپ.

د ګلشن روه سریزه، په ۱۹۷۷ م کال چاپ.

د احمدشاه بابا د څو اشعار د پښتو شرحې سریزه، په ۱۹۷۷م کال چاپ.

د حاجي جمعه بارکزي د دیوان سریزه او لغتنامه، په ۱۹۸۲م کال چاپ.

د حالنامې سریزه، تعلیقات او لغتنامه.

پښتانه شعراء (درېيم ټوک) د ۲۷ شاعرانو د احوالو او آثارو پېژندنه، تصحيح او تنقيح.

د خيرالبيان په باب درې مقالې، د ۱۳۵۳ هـ، ش کال چاپ.

ډيلي د پښتنو په وخت کې سريزه، په۱۹٦۰ م کال چاپ.

د گلدن شتت د فرهنگ سريزه، په ۱۹۷۷م کال چاپ.

د اسماء الحسنا سريزه ، ۱۳۵۹ هـ.ش په کال چاپ.

د نصاب الصيبان سريزه، په ۱۹۸۲ م کال چاپ.

د فوايد فقيرالله لغتنامه او تعليقات، په ۱۹۸۰ م کال چاپ.

د حيات افغاني د پښتو ژباړې تصحيح، تحشيه او تعليقات.

د ملا عبدالباقي د تبين الواجبات سريزه. ( ٦: ۷٦ مخ)

علامه رشاد ځينې دغه ياد شوي آثار په تحقيقي ډول او ځينې يې په تنقيدي ډول چاپ ته آماده کړي او په دې توگه په خپل ناپايه علم او پراخې حوصلې سره هغه تاريخي او ادبي روايتونه چې له پېړيو پېړيو راهيسې بې له تحقيق څخه منل کېدل نقد کړي او هغه ټولنيز روايتونه چې تر ډېره د معتبر مأخذ په توگه استعمالېدل، په علمي او تحقيقي اصولو اصلاح کړي( ۲: ۱۲۵مخ). له دغو ټولو آثارو څخه موږ دوه ادبي آثار چې يو يې په تنقيدي ډول او بل يې په تحقيقي ډول چاپ ته آماده او خلکو ته وړاندې شوي دي دلته معرفي کوو:

## د دولت لواڼي ديوان

د دولت ديوان چې له درو دفترو څخه جوړ دی، د رشاد صاحب د متني تنقيد څخه مخکې چاپ نه و او لومړي ځل پښتو ټولنې دا توفيق ومونده چې دغه نايابه اثر پښتني جامعې ته په چاپي توگه وړاندې کړي. د دولت دغه چاپي ديوان ۳۸۲ غزلې، ۳٦ قصيدې، ۱۱۱ رباعيات او ۳ مثنوي گانې لري. دغه ديوان د هغې قلمي نسخې له مخې چاپ شوی دی چې ډېر کلونه د پښتو ټولنې په کتابخانه کې خوندي وه، بيا د مطبوعاتو په کتابخانه او وروسته د عامه کتابخانې په قلمي څانگې پورې اړه پيدا کړه. (۷: ۱۳مخ)

علامه رشاد دې ديوان ته څلور دېرش مخې سريزه ليکلې ده چې لاندې سرليکونه په کې شامل دي:

دولت لواڼي او درې نيم سوه کاله پخوا د هغه عروضي نظمونه

د دولت مذهبي عقیده

د دولت دیوان د دولت د شاعرۍ روح

د دولت عروضي اشعار

تر سریزې وروسته اصلي متن دی چې په ۲٦۱ مخونو کې په تنقیدي ډول ترتیب شوی دی، یعنې د البیروني قلمي نسخې سره مقایسه او توپیرونه یې د متن څېړنې د اصولو پر اساس په حاشیو کې ښودل شوي دي.

د دیوان په پای کې د چاپي تېروتنو سمون لیک او لغتنامه وړاندې شوي دي، چې لغتنامه یې د الفباء په اساس ترتیب شوې ده. **(۷)**

د دې اثر له متني تنقید او ترتیب څخه ښکاري چې علامه رشاد یو له هغو څېړونکو او کره کتونکو څخه و چې خپله هم هنرمن، فنکار او ادیب و او هم د څېړنې له روشونو او پرنسیبونو څخه باخبره و. د ده څېړنه د لیکوال او لوستونکي تر منځ معیاري او متوازنه لار بلل کېدل او لوستونکي یې د لیکوال د لاسته راوړنو او نیمګړتیاوو څخه پوهول. دا د ښه لیکوال او څېړنپوه ځانګړنه ده چې د ادبي اثر د لیکوال او عادي لوستونکي ترمنځ واسطه شي او لوستونکي پرې نه ږدي چې هغه باریکۍ، عیبونه چې په هغه اثر کې موجودې وي، په پټو سترګو یې ومني.( ۲: ۱۲۴مخ)

## د ګلشن روه سریزه

علامه رشاد د متني تحقیق د ځانګړي مېتود څښتن دی. د هغه د څېړنې مېتود د هېواد ان د سیمې په کچه بې جوړې او ځانګړی و. هغه به د موضوع دومره جزئیات څېړل چې ډېر ځله به یې تشریحات او حاشیې تر اصل متن څو برابره زیاتې وې. یعنې یوه موضوع به یې دومره شاربله چې هېڅ اړین اړخ به ترې بې یاده او بې پامه نه پاتېده. هغه به ان د یوې سریزې په منځ کې هم سرلیکونه ټاکل او تر هر سرلیک لاندې به یې د موضوع په اړه نوي او بشپړ معلومات وړاندې کول.( ۲: ۹۷ مخ)

چې ښه بېلګه یې د ګلشن روه سریزه ده.

د مېجر هانري جارج راورټي ( ۱۸۲۵ـ ۱۹۰٦ع) په چاپي آثارو کې یو مشهور کتاب ګلشن روه دی چې لومړی وار په ۱۸٦۰م(۱۲۷۷ هـ. ق) د Hertpord Stephen Austen په چاپخانه کې او دوهمه پلا په ۱۸٦۷ م( ۱۲۸۴ هـ. ق) کال په لندن کې چاپ شوی دی.

گلشن روه د پښتو ژبې د نظم او نثر يوه درنه مجموعه ده چې مؤلف د شپاړسو ادبي، تاريخي او مذهبي متنونو د څو نسخو تر تهيې او مقابلې وروسته په ډېر اهتمام او توجه ترتيب کړې ده. گلشن روه پر دوو برخو ويشل شوی دی؛ لومړی يې د نثر برخه ده چې ۱۸۲ مخونه لري او لاندې کتابونه په کې شامل دي:

۱ـ تاريخ مرصع

۲ـ فوائد الشريعت

۳ـ علم خانه دانش (کليله و دمنه)

۴ـ د بابو جان کتاب

۵ـ مخزن الاسلام

٦ـ گلدسته

دويمه برخه يې د نظم برخه ده چې ۲۱۲ مخونه لري او لاندې کتابونه په کې شامل دي:

۱ـ د رحمان بابا ديوان

۲ـ د خوشال خان ديوان

۳ـ د حميد ديوان

۴ـ د خواجه محمد بنگښ ديوان

۵ـ د مېرزاخان ديوان

٦ـ د شيدا ديوان

۷ـ د اشرف خان هجري ديوان

۸ـ يوسف زليخا

۹ـ د عبدالقادر خان ديوان

۱۰ـ د لوی احمدشاه بابا ديوان.

رشاد صاحب د دغه کتاب په درېيم چاپ کې د کتاب پر محتوياتو باندې په سريزه کې هر اړخيزې څېړنې ترسره کړې دي چې ۱۹۲ مخونه لري، د هغه دا زيار او کوښښ د کتاب ارزښت ډېر زيات کړی دی.

گلشن روه باندې د علامه رشاد سريزه ۷ برخې لري چې په لاندې ډول دي:

اوله برخه: د گلشن روه او د هغه د مؤلف په باب: په دې برخه کې د میجر راورټي پر ژوند او آثارو باندې مفصله څېړنه تر سره شوې ده.

دویمه برخه: د گلشن روه په باب؛ په دې برخه کې د گلشن روه او د هغو ټولو کتابونو په اړه معلومات راغلي دي چې په گلشن روه کې شامل دي.

درېیمه برخه: د گلشن روه د لیکدود ځانگړتیاوې

څلورمه برخه: د گلشن روه د متن مقایسه له اصلي نسخو سره: په دې برخه کې هغه غزلې ښودل شوې دي چې په اصلي نسخو کې نشته. په دې برخه کې که دقت وشي، د سرمحقق عبدالله خدمتگار بختاني دا خبره برحقه خبږي چې ویلي: ((هغه ( علامه رشاد) کله به چې د خپل راوي یا مأخذ سند تر لاسه کړ، بیا به نو د راوي راوي او مأخذ ، مآخذو پسې شو، د شفاهي راوي او د تحریري مأخذ د لیکوال د ثقه توب پسې شو. د وینا او لیکنې د معقولیت او نه معقولیت پسې شو، همداسې به تر هغو پورې پورته او مخکې تله ، څو چې به یې په کومه خبره زړه اوبه څښلې. په دې لاره کې به یې د راویانو او مأخذونو د استدلال او استثناآتو پر اختلافونو او توافقونو ، پر کره والي او نیمگړتیاوو پرتلیز نقد هم کاوه او خپل نظر یې هم څرگنداوه)) .(۱: ۳۰ مخ)

پنځمه برخه: په دې برخه کې د گلشن روه د نظمونو عروضي ورانۍ په څلورو برخو کې څېړل شوې دي.

شپږمه برخه: په دې برخه کې رشاد صاحب هغو تېروتنو ته اشاره کړې چې د دې کتاب د غلطیو په فهرست کې نشته؛ او دا برخه یې په څلورو څانگو وېشلې چې په لاندې ډول دي:

الف) هغه تېروتنې چې په گلشن روه او مأخذونو کې مشترک دي.

ب) هغه تېروتني چې له ناسم لوست ( غلط قرائت) څخه منځ ته راغلې دي.

ج) هغه تېروتنې چې له طباعتي بې پروایو څخه پیدا شوې وي.

د) ځینې کلمې چې په گلشن روه او مأخذونو کې څه توپیر لري، نو په دې ځانگه کې هڅه شوې چې غوره بڼه یې په نښه شي. (۳)

اوو مه برخه: په دې بر خه کې استاد رشاد د هغه فرهنگوټي په اړه چې گلشن روه ته یې لیکلي، لنډ معلومات وړاندې کړي دي.

څرنگه چې ښکاري رشاد صاحب د گلشن روه او د هغه د متن په اړه د سریزې په چوکاټ کې پوره څېړنه ترسره کړې ده چې دا د علامه رشاد ځانگړی مېتود دی.

## پایله

علامه رشاد پوره اویا کاله د قلم سپېڅلی سنگر وساته، پوره اویا کاله یې د علم خدمت وکړ، مطالعه یې وکړه او د خپلې ژورې مطالعې مېوې او ثمره یې د ژورو علمي څېړنو په توگه په کتابونو ، رسالو، او مقالو کې خوندي کړه او څرنگه چې په ټولو علومو او فنونو کې د څېړنو بنسټ پر متونو ولاړ دی، دا چې د اطلاعاتو او معلوماتو سترې سرچینې په خپله همدا متون دي؛ نو له دې امله یې متن څېړنه هم له پامه نه ده غورځولې، هغه ټولنیز روایتونه چې تر ډېره د معتبر مأخذ په توگه استعمالېدل په علمي او تحقیقي اصولو اصلاح کړي. په دې برخه کې یې هم په خپله کار کړی او هم نورو ته لارښوونې کړې دي. په لسگونو کتابونه یې د تاریخ، اسلامي علومو او قاموسونو په برخو کې د متن څېړنې له اصولو سره سم په پراخ علم او پراخه سینه کتلي، مقایسه کړي ، سمې او ناسمې برخې یې په دقت او عالمانه ډول سره جلا او چاپ ته یې برابر کړي، په دې توگه پخوانیو متونو ته علمي ارزښت ورکړی دی چې له دغو ټولو څخه په متن څېړنه کې د پوهاند رشاد علمي وړتیا او فعاله ونډه څرگندېږي.

## مأخذونه


۱ـ بختاني خدمتگار، عبدالله. د اکاډمیسین رشاد یو څېړنیز خصوصیت، کابل مجله، ۵ـ ٦ مه گڼه، د افغانستان د علومو اکاډمي: کابل، ۱۳۸۴ل کال.

۲ـ بېلابېل. د علامه رشاد بابا یاد، د باچا خان علمي څېړنیز مرکز: کندهار پوهنتون، ۱۳۹٦ ل کال.

۳ـ راورټي، هانري جارج. گلشن روه، د پوهاند رشاد په سریزه، درېیم چاپ، ۱۳۵٦ ل کال.

۴ـ رفیع، حبیب الله. د ارواښاد پوهاند استاد رشاد په یاد، کابل مجله، ۱ـ۲مه گڼه، د افغانستان د علومو اکاډمي: کابل، ۱۳۸۴ ل کال.

۵ـ روهي، صدیق. ادبي تحلیلونه، پښتو اکېډمی: بلوچستان کوټه، ۲۰۱٦ ز کال.

٦ـ سروري، جمیله. د اکاډمیسین عبدالشکور رشاد ژوند او آثار، د افغانستان د علومو اکاډمي: کابل، ۱۳۸۸ل کال.

۷ـ لواڼی، دولت. دیوان، د پوهاند رشاد په سریزه، پښتو ټولنه: کابل، ۱۳۵۳ ل کال.

۸ـ هاشمي، سید محي الدین، د ادبپوهنې څانګې، د علومو اکاډمي: کابل، ۱۳۹٦ل کال.

۹ـ هېوادمل، زلمی. د متن څېړنې مېتودولوژي، د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز: کابل، ۱۳۸۹ ل کال.

څېړندویه مینا مسعوده نېکیار

# په ورځني ژوند کې د ژبې ارزښت او اړتیا

# The value and requirement of language in daily life

**Researcher Meena Masuda Nekyar**


## Abstract

In human life the language is an important and essential instrument. The presence of language is important in every part of life. And without the possibility of very valued among the people, people need a lot to the language. Language is the property of society and it is valued by the people and their needs are met.

Language is an image of ideas and thoughts and these thoughts is transmitted to others through language. Language is directly related to human and society that is why language is so important in human daily life and it have so value and the can't improve separately. The more a society develops the more human develops and the language is equally valuable and develops.

## لنډیز

د انسانانو په ژوند کې ژبه یوه مهمه او اړینه وسیله ده. د ژوند په هره برخه کې د ژبې شتون اړین دی او پرته له دې وسیلې څخه د ژوند د پراختیا امکان ډېر لږ دی. ژبه د وګړو تر منځ ډېر ارزښت لري وګړي ژبې ته ډېر ضرورت لري. ژبه د ټولنې مال دی او د وګړو لخوا ارزښت ورکول کېږي او اړتیاوې یې وربانديې پوره کېږي. ژبه د فکر او

خیال انځور دی او همدا فکر د ژبې په وسیله انځورېږي او نورو ته لېږدول کېږي. ژبه له انسان او ټولنې سره مستقیمه اړیکه لري، نو همدا لامل دی چې ژبه د انسان په ورځني ژوند کې ډېره ده او ډېر ارزښت ورته لري او نشي کولای چې یو بل نه جلا پراختیا ومومي. څومره چې یوه ټولنه پراختیا مومي همدومره انسان هم پرمختګ کوي او په هماغه کچه ژبې ته ارزښت ورکول کېږي او پراختیا مومي.

ژبه د انسان رېښتینوالي ده. ژبه د انسان د فکر یو انځور دی. هر هغه څه چې په فکر او ذهن کې وي. په ژبه کې وي او د ژبې له لارې انځورېږي او ټولنې ته وړاندې کېږي، نو ژبه هم انسان ته او هم ټولنې ته ارزښت لري او د دواړو د پراختیا لامل ګرځي. نه یواځې دا چې ارزښت ورته لري، بلکې اړتیا هم ورته لري که ژبه نه وي انسان او ټولنه نشي کولای وده ومومي او انسان د ټولنې هغه غړی دی چې نه شتون یې د ټولنې د ړنګېدو لامل ګرځي.

ویلی شو چې ژبه د انسان په ورځني ژوند کې ډېر ارزښت لري او انسان همدې ژبې ته اړتیا لري. اوس مهال چې نړۍ پرمختګ کړی دی او کوي یې، نو ژبه هم د پرمختګ په حالت کې ده او له علم او پوهې سره سم ژبه کې هم بدلون راځي.

څومره چې علم، تخنیک او ساینس پراختیا مومي، ژبه او انسان هم پراختیا مومي او یو د بل تر منځ یې ارزښت ډېرېږي او د ارزښت ترڅنګ یې اړتیاوې هم زیاتېږي، نو انسان باید خپل ورځني ژوند کې ژبې ته ډېر ارزښت ورکړي، ځکه د انسان ژوند ډېری په ژبه پورې تړلی دی او دواړه یو د بل په پر مختګ کې اړین رول لري.

## سریزه

دغه مقاله د ژبې د ارزښت او اړتیا په اړه کښل شوې ده. په دې کې راغلي دي چې ژبه زموږ په ورځني ژوند کې څه ارزښت لري او اړتیا یې څه ده او د دې تر څنګ ویل شوي دي چې ژبه په ټولنه کې څومره مهمه او اړینه وسیله ده څومره په یوه ټولنه کې اغېزه لري.

همدا راز په دې مقاله کې راغلي دي چې د دې ټولو مسایلو تر څنګ د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او ادبي مسایلو په پراختیا کې هم مهمه ونډه لري او د یوه هېواد په پر مختګ کې ډېره ونډه د ژبې وي. که چېرته یوه ژبه نړیواله وي، نو خامخا هماغه هېواد د پر مختللو هېوادونو له ډلې څخه ګڼل کېږي.

ځرنګه چې ژبه په يوه ټولنه او کلتور پورې اړونـد وسـيله ده، نـو اړينـه ده چـې لـه دې وسيلې نه په ښه توګه ساتنه وشي او کمزورى ته يې ورنکړي او لا وده ورکړى شي. ژبه پـه انسان پورې تړلې ده که چېرته انسان پراختيا وکړه، نو ژبه هم وده او پراختيا کوي.

## د څېړنې اهميت او مبرميت

د دې ليکنې اهميت په دې کې چې لوستونکې د ژبې په ارزښت پـوه شي چـې څومره زموږ په ورځني ژوند کې ژبه اهميت لري او د يوې ژبـې د پراختيـا لپـاره بايـد څه تر سره شي او مبرميت يې دا دى چې زموږ په ورځنيو چارو کې ژبې ته ډېره اړتيا لېدل کېږي او د يوې ژبې ساتل زموږ لپاره ډېر اړين دي.

## د څېړنې موخې

د دې موضوع هدف دا دى چې بايد خپله ژبه خوندي وساتو او پراختيـا ورکـړو او د غنې او نړيوالو ژبو په کتار کې يې راولو.

## د څېړنې پوښتنې

١. ژبه د څه شي ټولګه ده؟
٢. ژبه د څه شي ښکارندويي کوي؟
٣. ژبه څه ډول بنسټ دى؟
٣. آيا ژبه د ملت لپاره ارزښت لري او کنه؟

## د څېړنې ميتود

د دې څېړنې ميتود تشريحي او تحليلي دى.

## اصلي متن

ژبه هغه لوى نعمت دى چې لوى پروردګار موږ انسانانو تـه راکـړې ده. د همـدې په وسيله موږ د ژوند ټولې ستونزې حلوو او ان تر دې چې د ژبې له لارې خپـل فکـر او شعور له نورو سره شريکوو.

ژبه نه يواځې دا چې فکر او شعور لېږدوي، بلکې د انسان د پراختيـا لامـل هـم ګرځـي. همدا ژبه ده چې په ذريعه يې له نـورو هېوادونـو او نړيوالـو پرمختګونـو سره مخـامخ کېـږو. د دوو انسانانو، د دوو کليوو، د دوو سيمو او د دوو هېوادونو تر منځ اړيکې پيـدا کـوي او يـو لـه بل سره افهام او تفهيم کوي، ځکه چې ژبه د افهام او تفهيم يوه لويه وسيله ده.

هر څومره چې یوه ژبه کې آسانه افهام او تفهیم موجود وي او له نورو هېوادونو سره اړیکې ولري، نو هماغه ژبه یوه پرمختللې ژبه ده. د ژبې د کارولو له لارې د ژوند ټولې اړتیاوې پوره کېدای شي. د ژبې له لارې د ژوند ټولې ستونزې د حل په لوري درومي.

ژبه د انسان په ژوند کې یوه اړینه وسیله ده، دغه وسیله انسان پیاوړی او قوي کوي او کمزوری نه یې ساتي. ژبه یوه ټولنیزه پدیده ده او په همدې ټولنه کې رازېږېږي او له منځه ځي. ژبه په ناڅاپي توګه نه ده رامنځ ته شوې، بلکې په تدریجي او علمي بڼه رامنځته شوې او پرمختګ یې کړی دی.

د تاریخ په اوږدو کې ژبه تکامل کوي، وده کوي او اوښتون په کې راځي، چې همدا اوښتون د یوې ژبې پراختیا بلل کېږي. د یوې ژبې پراختیا کې انسان مهمه ونډه لري. همدا انسان دی چې ژبې ته تکامل وربښي او بدلون ورکوي، نو اړینه ده چې موږ خپلې ژبې ته ارزښت ورکړو، پیاوړې یې کړو او هڅه وکړو چې په نړیوال کتار کې یې ودروو، ځکه د ژوند ټول مسایل لکه: سیاسي، اقتصادي، کلتوري، ادبي، ټولنیز،طبي، ساینسي او ټکنالوژي دا هر څه د همدې ژبې له لارې کولای شي پراختیا ومومي او یوه مقام ته ځان ورسوي او ژبه پورې اړوندېږي.

د انسان په ټولنیز ژوند کې ژبه یوه مهمه او اړینه پدیده ده او همدا ژبه د انسان په ورځني ژوند کې مثبت رول لوبوي او له یوه نسل څخه بل نسل ته د ژبې لېږدول د انسان په ټولنیز ژوند کې د یوې ژبې ارزښت ښکاره کوي او دا څرګنده وي چې انسان ژبې ته اړتیا لري او په همدې وسیله خپل د ژوند او ټولنې ټولې ستونزې ورباندې حلوي.

ژبه او ژوند سره تړلي دي، په پراختیا، وروسته پاتې او د ټولنې په ټولو شرایطو کې یو د بل مرسته کوونکي دي. که چېرته د انسان ژوند تغییر وکړي، نو ژبه هم خامخا تغییر کوي او له همدې تغییر سره په ژبه کې نوي وییونه او نوي اصطلاحات رامنځته کېږي او له همدې لارې د ژبې پانګه پیاوړې او پراخه کېږي، چې همدا د یوې ژبې پراختیا او ارزښت دی.

د وخت په تېرېدو سره د ژبې په پانګه کې ډېر بدلون رامنځته کېږي. د ژبې په وسیله کلتور، ټولنه، ښوونه، روزنه، پوهه او ادب پرمختګ کوي او ټول په ژبه پورې تړلي دي، ځکه «ژبه د ځانګړیو قرار دادي نښو یوه ټولګه ده چې هره نښه یې زموږ د یوه ذهني انځور ښکارندویي کوي. داسې چې د هرې نښې لپاره په ذهن کې

ځانګړی عيني تصوير لرو. دا انځورونه د انساني مهال او چاپيريال څېزونه، ځانګړتياوې، پېښې، پديدې، ښکارندې، کړه - وړه او د ويونکي خپل اندونه، خيالونه، هيلې، غوښتنې، موخې، ارمانونه، احساسات، غبرګونونه او نور هر هغه څه رانغاړي چې په زړه او ذهن کې يې ګرځي راګرځي او د ويلو او اورولو توقع يې لري.»(۱)

ژبه زمونږ د ذهن رسامي ده هر څه چې په ذهن کې جوړېږي او پيدا کېږي د ژبې له لارې انځورېږي او نورو ته رسول کېږي. ژبه د انسان د ژوند په کړو - وړو کې اړينه ونډه لري او د انسان اړتياوې د همدې ژبې له لارې حل کېدای شي او ژبې ته ډېره اړتيا لري.

د ژبې ارزښت او اړتيا دا ده چې د ژبې له لارې د انسان او ټولنې هر څه که هغه سياسي، اقتصادي، ادبي دي او که روزنيز، مادي او معنوي څېزونه دي. دا هر څه د همدې ژبې له لارې خوندي ساتل کېږي، ځکه د همدې ژبې له لارې په کتابونو، سايټونو او نورو خوندي ځايونو کې ساتل کېږي او د همدې لارې نسل په نسل لېږدول کېږي او موږ انسانان له تېرو وختونو څخه خبروي.« ژبه د ارتباطاتو نظم او سيستم دی. د فکر انتقالونکې ده، د يوه ادبي بيان د څرګندولو وسيله ده، يو ټولنيز بنسټ دی، د سياسي بحثونو موضوع ده. لنډه دا چې د يوه ملت د منځ ته راتلو اساس او بنسټ ده.»(۲)

څرنګه چې ژبه يوه ارتباطي وسيله ده او د ارتباط او اړيکو له لارې رامنځته کېږي او د انسانانو تر منځ اړيکې پيدا کوي، نو ژبه په يوه ټولنه کې اتفاق راوستی شي او د وګړو ترمنځ اړيکه ټينګولای شي،نو همدا د يوې ژبې ارزښت دی.

ژبه يواځې غږونه او ارازونه نه دي او يواځې د پوهولو او را پوهولو وسيله نده، بلکې د انسان او ټولنې بنسټ جوړونکې وسيله ده.د همدې له لارې يوه ټولنه را منځته کېږي، وده کوي او د همدې وسيلې له لارې انسان او د انسان هر څه پېژندل کېږي، نو دلته ويلی شو چې ژبه د انسان په ورځني ژوند کې ډېر ارزښت لري او ډېره اړتيا ورته لري او پر ته له دې انسان او ټولنه امکان نه لري چې پر مخ ولاړه شي او پراختيا ومومي.« ژبه د يوې ټولنې د وګړو د تاريخي، فرهنګي او ټولنيز ارزښت د ساتلو وسيله ده چې د ټولنې مادي، معنوي، کلتوري، سياسي او داسې نورې لاسته راوړنې پرې خوندي وي.

له یوې ټولنې څخه بلې ټولنې ته د هغوی علمي پرمختګونه او لاسته راوړنې انتقالوي او د راتلونکو نسلونو د علمي پرمختګونو لامل ګرځي. د ژبې په واسطه انسان له طبیعي افاتو، ناورینونو او ضرورتونو څخه د انساني ټولنې اوحتی حیواناتو د خوندي ساتلو لپاره لارې چارې جوړېږي.»(۳)

ژبه د یوه ملت او ټولنې یو با ارزښته پانګه ده چې د انسانانو هر څه ( پوهه، علم، زده کړه، احساسات، نظریات، اخلاق، اقتصاد، سیاست، حقوق) او د انسان د ژوند ټول اړین او ضروري شیان د همدې ژبې له برکته په همدې پانګه کې خوندي ساتل کېږي او د همدې ژبې له لارې ارزښت ورکړل شوی دی. ژبه د انسان په ژوند کې ډېر ارزښت لري او موږ له دې سترګې نشو پټولای چې ژبه د یوه ملت په ژوند کې زیات ارزښت لري.

د انسان په ژوند کې زیاتره شیان په ژبه پورې تړلي دي. دانسان علم، زده کړه، اخلاق،اړیکه، سیاست، اقتصاد او پوهه دا هر څه د یوې ژبې سره تړاو لري او ژبه پورې تړلې څېزونه دي، ځکه که چېرته ژبه نه وي، نو د انسان پرمختګ، بدلون او اوښتون له امکان څخه لرې خبره ده. باید تر خپلې وسې پورې باید هڅه وشي چې خپلې ژبې ته پراختیا ورکړو، غني یې کړو او د یوې پرمختللې ژبې په کتار کې یې ودروو.

څومره چې د انسان فکر او موخه پراخېږي، نو ژبه سمه ورسره پراختیا مومي،ځکه ژبه او فکر یو له بل سره تړلې دي او له بلې خوا د انسان په ژوند کې یو هدف او بله ژبه لوی ارزښت لري او د فکر او موخې له لارې ژوند پراختیا مومي، هڅه رامنځته کېږي او بدلون راځي او انسان یوه لوړ پړاو ته رسیږي، نو دا د ژبې یو لوی ارزښت دی چې د انسان په ژوند کې رامنځته کېږي، نو موږ ویلی شو چې ژبه د انسانانو په اړیکو کې زیاته ونډه لري او انسانان کولای شي د همدې ژبې له لارې خپلې اړیکې وساتي.« انسان او په همدې ډول بشري ټولنې یوه له بلې سره اړیکې لري. وګړي د ژوند د نیمګړتیا وو د پوره کولو او د هغوی د له منځه وړلو لپاره د یوه او بل مرستې او لاس نیوي ته اړتیا لري.»(۴) چې همدا مرسته او لاس نیوی زیاتره د ژبې له لارې کېږي، ځکه زیاتره مرستې د ژبې له لارې کېږي او د ژبې له لارې کولای شو یو د بل لاس ونیسو.

ژبه د انسان زیور دی، ژبه د انسان شخصیت دی، ژبه هغه وسیله ده چې که چېرته نه وي، نو انسان مکمل نه دی. د ژبې له لارې د انسان ارزښت او شخصیت ښکاري. د یوه انسان ځانګړنه، شخصیت، رفتار او عقل د همدې ژبې له لارې څرګندېږي.

ژبه د فکر او پوهې د بیان وسیله ده. د همدې ژبې له لارې د انسان فکر بیانېږي او نورو ته وړاندې کېږي. د همدې ژبې له لارې د انسان پوهه او علم زیاتېږي او ځرګندېږي.

ژبه یوه ټولنیزه پدیده ده نه فطري پدیده. ژبه له ټولنې سره مستقیمه اړیکه لري او نشي کولای جلا شي، نو ویلای شو چې ژبه د انسانانو هغه منظم او صوتي سیستم چې د دوی ترمنځ یې اړیکه ټینګه کړي او همدا اړیکه د انسان په ژوند کې ارزښت لري او هم اړینه ده، نو انسان پرته له ژبې څخه یو ناشونی موجود دی او نه شي کولای ورځني کارونو ته پرته له ژبې دوام ورکړي او یا خپل افکار او خیالات مطرح کړي.

د انسان ژوند زیاتره د ژبې له لارې پر مخ ځي. انسان پرته له ژبې څخه یو نیمګړی موجود دی. موږ نشو کولای یو بشپړ انسان یې وګڼو، همدا د ژبې یو ارزښت او اړتیا ده چې انسان نشي کولای د ژبې نه پرته په ورځنیو چارو کې بریالي اوسي، ژبه د انسان سر لوړي ده، یوه اړتیا یې ده.

ژبه یوه متحوله پدیده ده. ژبه د انسان له خوا په ټولنه کې تغییر کوي او همدا ژبه ژوند ته تغییر، بدلون او پراختیا ورکوي.ژبه د انسان په هر ګام کې رول لري. همدا ژبه انسان ته ارزښت ورکوي او د یوه مثبت اړخ په خوا یې ځغلوي. مطلب دا چې د انسان په ژوند کې ډېر اهمیت لري او د همدې ژبې له برکته انسان پرمختګ کوي او پېژندنه یې کېږي. ژبه د خپلو قوانینو او اصولو سره سمه په ورځني ژوند کې پر مخ ځي او د انسان اړتیاوې د همدې له لارې پوره کېږي. د انسان په ژوند او ورځنیو چارو کې ژبه یوه مهمه او اړینه وسیله ده چې وګړي خپل ډېری ستونزې د همدې ژبې له لارې حلوي، نو دا یوه ځرګنده خبره ده چې ژبه د انسان په ژوند کې مهمه ونډه لري او د همدې ژبې له لارې یوه مقام ته لاسه کوي.

## پایله

د ورځني ژوند هر اړخ له ژبې سره تړاو لري او د ټولنې او وګړو د پر مختګ لامل ګرځي.که چېرته پام ورته وکړو په ټولنه کې ډېری شیان په ژبه پورې تړلي دي،لکه: پوهه. ښوونه، روزنه، طبابت، تاریخ، فلسفه، سوداګري او داسې نور. ژبه د انسان د فکر ژباړه ده. که چېرته یو انسان ښه فکر ولري او ژبه یې خوږه، روانه او هنري وي، نو کولای شي د فکر انځور په ښه توګه وړاندې کړي، کله چې یې ښه بیان وکړ، نو هماغه انسان په یوه ټولنه کې د خلکو پر وړاندې پیاوړي او غښتلي انسان ګڼل کېږي.

هغه انسان چې د افهام او تفهیم ژبه یې مضبوطه وي، نـو کـولای شي ښـه ارایـه وکړي. هماغه مهال انسان کولای شي پرمختګ وکړي او ارزښت پیدا کړي او د نـورو ورته اړتیا پیدا شي چې دا ټول د ژبې له امله وو او همدا ژبه ده چې انسان تـه تغییـر ورکوي او انسان په مثبته لاره کې ګام ږدي. د انسان د پرمختګ یـوه لاره ښـه وینـا ده. ښه وینا کوونکی ښه پراختیا کولای شي چې په ورځني ژوند کې بریالي وي. یـو ژبور انسان تل بریالی وي او تل یـوه لـوړ مقـام تـه رسـیږي، نـو دې لیکنـې څخـه دا نتیجه تر لاسه کوو، چې د انسان په ژوند او ورځنیو چارو کې ژبه ډېره ونډه لري. ژبـه انسان پر مخ بیایي، قوي ژبه د انسان تضمین کوونکی دی. بریـا یـې ده او ویـاړ یـې دی. ژبه په ورځني ژوند کې یوه مهمه او اړینه وسیله ده چې موږ ګټه تـرې اخلـو، نـو په ترڅ کې په کار ده چې د ژبې په پراختیـا او پرمختـګ کـې هڅـه وکـړو، ترڅـو یـوه پیاوړې او قوي ژبه ولرو.

## وړاندیزونه

۱- باید پښتو ژبې ته ډېر پام وکړو او یوه غني او پیاوړې ژبه باید ترې جوړه شي.

۲- چې پښتو ژبه باید په معیار ي ښه برابره ژبه شي.

۳- څرنګه چې ژبه د انسان په ژوند کې یوه اړینه وسیله ده، نو په کـار ده چـې دغـه اړینـه وسیله په ښه توګه وساتل شي، نو د دې خوندیتوب لپاره له هر ډول هڅو ته ډډه ونکړو.

## مأخذونه

۱- محبـوب، محبـوب شـاه. پښـتو ژبـدود، مومنـد خپرندویـه ټولنـه: جـلال ابـاد، افغانستان، ۱۳۹٦ ل کال، ۱ مخ.

۲- مرهون، محمود. تاریخي ژبپوهنـه، کاینـات خپرندویه ټولنـه: کابـل، افغانسـتان، ۱۳۹٦ ل کال، ۱۵ مخ.

۳- محبـوب، محبـوب شـاه. پښـتو ژبـدود، مومنـد خپرندویـه ټولنـه: جـلال ابـاد، افغانستان، ۱۳۹٦ ل کال،۳ مخ.

۴- تڼیوال، مولاجـان. ژبـه او ټولنـه، د افغانسـتان د علومـو اکـاډمي د ژبـو او ادبیـاتو مرکز: ۱۳۸۸ ل کال، ٦۸ مخ.

پوهنیار سلیمان صیاد

# د عبدالرحمن بابا گرانښت او منښت

# Popularity and acceptance of Abdul Rahman Baba

**Suleiman Sayad**

## Abstract

In Pashto literature Abdurrahman Baba is one of the noteworthy literary figure and philosophical personality who has reflected events and real voice of society.

Abdurrahman Baba stood shoulder by shoulder with his people and he cared for each of them beside that ,Baba used his pen for the construction of community.

Simplicity, Humanity, Advising, Proverbs and religion are major characteristics of his poetry which maintain his personality forever.

For the completion of this research paper preface, importance, purpose, questionnaire, methods,main body and conclusion along it's references are being included.

## لنډيز

عبدالرحمن بابا په پښتو ادب کې هغه عارف او صوفي شاعر دی چې نوم یې مرګ نه مني، ځکه ده د ټولنې پېښو، دردونو او غم ته انعکاس ورکړی دی. عبدالرحمن بابا له ولس سره د هغوی په ستونزو کې اوښکې توی کړې دي او تل د بې وسو په څنګ کې ولاړ دی، د ده سندرې د ټپونو پټۍ دي، د ده غږ د حق اواز

دی او د ده کلام د خپلې ټولنې تفسیر او تعبیر دی. د عبدالرحمن بابا په کلام کې ساده ګي، بشرپالنه، وعظ او نصیحت، متلونه او مذهبي رنګ هغه ځانګړنې دي چې د بابا وینا او نوم یې تلپاتې ساتلی دی.

## سریزه

ادب په ښو او ښکلو الفاظوکې د مطالبو رانغښتل دي، هر هغه لیکوال، شاعر او ادیب چې د ټولنې په رمز پوه شوی او د انساني ټولنې لویې او وړې پېښې یې څېړلي او انځور کړې وي، هغه پر زړونو پادشاهي کړې ده، ادب د انسان او انساني ټولنې څخه، نه بېلېدونکې کلمه ده، هره هغه فنپاره چې په هغې کې د ټولنیزو پېښو انعکاس زیات وي، په همغه اندازه ادب لوړ او ادیب یې بریالی دی.

په پښتو ادب کې له روښانیانو را وروسته خوشحال خان، عبدالرحمن او حمید بابا هغه نوموتې څېرې دي چې له برکته یې پښتو ادب کې خورا رنګا رنګي پیدا شوې او د هنر نیلي یې هر لورته ځغلولي دي، د دوی د بریالیتوب راز په همدې کې دی چې په شعوري توګه یې خپله ټولنه درک کړې او بیا یې همغسې ادب پنځولی دی، نو ځکه یې ارزښت پر ځای پاتې دی. عبدالرحمن بابا یو له دغو شاعرانو نه دی چې کلام یې ارزښت لري، ما ((د عبدالرحمن بابا ګرانښت او منښت)) تر سرلیک لاندې مقاله کې په پښتنې ټولنه کې د عبدالرحمن بابا د مقبولیت لپاره د بابا په کلام کې دغه ځانګړنې (ساده ګي، بشر پالنه، وعظ او نصیحت، متلونه او مذهبي اړخ) په ګوته کړې دي چې مقبولیت یې د دغو ځانګړنو له مخې ګڼم.

## د څېړنې ارزښت او مبرمیت

یوه چاره هم باید بې ارزښته نه وي او هرکار باید د یوه ارزښت پر بنسټ سرته ورسېږي. زما د دې مقالې ارزښت په دې کې دی چې قدرمن لوستونکي په دې پوه شي چې په پښتنې ټولنه کې د عبدالرحمن بابا د مقبولیت او یامنښت لاملونه څه دي؟ ترڅو د عبدالرحمن بابا د کلام د سمې پېژندنې او پر پوهېدنې لپاره یوه بېلګه وګرځي او پرهمدې بنسټ نور شاعران هم مطالعه شي.

## د څېړنې موخې

۱. د عبدالرحمن بابا د کلام ځانګړنې ښودل.
۲. د عبدالرحمن بابا له فکر او هنر سره د لوستونکو اشنا کول.

## د څېړنې پوښتنې

١. د عبدالرحمن بابا فکر او هنرڅه ډول و؟
٢. ولې عبدالرحمن بابا په ټولنه کې مقبول دی؟
٣. د عبدالرحمن بابا د بریالیتوب راز په څه کې دی؟

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې له تشریحي میتود څخه کار اخیستل شوی دی.

## اصلي متن

خوږ زبان یې په زمان شکرې لوني
هغه واف چې مستقر یې پېښور دی (٢)

عبدالرحمن بابا په پښتو ادب کې هغه خوږ نوم دی چې دا درې پېړۍ د پښتنو په زړونو پادشاهي کوي او پښتنو د خپلو زړونو له تخته نه دی کوز کړی، واکمني او راج چلول یې ښه په زور کې لا اوس هم دي. خدای خبر چې دې فقیر انسان څه در دانې له خولې توی کړې چې په مینه مینه یې اوس هم هر پښتون راټولوي او د خپل زړه سود پرې کوي، پښتانه د ده په دیوان خپل فالونه ګوري، دیني عالمان یې له منبره شعرونه وایي او کلام ته یې اوس هم په معاصره دوره کې درویشان خپلې زلفې خوځوي. د بابا د کلام په لوستلو لوستونکي ځانونه ښه او درانه احساسوي. استاد حبیب الله رفیع د رحمن بابا په اړه لیکي: «...دده ژوند هغه وخت ارزښت وموند چې ده د خپل شعر په قوت د پښتنو زړونه او روه سیمه تسخیر کړل او د ټولو پام یې ځان ته واړاوه..» (٣)

په پښتني ټولنه کې د بابا همدغه عام مقبولیت،ګرانښت او منښت په دې لیکنه کې راسپړو:

**د کلام سادګي:** د عبدالرحمن بابا د کلام هغه ځانګړنه ده چې د عوامو او خاصو پاملرنه یې د خپل کلام لوستلو ته را اړولې ده. ډاکټر راج ولي شاه خټک د عبدالرحمن بابا ډېر شهرت د ده د شعر د سادګۍ له امله ګڼي، په ((ادبي تحریکونه)) کې یې په اړه لیکي: «د رحمن بابا شعر که هر څو د فن د ملغلرو نه ډک دی او دا ملغلرې چېرته ژورې او اکثر چېرته د معنا د سمندر په سطح ګرځي، ولې بیا هم د رحمن بابا ډېر شهرت د هغه شعر د سادګۍ له کبله ښکاري». (۴)

خو د بابا کلام یواځې ساده نه، بلکې رنګین ساده دی او دا هم د عبدالرحمن بابا د هغې دعا برکت دی چې یو وخت یې ویلي وو:

الهـــــي د خپل حبیب له برکته
دا ساده انشا رنګینه د رحمن کړې (۵)

د عبدالرحمن بابا دعا د الله تعالی دربار کې قبوله شوې او د سادګۍ تر څنګ یې رنګیني هم پیدا کړې، همدغه خوند او رنګ دی چې لوستونکي یې بې تکلفه وایي، لکه:

ښه ده ښه ده دا دنیا
چـــې توښه ده د عقبا
د دنیا په بازار کېږي
د هغه جهـــان سودا
که تر سر یې صدقه کړې
رفع دفع کا بـــــلا (٦)

یا:

څوک دې را کاندې قسم په کردګار
که درم لرم په کور کې یا دینار
زه دینار او درم نه لرم په کور کې
ولې نور خلک مې بولي دنیادار
لکه ونه مستقیم په خپل مکان یم
که خـــزان را باندې راشـــي که بهار (۷)

پورته بیتونو ته که وګورو، عبدالرحمن بابا د خپل کلام لپاره ډېرې ساده او اسانې کلمې انتخاب کړې، عام فهمه دي او د لوستونکي فکراو سوچ ته اړتیا نه پیدا کېږي، خو د عبدالرحمن بابا د کلام سادګي به په دې معنا نه وي چې ګوندې زموږ دغه لوی شاعر د خپل کلام لپاره هغه دغه کلمې را ټولې کړې او د لوستونکو لپاره یې یو سر او تال برابر کړی، داسې نه ده، بلکې دا د عبدالرحمن بابا د کلام ځانګړنه ده چې د خپلې وینا د اغېز لپاره ساده، رواني او خوږې کلمې راوړي او له هغو الفاظو ډډه کوي چې په غوږونو بد او درانه لګېږي، سید رسول رسا د رحمن بابا د کلام د

سادګۍ په اړه ليکي:((د رحمن د ديوان ژبه ساده، ښکلې خو عالمانه ژبـه ده، رحمـن د ګل اندام صفت د بلبلو په ژبه يعنې پـه شـاعرانه لطيفـه ادبي ژبـه کـې کـړی دی، لکه چې خپله وايي:

اې رحمانه ! د بلبلو ژبه زده کــــــړه
دغه پس له په صفت د ګل اندام شه

دا ژبه په دې معنو کې عاميانه نه ده چـې ګنـې يـو عـام سـړی هـم داسـې ژبـه ليکلی او ويلی شي، دا د شاعرۍ ښـکلې اوامـروزه ژبـه ده ، پـه دې ژبـه کـې رحمـن مشکل الفاظ هم استعمالوي، خو دا الفاظ چـې رحمـن بابـا پـه شـعر کـې پـه کومـه طريقه تړي ددې ترتيب په سبب سهل شي او معنـی يـې خپلـه واضـحه شي، دا کـار صرف يو ډېر لوی قادرالکلام شاعر کولی شي.)) (۸)

استاد فضل ولی ناګار د عبدالرحمن بابـا د شـاعرۍ پـه اړه يـو ځـای ليکـي: ((د عبدالرحمان کمال هم دا دی چې په ساده او سـپېڅلې ژبـې د ښـکلاييزو ارزښـتونو په پام کې نيولو سره الهي مينه، بشرپالنه، معرفت او لوړ اخـلاق پـه داسـې سـندريز شور وړاندې کوي چې تر اوسه يې لا پښتو ادب مخی نه لري.)) (۹)

**بشرپالنه**: د عبدالرحمن بابا په اشعارو کې بله ښېګنه چې زموږ نظر را کـاږي، هغه بشرـ پالنـه ده او دا هـم هغـه ځانګړنـه ده چـې د عبـدالرحمن بابـا نـوم يـې لـه ورکېدو ژغورلی دی. د بابا د خپل ژوندانه زياته برخه په مشاهده تېره شوې، څـه يـې چې درک کړي، هغه يې بيا د خپل خيال او فکر په خُم کې رنګ کړي، څرنګه چـې عبدالرحمن بابا ټول عمر د نورو په درد دردېدلی او کړېدلی دی، نـو بـل انسـان يـې هم همدغسې خوښ دی او له يو با درده انسان نه سل بې پـروا او بـې درده صـدقه کوي، لکه:

کله بـې دردانو لره زړه د چا ور درومــــي
زه به صدقه کړم سل بې درد تر اهل درده (۱۰)

او کله خو دغه انسان دوست شاعر خپلو اشعارو ته د زګيروو خطاب کوي:

دا دستور دی چې له درده زګيروی خيژي
کنه څــــــه و د رحمن له شاعـرۍ (۱۱)

په پورته بیت کې اهل مجاز مجاز او اهـل حقیقـت حقیقـت پکـې حقیقـت لیـدلی شي او انسان دوستي په کې هم له ورایه ښکاري، د شعر عام لوستونکي پـرې خپـل شـعري ذوق هم خړوبولی شي، هر لوستونکی په کې خپل مطلب او هدف کتلی شي او هـم دا ځانګړنه د اصیل هنر هم ده چې هر سړی په کې خپله څېره او ځان ووینې.

خود خواهي او ځان غوښتنه هغه څه دي چې پـه انسـان بانـدې د خپـل ژونـد دایره را تنګوي، له زړونو پرېوزي او په ټولنه کې پرې حساب نه شي کیدای، مګر پـه څنګ کې بیا هغه خلـک چـې د نـورو لپـاره غوښـتونکي او فکـر کوونکي وي دوی د ټولنې د وګړو په زړونو کې ځـای نیسي۔ او نومونـه یـې تلپـاتي وي، عبـدالرحمن بابـا همدغه فکر ته د شعر رنګیني ورکړې ده:

هغـــــه زړه به له طـــوفانه په امـــان وي
چې کشتۍ غوندې د خلکو باربردار شي (۱۲)

عبدالرحمن بابا د دې پلوی دی چې هر وخت خپله خوښه او خوشحالي په پـام کې ونه نیول شي او د خپلې مدعا او مطلب لپاره نور ازار نه شي:

چې د ورور د عزیز زړه پرې ازارېږي
حاصل مه شه هغه خپله مدعا
ګاه د نورو رضا بویه ګاهي خپله
په کار نه ده همېشه خپله رضا (۱۳)

د عبدالرحمن بابا د انسان دوستۍ او همدردۍ احساس لـه دې بیتـه هـم ښـه څرګندېږي:

ښه خواږه چې یو یې خوري بل ورته ګوري
خواږه نه دي هغه زهر دي ګویا (۱۴)

**وعظ او نصیحت**: هغه ځانګړنه ده چې د عبدالرحمن بابا پـه کـلام کـې زیاتـه تـر سترګو کېږي، وعظ او نصیحت په ټولنه کې د نېک سـړي کـار وي، د عـالم سـړي عـادت وي او بادرده او با احساسه انسان یې خپله وظیفه ګرځوي، طبیعي خبره ده چې داسـې خواخوږي مشران بیا د خپل ولس په زړونو حکومت کوي، عبدالرحمن بابا وایي:

که ژوندون دی خو همدا دی په جهان کې
چې له چا سره تېرېږي په خندا

زهر ښه دي که په سوله په صلاح وي
نه شکرې په فتنه او په غوغا
گونگ بهتر دی چې بې کام او بې زبان وي
نه چې ژبه شي په بد ویل گویا
کوڼ بهتر دی چې څه نه اوري په غــوږو
نه چې غوږ کاندې پــه بد ویل شنوا (۱۵)

په پورته بیتونو کې عبدالرحمن بابا په عالمانه او واعظانه ژبه خپلو خلکو ته د ښه او خوشحاله ژوند تېرولو نصیحت کوي، عبدالرحمن بابا د انسان لوړه مرتبه په عدالت کې ویني او سپارښتنه یې په دې ډول کوي:

که بلنده مرتبه د چا پـه کاروي
لوی مقام دی عدالت په دا دنیا (۱٦)

د وعظ او نصیحت یې دا لاندې ښېلگې بې جوړې دي:

چې په زور ور ســره نه یــــې برابر
د هغو تر څنگه مه کښېنه زړور
زورور اور او اوبه دي فهم وکړه
چې ډوب نه شې یا ونه سېځې بشر
چې یې درست صورت غلبېل شي په اغزیو
وخوړ مــــه شه د هغې ونې ثمـر
چې په گېډه دې خر څیږي مخ یې ورک شه
کــه د سرو زرو چاړه وي یا خنجـر
چې یاري گنـي یاري د زورورو
بول وکړم زه رحمن په دا هنر (۱۷)

**متلونه:** د عبدالرحمن بابا د کلام سلاست، رواني او د الفاظو او معنا تړاو په ځینو برخو کې داسې حد ته رسېدلی چې د متلونو رنگ یې اخیستی او لوستونکي یې د خپلې وینا د پخلي لپاره کاروي، لکه :

د مکې په بزرگۍ کې شک نه شته
ولې خر به حاجي نه شي په طواف (۱۸)

د پورته بیت  په دویم نیم بیتي کې راغلي الفاظ د ټولنې وګړي د بې لارې او کم عقل انسان لپاره کاروي:

هره چاره چې تر وخت تېره شي عنقاشي
عنقا نه دی په دام نښتـــــی د هیچا
تېر ساعت  په مثال مړی د لحــد دی
مړ چا  نه دی  ژوندی کړی په ژړا (۱۹)

په  پورته اول بیت کې د (عنقا) راتلل او د دویم  بیت  دویم  نیم بیتي کـې (مـړی په ژړا ژوندی کول) متلونه دي چې په ټولنه کې د هغو کارونو لپـاره چـې کېـدل یـې ممکن نه وي، کارېږي.

**دیني اړخ:** څرنګه چې زموږ  ټولنه یوه مسلمانه او مذهبي ټولنه ده ، نو زمـا پـه اند:  د عبدالرحمن بابا د مقبولیت بارز اړخ همدغه دیني اومـذهبي اړخ دی  چـې د کـلام زیاتـه برخـه  یــې د قـران کـریم او نبـوي احـادیثو لـه مفهـوم سره اړخ لګـوي، عبدالرحمن بابا د خپل کلام  په اړه وایي:

دا چې  زه وتاته  وایم  که  یې خدای کا
په ایات  په  حدیث کې به څرګند وي (۲۰)

یو روایت دی چې د سوات صیب به ویل چې که چېرې په لمانځه کې له قـران کـریم نه سیوا د بل کلام اجازت  وی، نو ما به پکې د عبدالرحمن بابا کلام لوسته.(۲۱)

پیغمبر«ص» فرمایي: ((لا یوء من أحد کم حتی یحب لا خیه ما یحب لنفسه)). (۲۲)

ژباړه:  له تاسو نه  یو تن هم مومن کیدای نه شي ، تر دې  پورې هغه  څه  چې د ځان لپاره خوښوي، د بل مسلمان ورور لپاره خوښ کړي.

د پورتني حدیث مبارک مفهوم عبدالرحمن بابا په خپل شعر کې داسې رانغاړي:

لکه ځان هسې وبل وته نظر کړه
لکه ستا دی هسې ځان دی د هر چا   (۲۳)

د قضا او قدر په هکله په عظیم الشـان کتـاب قـرآن کـریم او نبـوي احـادیثو کـې یادونې شته ، په تقدیر باید مومن مسلمان ایمان ولري، هغه څه چې ده ته په تقـدیر کې مقرر دي، حتمي به ور رسېږي، اللـه تعـالی پـه سـورة الحدیـد کـې فرمایي:((مـا اصاب من مصیبة فی الارض ولا فی انفسکم الافی کتاب من قبل ان نبراها )). (۱)

په ځمکه او ستاسو نفسونو کې تاسو ته هېڅ ډول آفت او مصیبت نه رسېږي، مګر هغه څه چې د نومورې مصیبت او تکلیف پیدا کېدو نه مخکې په کتاب کې لیکل شوي عملي کېږي به.

همدغې خبرې ته عبدالرحمن بابا په خپل کلام کې داسې اشاره لري:

هغه چارې چې موقوفې په تقدیر دي
کړی یې نه شي په محنت په مشقت څوک
که نظر کا و قضا و هم رضا ته
په هېچا باندې دې نه کا ملامت څوک (۲۴)

الله تعالی بنده ګان خپل عبادت ته پیدا کړي دي او مسلمان باید له اسلامي اصولو سره سم ژوند وکړي. عبدالرحمن بابا همدغه مطلب په شعر کې داسې رانغاړي:

دلته دم او قدم دواړه په حساب دي
پل غلط په لارې مه ږده بې حسابه (۲۵)

## پایله

د عبدالرحمن بابا په اړه خبره په دې راټولوو چې بابا یو بشرپال، عارف اوسپېڅلی انسان دی. د یوه زړه سواند لارښوداومشر. په توګه یې د خپل ولس لارښوونه کړې، هم دنیوي او هم اخروي مسولیتونوته یې متوجه کړي دي، د بابا د کلام یوه ښه برخه د قرآن اوحدیث تفسیردی او ورسره ورسره په دې هم پوه شو چې عبدالرحمن بابا د خپل کلام لپاره څومره ساده، خو رنګین الفاظ انتخاب کړي دي، د باباکلام به نورې ځانګړنې هم ولري خو مایې د مقبولیت دغه پنځه ځانګړنې (ساده ګي، بشر پالنه، وعظ اونصیحت، متلونه اوپه کلام کې یې مذهبي رنګ) په ګوته کړې، که کلیات یې دقیق وکتل شي، د نورو ځانګړنو د لاسته راتللوتمه ترې هم کېدای شي.

## مأخذونه

۱. قرانکریم، سپاره ۲۷مه،سورة الحدید، ایت: ۲۲م.
۲. زیورالدین زیور. د پښتوادبیاتوتاریخ (منځنیدوره) ، ساپي د پښتوڅېړنواوپراختیامرکز: پېښور، ۱۳۸۶ل ،۷مخ.

۳. حبیب الله رفیع. رحماني خم، دانش خپرندویه ټولنه: پیښور، ۱۳۸۸ل، ۳مخ.
۴. راج ولي شاه خټک. ادبي تحریکونه، جدون پرنټینګ پریس: پېښور، ۱۹۸۹ع، ۳۵۰مخ.
۵. د عبدالرحمن باباکلیات، د حنیف خلیل په اهتمام، دانش خپرندویه ټولنه: پیښور، ۱۳۸۴ل، ۴۴۵مخ.
٦. پورتنی اثر ۹۸مخ.
۷. پورتنی اثر، ۱۵۱مخ.
۸. عبدالرحمن بابا، دیوان، د سیدرسول رساپه زیار، یونیورسټي بک ایجنسي: پیښور، ۱۹۷٦ع، ۱٦مخ.
۹. عبدالباقي هیله من، د عبدالرحمان بابا عرفان، د نجیب نایل ژباړه، ناګارخپرندویه ټولنه: جلال اباد، سریزه ب مخ.
۱۰. عبدالرحمن بابا،کلیات، حنیف خلیل په اهتمام، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۸۴ل،۲۷۰مخ.
۱۱. پورتنی اثر، ۳۳۸مخ.
۱۲. پورتنی اثر، ۳٦۰ مخ.
۱۳. پورتنی اثر ،٦۰ مخ.
۱۴. پورتنی اثر ، ٦۰ مخ.
۱۵. پورتنی اثر، ۵۹او٦۰ مخونه.
۱٦. پورتنی اثر، ۹۷مخ.
۱۷. پورتنی اثر، ۱۴٦ او ۱۴۷ مخونه.
۱۸. پورتنی اثر، ۱۸۱مخ.
۱۹. پورتنی اثر، ۱۰۳مخ.
۲۰. پورتنی اثر، ۳۸۷مخ
۲۱. راج ولي شاه خټک، ادبي تحریکونه، جدون پرنټینګ پریس: پیښور، ۱۹۸۹ع، ۳۵۹مخ.
۲۲. محمد بن اسمعیل البخاري، بخاري شریف، لومړی ټوک،۱۳۵۷هـ ق، ٦مخ.

۲۳. **د** عبدالرحمن بابا،کلیات، دحنیف خلیل په اهتمام، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۸۴ل،٦٠مخ.
۲۴. دعبدالرحمن بابا،کلیات، دحنیف خلیل په اهتمام، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۸۴ل،۱۸۹مخ.
۲۵. پورتنی اثر، ۲۵۸مخ.

پوهنیار میرویس خالقیار

# د پښتو ډرامې په پرمختیا کې د عبدالرؤف قتیل خوږیاڼي ونډه

# The Contribution of Abdulrawoof Qateel Khogiani in the Development of Pashto Drama

**Mirwais Khaliqyar**

## Abstract

The written fable of Abdulrawoof Qateel Khogiani has an explicit dignity in the Pashto literature. His written fable describes and covers the social situation of the society. He has criticized the unwanted regulation of the society. His literary describes the social reformation and affairs of the mean time.

The characteristics of Qateel Khogiani's Drama describe the Pashtuns characters and his literary fictions were inspired by the Pashtun society. These Dramas describes the various prospects and unwanted behaviors in the society. His Dramas also discuss the non-believed social characteristics of the environment.

## لنډیز

د عبدالروف قتیل خوږیاڼي داستاني لیکنې خصوصاً ډرامې په پښتو ادب کې ځانګړی مقام او ځای لري. دده داستاني لیکنې په خاصه توګه ډرامې زموږ د ټولنې د وخت د اجتماعي ژوند عمده موضوعات په خپله څولی کې رانغاړي او ناوړه

دودونو ته انتقادي اشارې کوي. دده دغه ډول ليکنې په خپل وخت کې د اجتماعي اصلاحاتو لپاره د قلمي مبارزې ځرګندې بېلګې وې.

دقتيل خوږياڼي د ډرامو ټول کرکټرونه پښتني دي او له پښتني چاپيريال نه يې الهام اخيستى دى. په دغو ډرامو کې د ژوند بېلابېل اړخونه تمثيل شوي او ناخوالې يې په کلکه غندل شوي دي. هغو بدو دودونو ته چې په پښتني کلتور کې دتربور او تربګنۍ په نامه موجود دي ګوتنيونه شوې او رټل شوي دي.

## سريزه

پښتو ژبه د نړۍ د نورو سيالو ژبو تر څنګ داسې نوميالي شخصيتونه لري، چې د هغو د فکر، فن او شخصيت په اړه ځانته موضوعات ټاکل کيداى شي، د پښتو ژبې د نوميالیو شخصيتونو څخه يو عبدالروف قتيل خوږياڼى دى، چې د پښتو ادب د نظم او نثر په برخو کې يې ډېر زيات کار کړى او د پښتو ژبه يې په دغو برخو کې لا بډايه کړې ده، چې د نثر په برخه کې يې داستاني ليکنې ډېره درنه برخه جوړوي، نوموړى د خپل وخت په داستاني ادبياتو کې يوه ياده څېره وه چې د خپلو کيسو، ناولونو او ډرامو له کبله مشهور و. قتيل په داستاني ادب خصوصاً په ډرامه ليکنه کې لوى لاس درلود چې په دې مقاله کې يې د ډرامو په جوړښت، ارزښت او منځپانګه باندې بحث شوى.

## د څېړنې موخې

د دې مقالې موخه داده چې لوستونکي د پښتو ډرامې په وده او پرمختيا کې د قتيل خوږياڼي په کړي کار خبر شي او په ياده برخه کې ترې ګټه واخلي.

## د څېړنې پوښتنې

په دې څېړنه کې دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ويل شوي دي:

۱- د پښتو داستانې ادب په پراختيا کې قتيل خوږياڼي کوم کارونه کړي؟

۲- پښتو ډرامه څه وخت پيدا او قتيل يې په وده او پرمختيا کې څومره ونډه اخيستې؟

۳- قتيل خوږياڼي څومره پښتو ډرامې ليکلي؟

۴- د قتيل خوږياڼي د ډرامو جوړښت او منځپانګه څه ډول ده؟

## د څېړنې میتود

د څېړنې میتود تشریحي او د څېړنې ډول کتابتوني دی، همدارنگه په دې تړاو تر ډېره هڅه شوې، چې د دې ادبي لیکنې د بشپړوالي لپاره له مختلفو هغو کتابونو گټه واخلم، چې د قتیل خوږیانۍ د ژوند او آثارو  په اړه لیکل شوي دي، یاد آثار مې په ځیرتیا سره ځارلي او د ماخذ ښودنې له اصولو سره سم مې ترې گټه اخیستې ده.

## قتیل خوږیانۍ او پښتو ډرامه

ډرامه هغه په زړه پورې هنري ژانر دی، چې د پښتو ژبې د ادب بڼ ته یې د شلمې پېړۍ په دوه یمه لسیزه کې خپلې رېښې راغزولي دي .

د ډرامې کلمه د یوناني ژبې له ډراو (Drau ) نه مشتق شوې چې د عمل او کړنې په معنا ده،له همدې امله د ډرامې د پېژندنې په لړ کې دغه کلمه (په کولو او ښودنه) هم تعبیر شوې ده.

په ادبي اصطلاح ډرامه د نثري، هنري او داستاني ادبیاتو  یو ډول دی چې ادبپوهانو  یې د پېژندنې لپاره بېلابېل تعریفونه او څرگندونې کړې دي.

د ډرامې پېژندنه ((ډرامه د فن او تاریخ په هنداره کې)) اثر یې په دې ډول سره کوي: ((ډرامه یوه یوناني کلمه ده چې د عمل معنی ورکوي او په اصطلاح کې هغه اثر دی، چې د ډیالوگ او خبرو اترو په فورم لیکل شوی وي، د کیسه کوونکو له خبرو محروم او عادتاً د تیاتر لپاره جوړه وي.)) ( ۵: ۴مخ)

ډرامه په اوسنۍ بڼه او مفهوم له لویدیځو ادبیاتو څخه د شلمې پېړۍ په لومړیو لسیزو کې پښتو ژبې او ادب ته سر رادننه کړی او تر بېلابېلو ټولنیزو او سیاسي شرایطو لاندې دود شوې، وده او پرمختیا یې کړې او تر دې مهاله رارسېدلې.

لومړنۍ معلومه ډرامه د عبدالاکبر خان اکبر له خوا رامنځته شوه چې درې یتیمان نومېږي. ددې ډرامې په اړه افضل رضا په خپل اثر ((ډرامه)) کې داسې لیکي چې کټ مټ یې دلته رانقلو: ((د پښتو وړومۍ طبعزاد ډرامه «درې یتیمان» د اتمانزو په هائي سکول کې د سکول د کلېزې جلسې په موقعه سکولیانو پیش کړې وه، دا ډرامه په ۱۹۲۷زیږدیز کې ښاغلي عبدالاکبر خان اکبر لیکلې وه، په دغه ډرامه کې ښاغلي لیکوال په اصلاحي رنگ کې د معاشرې د زورورو خلقو زور زیاتی په گوته کړی وو. د ۱۹۲۸زیږدیز نه تر ۱۹۳۰زیږدیز پورې هم دغه ښاغلي لیکوال د

دغه سکول په کلیزو جلسو کې نوري وړې اصلاحي ډرامې لکه«تهذیب جدید» «تعلیم جدید» وغیره پیش کړې، چې د پښتو د طبع زادو ډرامو د ابتدائي دور کامیابه تجربې یادیږي.)) (۲: ۴۸مخ)

عبدالاکبر خان اکبر د پورته ذکر شوو ډرامو تر څنګ د (تربور، خدایي خدمتګار او جونګړه) په نومونو نورې ډرامې هم لیکلې دي، په ده پسې نورو پښتنو لیکوالو هم دغه ژانر لیکلو ته ملا وتړله. دا چې د پښتو هنري نثر زیاتره انواعو په پښتونخوا کې وده او پرمختګ کړی، نو د پښتو ادب د نورو ژانرونو په څېر پښتو ډرامې هم په همدې سیمه کې ډېره وده وکړه چې په دغه وده کې انجمن اصلاح الافاغنه، پېښور راډیو او په راوروسته کې تلویزونونو ډېره مرسته وکړه. (۱: ۳۸۲مخ)

په افغانستان کې د ډرامې ځینې څرکونه موږ د روښانتیا په پړاو کې د یو شمېر لیکوالو په آثارو کې وینو چې دغه څرکونه د ډرامې د پیل لپاره زمینه برابروي. لکه د مولوي صالح محمد په درسي کتابونو کې یو لړ ډیالوګونه او په ځانګړې توګه د (یوې ورځې غیر حاضري) یادولی شو.

سیدمحي الدین هاشمي په دې اړه لیکي: (( خو (د ۱۳۰۰لمریز ۱۹۲۱زیږدیز) کال د حدودو ځینې ډرامایي ډیالوګونه شته چې هغه مولوي صالح محمد لیکلي او د اعلیحضرت غازي امان الله په وړاندې د پوهنې شاګردانو د سټیج پر مخ لوبولي دي. یو له دغو تمثیلي ټوټو یا ډرامه ګیو څخه (یوه ورځ غیر حاضري) نومېږي چې زده کوونکو د حبیبي په ښوونځي کې د غازي امان الله خان په حضور کې ښودلې وه.)) (٦: ۲۳۸مخ)

د پښتو ډرامه لیکنې په بهیر کې په افغانستان کې پوره ډرامه په ۱۳۱٦لمریز کال د مرحوم عبدالحی حبیبي لخوا د (توریالۍ پښتنه) په نوم ولیکل شوه، خو د ډرامې د اصولو سره برابره او په تول پوره او کره ډرامه عبدالرحمن پژواک لیکلې چې (کلیمه داره روپۍ) نومېږي، دغه ډرامه په اصل کې یوه منظومه ډرامه ده چې د آزاد شعر په قالب کې یې په ۱۳۱۷لمریز کال لیکلې او په بیا وروسته په ۱۳۳۷لمریز کال کې د پښتو ټولنې له خوا چاپ او خپره شوې ده. تر دې وروسته په پښتو ادب کې ډرامه لیکنه باب شوه، چې ډېرو لیکوالو او ډرامه لیکونکو له خپل وس سره سم په مسلکي ډول پښتو ډرامې ولیکلې، خپل ژوند یې ډرامې لیکنې ته

وقف کړ او د پښتو ډرامه یې په پښو ودروله. د هغو لیکوالو له ډلې څخه چې په پښتو ژبه یې ډرامې لیکلي دي یو هم عبدالروف قتیل خوږیانی دی.

تر کومه چې خبره د ښاغلي عبدالرؤف قتیل خوږیاني په ډرامو پورې اړه لري، داسې څرګندېږي چې نوموړي د نورو هنري او ادبي نثري ژانرونو په څېر ګڼ شمېر پښتو ډرامې هم لیکلي دي. دی په مدرسه کې زده کوونکی و چې له شعر او لیکوالۍ سره یې نه یوازې مینه پیدا شوه، بلکې د مدرسې په کنفرانسونو او سټیج ډرامو کې به یې هم ګډون کاوه.

قتیل خوږیانی په هنري او فولکلوري ادبیاتو کې لوی لاس لري او په ډرامو کې یې انتباهي او انتقادي پله ډېره درنه ده. چې (بدرګه او د جامعې میکروب) ډرامې یې غوره نمونې دي.

ښاغلی قتیل خپله د بدرګه نومې ډارمې د تمثیل او سټیج کېدو په اړه وایي: د کرېږ د لوی ولسوال اروابناد عبدالقادر دولسوالۍ پر مهال ((بدرګه)) نومې ډرام مې پر سټیج او دریغ ولوباوه چې په خپله مې پکې د سودخور رول لوبولی وو. دی زیاتوي چې د دغه رول په سرته رسولو کې دومره جالب او بریالی وم، چې په نندارچیانو کې یو سړی تر دې بریده احساساتي شو، چې یو ناڅاپه یې راته له خولې ښکنځلې ووتې.( ۴: ۱۶۲مخ)

قتیل خوږیانی هغه مهال چې د ننګرهار عالي لیسې تدریسي- مرستیال او د پښتو ادبیاتو استاد و د جلال اباد ښاروالۍ په سینما کې یې ننګرهار ننداره د اروابناد ګلشاه ساپي په مرسته جوړه کړه چې دی د ننګرهار ننداري موسس هم دی او دلته به یې خپلې ډرامې تمثیلولې چې سایر هراتي هم ورسره کار کاوه.

د جامعې میکروب د ښاغلي قتیل خوږیاني یوه بله مشهوره ډرامه ده چې د نوموړي دڅرګندونو له مخې د ۱۳۳۷ ـ ۱۳۳۸ لمریزو کلونو په بهیر کې لیکلې وه. ده چې کوم وخت د «جامعې میکروب» ډرامه په ننګرهار ننداري کې تمثیل ته وړاندې کړه، نو د وخت د والي (غلام فاروق عثمان) په مزاج ښه ونه لګېده، ده ته د دسیسو جوړولو په کې فکر کې شو، دی مجبور شو چې ځان د ابن سینا لېسې ته تبدیل کړي، والي د پوهنې مدیر (دخوږیانو د قیلغو د قاضي القضات زوی حاجي آصف) او مرستیال د وخت (د سلطانپور سید مقصوم) څخه په استفادې سره دوسیه ورته جوړه او څه موده یې بندي کړ.(۳: ۲۸۹-۲۹۰مخونه)

د دغې ډرامې عمده موضوع رشوت او رشوت خوري وه (رشوت بازار).لوبغاړي او کرکټرونه يې قتيل خوږيانی، لطيف خان مومند، نبي شينواری، ساير هراتی، اسلام الدين هنريار او د ننگرهار لېسې دسپورت ښوونکی نوراجان غورځنگ وو.

ښاغلي قتيل د دې تر څنگ نورې گڼ شمېر ډرامې هم ليکلې دي لکه:

۱. د جونگړې ملنگ: په څلورو پردو کې يوه اجتماعي، انتباهي، تراژيدي او پوليسي ډرامه ده. دغه ډرامه د کابل مجلې د ۱۳۴۱لمريز کال په اتمه گڼه کې خپره شوې ده.

۲. د جامعې ميکروب : يوه انتقادي، پوليسي- او اصلاحي ډرامه ده، چې په څلورو پردوکې ليکل شوې ده.

۳. ميراث: په څلورو پردو کې يوه انتقادي، پوليسي او اجتماعي ډرامه ده، چې د کابل مجلې په ۷ گڼو کې خپره شوې ده. او بيا ځلې په ۱۳۷۹ لمريز کال د ورځ مجلې په پنځمه گڼه کې خپره شوې ده.

۴. د دهقان لور: په څلورو پردو کې يوه اجتماعي، عشقي او انتقادي ډرامه ده. دغه ډرامه د کابل مجلې د ۱۳۴۰لمريز کال په يوولسمه گڼه کې خپره شوې ده.

۵. ولور: په پنځو پردو کې يوه انتقادي او اصلاحي ډرامه ده .

٦. مړه شمعه: يوه ادبي، انتقادي او انتباهي ډرامه ده، چې په درو پردوکې ليکل شوې ده.

۷. ښوونکی: په څلورو پردو کې يوه علمي او انتقادي ډرامه ده.

۸. گوره چې څه کېږي؟: په پنځوپردو کې يوه انتقادي، عشقي، کميډي او اصلاحي ډرامه ده.

۹. تور ديو: په درو پردو کې يوه انتباهي او انتقادي ډرامه ده.

۱۰. سره مياشت: په څلورو پردو کې يوه اجتماعي ډرامه ده.

۱۱. چرسي: يوه انتقادي ، اصلاحي او تراژيدي ډرامه ده، په څلورو پردو کې ده، چې په اوسني ليکوال کې خپره شوې ده.

۱۲. ظالم کاکا : يوه انتقادي، اصلاحي او تراژيدي ډرامه، چې د ننگرهار په ورځپاڼه کې په ۱۳۵۰ لمريز او ۱۳۵۱ لمريز کلونو کې خپره شوې ده.

۱۳. اول زده کړه بیا کوژده کړه: دغه ډرامه د کابل مجلې د ۱۳۴۲ لمریز کال په اوومه ګڼه کې خپره شوې ده.

۱۴. بدرګه: دا یوه بله ډرامه ده چې د کرېږ د لوی ولسوال اروابناد عبدالقادر دولسوالۍ پر مهال یې پرستیج او دریغ وړاندې کړې وه چې په خپله یې پکې د سود خور رول لوبولی و.

۱۵. غوټۍ: دغه ډرامه په ننګرهار ننداره کې تمثیل شوې ده.

نوموړي دخپلو اکثرو ډرامو په تمثیل کې په خپله عملي برخه اخیستې ده، معنا دا چې دی د هنري ادب د تخلیق تر څنګ په دغه برخه کې هنري فنکار هم دی. په ډرامو کې یې خپل نقش په پوره بریالیتو ب تر سره کړی دی. ده د خپلو ډرامو ډایریکټري په خپله کړې ده او ډرامې یې نندارې ته وړاندې کړې دي.

دقتیل خوږیاڼي د ټولو ډرامو ټول کرکټرونه پښتني دي او له پښتني چاپیریال نه یې الهام اخیستی دی. په دغو ډرامو کې د ژوند بېلابېل اړخونه تمثیل شوي او ناخوالې یې په کلکه غندل شوي دي. هغو بدو دودونو ته چې په پښتني کلتور کې دتربور او تربګنۍ په نامه موجود دي ګوتنیونه شوې او رټل شوي دي.

د بېلګې په توګه یې دلته د میراث په نوم د ډرامې په جوړښت، ارزښت، موضوع او منځپانګه باندې لنډ بحث کوو :

## د میراث ډرامې د کرکټرونو ژبه او هنري ارزښت

میراث د ښاغلي قتیل خوږیاڼي له مشهورو ډرامو څخه یوه ده چې د نوموړي د نورو داستاني لیکنو په څېر دا هم په عمومي ډول کمیډي، انتباهي او انتقادي بڼه لري او په څلورو پردو کې لیکل شوې ده.

دا ډرامه لکه څنګه یې چې له نوم څرګندېږي، د میراث په اړه ده چې کلیوالي چاپیریال او د دغې ستونزې په اړه د هغوی تر منځ شخړې، په ځانګړي ډول له میراث نه د ښځو محرومیت او د نارینه وو ترمنځ اوږدې او تاریخي دښمنۍ انځوروي، څکه زیاتره خلکو ډېر ځله د میراث د ونډې له خاطره د خپلوۍ هر ډول اړیکې پرې کړې دي.

د ډرامې له ژبې څرګندېږي چې نوموړي به دا ډرامه د افغانستان راډیو تلویزیون لپاره لیکلې، تمثیل شوې او خپره شوې وي، څکه چې تخنیکونه، صحنې او ژبه یې تلوېزیوني ډرامو ته ورته ده.

د څېړونکو په آند د راډیویي ډرامې لیکوال په خپله ډرامه کې دې ته اړتیا لري، چې له اوریدونکو او یا لوستونکو سره مرسته وکړي، چې د هغه د ډرامې عناصر په هره لاره او وسیله چې وي، وپېژني څو ترې خوند واخلي او د ډرامې پیغام درک کړي. دا کار د ډرامې د لیکوال د قلم په توان پورې اړه لري. خوړیانې صیب هم په خپلو ډرامو کې هغه که تلویزیوني دي که راډیویي، دا موضوع یې په پام کې نیولې ده.

خو راډیویي ډرامې یو څه ګرانې وي، راډیویي ډرامو کې د اوریدونکو یا مخاطب پېژندنه ډېره اړینه ده، ځکه خو قتیل خوړیانې هم خپل لوستونکي یا اوریدونکي په ښه ډول پېژندلي دي، هغه پوهېږي چې دا ستونزه په کلیو، باندو او لرې پرتو سیمو کې زیاته ده، د لرې پرتو سیمو او کلیو اکثریت خلک معمولاً نالوستي وي، نو اړینه ده چې د هغوی په ژبه خبرې ورته وشي، عام او خاصو ته اشناوي، پیغام یې درک کړی او بالاخره پکې سمون راشي.

کله چې د یوې ډرامې لیکوال د خپلې ډرامې اوریدونکي تشخیص کړي او ویې پېژني، نو بیا د خپلې ډرامې د سکرپټ لپاره د اړتیا وړ مواد یا د ډرامې عناصر چې لاندې راوړل شوي دي، ډېر ښه پلان کولی شي.

۱. د ډرامې کرکټرونه یا لوبغاړي.

۲. د ډرامې پېښې

۳. د ډرامې د پېښو وختونه

۴. د ډرامې د پېښو د پېښېدو ځایونه

۵. د ډرامې تشنج یا د ډرامې د کرکټرونو او د هغوی د چاپیریال تر منځ شخړه

٦. د ډرامې د پاملرنې وړ موضوع

## د میراث د ډرامې کرکټرونه

د لومړۍ پردې کرکټرونه عبارت دي له:

لومړۍ پرده

کارکوونکي

جمال: د شمینې مېړه

شمینه: د جمال ښځه

چابک: د جمال نوکر

سلیم: د جمال وراره

دیکور: یو متوسط کور له مختصرو لوازمو سره. (۳:۲۹٦مخ)

د دویمې پردې کرکټرونه عبارت دي له:

جمال د کمال کره

کارکوونکي

کمال: د زیبو پلار

قسیم: د زیبوورور

جمال: د سلیم کاکا

بدمیر: د کمال نوکر

دیکور: یو متوسط کور له مختصرو لوازمو سره. (۳: ۳۰۱مخ)

د درېیمې پردې کرکټرونه عبارت دي له:

د سلیم مرگ

کارکوونکي

جمال: د سلیم کاکا

شمینه: د جمال ښځه

چابک: د جمال نوکر

سلیم: مړی

د سمت مامور او دوه تنه پولیسان

دیکور: یو ښکلی کور له نسبتاً ښه فرنیچر سره. ( ۳: ۳۰۵مخ)

دڅلورمې پردې کرکټرونه عبارت دي له:

د جمال کور

کارکوونکي

جمال: د سلیم تره

اسد: د جمال دوست

تورگل: د جمال دوست

گونگی: د جمال نوکر

دپولیسو آمر، دیکور: له لوکس فرنیچر سره دجمال کور. ( ۳: ۳۰۷مخ)

د پورتنیو څلور واړو پردو کرکټرونـه، صـحنې، انتخـاب او پـه ټولـه کـې د ډرامـې مهـم عناصر (زمان او مکان) په ډېر ښه ډول انتخاب شوي دي، د دوی تـرمنځ مکـالمې هـم د خپل موقف او مقام له ژبې سره برابرې دي، په دې معنا چې هر کرکټر خپله ژبـه کـاروي، د پولیسو آمر د کروندګر او کروندګر د پولیس خبرې نـه کـوي. منطقـي تسلسـل يـې هـم پیاوړی دی، مرګونه او نورې سترې او وړې پېښې داسې نـه دي چـې مخکـې لـه مخکـې دې ورته زمینه سازي نه وي شوې او ناڅاپي دې راپېښې شي. تر ټولو مهمـه خـبره يـې د ژبې ده چې باید ولسي- او عـادي رنـګ ولـري، کلیـوال د کلیوالـو پـه ژبـه خـبرې وکـړي، کلمات، جملې او مکالمې يې د اروپوهنې له اړخه هم د هغوی خپلې وګڼل شي.

د بېلګې په ډول به د دریېمې پردې یوې مکالمې ته تم شو:

سلیمه بچیه! بې تا خو ماته ژوند خوند نه راکوي، زما ملا دې راماته کړه.

شمینه: زما د لیور ګرانه زویه د زیبو پسې دې خپله ځواني خاورې کړه.

((جمال د پولیسو آمریت ته تلیفون کوي او د قتل اطلاع ورکوي چې: ))

کمال: هو! ډېر ښه يې پېژنم، ډېر ښه هلک دی څنګه يې نه پېژنم.

جمال: ته غوږکېږده سړیه چې زه درته څه وایم. ښه هلک دی د خبرې نه خبرنـه يې ساده سړیه او وایې چې ډېر ښه هلک دی. په څه ښه هلک دی.

کمال: خبره څه ده ته خو وایه کنه (متوجه کېږي)

جمال: خبره داده چې سلیم په هر ځای کې لګیادی ستا نوم بدوي او وایي چې زه د زیبو سره مینه لرم او هغه ما سره مینه لري او کله کله چې مخ شو د مینې خـوږه مرکه سره کوو، زه په هغې مین یم او هغه په ما مینه ده.

کمال: (په تونده لهجه) دا خبره بالکـل غلطـه ده. زه یقـین نـه کـوم چـې داسـې خبرې به د سلیم لـه خـولې نـه ووځـي. د سـلیم لاره ماتـه معلومـه ده هغـه هیڅکلـه داسې خبره نه کوي.

جمال: (له مکره په ډکه لهجه) سړیه ته ساده کېږه مه، زمانه خرابه ده، په چا مـه غولېږه. زه درته وایم چې سلیم په هر ځای کې همدا خبره کوي او ته يې نه منې.

کمال: (په تریو تندي) جـمال خانـه خـواهش کـوم چـې لـه دې خـبرو نـه خولـه ونیسه ته نه شرمېږې چې د خپل وراره سپکه کوې او نوم يې بدوې. بله دا چـې ماتـه خدای داسې لور راکړې ده چې زه په ټوله معنا ورباندې باور لرم.

جمال: خدایږو زه درته سوګند کوم چې همداسې ده.

کمال: (په غوسه) جماله خوله ونیسه، هوش کوه چې نورې دا خبرې ونکړې. بدبخته! وځه که بیا مې په دې طرف ولیدې پښې به درباندې ماتې کړم. نابوده سړیه په دې نابوده خبرو. (۳: ۳۰۵-۳۰۶مخونه)

ښاغلي قتیل په دې مکالمه کې نه یوازې دا چې ظاهري او دروني صحنې په ښه ډول شرحه کړي، بلکې د خپل کرکټر د وضعیت او حالت د وضاحت لپاره یې هم کومه خبره پټه نه ده پرېښې، حالتونه په طبیعي ډول اوړي را اوړي او په دې توګه لیدونکي په طبیعي او منطقي ډول جلبوي او له ځان سره یې ساتي.

د میراث په ټولو پردو کې لیکوال چاپیریال ته پوره پاملرنه کړې ده، کره کتونکي لیکوالانو ته وړاندیز کوي، چې د موضوع موندنې لپاره د خپل چاپیریال هرڅه ته په ځیر وګورئ، د خپل تېر ژوند تجربې یو ځل بیا سترګو ته ودروي او یا له نورو د موضوع په موندنه کې مرسته وغواړي؛ خو په اړه یې هر اړخیزه پلټنه وکړي او یا یې له لیکنې وړاندې په خپل ځان د عملي کولو هڅه وکړي.

دلته اړینه ده چې د ډرامې د کرکټر په اړه هم یو څه وضاحت ورکړو:

دا چې کرکټر د ډرامې د کیسې او پېښو پرمخ وړونکی دی او بې له هغه د ډرامې جوړښت ناشونی دی؛ نو ځکه د نړۍ کره کتونکي د نقد پر مهال په داستاني اثارو، په ځانګړې توګه په ډرامه کې په کرکټر تر نورو ډېر تمرکز کوي او د کرکټرونو ډېره ښه پنځېدنه او ایجاد د ډرامې او نورو داستاني ژانرونو د بریا لوی لامل ګڼي.

د ډرامې بل ډېر مهم عنصر- کرکټر دی چې ډرامه پر مخ وړي، دروني او بیروني کشمکشونه او ټکرونه ایجادوي او بالاخره له همدې کشمکشونو او ټکرونو سربېره، ډرامه د ناول او کیسې په څېر تلوسه او پېښه، یا پېښې هم لري؛ خو عمل او کرکټر پکې مهم دي.

د نړۍ ډرامه پوهان د ډرامې د اوو عناصرو په اړه تر ډېره یوه خوله دي، دغه اووه عناصر په دې ډول دي:

۱ ــ موضوع (Theme)

۲ ــ پیغام (Message)

۳ ــ پلاټ یا دکیسې نقشه (Plot)

۴ ــ کرکټر یا شخصیت (Character)

۵ ـ زمان او مکان (Time and place)

٦ ـ فضااو حالت (Atmosphere and mood)

۷ ـ ډیالوګونه او خبرې اترې (Dialogue)

د کرکټر په اړه د لا پوره بحث لپاره اړینه بریښي، چې په کرکټر کښنه وغږیږو؛ خو تر هغه مخکې د کرکټر پېژندنه اړینه ده.

د میراث ډرامې په بېلا بېلو برخو کې لیکوال دا ټکي په پام کې نیولي او په مرسته یې ډرامه غځولې، تر خپلې وروستۍ پردې او عمومي پیغام یا پایلې پورې رسېدلې ده، فضا او حالت یې تر پایه په ډرامه کې قوي تسلسل لري.

په ډرامه کې د هر کرکټر د ایجاد پر مهال اړتیا لیدل کېږي، چې د هماغه کرکټر د ځانګړنو او خصوصیاتو پر بنا او په ډرامه کې یې د اړتیا له مخې په ذهن کې د هغه تصویر وباسو او بیايې د کاغذ پر مخ ترسیم کړو.

ددې کار لپاره په کارده، چې د هر کرکټر هیلې، میلان او علاقې، خصوصیاتو، د ضعف او قوت نقطې، د کړو وړو ډول، رواني بعد او ټولنیزو او فزیکي اړخونو ته په دقت توجه وشي. دې ټولو ته د ولې؟ چیرته ؟ کله او څنګه په وسیله ځواب ویل ضروري دي؛ ځکه چې د هر کرکټر لپاره په ډرامه کې د دې پورتنیو شیزونو ټاکل یو مهم او اړین توکی بریښي او همدا راز د کرکټرونو لپاره د پېښو (حوادثو) مهم ځایونه، دکرکټر، د کرکټر د اوسېدو ځای، له نورو کرکټرونو سره اړیکه او راشه درشه ټاکل، د ډرامې لپاره لومړني توکي دي. البته دا په دې معنا، چې موږ باید د ډرامې د کیسې او بالاخره د هر کرکټر موقعیت و ټاکو او کرکټرونه د هماغه موقعیت او سیمې له کلتور او دودونو سره سم له پېښو سره مخ کړو.

د کرکټر پنځونې پر وخت لیکوال ته لازمه ده، چې د هر کرکټر په اړه دغه لاندې معلومات بشپړ کړي او له ځان سره یې ولیکي:

۱. عمر؟

۲. د اوسېدو ځای؟

۳. کار و کسب؟

۴. غوښتنې؟

۵. د کرکټر نږدې ملګري څوک دي، کرکټر څنګه ارزوي او په اړه یې څه وایي؟

٦. دښمنان یې څوک دي، کرکټر څنګه ارزوې او په اړه یې څه وایي؟

٧. کرکټر ته کوم ډار او خطر متوجه دی؟

٨. دکرکټر هیلې او ارزو ګانې کومې دي؟

د یوه کرکټر لپاره په دې پورتنیو ټولو رکنونو کې ډار او هیله مهم رکنونه ګڼلای شو؛ ځکه چې همدا دوه رکنونه (ډار او هیله) ډرامې ته خوندور انکشاف ورکولای شي او د کرکټر ژوند له لوړو او ژورو سره مخامخ کوي. هغې ډرامې ته په زړه پورې ډرامه ویلای شو، چې د هر کرکټر ډار او هیله پکې قوي وي؛ ځکه د دې دواړو توکو پر مټ به توانیدلي یو، چې کرکټر په خپل وجود کې د ډار او هیلې د ټکر شاهد وي، همدغه ټکر او مقابله د ډرامې د دوام سبب ګرځي او په ډرامه کې د کرکټر ژوند ته د پای ټکی نه ږدي، بلکې په نوي انداز دوام ورکوي او لوستونکي او اوریدونکي له ځان سره ساتي.

کرکټر په ډرامه کې همېشه د دوه ډوله تضادونو، ټکرونو او پېښو سره لاس و ګریوان وي، چې یو له نورو کرکټرونو، پردیو خیالونو، افکارو او حتا طبیعت سره ټکر دی او بل خپله د کرکټر په دننه کې کشمکش دی، چې همدا هیله او ډار یې زېږوي او په کرکټر کې دنفسیاتي بدلون سبب ګرځي.

د میراث ډرامې یو مهم کرکټر یو ګونګی دی، سره د دې چې لیکوال هم په ډرامه کې ورته د ګونګي نوم اخیستی چې باید داسې نه وی، یوازې یاد شوی وی چې دا ستونزه لري، خو بیا ورته د ګونګي نوم اخیستل ممکن د هغه پر شخصیت منفي اغېز ولري، خو مهارت یې دادی چې په یوه ګونګي یې هم تکلم کړی، دا مکالمه به سخته وي، خو لیکوال په خپل مهارت د ټولنې د یوه غړي په توګه غږولی او مکالمه یې د حالت او فضا د شرحې له لارې روښانه کړې ده.

دلته به یې په څلورمه پرده کې یوه برخه د بېلګې په توګه راوړو:

ګونګی: (د سر په اشاره) پوه شوم.

ګونګی ځي او جمال ناستو کسانو ته وایي چې:

جمال: یره ددې ګونګي سره مې بیخي سات تېر دی، ډېر ښه سړی دی په یوه خیټه راسره نوکر دی، ډوډۍ ورکوم او کار کوي.

اسد: دا خو بیخي ارزانه نوکر دی، کاشکې چې دوه، درې کسه نور هم داسې پیدا کړې.

((په دې کې ګونګی قلم راوړي او جمال ته يې ورکوي. اسد تړی کېږي او جمال تـه وايي چې:))

اسد: خان کاکا زه خو ډېر تړی یم ددې بلا سره دې ته په خبره پوهېږې. پوه يـې کړه چې اوبه راوړي.

جمال ګونګي ته اشاره کوي او خپلې خولې ته لاس وروړي چې: اوبه راوړه.

ګونګی: هُم هُم . ((ځي دنصوارو دبلی راوړي او ورکوي يې.))

اسد: دغسې اوس په ښه بلا واوښتو موږ اوبه غواړو او دی نصوار راوړي.

جمال: غرق شې بدبخته اوبه راوړه ((بيا د اوبو اشاره ورته کوي.))

ګونګی: (( په سر اشاره کوي چې: پوه شوم ځي او دا ځل بوتل راوړي. ))

اسد: هن (په خندا) که خير وي دا کرتې يې تفداني راوړله.

جمال: او کم عقله اوبه راوړه . ((په لاس د منګي او ګيلاس اشاره ورته کوي چې د منګي نه يې په ګيلاس کې واچوه او رايې وړه. ګونګی ځي او دا ځل په خپله منګی راوړي. ))

اسد: سړی خو ډېر هوښيار دی زموږ په اندازه نه پوهېده ټول منګی يې راوړ.

جمال: کېده منګی څه لاړ شه ورک شه، ګيلاس راوړه. ((ګونګی ځـي او ګـيلاس راوړي )) (۳: ۳۰۷-۳۰۸مخونه)

په ډرامه کې له ګرامري اړخه هـم د مبتـدا او خـبر، ترکيبونـو، فعلونـو او جملـو د جوړښت له اړخه هم ليکوال پوره پاملرنه کړې، مکالمې يـې روانـې او پـه ټولـه کـې د عامه پوهاوي وړ دي چې د ليکوال مهارت څرګنـدوي، لکـه چـې وړانـدې مـو يادونـه وکړه، ښاغلي قتيل خوږيانې د خپلو ټولو ډرامو په ځـانګړې توګـه د مـيراث ډرامـې د کرکټرونو لپاره د هغوی ځانګړتياوې لکه عمر، استوګنځی، غوښتنې، نـږدې ملګـري، په اړه يې ارزونـې، د هغـوی دښـمنان، د کرکټرپـه اړه يـې نظـر، د کرکټـر سـتونزې او ارمانونه په ښه ډول تصوير کړي دي. د هغوی ژبه يې په خپل ځای کارولې او واضـح کړې ده، خو کله کله د کرکټرونو رواني يا نفسياتي حالت سم نـه روښـانه کېـږي، لـه پخواني حالت سره ټکر او يا هم د معمول خلاف وي، خو دا چې زموږ کار يې له ژبـې سره دی، نو ليکوال هڅه کړې چې هـر څـوک د خپـل موقـف ژبـه، کلمـې او جملـې وکاروي، مناسب نومونه او مقامونه ورته غوره کړي، د هنري شننې له مخې ويلی شـو چې ميراث د پښتو ژبې يوه ممتازه او عالي ډرامه ده.

## پایله

د پښتو داستاني ادب د پراختیا او پرمختیا لپاره ډېرې کیسې، ناولونه او ډرامې د ټولنې د اصلاح په غرض لیکلې دي چې خلک راویښ او د ځینو ناوړه رواجونو، لکه، جبري ودونه، بدل، ولور او سود څخه راوګرځوي. د قتیل له مهمو کارونو څخه یو هم د سټیج ډرامې رواجول و چې د خپلو نورو ملګرو په مرسته یې دا لړۍ پیل او عملي کړه. زیاتې ډرامې یې ولیکلې او په جلال اباد کې یې د سټیج پر سر وښودلې.

ښاغلي خوږیانۍ د پښتو داستاني ادب په برخه کې زیات شمېر آثار لیکلي چې ځینې د هېواد په مطبوعاتو کې وخت په وخت خپاره شوي او یوه زیاته اندازه ادبي او داستاني لیکنې او آثار یې لا تر اوسه نه دي چاپ شوي. د دغو آثار له ډلې څخه یو یې ډرامې دي چې تراوسه پورې په ځانګړې ډول نه دي چاپ، خو یو څو ډرامې یې د وخت په خپرونو کې خپرې شوې دي لکه، میراث، ظالم کاکا او نورې خو زیاتې ډرامې یې له منځه تللې دي. په ټوله کې د قتیل خوږیانۍ ډرامې د جوړښت له مخې د ډرامې د اصولو سره برابرې دي او د منځپانګې له مخې د خپل وخت د ټولنیز ژوند منعکس کوونکې دي.

## مأخذونه


۱. باجوړی، بریالی. د پښتو ادبیاتو معاصر تاریخ(د ویښتیا پړاو)، جهان دانش خپرندویه ټولنه: کابل: ۱۳۹۷ل کال.

۲. رضا، افضل. ډرامه (دربیم چاپ)، یونیورسټي بک ایجنسي: پېښور، خیبر بازار،۱۹۹۵م کال.

۳. زیور، ډاکټر زیور الدین. د پښتو ادبیاتو تاریخ اوسنی دور(دویم چاپ)، د ساپي پښتو څېړنو او پراختیا مرکز: پېښور، ۱۳۷۸ل کال.

۴. شېرزاد، خان فراز. د عبدالروف قتیل خوږیانۍ په منثور آثارو کې د هنر ونډه، د ماستری تیزس (ناچاپ)، ننګرهار پوهنتون ژبو ادبیاتو پوهنځي پښتو ژبې او ادب څانګه: ننګرهار، ۱۳۹٦ل کال.

۵. فولادي درانی، خوشحال. ډارمه د فن او تاریخ په هنداره کې، آریانا خپرندویه موسسه: پېښور، ۲۰۰۸م کال.

٦. هاشمي، سیدمحي الدین. د نثري ادب ډولونه، وحدت خپرندویه ټولنه: جلال آباد، ۱۳۸۹ل کال.

څېړنيار عزيزالله مبارز

# د خوشحال خټک په اشعارو کې د ځينو فولکلوريکو کرکټرونو يادونه

# Mentioning of Folk characters in Khushah Khatak's some poems

**Research Assistant Azizullah Mubarez**

## Abstract

In Pashto literature Khushhal Khan Khatak is like a sun shine and his written are apreciatable in every section if we search every topic in his written we can find them, In Khushal poems here are a lots of folk story characters in spite of he mentioned some of Dari, Arabic and Indian folk stories characters for example whenever he mentioned Adam Khan and Durkhania beside he is mentioning Laila Majnon, Shirin Farhad and Hir Ranja.

We are doing research in this article that beside Pashto folk story characters Khashal Khan mentioned other folk story characters.

## لنډيز

په پښتو ادب کې خوشحال خان خټک د يوه ځلانده لمر مثال لري او آثار يې له هره پلوه د حساب وړ آثار ګڼل کېدای شي، که موږ د نوموړي په آثارو کې هر ډول موضوع وپلټو، له هغه څخه په راپاتې قيمتي ملغلرو کې يې موندلی شو. د خوشحال په اشعارو کې د پښتني فولکلوريکو کيسو د کرکټرونو يادونه زياته شوې

ده، نوموړي په خپلو اشعارو کې د پښتو تر څنګ د دري، عربي او هندي ادب د ځینو فولکلوریکو کیسو د کرکټرونو یادونه هم کړې ده. د مثال په ډول هغه که په خپلو اشعارو کې د آدم خان او درخانۍ نوم ذکر کړی، نو د لیلی او مجنون، فرهاد او شیرینۍ او د هیر او رانجا نومونه یې هم په خپلو اشعارو کې یاد کړي دي.

موږ په دې څېړنه او لیکنه کې د پښتني فولکلوریکو کرکټرونو ترڅنګ ځینې نور مشهور کرکټرونه چې نوموړي په خپلو اشعارو کې یاد کړي، پلټلي او راوړي دي.

## سریزه

د نړۍ ادبي آثار که وپلټل شي، نو د هرې ژبې قیمتي ملغلرې او معنوي ذخیره په نثر او نظم کې خوندي شوې ده. په زیاترو ژبو کې له نثر څخه نظم دمخه دی، ځکه چې د نثر په پرتله په نظم کې رانغښتل شوې موضوع د انسانانو په یاد( حافظه) کې تر ډېره وخته پاتې کېږي او همدا لامل دی چې له یوه نسل څخه بل نسل ته دغه میراث په شفاهي ډول انتقالېږي او د زمانې تاړاکونه وربانديې کوه اغېزه نه شي کولای. په پښتو ادب کې هم له نثر څخه نظم دمخه دی چې د پښتو ادب قیمتي ملغلرې او معنوي پانګه پکې خوندي ده.

په شفاهي ادب کې فولکلوریک کرکټرونه زیات مشهور دي او دومره مشهور دي چې د ځینو نومونه خو په عامه محاوره کې هم استعمالېږي او اوس یې د متل ځای نیولی دی، لکه: هره ښځه درخانۍ ده چې مېړه یې ادم خان دی او داسې نور.

په پښتو ادب کې ځینې فولکلوریک کرکټرونه شته او د دوی فولکلوریکي کیسې هم خورا مشهورې دي. دغه کیسې د ناظمانو له خوا په نظم شوي دي او تر څنګ یې په نثر هم لیکل شوي دي. د فولکلوریکو کرکټرونو د مینې، مېړانې او رښتینولۍ کیسې له اوږدې زمانې راهیسې د خلکو په خولو جاري او په یاد او حافظه کې پاتې دي او دغه کرکټرونه خوشحال خان خټک هم په خپلو اشعارو کې یاد کړي دي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د خوشحال خان خټک حق د پښتو ادب په غنامند کولو کې تر ډېره ثابت دی، له هغه څخه راپاتې آثار د بېلابېلو موادو له پلوه غني دي. د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې ځینې فولکلوریک کرکټرونه په پښتو ادب کې ډېر مشهور دي او خوشحال خان خټک هم په خپلو اشعارو کې یاد کړي دي چې یادونه یې له ګټې خالي نه ده.

## د څېړنې موخه

خوشحال خان خټک د ځینو فولکلوریکو کیسو د کرکټرونو یادونه کړې ده او په خپلو اشعارو کې یې د پښتني فولکلوریکو کیسو د کرکټرونو ترڅنګ د دري، عربي او هندي ادب د ځینو کیسو کرکټرونه ډېر زیات یاد کړي دي، په کار وه چې دغه ډول بېلګې د نوموړي په اشعارو کې وپلټل شي.

## د څېړنې پوښتنې

۱. خوشحال په خپلو اشعارو کې د کومو کومو فولکلوریکو کرکټرونو یادونه کړې ده؟
۲. ایا خوشحال په خپلو اشعارو کې د کومو پښتني فولکلوریکو کرکټرونو یادونه کړې ده؟

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې له تشرېحي او تحلیلي میتود څخه کار اخیستل شوی دی.

## اصلي متن

شعر یواځې خیال نه دی چې تېر راتېر شي، بلکې د یوه ملت راز راز معنوي پانګه په همدې شعرونه کې خوندي کېږي، وایي چې شعر او شاعر د ټولنې سترګې دي. الفت صاحب لیکي: « د یوه ملت ژبه، کلتور، اخلاق په شعر او ادب ساتل کېږي. د یوه ولس د ذوق او شعور، د فکر او خیال، د احساساتو او عواطفو هنداره شعر و ادب دی».(۱)

د پښتو ادب په اولسي- پانګه کې ډېر زاړه مطالب او موضوعات پراته دي او دغه موضوعات سینه په سینه له یو نسل څخه بل نسل ته لېږدېدلي او تر موږ رارسېدلي دي.

حماسي کیسې چې د نارو په ډول په په پښتو ادب کې تر اوسه شته او لیکنۍ بڼه یې هم خوندي شوې ده، ځینې حماسي کرکټرونه پکې یاد شوي دي. دغه نارې چې ډېرې زیاتې مشهورې دي او د بېلابېلو موضوعاتو ترڅنګ په کې پښتني فولکلوري کرکټرونه هم خوندي شوي دي. لکه په لاندې ناره کې چې لیدل کېږي:

که دوې دي لویه خدایه کلا بس دروازې دوې دي
پر دا یوه مې فتح وځي پر دا بله یې د مور، مور سوې نارې دي (۲)

خوشحال خان هم په خپلو اشعارو کې د دغو کرکټرونو یادونه کړې ده او داسې یې یاد کړي دي چې په مړو یې نه حسابوي او نوم یې په جهان کې همېشنی ګڼي. هغه وايي:

فرهاد که مړ دی، مجنون که مړ دی
نوم به یې هر کله په جهان وینه (۳)

د استاد حبیبي په نومورکي مورخین نومي کتاب کې زلمي هېوادمل د ((مورخین د لوی مورخ له نظره)) تر عنوان لاندي لیکي: «د پښتنو شعراوو له ډلې څخه د خوشحال خان آثار د تاریخي موادو د خوندي کولو له پلوه ډېر غني دي».(۴)

په رښتیا هم که موږ د خوشحال د فکر د ملغلرو په ټولولو کې انتها ته ځان رسوو ډېر کړاو غواړي، خوشحال د دغو رومانوي کردارونو او څېرو یواځې نومونه په خپلو اشعارو کې نه دي ذکر کړي، بلکې د دوی د شتون یې یقیني کړی دی او د دوی د رښتینو څېرو اوصاف او ځانگړنې یې هم روښانه کړي دي.

په پښتو ادب کې پښتني کرکټرونه د خلکو په خولو کې اړول کېږي او حتی ځینې سیمې د دوی په نومونو یادېږي او په نومونو یې مسمی شوي دي. د ادم خان او درخانۍ کیسه صدر خان خټک په نظم کړې ده او دې کیسې منثوره بڼه محمد گل نوري په ملي هنداره کې راوړې ده.

د ادم خان او درخانۍ دوه پښتني کرکټرونه دي او په کیسو کې دوی د دوو یوسفزي خانانو اولادونه ښودل شوي دي، خوشحال خان هم د یوسفزو ذکر کوي او په دغې قبیلې پورې یې تړلي دي، هغه وایي:

درخانیې په کې یو آدم خان خوښ کړ
یوسف زیه ځوانان ډېر و سواره، پلي(۵)

د ادم خان او درخانۍ د مینې کیسې ته اشاره کوي او موږ ته د آدم خان او درخانۍ د فولکلوریکې کیسې رښتیني څېره وړاندې کوي.

درخو خود په ادم خان باندې شیدا وه
تر دا منځ د میروگې ژبه بلا وه (٦)

د ادم خان او درخانۍ کرکټرونه دومره ډېر مشهور دي چې له نومونو سره یې لوی او واړه اشنا او د دوی له مینې څخه خبر دي. خوشحال هم د دوی شهرت ته داسې اشاره کوي:

اوس د دیو جونو وینزو په ځای نه ده
درخانییه آدم خان کړله مشهوره(۷)

خوشحال د ادم خان او درخانۍ د مینې یادونه هم کړې ده او د دوی د مینې ذکر یې په خپلو اشعارو کې په لاندې ډول کړی دی.

درخو هوښیاره وه ځان یې نادان کړ
نوم یې بد اصل د آدم خان کړ
تل یې د مور او پلار پېغور تاړه
په زړه یې مینه کار یې دا شان کړ(۸)

د درخانۍ د ښایست کیسې هم ډېرې کېږي، خوشحال خان هم د درخانۍ د ښایست یادونه کړې ده او د ادم خان د مینې یادونه یې هم ورسره کړې ده.

که خبر د درخانۍ له مخه نه وای
ادم خان به ځنې څه غوښتل په کور کې(۹)

د پښتونخوا د شعر هارو بهار کې د (په پښتو کې ادبي ژباړې) تر عنوان لاندې لیکل شوي دي:

«د هیر او رانجا پنجابي افسانه هم په پښتو کې ژباړل شوې ده.» (۱۰)

د هېر او رانجا کرکټرونه خوشحال په یو بیت کې یادوي هغه وايي:

شور و شر به د(رانجا) په جهان نه و
که د(هیر) صورت پیدا نه وای په شور کې(۱۱)

پر خوشحال سربېره د هغه د زامنو په اشعارو کې هم د هیر او رانجا ذکر راغلی دی، لکه اشرف خان هجري چې وايي:

تر زیبق به مضطرب شي که یې واوري
چې رانجا د هیر له هجره څه بلا کا
نه به هېر دید یې روشن په رانجا کا
نه به وصل د رانجا وشي له هیره(۱۲)

عبدالقادر خان خټک هم د یوسف زلیخا په ژباړه کې د هیر او رانجا نومونه راوړي دي، هغه وايي:

که د هېر که د رانجا و
که جلال و، که بویا و(۱۳)

خوشحال خان خټک د عربي ادب د فولکلوریکې کیسې د دوو کرکټرونو (لیلا او مجنون) یادونه په خپلو اشعارو کې څو ځایه کړې ده. د نومړو کرکټرونو په اړه په یوه اثر کې لولو: « قیس بن ملوح بن مزاحم العامري، په مجنون لیلا مشهور او د نجد اوسېدونکی و. د هغه ځینې راویان نوموړی یو تاریخي شخص ګڼي او ځینې نور یې یو خرافاتي او افسانوي شخصیت بولي. قیس د مهدي بن سعد پر لور عاشق و. دواړه له ماشومتوبه د یو بل ملګري وو او پخپلو کې یې ډېره مینه وه. کله چې یې مینه رسوا شوه، د لیلا پلار راضي نه شو او قیس ته یې د لیلا له ورکولو انکار وکړ. له دې وروسته د قیس مینه په لېونتوب واوښته او تل به یې پخپلو شعرونو کې لیلا یادوله او د خپلې معشوقې د لیدلو ارمان به یې کاوه».(۱۴)

سکندر خان خټك د لیلی و مجنون مثنوي په ۱۰۹۰ هـ ق کال بشپړه کړې ده، لومړی ځل په ۱۲۹۴ هـ ق کال په ډهلي کې چاپ شوې ده ، دوهم ځل په ۱۳۵۸ل کال په کابل کې د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز چاپ کړې ده.

خوشحال د لیلی او مجنون او د هغو د مینې یاد ته په خپلو اشعارو کې یو ځای داسې اشاره کړې ده، هغه وایي:

د لیلا او د مجنون مینه په یاد کړه
مګر نه ده دا خبره در اظهاره (۱۵)

بل ځای بیا د مجنون او د لیلا مینه رښتینې بولي، هغه وایي:

د مجنون او د لیلا مینه رښتیا وه
د پرویز او د فرهاد او د شېرینې (۱٦)

د یوسف - زلېخا کرکټرونه هم په پښتو ادب کې ډېر مشهور دي. ویل کېږي چې دا کیسه لومړی په تورات کې او بیا په قرآن عظیم الشان کې د حضرت یوسف علیه السلام د رښتینې او واقعي کیسې په بڼه راغلې او په قرآن شریف کې ورته احسن القصص ویل شوي دي.

دا کیسه سربېره پر اسلامي نصوصو په نورو ډېرو ژبو کې په نظم او نثر لیکل شوې او په پښتو ادب کې هم له نورو ژبو څخه راژباړل شوې ده. عبدالقادر خان خټک دا کیسه د مولانا جامي له یوسف - زلېخا څخه د مثنوي په قالب کې په پښتو ژباړلې ده. د دې دوو کرکټرونو نومونه هم خوشحال خان په خپلو اشعارو کې یاد کړي دي.

په جهان کې مينه هم وه
د يوسف و زليخا(۱۷)

د فرهاد يادونه هم په خپلو شعرونو کې کوي چې د فرهاد د تاريخي کيسې څرک ترې لګېدای شي. د نظامي ګنجوي يوه غنايي منظومه په دري ادب کې د خسرو شېرين په نامه شته او دغه فولکلوريکه کيسه پکې په نظم شوې ده.

ګوره څو قرنه کلونه باندې تېر شول
چې فرهاد په بېستون کې لا صدا دی (۱۸)

د فرهاد د غره سوري کولو فولکلوري روايت چې تر ډېره په عامو خلکو کې هم مشهور دی، خوشحال خان هم ورته په خپلو اشعارو کې اشاره کړې ده.

غر فرهاد په تېشه غوځ کړ
خسرو بيامونده شېرينه (۱۹)

له فرهاد سره د شېرينې يادونه هم څو ځايه کوي او په خپلو اشعارو کې يې د شېرينې ذکر کړی دی.

زه فرهاد د زمانې يم
ته شيرينه د دې دور (۲۰)

پر دې پورته فولکلوريکو کرکټرونو سربېره خوشحال خان د ځينو نورو يادونه هم کوي، هغه وايي:

قيس و که وامق و که فرهاد ورپسې نور وو
ما راوړی نه دی دا د مېنې دود اول دی (۲۱)

خوشحال په خپلو اشعارو کې د وامق و عذرا ذکر هم کوي، هغه وايي:

که فرهاد و که شېرينه
که وامق و که عذرا (۲۲)

همدارنګه خوشحال د قيس او ليس نومونه هم ياد کړي دي، لکه په لاندې بيت کې چې يې ذکر کړي دي:

هيڅ په ما پوهېږې، نوم مې څه دی ستا په عشق کې
قيس د ليلا و تا ويشتلی زه ليس نومم (۲۳)

په دري ادبیاتو کې د ویس او رامین داستان هم په نظم ویل شوی دی، دغه دوه کرکټرونه هم خوشحال په خپلو اشعارو کې یاد کړي دي.

که ویسه و که رامین و

که مجنون و که لیلا(۲۴)

خوشحال په خپلو اشعارو کې د زیاترو فولکلوریکو کرکټرونو ذکر کړی دی. د موضوع اړوند ځینې نور کرکټرونه هم شایي خوشحال یاد کړي وي، خو په دې لیکنه کې په همدې بېلګو بسنه کوو.

## پایله

د فولکلوریکو کرکټرونو له نومونو سره هر څوک اشنا دي او د هر چا تر غوږونو رسېدلي دي، که هغه کرکټرونه په پښتني ټولنې پورې اړه لري او که د پښتني ټولنې ترڅنګ په عربي، هندي او دري ادب پورې اړه لري، خو د خوشحال خان خټک په اشعارو کې یې یادونه زیاته شوې ده. ما هم د هغه په اشعارو کې د ځینو فولکلوریکو کرکټرونو بېلګې وپلټلې، له نیکه مرغه چې زیاتې بېلګې پکې پیدا شوې چې دلته مې څو بېلګې د مشت نمونه خروار په دود یادې کړې.

## مأخذونه


۱- الفت، ګل پاچا. د الفت نثري کلیات، سریزه او راټولونه: محمد اسماعیل یون، دانش خپرندویه ټولنه: ۱۳۸۷ل. ۱۰۲مخ.

۲- نوري، محمد ګل. ملي هنداره(اول، دوهم او دریم ټوک) درېیم چاپ، د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست کندهار: ۱۳۸۹ل. ۲۷مخ.

۳- خټک، خوشحال خان، د خوشحال کلیات، د عبدالقیوم مشواڼي په زیار، دانش خپرندویه ټولنه: ۱۳۸۷ ل. ۴۰۱مخ.

۴- حبیبي، عبدالحی. نومورکي مورخین، دویم چاپ، ، د لوی احمد شاه بابا علمي او کلتوري مرکز: کندهار، ۱۳۸۳ کال. ۱۴مخ.

۵- خټک، خوشحال خان، د خوشحال کلیات، د عبدالقیوم مشواڼي په زیار، دانش خپرندویه ټولنه: ۱۳۸۷ ل. ۲۷۹ مخ.

٦- پورتنی اثر، ۱۸۸مخ.

۷- پورتنی اثر، ۲۰۷ مخ.

۸- پورتنی اثر، ۳۸۰مخ.

۹- پورتنی اثر، ۳۵۱مخ.

۱۰- جیمز، ډارمستېټر. د پښتونخوا د شعر هار و بهار، پښتو ټولنه: ۱۳۵٦ل. ۱۵مخ.

۱۱- ختک، خوشحال خان، د خوشحال کلیات، د عبدالقیوم مشواڼي په زیار، دانش خپرندویه ټولنه: ۱۳۸۷ ل. ۳۵۱مخ.

۱۲- هجري، اشرف خان. د اشرف خان هجري دیوان، د همېش خلیل په زیار، شاهین برقي پریس: پېښور، ۱۹۵۸م. ۳-۴مخ.

۱۳- ختک، عبدالقادرخان، یوسف زلېخا، سریزه، سمون، وییپانګه نورالله ولسپال، د افغانستان د علومو اکاډمي: ۱۳۹۱ ل. ۲۰مخ.

۱۴- الزیات، احمد حسن. ژباړه او زیاتونه: فرهاد پیلوځی، عربي ادب تاریخ، سوله خپرندویه ټولنه: ۱۳۹۷. ۱۸۹مخ.

۱۵- ختک، خوشحال خان، د خوشحال کلیات، د عبدالقیوم مشواڼي په زیار، دانش خپرندویه ټولنه: ۱۳۸۷ ل. ۵۹۵مخ.

۱٦- پورتنی اثر، ۳۳۹مخ.

۱۷- پورتنی اثر، ۵۴۲مخ.

۱۸- پورتنی اثر، ۲۴٦مخ.

۱۹- پورتنی اثر، ۳۴۴مخ.

۲۰- پورتنی اثر، ۴۲مخ.

۲۱- پورتنی اثر، ۲۳۲مخ.

۲۲- پورتنی اثر، ۵۴۲مخ.

۲۳- پورتنی اثر، ۷۸مخ.

۲۴- پورتنی اثر، ۵۴۲مخ.

جاوید آفتاب

# د کاظم خان شیدا په شاعرۍ کې نوستالژي

# Nostalgia in the Kazam Khan Shaida's poetry

**Javed Aftab**

## Abstract

Nostalgia is a psychological word has been exiled in medical which was used for a poverty-torn person. Recently, it has come to language literature. Neither it isn't a new phenomenon nor is it used for any concept to have instances in ancient literatures.

There are indications of nostalgia in the ancient works of Pashto literature and world literature with solely distinction for which other words would be used instead. For example, other words, banishment, pain, and emotion of dissatisfaction would be used. a wistful desire to return in thought or in fact to a former time in one's life, to one's home or homeland, or to one's family and friends; a sentimental yearning for the happiness of a former place or time is called nostalgia, for which writers and poets like to enrich their previous desire by the language of poem and prose.

Hence, I have discussed over poems of Shaida (۱۷۲۷-۱۷۸۰) to examine the psychological pattern how Shaida has desired to his past and how he has stated his nostalgic feeling by words, and how these words have made his poetry effective and energetic.

## لنډيز

نوستالژيا يوه ارواپوهنيزه ګړنه ده، چې پخـوا بـه پـه طبابـت کـې تبعيـد شـوي او غربت ځپلي انسان ته کارېدله او اوس په نږدې وختو کـې يـې ادبيـاتو تـه لاره کـړې ده، که څه هم په معنوي لحاظ نوې پديده نه ده، يعنې په کـوم مفهـوم او معنـا چـې کارېږي، هغه داسې څه نوې خبره نه ده، ګنـې پـه پخوانيـو ادبيـاتو کـې يـې بېلګـې ونه‌لرو. موږ د پښتو او نړۍ ادبياتو په ډېرو پخوانيو آثـارو کـې نوسـتالژيک څرکونـه يـا بېلګې لرو، خو توپير يواځې دا دی چې هغه وخت ورته ياد ويی نه کارېده او پر ځای يې نورې کلمې کارېدلې، لکه د جلا وطنۍ، درد او سوز احساس او...

په پردېسۍ کې د ټاټوبي، کور کـورنۍ، نـږدې وګـړو، تېـرو وختونـو او عمـر پسـې ارمان کولو يا ځورېدو ته نوستالژيا يا تېر ارمان وايـي، چـې ليکـوال او شـاعران خپلـو دغو تېرو ارمانونو ته د نثر يا شعر جامه په تن کوي. ما په شعر کـې د دغـه رواني اړخ پيدا کولو له پاره د شيدا (۱۱۳۵-۱۱۴۰هـ.ق کلونو شـاوخوا زېږېـدلی) پـه شـاعرۍ بحث کړی، چې شيدا خپل تېر پسې څنګه ارمان کړی، خپـل نوسـتالژيک احسـاس يې څنګـه پـه الفـاظو کـې بيـان کـړی او دې الفـاظو يـې شـاعري څنګـه اغېزمنـه او خوندوره کړې ده.

## سريزه

يعقوب(ع) کلونه کلونه د خپل زړه ټوټې (يوسف) پسې وکړېده، د سـترګو ديـد يـې پسې بايلود، لنډه دا چې تر هغې يې نه هېرېده، چې بېرته يې پـه غېـږ نـه و نيـولی. غازي امان الله خان تبعيد ته اړ کړای شو، خو تر مرګـه يـې پـه پردېسـۍ کـې خپلـه خاوره او ولس هېر نه‌کړ او هره شېبه به د خپل وطن په ياد کې لـه نوسـتالژيک روان سره مخامخ و. همداسې خوشحال خان خټک څلور کالـه او نهـه مياشـتې لـه کـور، کلي او کورنۍ څخه لرې په بند کې تېر کړل او پـه دغـه مـوده کـې يـې د خپـل تېـر ژوند، ټاټوبي او کورنۍ يادونه يې په خپلو ډېرو شعرونو کې کړې ده. دا ټول د انسـان په درون کې هغه روحي او رواني احساسات او عواطف دي چې په انسان کې د تېرو مختلفو پديدو په اړه يو ډول رواني سګنال را ژونـدی کـوي او دغـه تېـر يـاد کـې يـې ارماني ډوبوي، چې همدې ته په نوې اصطلاح نوستالژيا (Nostaligia) وايي.

نوستالژي په پردي چاپېريال کې د خپل هستوګنځي یاد او د هغه په اړه حسرت، تېر ژوند پسې افسوس، له لاسه تللو شیانو، موقعیتونو او خوږو عزیزانو پسې خپګان او د هغوی یاد ته وایي. لکه خوشحال خان چې خپلې ځوانۍ پسې ارمان کړی:

چې د ځوانۍ ساعت را یاد شي

په هر زمان مې پسې فریاد شي

په کلاسیک دور کې داسې د ډېرو شاعرانو په شعرونو کې د نوستالژۍ ځرکونه لیدل کېږي، چې په دې مقاله کې مې د کاظم خان شیدا په شعرونو کې په نوستالژۍ خبرې کړې دي. شیدا په تنکۍ ځوانۍ کې د زمانې ناخوالو له لاسه له خپل ټاټوبي«روه» نه هند ته جلاوطن شوی. هغه د خپل دیوان په سریزه کې په ځوانۍ کې له کوره وتل داسې بیانوي:

دل می تپد و نیست کسی داد رسِ ما

از قافله دور است خروشِ جرسِ ما (۱)

د هغه په دیوان کې داسې ډېر شعرونه شته چې د جلاوطنۍ، تېر عمر، خپلوانو او ملګرو په یاد یې په سوزناک انداز کې ویلي، چې ما د خپلې موضوع اړوند د هغه ځیني شعرونه راسپړلي دي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې د نوستالژي له کلمې سره مو اشنا کوي چې څه ته وایي، څنګه پیدا شوه او څنګه یې ادب ته لاره وکړه؟ ځکه په پښتو ادب کې یاده کلمه نوې ده، حتی اکثر ځانګوال ورسره نااشنا دي. همدارنګه په دې به هم پوه شو چې په شعر کې یې څنګه درک کولای شو.

## د څېړنې موخه

له دې څېړنې اساسي موخه دا ده، چې لوستونکي د نوستالژیا له معنا او مفهوم سره اشنا شي او په دې پوه شي چې په شعر کې نوستالژي څه ته وایي او څنګه یې تشخیص کړو؟ او همدارنګه د کاظم خان شیدا په شعرونو کې نوستالژي یا تېر ارمان څه ډول بیان شوی دی.

## د څېړنې پوښتنې

په دې څېړنه کې دغو لاندې پوښتنو ته ځواب ویل شوی دی:

۱- نوستالژي څه ته وايي؟

۲- د نوستالژي کلمه د څه لهپاره، کله وکارول شوه او ادب ته يې کله لار وکړه؟

۳- په شعر کې نوستالژيا څه ته وايي؟

۴- د پښتو کلاسيکې دورې د نازک خيال شاعر کاظم خان شيدا په شاعرۍ کې د نوستالژۍ رواني حالت څنګه بيان شوی دی؟

## د څېړنې ميتود

په دې څېړنه کې له تشريحي او تحليلي ميتود څخه کار اخيستل شوی دی او د څېړنې ډول کتابتوني دی.

## اصلي متن

نوستالژي يوه فرانسوي ګړنه ده چې لـه (Nostaligia) چې د يوناني لـه (Nostos) يعنې تېر ته ستنېدل او (Alogos) درد او رنځ معنا لري، رغېدلې ده. د لغاتو په قاموسونو او فرهنګونو کې د تېر ارمان، د غربت غم، په هېواد او کور پسې ځورېدنه او د لرېوالي درد په معناوو راغلې ده. اکسفورډ ډکشنري، نوستالژي يو ډول زړه تنګي معنا کړې چې له خپل ټاټوبي څخه د اوږد مهاله لرېوالي لـه امله پيدا کېږي. (۲)

نو لنډ پېژند يې داسې کولای شم چې نوستالژي د تېر وخت، شيانو، وګړو او موقعيتونو په اړه دروني تريخ يا خوږ احساس ته وايي.

لومړی به د نوستالژي کلمې د پيدايښت او شاليد په اړه لنډ وليکم چې: کـه تېر ادبي او علمي تاريخي کتابونه وپلټئ، نو د نوستالژۍ کلمې څرک به په کې پيدا نـه کړئ؛ ځکـه دغـه کلمـه د نيولوګېزم محصول دی. پـه لومړي ځل يوه سويسي-څېړونکي «جوهانس هوفر» دغه کلمه جوړه او په خپله هغـه مقالـه کې يې کارولې چې د دوو ناروغانو د روحي حالات توصيف پـه اړه يې ليکلې وه. (دا مقالـه يې پـه ۱٦۸۸م. د جون په ۲۲مه ليکلې وه).

د ډاکټر هوفر دوه ناروغان چې يو له «برن» ښار نه «بازل» ته د زده‌کړو لپاره تللی و او بل يو مسافر خدمتګار و، دغه دواړه هغه مهال بالکل روغ رمټ شول چې بېرتـه خپلو کورونه ته ولېږل شول. البتـه پـه ننني طبابت کې دې ډول ناروغۍ تـه د «د انطباقي اختلال» اصطلاح کارېږي. په عين حال کې دا ډول ناروغي او اختلالات په

ځینو هغو سویسي نظامیانو کې هم ولیدل شوې، چې له هېواد بهر په خدمت بوخت وو. په لومړیو کې داسې تصور کېده چې شاید د دې سرتېرو رواني – بدني حالات د یو فیزیولوژیکي او یا له نورمال سطحې نه ټیټې ارتفاع ته د سفر له امله وي.

په لومړیو کې نوستالژي یوه طبي اصطلاح وه، خو ډېر ژر د فیلسوفانو پام ور واوښت. هالر یې په اړه په علمي خپرونه «Diberto» کې مقاله ولیکله. روسو یې په اړه وضاحت ورکړ، چې څنګه یو ساز یا موسیقي کولای شي په تولیزه توګه د نوستالژي د شدیدې بېرته ستنېدنې میل د سویسي سرتېرو په منځ کې رامنځ ته کړي.

کانت په دې باور و چې د نوستالژي لامل تبعید نه دی، بلکې لوی سبب یې فقر او غربت دی؛ شتمني او اجتماعي موقعیتونه هغه له منځه وړلی شي. د هوفر د مقالې له چاپ نه یو پېړۍ وروسته (د ۱۷۸۹ نه تر ۱۸۱۵م. کلونو ترمنځ) شرایط داسې شول چې له وطنه لرې د مهاجرینو په شمېر کې ډېر زیاتوالی راغی او د ناروغانو شمېر، چې هغه وخت په کې د «نوستالژي» ناروغي تشخیص شوې وه، څو برابره زیات شو. خو په دې وخت کې د ډاکټرانو، په ځانګړې توګه د نظامي ډاکټرانو رواني تجربه لا ډېره شوې وه. هغوی په تجربې سره زده‌کړې وه چې دا اختلال څنګه تشخیص کړي، د هغې رواني درملنه وکړي او د تجربو له مخې د خپلو ناروغانو په ذهن کې د هغوی تېر خواږه یادونه را تازه کړي. یو له دې ډاکټرانو «بارون پرسي» لیکلي «د ناروغۍ درملنه باید روحي وي، نه درمل، تجربو ښودلې ده چې د درملو توصیه د رواني ناروغیو له زیاتوالي/ بدتر کېدو پرته بله ګټه نه‌لري.»

له ۱۸۳۰م. نه وروسته، د ډاکټرانو د کار سبک او سیاق ډېر توپیر وکړ. هغوی د ناروغیو د تشخیص او درملنې لپاره له ضرر پېژندنې او د ناروغیو مسبب د میکرو ارګانیزمونو له کشف څخه ګټه اخیسته. خو په لازم ډول نه اتوپسي- او نه میکروسکوب کولای شول د هغو خلکو د ناروغیو تشخیص او درملنه وکړي، چې خپل ټاټوبي ته د ورستنېدو لپاره یې زیات فکري وسواس لره.

د نوستالژي د کلمې سر کرار، کرار د ادب نړۍ ته را ننوت او د ۵۰ کالو په اوږدو کې ورو، ورو له طبي متنونو څخه ووت او بیا د ناروغانو د توصیف لپاره ونه کارېدله. په همدې وخت کې د ادب په نړۍ کې را ګډه شوه، خو په ادبیاتو کې د ناروغي په معنا نه، بلکې په ځنډ یا ناوخته د غم او رومانتیکو احساساتو پیدا کېدو ته اشاره وه.

«نوستالژي د فرانسې رومانتیک عصر په ادبي ژبه کې د هوگو، بودلر او سارتر په آثارو کې مختلفې معناوې لري. د هوگو په آثارو کې له وطن نه د لرېوالي درد؛ د بولر په آثارو کې له پردي وطن سره اشتیاق لرل او له لاسه وتلو شیانو لپاره اشتیاق او د سارتر په آثارو کې د هېڅ په اړه د حسرت یا اشتیاق لرلو په معنا وو. د شلمې پېړۍ په پیل کې نوستالژي یو ځل د انسان جغرافیه‌یي بې‌وطنۍ په معنا سر را جگ کړ.» (۳)

نوستالژي یوه اروا‌پوهنیزه گڼنه ده چې نن ورځ یې ادبیاتو ته لاره کړې ده. نوستالژي یا افسوس یا تېر ارمان د هغه شاعرانو او لیکوالو تېر ارمان او خواشیني ده چې تېر ته په کتو سره یې د هغو په اثارو کې ظهور کړی وي او لوستونکو ته یې وړاندې کوي.(۴)

نن ورځ دغه گڼنه یعنې نوستالژي په دوو استقامتونو یا د دوو لوریو په موجودیت کې تعبیر او تفسیرېږي چې یو یې فردي او بل یې ټولنیز استقامت دی.

فردي: یو لوری یا یو استقامت د فردي ځان ناخبرۍ له لارې.

ټولنیز: د جمعي ناخودآگاه یا ټولنیز ځان خبرۍ له لارې پېژندل کېږي.(۴)

یعنې فردي ځان ناخبري په دې معنا چې یو انسان په خپل غم، درد او افسوس کې بل څوک ځان سره نه شریکوي او ټولنیزه ځان ناخبري هغه درد، غم یا افسوس چې له هغې په ټولنه کې نور وگړي هم اغېزمن کېږي یا په عین درد کې ځان یا خپل حالت پیدا کوي.

څېړونکی محمد اکبر کرگر په خپل اثر «پښتو شعر او نوستالژي» کې لیکلي: "نوستالژي د اروا‌پوهنې یوه گڼنه ده خو په ښکلي طرز او خپه کوونکي اغېزناک اواز د کلام او لیکنې له لارې د دې سبب شوی چې په ادبیاتو کې یوه لاره پرانیزي. لیکوال او شاعر دی چې له خپلو موجودو امکاناتو نه په گټې اخیستلو سره خپل خپه احساسات او له درده ډک افسوسونه او یا د تېرو لرې وختونو خاطرات د گڼنو او کلماتو قلمرو ته ننباسي او بیا همدغه جملې او عبارات دي چې پر لوستونکي یا مخاطب باندې د شاعر د احساساتو په انتقال کې جادویي او اساسي ونډه لري.

شاعران او لیکوال چې همېشه بدیو او ناوړتیاوو نه د ازادۍ ارماني ټولنې په لټه کې دي، په ځان خبري او تر زیاته حده په ځان ناخبري توگه خپلې تېرې نېکې

ماضي ته مخ اړوي، په دې لټه کې ټولنیزه نوستالژي له دوه چنده قدرت او ښکلا نه برخمنه ده.

نوستالژي په ادبي څېړنو کې هغه ډول هستونو ته ویل کېږي، چې د هغو پر بنسټ شاعر یا لیکوال په خپلو شعرونو او لیکنو کې تېر ته پام کوي او یا د هغه هېواد چې یاد یې په فکر کې راځي، په ډېر افسوس او درد سره یې ترسیموي. کېدای شي دغه حسرت او زړه تنګي د خپل پلرني ټاټوبي او د هېواد د کوچینوالي دوران ښه سیاسي، مذهبي او اقتصادي حالت او له تېر سره شوق او مینه وي. نوستالژي یو لړ ځانګړتیاوې هم لري لکه د تېرو خاطراتو او تمایلاتو یادونه، تېر ته ستنېدل او داسې تمایل چې بېرته خپل ټاټوبي ته د ورتللو مینه او شوق، ارکاییزم یا لرغونپالنه، اسطوره جوړونه او ارماني دنیا ته پناه وړل دي، چې په متن کې د دغه ډول مشخصاتو موجودیت په تېر پسې د شاعرانو افسوس او یا ارماني راتلونکي پسې د شاعر تمایل جوتوي." ( ۴ )

لکه څنګه چې د نړۍ ادبیات له نوستالژۍ خالي نه دي، داسې د پښتو ادب هم ترې بېبرخې نه دی. حتی د پښتو شفاهي یا ولسي- ادب بېساری او غني فورم(لنډۍ) یې ډېر ښه انځورونه لري:

مسافري دې ډېره وکړه
راځه راځه روزي به خدای رارسوینه

داسې ډول ډول نوستالژیکې بېلګې نورې هم شته. همداسې که د پښتو شعر او داستاني ادبیات وپلټو، نو ډېرو شاعرونو او لیکوالو په شعرونو او لیکنو کې به یې بېلګې وموندو. زما په اند داسې شاعر به نه وي چې د هغه په شعرونو کې دې د نوستالژیا څرک نه وي.

ما کاظم خان شیدا په شاعرۍ کار کړی، د شیدا په شاعرۍ کې د نوستالژۍ بېلګې ډېرې دي، هغه په جلاوطنۍ کې د خپل خاپوړو وطن، ښکلي طبیعت، کور کلي، خپلوانو، ملګرو او تېرو خاطرو یادونه د شعر یوه برخه ګرځولې او د دې ټولو انځورونه یې په ډېر ښکلي او هنرمندانه توګه په کې ځای کړي دي. دغه څلوریځه یې په تېر ژوند پسې د ارمان ښه بېلګه ده:

همېشه ژاړم په تېر صحبت پسې
په هغه مهر په محبت پسې

لکه شیشه یم د ساعت گوره
زړه مې دوه نیم شو په تېر ساعت پسې (۵)

لکه څنگه چې مو وویل چې نوستالژي د تېر عمر یا د وگړو، شیانو او موقعیتونو په اړه یو دروني تریخ یا خوږ احساس ته وایي، نو دلته په ترتیب سره د شیدا په شاعرۍ کې لومړی د تېر عمر ارمان، بیا د اشخاصو، ورپسې د شیانو او پای کې د جلاوطنۍ او طبیعي موقعیتونو په اړه د هغه په ترخو او خوږو احساساتو، تېر یادونو او ارماني اړخونو باندې بحث کوو.

## ۱- د تېر عمر ارمان

تېر مهال پالي فردي نوستالژي هغه ډول دی چې شاعر یا لیکوال پکې شېبه یا خپلې تېرې شېبې ترسیموي او په هغو پسې ارمان کوي. پرته له دې چې نور په دې ارمان او غم کې له ځان سره شریک کړي، ځینې مفاهیم لکه فریادونه، له زړښت نه شکایت، سپین وېښتان، په ملا کړوپېدل، د ځوانۍ، ثروت او له لاسه تللي ملکیت په یادولو سره رامنځته کېږي. (۳)

شیدا دلته د تېر مهال پالي فردي نوستالژۍ یعنې د خپل تېر عمر (ماشومتوب او ځوانۍ) پسې ارمان کوي، چې کاش بېرته راستنېدای شوای:

که هر څو ډېر شي شکر و شهد
ځنې بهتر دی د شودو مهد
څرنگ به راشي د راحت خوبه
ووت له لاسه د طفلۍ مهد (٦)

د لومړي بیت په دویمه مسره کې «د شودو مهد» د ماشومتوب د زانگو وخت شوده له نورو ټولو شکر او شاتو غوندې خوږو نه بهتر بولي او په وروستۍ مسره کې«د طفلۍ مهد» د ماشومتوب د وخت ځانگو ښیي، یعنې د ماشومتوب ښکلی له سکون او راحته ډک ژوند مې له لاسه ووت، چې بېرته نه راگرځي.

همداسې د خپل غزل په یو بیت کې وایي:

نه په روی، نه په زارۍ، نه په زور گرځي
وایه تللی عمر اوس په څه راستون کړم؟ (۷)

بل ځای بیا وایي:

زوړ شوم مئينه غم دې زوړ نه شه
خس که ايرې شه تاو يې سوړ نه شه
زه يې په پچه کړم د وچې څانگې
هنوز په وينو زما موړ نه شه (۸)

## ۲- د وگړو ياد او ارمان

د خپل خپلوانو يا د نږدې ملگرو بېلتون او جدايي د انسان روان ځپي، دا بېلتون که د کورنۍ له غړو يا ملگرو مسافري وي يا د تل لپاره خدای پاماني، هر يو يې په انسان باندې نظر د هغوی صبر او حوصلې ته خپل رواني اغېز لري. ځينې يې په چوپه خوله زغمي، خو په ځينو کې بيا دغه نوستالژيکه غوټه ځان سپړي او بالاخره دغه دروني درد او تريخ احساس د شعر يا نثر په ژبه ځان را برسېره کوي.

شيدا د خپلې مور په مړينه رنځېږي او د مور د بېلتون دغه درد يې په آرام نه پرېږدي. هغه په يوې څلوريځه کې په خپل دغه درد او غم داسې ژړلي:

غم به تر عمره د والدې کړم
خندا مې پرېښوه ژړا کوم زه
سال د رحلت يې له ما نه واوره
بهشت يې ځای شه دعا کوم زه (۹)

همدارنگه شيدا د دوو ورونو (فتح الله او الله نور) له غبرگې مړينې نه وروسته دغه مرثيه ليکلې:

چې فتح الله او الله نور له دنيا ولاړل
په غمونو کې يې فرق تر مياشتې کم
په هر چاو رحلت سخت د دواړو ورونو
په فراق کې يې نالان و لوی و کم
تامل يې په بيان د تاريخ وشه
راته ووې زړه، آهاد قلوب غم (۹)

دلته د دې خبرې ياد اړين بولم چې کامل مومند (فتح الله او الله نور) د کاظم خان شيدا ورونه ياد کړي او صديق الله رښتين بيا د هغه ملگري بللي، خو حبيب الله رفيع بيا په آواره شيدا کې وايي چې "دا مړه کسان نه د شيدا ورونه وو نه

دوستان، بلکې دوی دواړه په خپل منځ کې سره ورونه وو، چې د شيدا د استوګنې په محله کې اوسېدل، دوی دواړه د يوې مياشتې په اوږدو کې مړه شوي او دې تراژيدۍ (د دوو ورونو غبرګ مرګ) ټوله محله غمجنه کړې چې له دوی نه يو شيدا هم دی او په دې قطعه کې يې د ټولو غم انځور کړی دی: «په هر چاو رحلت سخت د دواړو ورونو» نو ځکه د ده ورونه څه حتی دوستان يې هم نه شو بللی او دلته هېڅ داسې نخښه نشته چې دا ورونه له شيدا سره منسوب کړي، ځکه د «زما ورونه» يا «ورونه مې» او داسې نور تړونکي ضماير نه‌لري."(۱۱)

د خپلې کورنۍ غړي؛ خوشحال (شايد د تره زوی يې وي)، د مړينې په اړه يې د خپل سوي زړه آهونه داسې له خولې راويستي:

د خوشحال په جدايۍ کې باور وکړه
خسته زړه زما کتاب و آه مې سيخ دی
چې روزي يې شهادت شو په ځوانۍ کې
نور په ګور د شهيد ځوان شه دا تاريخ دی (۱۰)

د ميا عمر د مړينې ياد يې داسې کړی:

د ميا په درد و غم کې
ناله ډېره شوه هم آه
وايه دا عمر ولي
ورسره رحمت الله
عليه ورسره ضم کړه
په تاريخ به شې آګاه (۱۰)

شيدا خپل د زړه سوز او فغان د هغو کسانو د مړينې په اړه د شعر په ژبه اظهار کړی، چې ده ورسره له زړه مينه لرله يا ده ته قدردان وو، دی د هغوی په جدايۍ دردېدلی، په ياد يې خواشيني ښيي او نه‌شتون يې لويه ضايع بولي. د ميا عمر د فيض او پوهې په اړه وايي چې په ژوندوني د هر ډول خلکو لپاره د پوهې لويه مرجع وه او له ده د فيض اخيستو لپاره به د ده په درګاه کې د هرې سويې خلک حاضر وو، شيدا وايي:

ميا عمر په خپل دوران کې
چې ګشاده يې د فيض باب و

شاه و گدا یې په در حاضر و
مرجع د خلقو عالم مآب و (۱۰)

همداسې د سرفراز خان په یاد او ارمان کې وایي:

تا چې وکړو انتقال سرفراز خانه!
گرفتار په ډېر اندوه په ډېر غموم یم
په هر بزم کې را یاد د تا محفل شي
په ژړا کړم سترگې سرې د شمع موم یم
که مې نه وی سرد آهونه ژوندون گران و
هسې سوی د فراق باد سموم یم
په هستۍ به نه‌شم خلاص له دې سختۍ
په نگین کې د عقیق گنډلی نوم یم
دې تاریخ وته حیران ستا د رحلت وم
خسته زړه و ما ته ووې زه مغموم یم (۱۰)

## ۳- د وطن او سیمو یادونه

شیدا ته په پردېسۍ کې د خپل هېواد د بېلا بېلو سیمو، طبیعتونو، کانو، بوټو، غرونو او نور یادونه هماغه د پخوا په څېر خواږه یادونه دي او د جلاوطنۍ عمر یې هم همدې یادونو سره تېر کړی. که څه هم د هند ښکلاگانې او ښایسته طبیعت هم خپل خوند او رنگ لري، خو شیدا ته خپل وطن کشمیر و.

دی په پردیسۍ کې د خپلې سیمې د ښکلاگانو منظرکشي داسې کوي:

تل د روه آب و هوا، واوره، سپین یخ هم
باغ و راغ، دښت و کهسار طرفه شاداب
یاد لره په خپل خاطر، په یاد یې پایه
شیدا وسپاره په قصر دا اطناب (۱۱)

یا

چې د هند سبزو خوړلی پان وي
لعل و یاقوت چې دواړه لبان وي

زرکې چې گرځي د روه په غرونو
ښایسته روغې په دغه شان وي (۱۲)

په دغه لاندې څلوریځه کې د هند زرغون طبیعت او ښکلا نه د خپل کلي ساده پاده خوبانې معتبرې بولي، ځکه له دې سره یې فطري او طبیعي تړاو دی، چې دا د هیڅ انسان نه هېرېږي:

غره! بې ځایه د هند سبزانې دي
غنج و ادا لري که دلستانې دي
چې دلبري کا بې تکلفه
د روه په ملک کې ساده خوبانې دي (۱۳)

کاظم خان شیدا په جلاوطنۍ کې خپل محبوب نه دی هېر کړی، د هغه په یاد کې یې شپې او ورځې تېرې کړې، ده د خپل د مینې اظهار او د زړه خبرو لېږلو لپاره بل ریبار نه لره، نو د نسیم په خوله یې خپل سلامونه ورلېږل:

نسیمه! ورشه د سرای سواد ته
له هغه پسه افضل آباد ته
سلام یې وکړه په دواړه لاسه
در و دېوار و گل و شمشاد ته (۱۳)

★★★

گلونه وکړه د روه پلوسې
که دا پیام مې نسیمه! یوسې
خوشبو په تا ده د وطن سیمه
په دا دعا یم چې تازه اوسې (۱۴)

★★★

کله سبا دی، باد مراد دی
چې یې لیدلی افضل اباد دی
راته یې ووې د حال په ژبه
تازه دې گل او سر و شمشاد دی (۱۴)

کله کله لکه د یوه بندي مرغه په څېر د تېرې آزادۍ په تصور کې ډوب شوی او د هغې طبیعي فضا انځور یې د شعر په ژبه بیان داسې بیان کړی:

په زړه یې ګرځي د غرونو څوکې
حملې د بازو د زرکو کوکې
ووایه څه کا د روه نسیمه؟
ګیرا منګولې زیبا مښوکې (۱۴)

## ۴- د طبیعي ښکلا یادونه

دلته د هند په وړاندې د خپل کلي (روه) د ښکلي طاوس او سیسۍ، ګورګورو، ممانړو او ښېرازه او زرغونې سیمې په یادولو سره خپل هغه دروني خوږ احساس د شعر په ژبه داسې بیانوي:

ځار شه ترې هومره طاوسان زانې
لکه د ونو بې شماره پاڼې
د روه سیسۍ دي طرفه دلبرې
نشته په هند کې دا هسې سکاڼې (۱۵)
ښایسته ونې تازه یې پاڼې
وکښلې غاړې لکه شنې زاڼې
په کې نظر کړه ښاخ نبات دی
خوږې ګورګورې پنځې ممانې (۱۵)
کودن ته بویه ورانې جلۍ
نارې په غره کې د څڅلۍ
ګلبانګ به څه کا د بلبلانو
زما دېوان دی باغ د ولۍ (۱۵)

## ۵- د یارانو او جلاوطنۍ احساس

ښاغلی رفیع په آواره شیدا کې وایي: د هند په پردېسۍ کې یې د سرای یاران پر زړه اوري او د خپلو اشعارو د سوغات ورلېږلو هیله لري:

که یې سر ځي لکه شمع یکزبان دي
خلاف نه کا د خپل قول چې یاران دي

چې اختر لکه اسمان لري له کوره
و هلال ته، څه محتاج هغه کسان دي
شیدا واستوه رنګین اشعار له هنده
ستا له رای سره اشنا د سرای یاران دي (۱۵)

بل ځای ځان د سرای نه آواره بلبل بولي:

چې ګوزر وکړې صبا د سرای په لوري
آواره بلبل یې یاد په ګلزمین کړه (۱٦)

په سرای کې د (ولی) او (افضل آباد) یادونه داسې کوي:

ګله سبا دی، باد مراد دی
چې یې لیدلی افضل آباد دی
راته یې ووې د حال په ژبه
تازه دې ګل او سر و شمشاد دی (۱٦)
په خاطر مې لکه ګرد جانفشاني ده
که مې یاد د هغه شوخ په دامان پرېږدي
زه شیدا یې ګویا شاه د هفت کشور کړم
که یو دم مې په خپل طور اسمان پرېږدي (۱۷)
تورې زمکې شي د هند په برسات کې
په ژړا چې سترګې تر مې دم په دم کړم
د حباب په کور مې آه کا لمبې بلې
چې بیان د جدایي غم و الم کړم (۱۷)
چې له خپله سره تېر د کلک په شان یم
په طلب هله د دې ښکلي جانان یم
چې خاطر مې شو مسکن دی د سبزانو
راته وګوره یو نوی هندوستان یم
د شانې په صد پاره جګر قسم کړم
چې په غم کې دې تر زلفو پرېشان یم
که پرواز مې په هوا دی رها نه شوم

مطوق د هغه سروې خرامان یم
د غبار په شان یې یوړم پروا نه کا
دامنگیر د هسې شوخ گرم جولان یم
په هندي ادا یې وکړې په ما چارې
زه شیدا په زړه ساده د روه افغان یم (۱۷)

## پایله

شیدا په شعر کې لـه نازکخیـالۍ او رنگـین الفـاظۍ سره سره تېـرو یـادونو پسـې ارمان هم کړی دی. په پردېسۍ کـې یـې د تېـر ژونـد د یـادونو غـوټې سـپړلي او پـه اهنگینه ژبه یې زمزمه کړې، چې په هغه کـې یـې د وطـن خـواږه یادونـه هـم وو، لـه حسرت ډک تېـر ارمـان هـم و، د ملگـرو او عزیزانـو ذکـر هـم و، د تېـر ژونـد د بېرتـه راگرځېدو ارمان هم و او د ځان اواره‌گي او د ژوند حبابي صحنو او کیسو ته یې هم د شعر اوبه ورکړې، چې موږ یـې لـه څښـلو سره ډېـر ښـه د هغـه نوسـتالژیک احسـاس حس کولی شو.

په خاطـــر مې لکه گرد جـــانفشاني ده
که مې یاد د هغه شوخ په دامان پرېږدي
(شیدا)

## مأخذونه


۱. د کاظم خان شیدا دیوان، (تدوین، سریزه، یادښتونه او وییپانگه: حنیف خلیـل)، ۱۳۹۳لـ.کال، دانش خپرندویه ټولنه: کابل، ۴۱مخ.
۲. کرگـر، اکـبر، پښـتو شـعر او تېرارمـان، ۱۳۹۷لــ.کال، هاشـمي خپروندیـه ټولنـه: ننگرهار، ۵مخ.
۳. نوستالژي، فارسي ویکي: https://www.parsi.wiki/fa/wiki/٤٤٣٧٥٣
۴. کرگر، اکبر، پښتو شعر او تېر ارمان،۴-٦ مخونه.
۵. د کاظم خان شیدا دیوان،(تدوین، سریزه، یادښتونه او وییپانگه: حنیـف خلیـل)، ۴۰۴مخ.
٦. حقپال، پوهندوی ډاکټر میراجان، کابله مجلـه، ۱۳۹۴لــ کـال، (درېیمـه دوره، ۴مه گڼه –چنگاښ)، د علومو اکاډمي: کابل، ٦۹مخ.

۷. د کاظم خان شیدا دیوان (تدوین، سریزه، یادښتونه او ویپپانگه: حنیف خلیل)، ۱۴۸مخ.
۸. پورتنی اثر، ۵مخ.
۹. پوتنی اثر، ۴۲۱ مخ.
۱۰. پورتنی اثر، ۴۱۸-۴۱۹مخونه.
۱۱. رفیع، حبیب الله، آواره شیدا-دویم چاپ، ۱۳۹۷لـ.کال، د امان کتاب خپرولو موسسه: پېښور، ۴۵، ۵۲ مخونه.
۱۲. د کاظم خان شیدا دیوان، (ترتیب او تدوین: همیش خلیل)۱۹٦۵م. کال، اداره اشاعت سرحد: پېښور، ۱۷۸مخ.
۱۳. پورتنی اثر، ۱۸٦، ۱٦۱مخونه.
۱۴. د کاظم خان شیدا دیوان (تدوین، سریزه، یادښتونه او ویپپانگه: حنیف خلیل)، ۴۰۵، ۳۹۴، ۴۰۹مخونه.
۱۵. پورتنی اثر، ۴۱۲، ۳۸٦، ۲۱۳ مخونه.
۱٦. رفیع، حبیب الله، آواره شیدا، ۳۱ مخ.
۱۷. د کاظم خان شیدا دیوان (تدوین، سریزه، یادښتونه او ویپپانگه: حنیف خلیل)، ۲۳۰، ۱۴۷، ۱۴٦ مخونه.

څېړنیار شریف الله دوست

# د میرزا خان په کلام کې د هندي کلمو څرک

# Hindi"sanskrit " words in the poems of Mirza khan Ansari

**Research Assistant Sharifullah Dost**

**Abstract**

The Indo-European languages are language family of multicore hundred related languages and dialects. Pashto and Hindi "sanskrit "languages both of The Indo-European languages. Hindi is belong to Indo – Aryan languages and Pashto is from Aryani languages braches. From beginning to now Hindi and Pashto did equal evolution. When we see in vedic text, the word of "parśwā "by put of infix "an", "parṣwana= pashtonwala"make adjective of pashton tribe postulates, that's a good example. In this issue I should purpose to show several Hindi"sanskrit "words in Mirza khan Ansari "roṣāni " poems.

## لنډیز

د پښتو ژبې په کلاسیکو متونو کې د اندو آري ژبو زیاتره برخه یا د کلمو هغه برخه چې د پښتنو او پښتو ژبې په تاریخ پوري اړه لري. د پښتو ژبې لرغونې برخه د بیارغونې له اصولو داسې جوتیږي چې پښتو ژبه په آریک ژبو پوري اړه لري. د پښتو ژبې یوه لویه لغوي زېرمه د سانسکریت او ویدا ژبو تر اغېز لاندي راغلې او یوه برخه د څېړنکو له خوا د فونولوژیکي څېړنو په اساس تثبیت شوی، لکه: ټ، ډ، ړ، او ښ

چې په پښتو ژبه کې دخیل دي.پر یادو شوو مثالونو سربېره د پښتو پر کلاسیکو متونو کې داسي کلمات شته چې د لیکوالانو او ادیبانو له خوا په غیر ارادي ډول استعمال کړي دي. چي موږ لاندي څو نمونې د میرزاخان روښاني په دیوان کې ګورو.راځو د میرزاخان روښاني په شعر کي هغه کلمې راوړو چې هندي - سانسکریت ریښه لري او د میرزا په کلام کي یې څرک معلومېږي.

## سریزه

د پښتو ادب کلاسیک ادبي او تاریخي متونو کې د انداروپایي – سانسکریت - هندي ژبو ځای ځانګړی اهمیت لري. په پښتو ژبه کې د ریتروفلیکس فونیمونو شتون د پښتو ژبې او اندو آریایي ژبو تر منځ د اړیکو بحث تود ساتلی دی. په دې لنډه لیکنه کې د سانسکریت او هندي ژبې هغه کلمې راخیستل شوي دي چې نن یې یا کټ مټ او یا په څه ناڅه فونیمیکي توپیر سره په پښتو متونو کې ببلګي لرو. په دې سره به د پخوانیو کلاسیکو کلمو شتون او ځای ځایګی څرګند شي. میرزاخان هغه شاعر دی چې د سانسکریت او هندي ژبو سره ډېر نژدې پاته شوی دی او په هندي ټولنه کې اوږد مهال اوسېدلی دی له شکه پرته چې پر کلام کې یې ځیني هندي کلمې چي سانسکریت ریښه لري جوت ځای لري.

## د څېړنې مبرمیت

په پښتو متونو کې د هندي ژبو پر کلماتو پاشلې او تیتې لیکني شوي دي. د دې لیکنې مبرمیت په دې کې دی چې دې څېړنه کې هغه سانسکریت – هندي کلمې راخیستل شوي دي چې لا هم په پښتو ژبه کې نه دي څېړل شوي.

## د څېړنې موخه

د دې مقالې موخه په پښتو ژبو کې د پور وییونو او قرض شویو کلمو څېړل دي. دا هرچا ته معلومه ده چې د نړۍ یوه ژبه هم د نورو ژبو له وییونو او کلمو پرته رول نه لري،حتمي به خپل د ژبې کلمې نورو ژبو ته او د نورو ژبو کلمې خپلې ژبې کې په عاریت مني.

## د څېړنې پوښتنې

۱. د میرزاخان په شعر کې د سانسکریت – هندي ژبو کلمې کوم اغېز ښندلی؟

۲. د میرزاخان په کلام کې کومې هندي کلمې راغلي دي؟

۳. آیا د میرزاخان په کلام کې هندي کلمې سانسکریت ریښه هم لري که نه؟

## د څېړنې مېتود

په دې څېړنه کې له تشریحي، توضیحي او مقایسوي مېتود څخه کار اخیستل شوی او د څېړنې ډول کتابتوني دی.

## سومنات(soma+nâtha)

سومنات مرکبه هندي کلمه ده چې ایتمولوژي یې له سانسکریټ سره تړلې ده. لومړی برخه یې(سوم=suma،) یې د (سپوږمی) او (نات=nâtha،) یې د (صاحب، خاوند اوڅښتن) معنا ښندي. هند کې لیکل شوي برهان قاطع قاموس کې یې دا کلمه داسي راخیستې: "سومنات په لومړي پېښ، د نون او میم په زور او اوږد الف د مهملات پر وزن د گجرات په سیمه کې یوه بتخانه وه. " البیروني بیا په تحقیق ماللهند کې کښلي: "سلطان محمود غزنوي په ۴۱٦ هجری کې، منات چې د نوموتو بتانو څخه و په هماغه بتخانه کې مات کړ. "... حجر سومنات و (سوم) هو القمر و (نات) الصاحب، فهو صاحب القمر، قد قلعه الامیر محمود رضی الله عنه فی سنه ست عشره و اربع مائه للهجرةاو د دې نوموني په تړاو یې افسانه هم راوړې ده.(۱: ۲۵۲مخ)

سعدي ویلي:

بتی دیدم از عاج در "**سومنات**"

مرصع چو در جاهلیت منات

شیخ عطار ویلي:

لشکر محمود اندر "**سومنات**"

یافتند آتن بُت که نامش بود نات

میرزاخان روښاني یې خپل شعر کې داسي یادونه کړې:

د صورت معنا نه وینې

ته یې بت د **سومناته** (۷: ۲٦مخ)

له پورتنیو څرگندونو څخه ښکاري چې دا یوه هندي کلمه ده، یاد شوی بت د "نات او "سومنات" او دې ته ورته نورو نومونو هم یاد شوی دی.

**انند** (Ananda )

د پښتو، هندي، سنسکریت او فارسی قاموسونو کې: انند کلمه قاموسونو د خوښی، آرام، عیش، روښانه، مسرت او ښادۍ په معناګانو راخیستې ده. په انګریزی کې یې معناګانې happiness; pleasure; delight دي. په هندي کې انند مجرد نوم دی، واحد مذکر یوه جمع یې په مجهوله (یاء) سره انندیں(ا+ نن+ دں) او دوهمه جمع یې په مجهول (واو) سره غیر ندایی جمع: انندوں(ا+نن+دوں) ده. خو پښتو جمع یې انندونه راځي. له آره سانسکریټ کلمه ده په نوې هندي ژبه او اُردو تاریخي ، ادبي متونو کې هم ځای لري. په هندي اوپنیشاد په متن کې آننده راغلی دی.(آ) – الف یې د اتصاف او صفت لپاره راغلی، (ننده) یې لذت او خوښي ښوولې ده. د همدې اوپنیشاد په متن کې بل ځای د "آجنا=ajnā" په کلمه کې هم الف د اتصاف لپاره راغلی دی چې د پوهېدلو معنا لري.(۲:۴۸٦مخ) په اردو ژبه کې لومړی ځل د د غواصی په (طوطي نامه/۱٦۳۹ م)) کې کارېدلې کلمه ده.(۸۲:۳مخ) په سانسکریټ کې (اننېتيanu-nīti) د ښه خوی ښښتن ته وایي.() (انَنُدا an-ānudá) د جګړن او تورکښ په معنا راغلی دی. میرزاخان ابن فخرالدین محمد په (تحفة الهند) کې (آنند) په ممدوده الف او دوه نونه( یکې از پتر یاګوشه های هندول راګ) او (نند)، (نام یکی از افاعیل عروضی شامل یک هجای ، هجای بلند و یک هجای کوتاه) است یاد کړی دی. د (انند) کلمه د معنا په لړ تغییر د نورو کلاسیکو شاعرانو په شعرونو کې هم وینو:

حمید ماشوخیل د فریاد په معنا راخیستی دی:

لکه ته چې یې زما په درو داغ کړې
بلبل نه کړي په ګل هسي **__انندونه__**

خوشحال خټک وایي:

هوښیارانو څخه ډیره اندېښنه ده
چې ملنګ د مصلي هغه **__انند__** کا

عبدالقادر خان خټک د عیش او عشرت په معنا راخیستې ده:

طول امل په دنیا عیش و **__انند__** کا
په اهاړ کې د اوبو په طمع پند کا

دولت لْواڼی د بې تابه او لالهانده په مفهوم راخیستی دی:

یعقوب شب و روز بې **<u>انند</u>** و

چې بیل شوی تر فرزند و

واصل روښاني د خوښۍ په معنا کارولی دی:

کشایش یې روزي نه شه

په زندان کې یې **انند** دی (۷: ۱۰۰ مخ)

کامگار د خوښۍ او خوشحالۍ په مفهوم راخیستی دی:

اوس غمونه د هجران زغمه کامگاره

چې په وصل د دلبر دي ډېر **انند** شو (۷: ۷۸مخ)

شمس الدین کاکړ د سکون او خوشحالۍ په معنا کارولی دی:

ما رویان د زمانې دي چاکر کړي

مقبلان دي کړي په درد کې **انندونه**

یونس د خوښۍ او قناقت په معنا کارولی:

د حریص په ناامیدی باندي حدیث دی

صابرانو په مقصود و که **انند**

قنبر علی د خوشحالۍ په مفهوم راخیستی دی:

کله کا **انند** شاهان د تخت د پاسه

عشاق هسي په وصال کې په **انند** دي

د سره کوتل په کتیبه کې د ( واننده = خوشحاله کړ) د فعل په بڼه راغلی دی.

، میرزاخان په خپل کلام کې په معنا راوړې ده:

چې زنده شي پس له مرگه

غم پرې نشته بې **<u>اننده</u>** (۷: ۴۳ مخ)

بل ځای یې د روښانه او ښکلا په معنا کارولی دی:

چې دي هسي بد گمان په عیب کنبیووت

د حاسد په نور به کوم هنر **<u>انند</u>** وي (۷: ۲۰۴ مخ)

پورتني بیت کې **انند** د روښانه او ځلانده په معنا راغلی دی.

بیا هم وایي:

هر زمان یې نوی نوی سر پرې کیږي
په دا نوي سر یې لا تازه **انند** دی (۷: ۱۰۹مخ)

بل ځای وایی:

یو ژوندون به جاودان درلره درشي
همېشه به د خپل زړه په حال **انند** کړې

## هولي(holi)=(**holika** )

چې په انگریزي ژبه ورته (Holi festival) وایي د هندوستان د خلکو له رسمي اخترونو څخه دی، هولی یو پسرلنی ملي او مذهبي جشن دی. هولي د مینې او رنگونو په جشن هم پېژندوی دی، خلک یې د مارچ په میاشت کې چې د ژمي ختمېدو او پسرلي په رارسېدو وي لمانځي. په دې ورځ نر او ښځې سپینې جامې اغوندي او یو پر بل رنگونه او اوبه پاشي او نڅاوي کوي. په دې جشن کې د هر عمر کسان گډون کوي د هولي د جشن څخه د هندوانو عقیده داده چې د پسرلي په رارسېدو سره رڼا پر تیارو او ښه پر بدو برى مومي. دا تر دېوالي جشن چې د ژمي په رارسېدو سره جوړیږي ډېر په ولولو لمانځل کیږي. د هولي جشن او میله تر شا ځیني اسطورې هم له ځان سره لري چې یوه یې د عشق د الهې (کامار وا) ده. د دې جشن سرچینه په سانسکریټي متونو کې (راتناوالي) ته ورگرځي د هولي جشن لومړی ځل په بنگال کې جوړ شو چې دوې ورځې دوام وکړ. په دې دوو ورځو کې خلک ځانگړي خواړه هم پخوي. دود داسي دی چې د ورځې رنگونه او د شپې اور بلوي. د دې جشن د نوموني ریښه (هولیکا) او د هندوانو خوایگوټي کرشنا ته منسوب دی. هندي څېړونکې هولي د (هولیکاداهان) پیښې ته منسوبوي چې د (هیرانیاکاشیپو) په نوم د یوه ځواکمن پاچاه بې رحمه جادوگره خور وه چې آخر د خپلي جوړي توطئې په دام کې و سوځېدل او بریالیتوب د (هیرانیاکاشیپو) د زوی (پر اهلاداد) په برخه شو. په دې بریا سره اوس د (هولیکا) د مرگ په خوښۍ کې د هغې نامه ته منسوب په کال کې دوه ورځنی(هولي) جشن جوړیږي. (۵:۳٦مخ)په سانسکریټ ژبه کې د (هولیکا) کلمه د (होलिका=**holika**) د (Holi festival) معنا شوې کومه ځانگړې معنا یې نه ده ورته لیکلې. نور نو معلومه نه ده چې د دې

کلمې ریښه ویدي ده که سانسکریټ یا بله ژبه خو په نوې هندي ژبه کې هم استعمال لري.

میرزاخان یاده کلمه په خپل شعر کې داسي کار کړې ده:

زه و ناس و ته وایم

ای د برهمن ټولی

عقل درست در څخه والوت

هر چه ورځ شوه د **هولی**

بل ځای وايي:

دا څه وخت شو د **هولي**

هندوان ټوله شوه اولي(۷: ۲۲ مخ)

**جولي،ځولی(joli)،(jalika )**

د مخمل څخه جوړ پوړنی چې په لیست، گلاباتونو، چرمو، خامکو او زرینو حاشیو باندي یې ښندې جوړي شوي وي او تر عادي پوړني غټ وي. د ښځو ټول ځان په کې پټېږي اوس هم د غزني او لوی کندهار(زابل، کندهار، روزگان، هلمند) په کلیو او ښارونو کې کارېږي پخوا یې ځولۍ اوس یې شال بولي. د ښځو یو پخوانۍ ننواته د چې وايي( د ځولۍ) یا پوړني او پلو روی مي در وړی دی. په ولس کې عام او درناوی یې کیږي. کله چې یوه ښځه کوم چا ته د (ځولۍ روی) ونیسي، د هغې د ننواتي په هره توگه منل کیږي. که یې څوک ونه مني د غیرت پوله یې ماته کړه ولس ورته په ښه سترگه نه گوري. په دریاب قاموس کې یې داسي ښیي: جولۍ، ځولۍ یو ډول ځانگړې کڅوړه ده ، کلچ، پېڅه، جوال غوندي کڅوړه دواړه سرونه یې تړلي یوه خوا یې آزاده وي ، د لوی کندهار خلک یې گېره بولي؛ پر آس یا خره باندي ایښوول کیږي خاوره، امبار – سره پکښې وړي. په پښتو – پښتو تشریحي قاموس کې هم دې ته ورته معنا کړې په سانسکریټ ژبه کې (jhaulika، جولیکا) (small bag) کوچنۍ کڅوړي ته وايي. په سانسکریټ کې یې د پوړني لپاره "پلو /palu" کلمه هم کارېږي او د (pallava، پلوه) په بڼه ده. پښتو کې پلو او مخ پټی هم ورته وايي. خوشحال خټک وايي:

چا یې پلو له مخه لیري نه کړ

پښتو لا هسي بکره پرته ده

د سانسکریټ ژبې(jAlikA، جالیکا) په را وروسته هندي او پښتو کې جولي او ځولی سوې ده. واولي اوښتون را منځته شوی(الف) یې په (و) اوښتی (کا=ka) یې له خولو لوېدلې (جولي) پاته شوې. دا چې په سانسکریټ کې (ځ) نه سته او پښتو کې سته پښتو ژبه ته په راتلو سره یې (ج) په (ځ) او ښتی، لکه (جوان، ځوان، جای، ځای، جان، ځان) او یې پښتانه (ځولۍ) بولي، ځولۍ په لوېدیځه لهجه کې د (توت) او نوري پخې شوې لندې میده مېوې د ځنډلو او ټکوهلو لپاره کارېږي:

نجوني راکښته له سپېرکي سوې

توتان پاخه دي **ځولۍ** ډکي ډکې وړینه

***

**ځولۍ** راواخله توتان ټکوو

پر سرو توتانو باندي نه وزي غاښونه

اول به ماته خلک پنډ وو

اوس نا چاري ده **ځولۍ** بل ته غوړومه

## **بهولي(<u>bhela</u>)**

بهولي صفت دی، په لغت کې ساده، بوله، بېړا او کم عقله دپاره راغلی دی. پښتو قاموسونو یاده کلمه د نارینه او ښځینه دواړو لپاره په یوه بڼه راخیستې ده، دا کلمه په هندي، پښتو او اُردو کې هم له سانسکریت څخه دخیله ده. اردو کې (بهولا) ویل کیږي په انگریزي کې یې د (foolish) معنا کړې ده. نوموړې کلمه د رامایانا په متن کې د "بهولاناتهـ=bholānātha " په بڼه راغلې ده. او ساده او نیک ښښتن ته یې ویلې دي. دا د مهادیو لقب هم و چې د ساده والي په سبب به یې د یزیدانو او دېوانو په خبرو به یې ژر باور کاوه.( ۹:۵۹۵ مخ)، میرزاخان وایي:

نارینه یې دېوانه شو

هسي ښځي **بهولي**(۷: ۱۷۵ مخ)

## **گونگټ(<u>gaṅgāṭeya</u>)**

پښتو تشریحي قاموس یو ډول خیرنه حشره ښوولې ده؛ د مونیر ویلیامز په سانسکریټ – انگریزي قاموس کې یو ډول ملخ ښوول سوی دی. په هندوستاني

قاموس کې "گون گهات/gaun-ghat" ځوا او فرصت = power,opportunity" معنا سوی دی.(۱۰:٦۲۸مخ) ،میرزاخان وایی:

بورا سپک پر گلو گرځي
تر بار لاندي شوې **گونگټَ**

**انگڼ**(angṇ)

په سنسکریت کې (انگڼ/अङ्गण=angṇ)، په هندي ژبه کې (آنگڼ/āngan)، انگریزي کې یې / yard/ معنا کړی دی. انګړ، صحن، ساحه، area. اوس د پښتو ژبې په عامه محاوره کې انګړ ویل کیږي. "ڼ" یې په "ړ" اوښتی دی. اصل یې انگڼ دی نه انگړ. میرزا یې هماغه زړه بڼه (آنگڼ/āngan) استعمال کړې ده. میرزاخان وایی:

دغه لوی نوم ئې د هر نامه مصدر که
چه هیڅ نه وی ئې بیرون نه دی له **انگڼَ**

بل ځای وایي:

ما چه و کوت په باطن د معنی وُلی
د وحدت په **انگڼ** مښت د کثرت کلي (۷: ۲۲۲مخ)

**پاپ** (**papman**)

په سنسکریت کې پاپ من/(**papman** ) گناه، په هندي کې پاپ/papسوی دی او گناه ته وایي. نوموړې کلمه د اوپنیشاد په هندي متن کې " pāpman" په بڼه او گناه په مفهوم راغلې ده.(۲:۴۹۴مخ)، میرزا وایي:

چه دا هسي شان آواز یې په غوږ کښېوت
د سامع زنگی ئې درست خلاص که له پاپَ (۷: ۲۱مخ)

**پلو**(**pallava، پالاوه**)

پلو، پوړنی، ټیکری، د پر سرکولو ځانگړی ښځینه ټوکر دی.(۴:۴۸٦مخ) میرزاخان وایي:

د لاهوت پر مخ غړېدلی
د ناسوت خوشرنگ **پلو**
(۷: ۱۸۰ مخ)

خوشحال بابا وايي :

چا يې **پلو** له مخه ليري نه کړ
پښتو لا هسي بِکره پرته ده

**کټ، کهت**(khāṭva، khāta ) (۵۱۸:۴مخ) ، ميرزاخان وايي:

له هستيه د پناه په قدم درومم
هم وجود توره تياره شي د ځان کهت (۷: ۲۳ مخ)

ميرزا کټ داسي يادوي:

د څلور عنصره کټ په بله کښېووت
دَم په دَم دَ بله خيژی ته يې بوڼَ (۷: ۱۷۳ مخ)

ميرزاخان په خپل شعر کې (کهت او کټ) دواړه استعمال کړي دي، اروانښاد همېش خليل د ميرزاخان د ديوان په پای کې کوچني فرهنګ او وييپانګه کې کهت هم کټ بللی دی خو که د شعر منځپانګي ته وګورو دا معنا سر نه ورسره خوري، همدا کهت چې په سانسکريټ ژبه کې /khāta د خندق، ژورې، کندې، کډې او ډب په معنا دی سم دی، ځکه کټ يې په همدې بڼه بل پورتني بيت کې راوړی دی. بل دا چې د خوب کټ په هندي - سنسکريټ کې هم په(ټ، ṭ / ट ) ريتروپليکس ږغ دی او کهت په (ت، t،त) دی.(۵۱۹:۴ مخ)

**ډولۍ، ډهولي**(dolika)

اسم واحد جمع مونث، د ناوي جوپان، جپان، د ناوي وړلو وسيله، د ناوي کجاوه، درياب قاموس کې کاږي چې (ډولۍ) کجاوه او حجله له هندي څخه دخيل دی ميرزاخان د ناوي د ډولۍ نه بلکې د تشي ډانچې او کالبد په توګه کار کړی دی.

دا ستا واده زما به مرګ وي
دا ستا ډولۍ زما به کټ خاورو ته ځينه

ميرزاخان وايي:

سړی خوی دی که باور کړئ
دا صورت تشي ډولۍ

**رهت (rah}rahati) { )**

هندي کلمه ده، سکون ته ویل کیږي. دا کلمه هم سنسکریت ریښه لري. کېدای سي عربي ته يې هم له سنسکریت څخه لاره پیدا کړې وي. په عربي کې راحت د سکون او آرامتیا په معنا ده. " رت = rat" د رامایانا په متن کې د شهوت الهه بلل سوې ده. (۶۲۳:۹مخ)، میرزاخان وايي:

ای میرزا په حقیقت پوښتنه وکړه
چه له کومه ملکه تله شي چر رهت

**چهت (čāhat ):**

فریب، تقلب. خو په رامایانا کې پریبکاره او درواغجن کس " کپت او کپتي = kapati" بلل سوی دی.

میرزاخان وايي:

شمع ووې عجبه ولاړ له په حُهت
دا شرین اشنا زما چه ډېر **چهت** (۷: ۲۲مخ)

**هټ (hata)**

له آره (**Hata/هته**) هندي کلمه ده او سنسکریت ریښه لري. منیرویلیامز په انګریزي کې / struck,murder/ او تر لسو ډېري نوري معناګاني هم ورته کښلي دي. د ضدي ، نا فرمان او اعتصابي په معناوو باندي راغلې ده. میرزاخان وايي:

ته پخپله خپل حجاب شوې
د ګمان په لار کښې **هټ** (۷: ۲۹ مخ)

**سم (samyak):** سم صفت دی د خراب په وړاندي.(۱۹۱:۲۰مخ) ، میرزاخان وايي:

که په دا نظر يې وینې سود وزیان د خپلي میني
د مرشد خبره پند کړه ورځ روښانه ده لار سمه

**ګواهی (gawāhi)**

هندي کلمه ده په هندوستاني قاموس کې د شهادت، شاهدي معنا لري.(۱۸۷:۲۱مخ)

میرزاخان وایي:

نور ځای مِ د وئیلو پاتو نشه

تر دا زیات گواهي کوم چه نه ئې نلم (۷: ۱۴۸ مخ)

**سوهاگڼ(sohagṇ)**

مړوښي ښځه، هغه هندۍ مېرمنه چې مېړه یې ژوندی وي، همداسي (جوگني jogni) ترکِ دنیا ښځینه راهبي ته وایي.(۲۳:۲۸۸مخ)

**سوگند (sogand)**

قسم، لوړه، هندي کلمه ده. میرزا خان وایي:

د آشنا په اشنایي مي دي سوگند وي

که ناحق مي زړه په بد د چا خورسند وي (۷: ۲۰۴ مخ)

**گنگا(ganga)**

د هند پېژندوی سیند دی چې د همالیا د غرونو سرچینه اخلي او د بنگال په خلیج کې توېږي. گنگا په رامایانا کې چټک او گړندي معنا سوی دی. په هندویزم کې د گنگ په نوم یوه الهه ده. د گنگا سیند د هیماونت او مینا لور او د شنتانو مېرمن او د بهیشم مور وه. د هندوانو په باور چې په آسمان کې د گنگا په نوم سیند سته او د گنگا په نوم سیند تر ځمکه لاندي هم بهېږي. هر کال میلیونونه هندوان د گناه د رژولو په خاطر په کې لمبېږي. (۲۴:۲۳۳مخ)، میرزاخان روښاني وایي:

ای میرزا محیط و هر چا رسېدلی

او گنگا پر شمس آباد ځي پر قنوج (۷: ۳۲ مخ)

**پهت(pāhāta)**

هند کې د سپینو توتانو درخته ده، پنډه تنه او بدنه یې ده، له دړو یې کلکین، دروازې او صدوقان جوړېږي په انگریزي کې Indian mulberry ورته وایي. *تلسي* هم یوه کوچنۍ درخته ده چې د هندوانو په باور مقدسه ده. پیغلي یې د خپلو نامزادانو لپاره اوبوي او خړوبوي.(۲۳:۳۴۴مخ)، میرزاخان وایي:

دغه یار زما معنی زه ئې صورت وم

اوس بې یاره لکه تش بکس د پهت (۷: ۲۲مخ)

له پورتني پهت څخه د میرزا مطلب د پهت له لرګي جوړ صندوق دی.

**سنجاپ**(sanjāp/)

سنجاپ زړه هندي کلمه ده له آره د یو ځای نوم دی. په سنسکریټ کې سنجاپتي فعل(sam- jap}sañjapati ) ګډو وډ خبرو ته وايي. د رامایانا په متن کې "جاپ = jāp " دعاکولو ته ویل سوي دي.(۱۸:۶۷مخ)، میرزاخان وايي:

که رښتني اختیار یو اندېښنې ډېرې
آس یکرنګ نیلی خوښېږي له **سنجاپ** (۷: ۲۲مخ)

**پایله**

پښتو او هندي – (سانسکریت) د یوې اندارووپایي ژبکورنۍ څخه دي او یو له بله نژدې فونولوژیکې او مورفولوژیکي اړیکي لري. دلته د میرزاروښاني پرکلام د هندي – سنسکریت ژبې پر لغوي (lexicology) اغېز و ړغېدو. د میرزاخان روښاني په شعر کې دا ډول لغوي څرکونه د تاریخ په اوږدو کې د ټولنیزو، سیاسي ، اقتصادي او فرهنګي اړیکو او تماسونو په پایله کې شوی دی. دې ته ورته د افغانستان د ختیځي خوا د ډېری شاعرانو په شعرونو کې هم یاد څرک لیدل کیږي.

**مأخذونه**


۱. البیرونی، ابوریحان ، تحقیق ماللهند. ایران چاپ، ۱۳۶۲ش، ۲۵۲مخ.

۲.ګزیده اوپنیشادها، ترجمه صادق رضا زاده شفق، تهران، ۱۹۶۶م

۳. پریم چند، پریم پچیسی، ۱۹۳۶، ۲، ۸۲/اخترنګینوی، ناز و نعمت (مثنوی)

۴. M.Moner.williams,A Sanskrit- English Dictionary(Etymologically and philologically arranged),۱۶th reprint DelhiP ۳٤

۵. سرمحقق زلمی هېوادمل، په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې پړاوونه، د افغانستان د علومو اکاډمي: دریېم چاپ، ۱۳۹۶ش

٦. بررسی تطبیق مراسم نوروز در ایران و هند، مجله تخصصی نور، ۱۳۸۵، شماره ۲۲

۷. د میرزاخان انصاري دیوان، د همېش خلیل سریزه په، دارالتصنیف: پېښور ۱۹۵۹م

۸. د واصل روښاني دیوان، د څېړنپوه زلمي هیواد مل سریزه، سمون، لمنلیکونه او نښلوني، د افغانستان، د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز: ۱۳۶۵ لمریز

۱۰. والمیکـــي، تلسيـ داس، رامایانـــا، فـــارسي ترجمــه، امرسنگهــ، امرپرکـــاش، ۱۳۵۲ش، ۵۹۵ مخ

۱۱. Mir amman,Ikram ali,Hinustani Dictionary,calcutta ۱۸۳۷

۱۲. محمد پادشاه، فرهنگ آنند راج، لومړی ټوک، د دبیر سیاقي تـر نظر لانـدي، تهران.

۱۳. میرزاخان ابن فخر الـدین محمـد ، تحفـة الهنـد، لـومړی ټـوک (۱۱۱۰ هجـری شاوخوا)، د دکتور نورالحسن انصاری په سمون او سریزه.

۱۴. سرمحقـــق دوســـت شـــینواری، زړه پانگـــه، لـــومړی ټـــوک، د افغانســـتان د غلومواکاډمي، د پښتو څېړنو بین الملي مرکز: ۱۳٦۳ ش

۱۵. شریف الله دوست، د هلمند دودونه، ناچاپ اثر

۱٦. قلندر مومند، فرید صحرایی، دریاب (پښتو لغت)، پېښور، ۱۹۹۴م

۱۷. پښتو – پښتو تشریحي قاموس دوهـم ټـوک، د افغانسـتان د علومـو اکـاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز: مډیوتیک چاپ، ۱۳۸۳ ش

۱۸. Omkar N.koul,modern Hindi Grammmar,Dunwoody press,۲۰۰۸.

۱۹. Dr.C.kunhan Raja,Persion – Sanskrit grammar,INDIAN COUNCIL FOR CULTURAL RELATION,NEW,DELHI,۱۹۵۳,P ۷

۲۰. Dr.C.kunhan Raja,Persion – Sanskrit grammar,p ۸

۲۱. nary.org/wiki/%D۸٪A۲٪D۹٪۸٦٪D۹٪۸٦٪D۸٪AF

۲۲.www. spoken Sanskrit-English Dictionary.com/۱۸۹۲ .https://ur.wiktio

۲۳.Ashok parkashan,Advanced URDU-ENGLISH Dictionari,Delhi ۲۰۱۰.

۲۴.www.English – Sanskrit dictionary(spoken),s and, n.

څېړندویه سونیا صمیم هوتک

# میرزا او ارخاییزم

# Mirza and Archaism

**Researcher Sonia Samim Hotak**

## Abstract

Archeology refers to that name or term that its nominal is used in society based on a necessity, but its name or term has been lost and the speakers of that language are unfamiliar with its usage. In the ancient and classical period of the Pashto literature lots of nouns, pronouns, adjectives, adverbs, verbs and prepositions are used which are now extinct in living language or its meaning and concept has changed.

The Roshania period in Pashto language and literature is a very rich period in terms of concepts and use of the language and in spite of its other special features the poets and writer of this period have also used some words that are not used now and they called archaic. In this article we investigate the words of Archaic in the poems Of Mirza Khan Ansari.

## لنډیز

ارخاییک هغه نوم یا اصطلاح ته ویل کېږي چې نومولی یې د ټولنې په ژوند کې د یوې اوږدې مودې لپاره استعمالېږي، خو نوم یا اصطلاح یې له منځه تللې وي او د هغه له استعمال سره د ژبې وګړي نا آشنا وي. د پښتو ادب په لرغونې او کلاسیکه دوره کې ډېر نومونه، نومځري، ستاینومونه، قیدونه، فعلونه او وییکي کارول شوي دي چې اوس په ژوندۍ ژبه کې له منځه تللي او یا یې په معنا او مفهوم کې څه بدلون راغلی دی.

روښاني دوره په پښتو ژبه او ادب کې د مفاهیمو او ژبې د کارونې له پلوه یوه ډېره شتمنه دوره ده او د نورو ځانګړنو ترڅنګ، د دې دورې شاعرانو او لیکوالو داسې کلمې هم کارولې دي چې اوس نه کارېږي او ورته ارخاییک ویل کېږي. په دې لیکنه کې د میرزا خان انصاري په شعرونو کې راغلې ارخاییکې کلمې څېړو.

## سریزه

ژبه د طبیعت د نورو پېښو په شان زېږي، غوړېږي او بشپړېږي، خو که د بشپړتیا او ودې ځواک و نه لري له منځه ځي او ځای یې نورې ژبې نیسي. ژبه په خپل ځواک د اړتیا پر مهال نوي لغتونه جوړوي، ګرامري بشپړتیا مومي او د مهال په تېرېدلو سره بدلونونه مني. په ژبه کې ډېر نوي لغتونه د نیولوګیزم یا د اخیستنې له لارې د اړتیا له امله منځ ته راځي، خو ډېر ځله داسې کېږي چې د یوې ژبې ځینې لغتونه د مهال په تېرېدلو سره یا خپل ځای بل لغت ته پرېږدي او یا یې بڼه څه نا څه واوړي. په دې توګه ژبه د تکامل خواته روانه وي. د ساري په توګه که د پښتو ژبې کلاسیکه او معاصره لغوي پانګه سره پرتله کړو؛ نو دا پوښتنه رامنځ ته کېږي چې په معاصره لغوي پانګه کې ډېر ځله داسې تشه ګورو چې له پردیو ژبو څخه په را اخیستل شویو لغتونو ډکه شوې ده لکه سفر، اتفاق، نصیحت، قحط او داسې نور. دلته دا پوښتنه پیدا کېږي چې د دغو مفهومونو د افادې لپاره به پخوا پښتو کوم لغتونه لرل چې اوس له کارېدنې لوېدلي دي.

له ژبې څخه د یوه لغت لوېدل کله له دې امله وي چې د لغت د مفهوم او مسمی لپاره نور د ټولنې په اړتیاوو کې ځای نه وي پاتې؛ نو مسمی چې د کارونې او د اړتیا له ساحې ووځي د لغت د کارونې ځای هم نه پاتې کېږي.

د یادونې وړ ده چې که په ارخاییکو کلمو باندې څېړنه وشي؛ نو په ارادي ډول به

راژوندۍ شي او د زړو متونو د لوستنې او پوهېدنې تر څنګ به د وییپانګې په بډاینـه کې هم ډېره مرسته وکړي. د ساري په توګه موږ د دې ارخاییکو کلمو راژوندۍ شـوې بېلګې هم لرو لکه «اېواد» چې اوس د « هېواد» په بڼه او همدارنګه ګروهـه، ګانـده او داسې نورې کلمې راژوندۍ شوې او عملاً کارېږي.

په دې لیکنه کې به له روښانې دورې څخه یواځې د میرزا خان انصاري پـه کـلام کې راغلې ارخاییکې کلمې وڅېړو، موږ دا ادعا نه شو کـولای چـې د میـرزا خـان پـه شعرونو کې راغلې ارخاییکې کلمې ټولې د پښتو سوچه کلمې دي. دا چې دا کلمې د کومې ژبې دي زموږ د څېړنې اصلي موخه نه ده، بلکې په دې لیکنه کې دا څېړل شـوې ده چـې دا کلمــې پـه لرغـونې او کلاسـیک ادب کـې ژونـدۍ وې، خـو اوس متروکې دي او د ارخاییکو کلمو تر سرلیک لاندې مطالعه کېږي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د ارخاییکو کلمو په پېژندنې به د زړو او کلاسیکو متونو لوستل آسانه او پر معنا او مفهوم به یې هر څوک پوه شي.

متروکې کلمې به راژوندۍ شي، د ژبې په ژوندي ساتلو کې به خپله ونـډه تـرسره کړي او همدارنګه د ژبې د وییپانګې په بډا ینه کې به برخه واخلي.

## د څېړنې موخې

د ارخاییزم پر مفهوم او د میرزا خان انصاري په کلام کې د راغلو ارخـاییکو کلمـو پر معنا، مفهوم او د کارونې پر ځای یې پوهېدنه، او د دې سپړنه چې د میرزا د کـلام راخـاییکې کلمــې یـوازې ارخاییـک نومونـه دي او کـه نـه پـه نـومځرو، سـتاینومونو، قیدونو، فعلونو او وییکو کې یې هم بېلګې لرو.

## د څېړنې پوښتنې

۱. ارخاییک څه ته وایي؟

۲. ارخاییکې کلمې کومو کلمو ته ویل کېږي؟

## د څېړنې میتود

په دې لیکنه کې له تشریحي او تحلیلي مېتودونو څخه ګټه اخیستل شوې ده.

## د ارخاییزم پېژندنه

د ارخاییزم کلمه د زړې یوناني له Archaios ریښــې څخـه جـوړه شـوې ده. کلـه چې په یو نوم د بلل شوي مسمی څیز ته د استعمال د پاره د ژبې د ویونکو پـه ژونـد کې اړتیا پاتې نه وي؛ نو لکه څنگه چې نومول شـوی څیـز د ویونکـو لـه یـاده وځــي همدارنگه د هغه نوم هم نور ژوندی نه پاتې کېږي. که د ژبې د لغوي پـانگې نـه یـوه کلمه یا یو ترکیـب د نـه اړتیـا لـه املـه ووځــي او لـه اسـتعمال څخـه ولـوېږي دې تـه ارخاییزم ویل کېږي.

په آریانا دایرة المعارف کې د ارخایېزم په اړه راغـلي دي: ارخاییزمونـه یـا لرغـونې کلمې هغه کلمې او عبارتونه دي چې پخوا د ژبې عمومي کلمې وې او اوس په نویـو کلمو اوښتي دي، یعنې کله چې کلمې نوی سینونیم پیدا کړی دی د کـارونې ونـډه یې محدوده شوې او د ارخـایېزم پـه کـړۍ کـې شـامله شـوې ده. د ارخـاییکي کلمـو سینونیمونه یا پور کلمې تشکیلوي او یا نوې جوړېږي کله چې نوې کلمې د قاعدوي ارزښتونو پر بنسټ په بدیعي آثارو کې منځ ته راځي، د پخوانیو کلمو د کارونې کـړۍ را تنگیږي او په پای کې د لرغونو کلمو (ارخاییزم) په کتار کې دریـږي. ارخـاییزم پـه دوه ډوله وېشل کېږي لغوي او معنوي. (۱: ۳۰۰ـ ۳۰۱ مخونه)

د څېړنپوه دوست شینواري په وینا ارخاییک هغه نوم یا اصطلاح تـه ویـل کېـږي چـې مسمی یې د ټولنې په ژوند کې د یوې اړتیا لپاره استعمالېږي، خو نوم یا اصطلاح یـې لـه منځه تللې وي او د هغه له استعمال سره د ژبې وگړي نا آشنا وي. (۸ : ۲۴ مخ)

د محمد آصف صمیم په وینا ارخاییزم هغه وییونه دي چې په گړنـۍ ژبـه کـې نـه کارول کېږي او یواځې د زړې پانگې په توگه په لیکنۍ ادبي ژبه کې کـارېږي لکـه د پښتو اتل، بامل، من او ... (۱۳: د سریزې څلورم مخ)

په دې لیکنه کې د میرزا خان په شعرونو کې راغلـې ارخـاییکي کلمـې پـه شـپږو کټه گوریو(نومونو، نومځرو، صفتونو، قیدونو، فعلونو او وییکو) کې څېړل کېږي.

### الف) ارخاییک نومونه

د پښتو ادب په لرغونې او کلاسیکه دوره کې داسې ډېر نومونه کـارول شـوي دي چې اوسمهال له منځه تللي او یا یې په معنا او مفهوم کې څه بدلون راغلی دی.

**۱ـ نَیُوز(nioz):** د نېز، سېلاب او طوفان په معنا دی.(۲: ۲۶۲ مخ).

اصل کلمه يې نېز ده، خو د لهجوي بدلونونو له امله تر (نـون) وروسـته (واو) ور زيـات شوی؛ نو د نيوز بڼه يې خپله کړې ده. دا کلمه له ځينو مشتقاتو لکه (نېـزوړی) پرتـه اوس متروکه ده. ميرزا خان انصاري په خپل کلام کې د نيوز کلمه داسې راوړې ده.

د آشنا بيلتون مې مرگ معنوي دی
لـکه **نيوز** د تازه کښت واله کا خنډه
(۲: ۱۲۷ مخ)

**۲ـ مالڼه (mālәṇa):** ۱ـ د محبـوب، معشـوق ۲ـ ماليـار، بـاغوان پـه معنـا دی.(۳: ۲۸۳۵ مخ)

څو له خارو له خاشاکه خالي نه شي
پـــه پټي گـــــلونه نه کري **مـــالڼه**
(۲: ۱۹۴ مخ)

**۳ـ پُوم(pum):** پومه، پم، هغه ناروغي چې بدن خارښت کوي. (۱۳: ۴۸ مخ)

بد خارښت يې په نادانو باندې خور که
دانـــايان خپــسر ساتي له هسې **پـــومه**
(۲ : ۱۸۵ مخ)

**۴ـ زَلِيچَه(zaliča):** زلوچه، قالينه، قالينچه، غالی. (۲:۲٦۰ مخ)

ښايي د زل«zal» له کلمې سره هم ارتباط ولري چې په آس يا مرکب بانـدې يـې اچوي. ميرزا په دې توگه کارولې ده:

يو عـــجب د لاندې ځمـــــکه **زليچه** ده
پرې د پاسه شين آسمان لکه پرکار شي
(۲ : ۳۸ مخ)

**۵ـ وَرگ (warg):** د مېږو او اوښانو هغه وړی چې کلوښتې کلوښتې نه، بلکې يـو ځايي د پوستکي په څېر ترې وسکلول شي قاموسونو د ژوي د بدن وېښته او وړی په معناوو را اخيستی دی، خو هر ډول وړيو ته نـه ويـل کېـږي. (۵: ٦٦۴ مخ)،يـو کلـن اوښ، پنځه کلن گډ يا پسه ته هم ويل کېږي.

په دنيا په آخرت کې به بـــد رنگ شي
لکه اوښ چې خارښتی ووځي له **ورگه** ( ۲: ۱۷٦ مخ)

**٦ـ دُربَلَی (durbalay):** دا کلمه په پښتو- پښتو تشریحي قاموس کې د زولانه، بېړی، د پښو کړی، ځولانه په معناوو راغلی دی. (۴ ـ ۱۲٦٦مخ) د تپلي مانا هم لري. میرزا خان انصاري دا کلمه په خپل کلام کې داسې راوړې ده:

تن تاریک زړه یې لحد روح یې مرده شو
آراسته صورت یې گور بانـدې **دربلی**
(۲: ۴٦ مخ)

**۷ـ تښتن (teştən):** په ظفراللغات او پښتو- پښتو تشریحي قاموس کې د څښتن، بادار، مالک او آقا په معناوو راغلی دی. (۱٦ ـ ۲٦۸ مخ)

چې موجود ته ثریا دی له ثرا
د **تښتن** له حکمه نه دی ماورا
(۲ : ۵۷ مخ)

**۸ـ داوَڼ (dāwan):** په پښتو- پښتو تشریحي قاموس کې د پوړنې، پړونې، زړوکي، ټیکري، شال په معناوو او په ظفراللغات کې د پړونې، زنانه څادر، زنانه چادر په معناوو راغلی دی. (۱۴: ۴۵۴ مخ)

جمال یې ښایسته که په خالونه
او د پاسه یې پر سر **داوڼ** د ناز که
(۲ : ٦۰ مخ)

**۹ـ دَرَم (daram):** په ظفراللغات کې د حیا، برم، دبدبې، شان او شوکت په معناوو خوندي دی. (۱۴: ۴۵۷ مخ)

نه مې شرم شته نه **دَرَم** په حساب کښې
چې له یار سره لاړ نه شوم په رکاب کښې
(۱۵: ۱۴۰ مخ)

له یوه اصله راتله هورې ورتله دي
دا جـهان دغه یې کار دغه یې **دَرَم**
(۲: ۲۵۸ مخ)

د دېوال د تکیې، پشتی، کوچني دېوال چې د رپک په شکل د دېوال مخ ته پورته کېږي په معناوو هم راغلی، خو په دې معناوو اوس متروک دی. (۳، دویم ټوک: ۱۲۷۸ مخ)

**۱۰ـ دَښنه (daşnə)**: دښمن، مېرځمن. (۱۴:۴۷۰مخ)

دا دوستي به و دوستانو وته وروړې
او **دښـــنې** به له **دښنو** سره مل کړې
(۲ : ۲۲۹ مخ)

**۱۱ـ اَرُوړ(aroṛ)**: په ظفراللغات کې د ۱ـ بغض، رخه، کینه، حسد، ۲ـ هغه سړی چې ژبه يې نښلي په معناوو دی. (۱۴ :۲۸ مخ)

په پښتو ـ پښتو تشريحي قاموس کې د ۱ـ رخه، کینه، کست، بغض، بې ځایه دښـمني، بدنیتي ۲ـ نیم ژبي، هغه سړی چې ژبه يې بندېږي په معناوو خوندي دی. (۳ : ۴۵ مخ)

چې بې رنګ يې د باور په سترګو ګوري
د مخلـــص له دله مـــحوه کل **اروړ** شو
(۲ : ۱۰۳ مخ)

**۱۲ـ تِچ (tič)**: په پښتو ـ پښتو تشريحي قاموس کې د تېکي، تیکـی، د تـورې يـا چړې د پوښ په معناوو خوندي دی. (۳ : ٦۲۴ مخ)

دا شرير کـــبر بدل په کهتری کړه
د غرور توره دې کښېباسه په **تچه**
(۲ : ۱۲۰ مخ)

**۱۳ـ ترګه (tərga)**: پـه زړه پانګـه کـې د شـپول، قیـد، حـبس او بنـد پـه معنـاوو دی.(۵ : ۱٦۳ مخ)

د پرون وعده دې نن وه
نن دې پاته شوه **تـــرګه**
(۲: ۱۹٦ مخ)

**۱۴ـ ټاپ (ṭāp)**: په زړه پانګه کې د ارمان، حسرت، افسـوس او سـوز پـه معنـاوو دی. (۵:۱۹۵ مخ)

اې میرزا قدم د پیر په قدم کېږده
پر غلطه لار به سود نه وي بې **ټاپه**
(۲ : ۱۱۰ مخ)

**۱۵ـ سپَنډخ (spanḍıx)**: پنډوس، د مړ خوسي څرمن چې له بوسـو څخـه ډکـه

شوې وي او غوا ته يې مخکې ړدي. (٦١-٥٦٩ مخ) میرزا خان انصاري دغه کلمه په خپل کلام کې داسې راوړې ده:

شيرين عمر په هرزه در څخه درومي

لکه دوړ چې نيسي اخلي له **سپنږخه**

(٢ : ١٢٣ مخ)

**١٦ـ سانَه(** **sāṇa)**: د خبرې په معنا او د میرزا په کلام کې په دې ډول راغلې ده:

پووندہ و مـــزارع ته وکړه **سانه**

د زړه ذکر دې پټې شو پوله پانه

(٢: ١٩٣ مخ)

**١٧ـ ښاخ (ṣāc)**: په پښتو- پښتو تشريحي قاموس کې د غرور، لويي، په مال او شتو سره غره کېدنې او په ظفراللغات کې د کبر او په مال او دولت د لويي په معناوو راغلی دی. (١۴: ٦۵٧ مخ)

که د عــــــــشق په ميو مست له ځايه پاڅي

نور به هېڅ کله خلاص نه شي له دې **ښاخې**

(٢ : ٢۴١ مخ)

**١٨ـ مَـواس (mawās)**: پـه پښتو- پښـتو تشـريحي قـاموس کـې د ١ـ غمخـور، ساتونکي ٢ـ موچي ٣ـ چغلي کوونکي، چغلګر، غماز، شيطان ۴ـ تګ، مزل او ۵ـ پناه په معناوو راغلی دی. (٣، څلورم ټوک: ٢٩١٨ مخ)

او په زړه پانګه کې د ١ـ ساتونکي، حافظ مجازاً مشر ٢ـ نوکر، نفر خدمت ٣ـ اشغال ګر، تالا کوونکي په معناوو هم راغلی دی. (۵: ٦٠٧مخ)

ستا که وېره شي په ځان کې له **مواسه**

تـــل و زړه ته پـــهردار شه له وسواسه

(٢ : ١۴٩ مخ)

**١٩ـ ګرَام (gram)**: ګرام يـوه لرغـونې آريـايي کلمـه ده چـې پـه پخوانيـو اريـايي قبايلو کې د څو عشيرو مجموعې ته ګرامه ويل کېده. علامـه کهزاد پـه خپـل اثـر د افغانستان پخواني تاريخ کې ورته د مجموعې تحت الفظي معنا ليکلې ده. البتـه پـه دې اړه نورو څېړونکو هم په لږ څه بدلون سره خپلې نظريې څرګندې کړې دي، لکه

جرمني عالم(زیمر) د عشیرې په معنا اخیستې ده او ګرامه یې د کورنۍ او قبیلې تر منځه یعنې (ټبر) په معنا ژباړلی دی.

آریایانو به د عشیرې په ډول له یوه ځایه بل ځای ته سفر کاوه چې یو مشر به یې درلوده، دغه مشر ته به (ګرامني) یعنې د عشېرې مشر ویل کېده. په کوم ځـای کـې به چې څو عشیرې مېشته شول او د یو مشر په لارښوونې به یې کرنه پیـل کـړه، دغـه ځای ته به ګرامه ویل کېده. دغه کلمـه پـه پښـتو او اردو ژبـو کـې د کـلي پـه معنـا د ځینو ځایونو د نامه برخـه ګرځېـدلې ده، لکـه: باګرام(خـدایي کلـی، خـدایي ښـار)، کاڼیګرام، بټه ګرام، اوډي ګرام او نور. (۱۱: ۱ مخ)

په زړه پانګه کې د استوګنځي، کلي، سیمې، ټـاټوبي پـه معنـاوو خونـدي ده او د څو کورنیو د ټولګې معنایې لرله. (۵: ۵۲۳ مخ)

که د شاه په کیل دې زړه دی
لېرې نه دی ستا له **ګـــرامه**
(۲ : ۱۸۱ مخ)

**۲۰ـ مَنَی (manay):** د میرزا خـان انصـاري د دېـوان پـه وییپانګـه کـې د هـار او امیل په معناوو دی. (۲ : ۲۶۱ مخ)

یو عجب ښایسته **منی** یې پېیلی
چې هزارو یک یې لړاته کړینه
(۲ : ۱۹۵ مخ)

**۲۱ـ اَلوَند (alwand):** په زړه پانګه کې د هسکې څوکې لرونکی آسمان خراش، هغه څوکه چې له ډېر لوړوالي نه کږه ښکاري. پـه ساسـاني پـارسي کـې (ارونـد) پـه دغه معنا موجود و چې ریښه یې یـوه ده. د منځنـۍ فـارسي قـاموس د یـوه غـرهٔ نـوم بللی دی. (۵: ۱۹ مخ) او په ژبپانګه کې یې ورته د حاجب، حایل او ډېر لوړ معناوې هم لیکلي دي. (۶: ۱۵ مخ)

چې د نام و ننګ شېوه په بې رهۍ کا
کم دلـــیل عالم د لاندې تر **الوند** وي
(۲: ۲۳۹ مخ)

**۲۲ـ اَش (aš):** پـه زړه پانګـه کـې د طمـع، امیـد، آرزو پـه معنـاوو راغلـی دی. د

(اښوه) په بڼه په تره کو کې ژوندۍ کلمه ده. تشریحي قاموس اښوه د (تلوسه، بیړه، تپاک) په معناوو اخیستې ده. (۵: ۱۲ مخ)

ښه راحت د قرارۍ به دې خپل شي
که پرېشان خاطر دې رانسي له **اشه**
(۲ : ۱۵۳ مخ)

**۲۳ـ اُورپښتَی (orpəṣ̌tay):** په زړه پانگه کې د دې کلمې په اړه راغلي: پتنگ، قاموسونو په دغه معنا (اورپښت) هم اخیستی، خو په کلاسیک ادب کې یوائې د (اورپښتي) په بڼه راغلی دی. (۵: ۲۹ مخ)

که مــجاز د حقــــیقت له مخه واخلم
دا **اورپښتی** به تر بلې ډېوې جار کړم
(۲ : ۸۰ مخ)

**۲۴ـ اَهِیـر (ahir):** د میرزا خان انصاري د دېوان په وییپانگه کې د غوبه، شپونکي او ښکاري په معناوو راغلی دی. (۲ : ۲۵۹ مخ)

دا ژغرویه د هر کښت ده
هم د هر حـــــیوان **اهیره**
(۲ : ۱۳۹ مخ)

**۲۵ـ پَرِیڼ (pariṇ):** په پښتو- پښتو تشریحي قاموس کې د بندوبست، سرشته، تنظیم، جوړښت او ترتیب په معناوو راوړل شوی دی. (۳ : ۷۱۰ مخ)

او لاهـــوت یې مـعرفت د عارفانو
چې هېڅوک یې خبر نه دی له **پرینه**
(۲: ۱۹۵ مخ)

**۲٦ـ کاهَښت (kāhaṣ̌t):** ۱ـ کهښت، سودا، وسواس، تشویش، د وېرې هغه غبرگون چې په یوه چا کې د یوې خبرې یا د کوم کار د اجراء د ناسمې پایلې په تصورولو سره پیدا کېږي ۲ـ خارښت، عبث، (۳ ځلورم ټوک: ۲۴۲۰مخ)

په زړه پانگه کې د کاهښت په اړه لولو: د خارښت په معنا. ظفراللغات مجازاً د عبث په معنا اخیستې ده. د کهښت په املا هم راغلې دی. (۷ : ۳۵۹مخ)

بد گـــومان يې همــېشه د زړه **کاهــښ** شو

په حيات صورت به خلاص نه شي له پومه

(۲ : ۱۸۳ مخ)

**۲۷ـ تَهَمتَن (tahamtan)**: د محمد آصف صميم په وييزېرمه کې په دې اړه راغلي: هم+تن، زړور، څربه، رستم، قوي پهلوان. (۱۳: ٦۴ مخ)

دغه دېو که د دښنه په هوا پاڅي

ور خبر به باوره **تهمتن** کړم

(۲ : ۸۱ مخ)

**۲۸ـ ځـانَه (ājna)**: په زړه پانگه کې د وچې او بې شـيدو په معـناوو راغـلې ده. (۵: ۲۵۵ مخ)

چې په زړه باندې ښراغ د عقل نه وي

د نـــــادانـــــو ناپوهي ده **ځـانه** غوا

(۲: ۲۵۵ مخ)

**۲۹ـ ټُوڼَى (ṭoṇay)**: د ميرزا خان انصاري د دېوان په وييپانگه کې د جادو، تعويذ، کوډې، ټوټکې په معناوو راغلى دى. (۲ : ۲٦۰ مخ)

کــوم سحرگر وکړي په تا **ټوڼي**

چې دا هسې په فساد پر بله موڼي

(۲ : ۲۴٦ مخ)

**۳۰ـ کُوڼَى (kuṇay)**: په زړه پانگه کې د واينـه، لرگـي خـوړونکى چينجـي په معناوو خوندي دى، په تاريخ مرصع کې گوڼى ليکل شوى. د شينوارو په لهجه کې کوڼى وړوکى خزنده دى چې د مېږو او وزو په غوږونو کې وي او وينه يې ښبـي (کوڼياکه) هم ورته ويل کېږي او کوڼريان يې کوڼى بولي. (۷ :۵۰۹ مخ) په فـارسي کې يې کنه «kana» بولي.

د غافل خاطــر تمام انديښنو وخوړ

دوى دا هسې پورې نښتي لکه **کوڼي**

(۲ : ۲۴٦ مخ)

**۳۱ـ لِچ (lıč)، لَچ (Lač)**: پـه ظفراللغات کې د سترگو درد، د درد څړيکې په

معناوو راغلی دی. د سترګو یوه ناروغۍ ده چې سترګې سرې کوي او اوښکې ترې بهېږي. لمر ته سترګې نه شي غړولای. (۱۴: ۸۵۹ مخ)

بده طمع د سترګ خوږو په دود ښوري

ته په ښه توکل خلاص کړه دوی له **لچه**

(۲ : ۱۲۰ مخ)

**۳۲ـ ژغـروَی (žğərway):** پـه وییزېرمـه کـې د سـاتنې، ژغـورنې، ژغورنـدوی، ساتندوی په معناوو راغلی دی. (۱۳: ۱۲۱ مخ)

په وحدت کښې یګانـه ده — بې شـــریکه بې نظـــیره

کثرتي لښــکر یې جوړ کړ — ګه پادشاه ګــــهې وزیره

دا **ژغرویه** د هر کښت ده — هم د هر حــــیوان اهیره

(۲ : ۱۳۹ مخ)

**۳۳ـ جَـوَس (jawas):** پـه وییزېرمـه کـې د انګـړ او غـولي پـه معنـاوو خونـدي دی.(۱۳: ۷۲ مخ)

د قضا شاهین یې چا لیدلی نه دی

په دنیا کې استوګې پر **جوس** کا

(۲: ۵۹ مخ)

**۳۴ـ ښُـوڅَه (Şuca):** د محمـد آصـف صـمیم پـه وییزېرمـه کـې د سـوړې پـه معنا.(۱۳: ۱۴۷ مخ)

میرزا انصاري په خپل کلام کې داسې راوړې ده:

چې په هسې تروړمۍ درومې په کوڅه

د ناسوت کوڅه هر ګور ده ښوڅه **ښوڅه**

(۲ : ۱۲۱ مخ)

**۳۵ـ کَړهُوڅَـه (kaṛhuca):** پـه وییزېرمـه کـې د کنـده او جـوغړ پـه معنـاوو دی. (۱۳: ۱٦۲ مخ). دا کلمه میرزا خان په خپل کلام کې داسې کارولې ده:

د غفلت په خمار مست پر بله ګرځې

چېرې نه چې پښه دې کښېوځي په **کړهوڅه**

(۲:۱۲۱ مخ)

**۳٦ـ کهت (kəhət):** په وییزېرمه کې د کهښت، گرولو او خاربښت په معناوو راغلی دی. (۱۳ :۱٦۹ مخ)

له هستی به د فنا په قدم درومم
دا وجود توره تیاره شي د ځان **کهته**
(۲ : ۱۱۴ مخ)

**۳۷ـ گُورَنډ (goranḍ):** د تنگ ، تیاره کور، زوړ ژور قبر په معناوو دی. (۱۳: ۱۷۷ مخ)
میرزا خان په خپل کلام کې دا کلمه داسې راوړې ده:

چې څراغ د معرفت پکې بل نه وي
دا صورت توره تیاره خالي **گورنډه**
(۲ : ۱۲۸ مخ)

**۳۸ـ مِیَور( myawr):** تاووس (۱۳: ۲۰۵ مخ)

ډېر په بال او په پر غرور وینم د **میور**
چې دا هسې په شبوه گرځي په دور
(۲ : ۷۱ مخ)

**۳۹ـ هَټ (haṭ):** رد شوی، نامنلی (۱۳: ۲۳۳ مخ)

ته په خپله خپل حجاب شوې
د گومان په لار کې **هټه**
(۲ : ۱۱٦ مخ)

**۴۰ـ هُوټ (huṭ):**خټ، جسد، لاښ (۱۳: ۲۳۸ مخ)

که ظاهر په صورت لوی په همت کم یې
خدای دې واخله د اوبو د خاورو **هوټه**
(۲ : ۱۱۷ مخ)

**۴۱ـ سَند (sand):** د ۱ـ رای، نظر، فکر ۲ـ یووالي، وحدت، اتفاق ۳ـ پرېڼ، مصلحت، تدبیر ۴ـ لمسون، تحریک، تلقین ۵ـ د نیت او ارادې په معناوو دی. (٦: ۳٦۵ مخ)

تا وینا کړه په زړه **سنده**
چې هارون و ته شفیق کړه
(۲ : ٦ مخ)

**۴۲ـ اُورَه (ora):**ووره، وریا، وربځ، باراني وربځ، د توري باراني وربځ په معناوو راغلې دی. د میرزا خان انصاري په شعر کې په دې ډول کارول شوې ده.

له **اورو** یې ښه باران پر ځمکه کښې کړ
ځای په ځای یې نباتات باندې کرلی
(۲: ۴۴ مخ)

د گومان **اوره** به وسوځي یکباره
پر اشنا باندې چې هسې آسمان شین کړم
(۲ : ۷۹ مخ)

## ب) ارخاییک نومځري

**۱ـ هُوی(hoy):** هغه، هوغه، دغه، دا،هغه، هایه، ها. (۴: ۱۲۲ مخ)

**هوی** زړه دې عجب باغ په مېوو پر دی
ته یې خلاص کړه له دغه نژدې کرگسه
(۲ : ۱۵۰ مخ)

## ج) ارخاییک صفتونه

موږ د پښتو په کلاسیک ادب کې له ډېرو داسې صفتونو سره مخامخېږو چې په معاصره ادبي ژبه کې له منځه تللي دي. د هغوی ځای یا د خپلې ژبې نورو صفتونو نیولی دی او یا د نورو ژبو کلمو د هغوی ځای ډک کړی دی. موږ له دې ډول صفتونو څخه یواځې هغه صفتونه را اخلو چې د میرزا خان انصاري په شعرونو کې راغلي دي.

**۱ـ نَلُوب:** نروب، مایع د نروب اوښتی شکل دی. (۵: ٦۴۰ مخ)

که اختیار دې د دیدن په تزکیه شي
د کوښښ په اور یې وچ کړه له **نلوبه**
(۲ : ۱۰٦ مخ)

**۲ـ زَهُوب(zahob):** زوه، زوې، د زخم اوبه. (۳، دوهم ټوک: ۱٦۲۱ مخ)

د صورت په ډنگرۍ د زړه صافي ده
په څربښت به زیاته نه کړې بې **زهوبه**
(۲ : ۱۰۷ مخ)

**۳ـ بزه کار** (**bəzəkār**): د گناهگار، مجرم په معنا. بزه د گناه او جرم پـه معنـا او جمع يې بزې ده. بزه کار په پښتو کې راغلی دی. (۹: ۱۱ مخ)

خو په پښتوـ پښتو تشريحي قـاموس کـې د تنـگ، اړ، محتـاج، شرمنـده، خجـل، گناهکار، مجرم، لاس وهونکي معناوې هم ورته ليکل شوي دي. (۳: ۲۵۶مخ)

چــې قبــول د نــاقبــول پــه نامـــه بــولي

په ښه خدای او په رسول به **بزه کار** شي

(۲ : ۴۰ مخ)

ای ميرزا نظر له عيبه په هنر کړه

بې وفا انديښنې مه کړه واړه **بزې**

(۲ : ۲۳۳ مخ)

**۴ـ بِيُور**(**biur**) : مشغولا، مرکې، راز، نياز، مناجات (۲ : ۲۵۹ مخ)

دی پخپله خپل حجاب شو

غافل څه زده له **بيوره**

(۲ : ۱۳۳ مخ)

**۵ـ پرُوړ** ( **proṛ**): د پروټ، پروړه، پلاله، شولوابنه په معناوو خوندي دی. (۱۵: ۴۰ مخ)

که د لو علاج يې نه کړې و به رژي

د ژوندون زراعت ورسېده **پروړ** شو

(۲ : ۱۰۲ مخ)

**٦ـ ټَنډ** (**ṭanḍ**): څرنپوه دوست شينواری په دې اړه وايي: د ټ پـه زورکـي د سـخت، کلک، قوي او سيکمن په معنا د ننگرهار د شينوارو په لهجه کـې اوس هـم ژونـدۍ کلمـه ده. ظفراللغات د ټ په زور اخيستی دی چې سم نه دی. (۹: ۱۴ مخ)

د صفات استوگه چېرې شي بې ذاته

يـــــــخ ږلۍ واوره نه پايي بې **ټنډه**

(۲ : ۱۲۷ مخ)

**۷ــ پـل** (**pəl**): پـه پښتوـ پښـتو تشرـيحي قـاموس کـې د معـافونې، بخښـنې، بخشش، عفوې په معناوو راغلی دی. (۳: ۴۹٦ مخ).

پـه ظفرالفـات کـې د (پ) پـه زورکـي د معـاف، بخښـلي پـه معنـاوو خونـدي

دی.(۱۴: ۲۰۵ مخ)

د پښتو په کلاسیک ادب کې ډېر راغلی دی:

چې په قصد و هسې جنګ و ته هوس کړي
اول خــــپله خونریزي کړه **پــــله پــــــله**
(۲ : ۱۷۹ مخ)

**۸ ـ ګایل (gāyəl):** پښتو قاموس د زخمي کولو په معنا او ظفراللغات د زخمـي، ژوبل په معنا اخیستی دی: (۹ : ۱۷ مخ)

چې په هسې تیر **ګایل** شي نه رغېږي
دا یو حــــال دی طبــیبانــو ته څرګند
(۲ : ٦۸ مخ)

**۹ـ هارُون (hārūn):** د (ځیلي، لجوج، سرتمبـه) پـه معنـا د پښـتو پـه کلاسـیک ادب کې په دغه معنا داسې راغلې ده: (۹ : ۱۹ مخ)

ته **هارون** په دغه خپله پوهه مه شه
د شفیق په چار به ورشې تر شفیقه
(۲ : ۱۷۰ مخ)

**۱۰ـ رَنګیا (rangyā):** رنګین، ښکلی (۱۵ـ ۱۱۱ مخ)

**رنګیا** خــپسر یې بې رنګه بې نــښان که
زه یې څکه په کلیات کې بې وطن کړم
(۲ : ۸۱ مخ)

**۱۱ــ رِیمَــن( reman):** خیــرن، مجــازاً مــړاوی، نــیم ژونــدی، زوړ، پخــوانی، مښلی.(۱۳: ۱۱۳ مخ)

لرغونی یې اوسنی یې
هـــم تازه یې هـــم **ریمنه**
(۲ : ۱۸۸ مخ)

**۱۲ـ بېګاړَه: (begāṛa):** وران، خراب، ویجاړ د شینوارو په لهجه کې د بې اتفـاق په معنا کارېږي. (۵ : ۸۸ مخ)

**بېګاړ:** هغه څه چې کار نه ورکوي د بېکاره مترادف دی. (٦: ۵۳ مخ)

که په رسم د رســمیو پیروي کړي
در پوهیږم خپله چار به کړي **بیگاړه**
(۲ : ۱۴۰ مخ)

**۱۳ـ نَـټ (naṭ):** د سخت تـاو، سخت نـاآرام، سخت نـاقرار پـه معنـاوو ژونـدی ده.(۵: ٦۲۹ مخ)

خو نټه (naṭa): له کار څخه د( سرغړونـې، انکـار کولـو، غـاړه غړونـې) پـه معنـاوو متروکه ده. (۳، څلورم ټوک: ۲۹۴۵مخ)

ته چې اوس د ریاضت په تاو پوخ نه شوې
د جـــحیم پر بـــټ به ســـــترې شې له **نټه**
(۲: ۱۱۵ مخ)

## د) ارخاییک قیدونه

د پښتو په کلاسیک پېر کې ځینې داسې قیدونه هم شته چې اوس نـه کـارېږي، متروک دي او ارخاییکه بڼه یې خپله کړې ده. لکه:

**۱ـ پَخښُو ( paxṣo):** بخښو، پښو، آزاد، خلاص، آرام، بېغمه. (۱۳: ۳۸ مخ)

مگر یو زمان **پخښو** شم
د دنیا له شر و شوره
(۲: ۱۳۴ مخ)

**۲ـ بَرگَټ (bargaṭ):** د میرزا خان انصاري د دېـوان پـه وییپانگـه کـې د څرگنـد، ښکاره، او اوڅار په معناوو خوندي دی. (۲ : ۲۵۹ مخ). پـه ژبپانگـه کـې پـه دې اړه راغلي: برگټ؛ ښایي د گربټ مقلوب وي. یو ښکاري مرغه دی چې له بـاز څخـه ډېـر سیکمن دی. (٦: ۴۸ مخ)

د عارف چې د باطن سترگې بینا شوې
په هر څه کې تل محبوبویني **برگټه**
(۲ : ۱۱٦ مخ)

## هـ) ارخاییک فعلونه

د پښتو ادب په لرغوني او کلاسیکه دوره کې داسې ډېر فعلونه کارول شوي چـې اوس له منځه تللي دي. دلته به د میرزا خان انصاري په کـلام کـې راغـلي ارخاییـک

فعلونه راواخلو:

**۱ـ کاږل(kāẓəl):** د زیار ویستلو، زحمت ګاللو په معنا په قاموس کې دوهم فعل داسې استعمال شوی دی:

د نېکخوا خبره نــغوږه
په مقصود پسې **وکوږه**
(۲ : ۱۳۴ مخ)

**۳ـ سَندَول (sandawəl):** د (لمسولو، تحریکولـو) پـه معنـا دا فعـل پـه دې ډول استعمال شوی دی:

مــحبت بــه دې د عــقل پــیروی کا
که دا عقل دې د عشق په رضا **سند** کړې
(۲ : ۲۲۷ مخ)

**۴ـ** د پښتو له لرغونو فعلونو څخه (**ملل، پرِیمل او پرِیمېشتل**) هم دي چې معنـا يې (استوګن کېدل، اوسېدل او مېشتېدل) ده. د میرزا خـان انصـاري پـه شـعر کـې داسې راغلي دي:

**ملل(maləl):** د پښتو په کلاسیک ادب کې زښت ډېر راغلی دی، خـو قاموسـونو نه دی اخیستی د پرېملـل پـه صـورت پـه حـال او مسـتقبل کـې او د پرېمېشـتل پـه صورت په ماضي کې هم کارول شوی دی. ۱ـ اطراق کولو ۲ـ کېده اړولو ۳ـ سکونت کولو او څملاستلو په معناوو راغلی دی. ( ۵ : ۵۹۷ مخ)

چې منزل دې د سېلاب په مخکې کښېووت
هـــر قـــدم پـــه فـــهم ږده پـــر لوړه **مله**
(۲ : ۱۷۹ مخ)

**پرِیمـل: preməl:** اوسـېدل، مېشـت کېـدل، پرېمېشـتل، اړول، ځـای پـر ځـای کېدل. (۳، لومړی ټوک: ۴۶۳ مخ)

که ریا دې د اخـــــــلاص پر مینه **پرېملې**
ترو ښادي دې در څخه کوچ شوه پسې ژاړه
(۲ : ۱۴۰ مخ)

**پرِیمِېشتل premaštəl:** پرېمـل، مېشـت کېـدل، مشـتېدل، اوسـېدل، مېشـته

کېدل (۳، لومړی ټوک: ۴۶۲مخ)

نن میرزا د محبــــت پر مینه **پرېمېشت**

په ازل یې چــې دا بـــخرې وې ویشلې

(۲ : ۲۳۵ مخ)

**۵ ـ مُونږل (moṇəl)**: د (ویاړ کولو، افتخارکولو) معنا ورکوي پـه ظفراللغـات کـې په دې بڼه (مونړل) او د ویاړلو او فخر کولو په معنا راغلی دی. ( ۱۴: ۹۲۰ مخ)

کـــوم سحرگر وکړې په تا ټونې

چې دا هسې په فساد پر بله **مونې**

(۲ : ۲۴٦ مخ)

**٦ـ نَغوږل (naˠūẓəl)**: منـل، غـوږ نیـول، د ښـو تلقـین، لارښـوونه، شـیطاني، د بـدو تلقین، خبره، پښتو قاموس د غوږ نیول، اشاره کول) په معنا اخیستې ده. (۵: ٦۳٦ مخ)

د منلو او غوږ نیولو په معنا په لاندې شعر کې:

د شیطان دانش عذاب دی که باور کړې

چې یې **نغوږي** بد لېوه د تور ځــنگل دی

(۲ : ۲۰۵ مخ)

د میرزا خبره نه **نـــغوږي** کم بخته

په دا وخت د توبې ولې گنهگار ځې (۲ : ۲۴۳ مخ)

**۷ـ پَند (pand)**: پند د لار وهلـو، تـگ، سـفر او مـزل کولـو پـه معنـا د پښـتو یـوه لرغونې کلمه ده چې اوس په محاوره کې نه کارول کېږي او د ارخاییکو کلمو په ډلـه کې راځي. دغه کلمه چې ایتمولوژیکو قاموسونو یې ریښه انـدو اروپـایي ښـودلې ده په اریایي ژبو او په تېره پـه ختیځـو اریـایي (بـاختري) ژبـو کـې ژوره ریښـه لـري. پـه ختیځو اریایي ژبـو کـې پـه دې ډول ده: اویسـتا(پنتان ـ لاره)، هندي(پنتـه ـ لاره)، سنگلیچي(پند ـ لاره)، شوغناني(پوند ـ لاره)، مونجاني(پود ـ لاره)، پارتیایي(پندان ـ لاره)، خــوارزمي( پینــدک ـ لاره)، ســوغدي(پنت ـ لاره) ســاکي(پندو ـ لاره)، اوسیتي(فندک ـ لاره، فندگون ـ لاروی). په پښتو کـې د دې ټولـو پـر خـلاف د لارې نه، بلکې د(لاروهلو، مزل کولو، تگ او سفر) معناوې لـري. د پـارسي پـند د عـربي د عبرت او د پښتو پند د عربي د عبور معنا ښندي. (۱۲: ۳ مخ)

هر څو زړه په دنیا بند کړې عاقبت به ځنې **پند** کړې
که پـــه دا دې باور نـــشي ستا پـــخوا پېړی وګوره
(۲ : ۱۳۴ مخ)

**۸ ـ لَښَل** (laṣal) : لېښل، کډه کول، تلل، سفر کول، کوچ کول، بارول، پـه سـفر روانول. (۳، څلورم ټوک: ۲۷۹۴مخ)

حیوانات چې ژوندي ګرځي بې تکلیفه
کل د کړو د نه کړو بار پر سړي **لښلی**
(۲ : ۴۵ مخ)

**۹ـ ټَګل** (ṭagəl): غولول، تېرایستل. په ظفر اللغات کې د دوکه ورکولو، چـاسره د ټګی کولو او فریب په معناوو راغلی دی. (۱۴: ۳۰۳ مخ)

د خناس په نصیحت له لارې ووت
د ریــــا په ډېر مکرونو ځان **ټګلی**
(۲ : ۴۶ مخ)

**۱۰ـ دَربَلِېـدل** (darbaledəl): خولـه تـړل کېـدل، ژبـه بندېـدل، ټپرېـدل، د ځاروي دوه پښې تړل کېدل. (۵: ۲۹۵ مخ)

**دربلېدل:** پربوتل، غورځېدل، په شک کې لوېدل.

د عارف دیدن راحت دی که یې وینې
د غـــــافل صحبت تیاره په **دربلېږم**
(۲ : ۸۲ مخ)

**۱۱ـ څُوخِېدل** (cuxedəl): له سړو څخه سره غونجېدل او سره ښورېدل (۵ : ۲۷۰ مخ)

کامل نمر د معرفت په جهان وخوت
بــــېهوده د خپل عمل په ساړه **څوخه**
(۲ : ۱۲۴ مخ)

**۱۲ـ سَهِینَه** (sahyəna): زغمل، ګالل، تېرول. (۲ : ۲٦۱ مخ)

چې قـــلم په دا لــــمبه کې لوغړن شي
ترو باریک کاغذ به یې څښکله **سهینه**
(۲ : ۱۹۱ مخ)

**۱۳- بِیلُودل (bilodəl):** غځول، راکښل په معناوو راغلی دی. (۵: ۸۹ مخ)

که هر څو یې تودوي **بیلوده** نه شي
د پندار لینده بې غوړو ده بـې موته
(۲ : ۱۱۷ مخ)

**۱۴- خَتل (xatəl):** په یوه خوا ننوتل له بلې خوا وتل. (۵: ۲۷۸ مخ)

پر اوبو باندې د خاورې جهاز وینم
لور په لور د کاڼې میخ دی ترې **ختلی**
(۲ : ۴۴ مخ)

## و) وییکي

**۱- ترُو (tro):** د(نو) په معنا ده. قاموسـونو د (تـرې، د دې لپـاره، تـر هغه،لـه دې امله) په معنا اخیستې ده. د پښتو په زوړ قلمي نسخو کې د (نو) کلمه یا نشـته او یـا ډېره لږه ده.(۱۰ : ۴۷ مخ )

نو، خو، ځکه، څو چې، تر هغو چې، ترې په معناوو دی. (۴: ۳۲ مخ)

ترو: ترې، ترېنه، ترنه، نور، ورنه، له، ور څخه، ورځنې، ترڅو، ترهغو، څو چـې، تـر هغو چې، نو، د دې لپاره، له دې امله، له دې سببه (۳ ، لومړی ټوک: ۲۲۷ مخ)

**تــرو** به هر څوک له ده ولاړ شي
یــکتنــها بــه یې رخــصــت کـا
(۲ : ۲۰ مخ)

**۲- پسُو (pso):** د (هسې، هسې شان، څنگه) معنا ورکوي. د پښتو په کلاسـیک ادب کې زښته ډېره راغلې ده، خو په وروستیو چاپونو کې دا کلمه زیات ځایونـه اړول شوې او( په څه، په څو) لیکل شوې ده، په قلمـي نسـخو کـې عمومـا (پسـو) دی. د (پسو) کلمه په (په څه) تحلیلول سم نه دي ځکه چې دا کلمه په خپل ځای هـم پـه نورو قلمي نسخو او هم په خیرالبیان کې هر ځای په همـدې بڼـه لیکـل شـوې، خـو چېرته چې د (په څه)لیکل ضرور دی هلته( په څـه)لیکل شـوی، نـه (پسـو) غالبـاً دا کلمه (په + سو) ده چې (په) ادات او (سو) په (داسې، هاغه سې، کومه سې) کـې د (شان، رنگ، ډول) په معنا ژوندی ده، خو په مرکب (پسـو) کـې مجموعـاً پورتـه یـاده شوې معنا ورکوي او په (په څه، په څو) یې عوض لیکل سم نه دي. (۱۰: ۲۶ مخ)

له دې هسې رنګ علاج به څوک **پسو** کا
چـــه د زړه وینې روانې تر لـــــېمه ځي
(۲ : ۱۹۷ مخ)

**۳ـ سکَه، وَسکَه(waska, ska):** پـه ظفراللغـات کـې د نـو او څکـه پـه معنـا او د میـرزا انصاري د دېوان په وییپانګه کې د خو، مګر، لاکن په معناوو راغلی دی. (۲: ۲٦۲ مخ)

دا مـــــیرزا چـــه لـــرې نه ځي له وطنه
**وسکه** زړه یې د محبوب په جمال ګرو دی
(۲ : ۲۰۸ مخ)

**۴ـ خپسَر (xəpsar):** د خپل سر لنډ شـکل، د خپـل سر خاونـد، آزاد، د خپلـې مرضۍ خاوند (۱۴: ۴۰۵ مخ)

د دوست شینواري په وینا قاموسونو د (خپل سر) په معنا اخیستې، خـو دا کلمـه د (ځان، خپل ځان) معنا ورکوي. (۱۰ ـ ۳۲ مخ)

که یو ځل په سادګۍ **خپسر** څرګند کا
په ښایست یې نه پـري شته نه یې حوره
(۲ : ۱۳۷ مخ)

**۵ ـ ځَبلَه (jabla):** په ظفراللغات کې د یو تر بله، تر خپل منځه، په خپلو کې پـه معناوو راغلی دی. (۱۴: ۳٦۵ مخ)

د کثرت په ډېر حساب کښې بېګانه شوې
اوس وینښـــــته پر وینښـــــته یو **ځبله** چوي
(۲ : ۲۴۸ مخ)

**٦ ـ پرِې (pre):** د پښتو ځینې ژوندي او ارخاییـک فعلونـه د (پـرې) لـه مختـاړي سره یو ځای او ځینـې پرتـه لـه هغـه کـارول شـوي چـې د (پـرې) معنـا کلـه کلـه نـه څرګنـدېږي. ښـایي ډېـر پخـوا بـه یـې کومـه معنـا لرلـه، خـو پـه زړو متنـو کـې چـې پـه(پرېملل، پرېمېښـتل) کـې کـارول شـوې د (وینځـل، پرېوینځـل ) پـه شـان او د (پرېملل، پرېمېښتل) د معناوو تـر مـنځ کـوم تـوپیر نـه ښـکاري. لـه دغـو څلـورو واړو فعلونو څخه اوس په معاصره ادبي ژبه کې یواځې (مېښتل) فعـل او د هغـه مشـتقات ژوندي دي. (۱۰: ۳۵ مخ)

په لاندې مثالونو کې به د مللو، پرېمللو او پرېمبښتلو کارونه وګورو.

چې منزل دې د سېلاب په مخکې کښېووت
هـــر قـــدم پـــه فـــهم ږده پـــر لوړه **مله**
(۲ : ۱۷۹ مخ)

که ریا دې د اخـــــــلاص پر مینه **پرېملې**
ترو ښادي دې در ځخه کوچ شوه پسې ژاړه
(۲ : ۱۴۰ مخ)

نن میرزا د محبـــت پر مېنه **پرېمېښت**
په ازل یې چـــې دا بـــخرې وې ویشلې
(۲ : ۲۳۵ مخ)

له پورته بېلګو څخه څرګندېږي چې د (پرېملل، پرېمېښتل، مېښتل) تـر مـنځ د معناوو کوم څرګند توپیر نه لیدل کېږي او د (پرې) مختاړي خپلـه لرغـونې معنـا لـه لاسه ورکړې ده.

**پایله**

په پایله کې ویلای شو چې ژبـه هـم، لکـه نـورې ښـکارندې د بـدلون او اوړون د قانون تابع ده. دا اوړون او بدلون که په لغـوي، ګرامـري، معنـایي اړخونـو کـې وي او که په نورو کې، خو د نړۍ په ژبو کې یې د منځ تـه راتـګ لاملونـه تـوپیر کـوي او پـه بېلابېلو بڼو په بېلابېلو مهالونو کې ترسره کېږي. په دې لړ کې پښتو ژبـې هـم لغـوي او ګرامري بدلونونه او اوړونونه خپل کړي دي. د کلاسیکو شـاعرانو پـه لـړ کـې میـرزا خان انصاري هم هغه شاعر دی چې په خپل کلام کې یې داسې کلمې کـارولي دي چې اوس متروکې یعنې ارخاییکي دي او هغه په دې مقاله کې په ګوته شوې.

د ارخاییزمونو په اړه ویلای شو چې په لهجو کې که چېـرې نـیم ژونـدي وي او یـا یې هېڅ څرک نه لګي او تـش پـه زړو ادبي او تـاریخي لیکنـو او متونـو کـې خونـدي وي؛ نو بیا هم د لیکوالو، شاعرانو او ژورنالستانو له خوا له اړتیـا سره سـم پـه لـړو ډېـر جولیز(شکلي) او معناییز بدلون او توپیر سره کارېږي، ورو ورو ګړنۍ ژبې ته لاره پیدا کوي او بېرته ساه اخلي لکه: هېواد، یون، ویاړ، اتل، ګانده، نغوته او نور...

دا چې په ژبه کې لغتونه، محاورې او اصطلاحګانې وخت په وخت بدلون مـومي،

پر پخوانیو متونو پوهېدل ستونزمنوي؛ نو اړینه ده، په پخوانیو متونو کې پر راغلو ارخاییکو کلمو څېړنه ترسره شي چې له یوې خوا د پخوانیو متونو په سپړنه او پوهېدنه کې له ستونزو سره مخامخ نشو او له بلې خوا به متروکې کلمې راژوندۍ شي او له دې لارې به د ژبې په بډاینه کې خپله ونډه واخلي.

## وړاندیزونه

۱ـ د علومو اکاډمي محترم ریاست ته مې دا وړاندیز دی چې د ارخاییکو کلمو قاموس دې تدوین کړي.

۲ـ په ماسترۍ او دوکتورا کې چې پښتو ژبه په تخصصي ـ توګه تدریسېږي، په درسي پروګرام کې دې د ارخاییکو کلمو بحث هم ځای شي.

۳ ـ په رسنیو او درسي کتابونو کې دې د پورو ویونو پر ځای د ارخاییزمونو کارونه دود شي چې زموږ اصلي ژبه او خپلې کلمې ژوندۍ پاتې شي او د ژبې اصالت وساتل شي.

## مأخذونه


۱ ـ آریانا دایرة المعارف، دوهم دور، لومړی ټوک (پښتو متن)، د افغانستان د علومو اکاډمي د آریانا دایرة المعارف مرکز: نبراسکا مطبعه، کابل، ۱۳۸٦ل.

۲ـ انصاري، میرزا خان، دیوان، (سریزه، سمون او لمنې د څېړنمل دوست)، دولتي مطبعه: پښتو ټولنه، ۱۳۵۴ل.

۳ـ پښتوـ پښتو تشریحي قاموس، لومړی، دوهم او څلورم ټوکونه، د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز: د افغانستان لپاره د ټولنیزو رسنیو مرکز، کابل.

۴ـ رشاد، عبدالشکور. د خیرالبیان لغتونه، ملت پرېس، لاهور، ۱۳۷٦ل.

۵ ـ شینواری، محمد دوست. زړه پانګه،(لومړی ټوک)، د افغانستان د علومو اکاډمي، د پښتو څېړنو نړیوال مرکز: ۱۳٦۳ل.

٦ـ شینواری، محمد دوست. ژبپانګه، دانش کتاب پلورنځی: پېښور، ۱۳۷۷ل.

۷ـ شینواری، محمد دوست.«د پښتو څو ارخاییک فعلونه»، کابل مجله، پنځمه ګڼه: پښتو ټولنه: کابل، ۱۳۵۳ل.

۸ ـ شینواری، محمد دوست.«په پښتو کې د ارکاییزم ډولونه»، کابل مجله، لسمه

گڼه، پښتو ټولنه: ۱۳۵۲ل.

۹ـ شینواري، محمد دوست.«د پښتو څو ارخاییک صفتونه»، کابل مجله، یوولسمه گڼه، پښتو ټولنه: ۱۳۵۳ل.

۱۰ـ شینواري، محمد دوست.«د پښتو د کلام د توکو څو ارخاییک اړخونه»، کابل مجله، دوولسمه گڼه، پښتو ټولنه: ۱۳۵۳ل.

۱۱ـ شینواري، دوست محمد. «د پښتو په ادب کې یوه لرغونې اریایي کلمه(گرام)»، زېري جریده، ۱۰ گڼه، پښتو ټولنه: ۱۳۵۵ل.

۱۲ـ شینواري، دوست محمد. «(پند) د پښتو یوه لرغونې کلمه»، زېري جریده، ۱۱ گڼه، پښتو ټولنه: ۱۳۵۵ل.

۱۳ـ صمیم، محمد آصف. وییزېرمه(لغوي پانگه)، احسان خپرندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۸۱ل.

۱۴ـ ظفر کاکاخېل، سید بهادر شاه. ظفراللغات، اداره اشاعت سرحد قصه خوانی بازار: پېښور.

۱۵ـ مومند، عبدالحمید. دېوان، یونیورسټي بک ایجنسي، پېښور.

ښېړنيار ياسر پاچا

# په ولسي ادبياتو کې وريانتونه او د هغو ځانګړنې
# Variants and their features in Folklore literature

**Research Assistant Yasar pacha**

## Abstract
Folklore literature reflects the aspirations, traditions and ideals of peoples and nations. In this article, which focuses on the different variants of Folklore literature and some of its general features?

First, the importance and necessity of research are briefly discussed, followed by a brief introduction to Folklore literature and their values. There has also been a research discussion on how different variants of Folklore literature have evolved and this topic has been clarified in some detail, then some common features and values of different variants of Folklore literature have been highlighted and a brief conclusion of the article is also provided at the end.

## لنډيز
په ولسي ادبياتو کې د خلکو او ولسونو ارمانونه، دودونه او ايډيالونه منعکس کېږي. په دې ليکنه کې چې د ولسي ادبياتو بېلابېلو وريانتونو او د هغو ځينو عامو ځانګړنو ته ځانګړې شوې ده، لومړی په لنډ ډول د ښېړنې پر اهميت او مبرميت

خبرې شوې دي، ورپسې د ولسي ادبیاتو لنډه پېژندنه راغلې او په ارزښتونو یې لازمې څرګندونې شوې دي، دغه راز په ولسي- ادبیاتو کې د بېلابېلو وریانتونو د رامنځ ته کېدو په څرنګوالي هم څېړنیز بحث شوی او یاده موضوع څه نا څه تفصیلي روښانه شوې ده، وروسته بیا د ولسي ادب د بېلابېلو وریانتونو په ځینو عامو ځانګړنو او ارزښتونو رڼا اچول شوې او په پای کې د مقالې یوه لنډه پایله هم وړاندې شوې ده.

## سریزه

د پښتو ولسي ادبیات چې زموږ د ولس د هنري استعداد ښکارندویي کوي، د دې ولس د ټولنیز ژوند هینداره بلل کېږي او ټول فورمونه یې د پښتني کلتور له معنوي شتمنۍ څخه رامنځ ته شوي دي.

د ولسي ادبیاتو فورمونه او د دغو فورمونو بېلابېلې محتوایي برخې(وریانتونه) د یوې ټولنې د دودونو داسې هینداره بللای شو چې په هغه کې د یوې ټاکلې ټولنې اړوند کلتوري تصویرونه انځور شوي وي، د دغه ادب د هر فورم بېلابېل وریانتونه د یوې هیندارې په څېر د ټولنې ګڼ مناسبات او اړیکې منعکسوي.

د ولسي ادبیاتو وریانتونه، که له یوې خوا د یوه فولکلوري اثر په پېژندنه او ټاکنه کې مهم رول لري، نو له بلې خوا د وریانتونو ډېربښت او پراخوالی د یوه فولکلوري اثر په شهرت او عمومیت هم دلالت کوي، برعکس د شفاهي ادب هغه فورمونه چې وریانتونه و نه لري، له عمومیت او شهرت څخه بې برخې شوي، د لېږد چانس یې کم او زیاتره یې له منځه تللي دي چې د مقالې په راتلونکو مخونو کې به یې په اړه مفصلې خبرې ولرو.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې لږ تر لږه وکولای شو، د ولسي ادبیاتو د بېلابېلو وریانتونو د منځ ته راتګ په اساسي او عمومي اصولو ځان پوه کړو، د ولسي ادبیاتو د ټولونې پر وخت له بشپړ دقت او ځیرکتیا څخه کار واخلو او د ځانګړو اصولو په رڼا کې خپل کارونه پر مخ بوځوو. دغه شان په دې مقاله کې دا هم څرګنده شوې ده چې د ولسي ادبیاتو په ټولونه کې لږه ناغېړي او بې پروایي کېدای شي، د یاد فورم یو بل وریانټ منځ ته راوړي چې د علمي اصولو خلاف کار دی.

## د څېړنې موخه

دا چې هره څېړنه ځانته خپل ځانګړی هدف لري، نو د دې علمي - څېړنيزې مقالې د ليکلو او بشپړولو موخه دا ده چې لږ تر لږه د ولسي ادبياتو ځوان او مبتدي ليکوال او څېړونکي، د ولسي ادبياتو د ټولونې او څېړنې پر وخت له بشپړ غور څخه کار واخلي او په ولسي ادبياتو کې مختلف وريانتونه له پامه ونه غورځوي، دغه راز علمي لارې چارې او نوي ميتودونه په نظر کې ونيسي، تر څو وکولای شي رامنځته شوو پوښتنو او مطرح شوو مسايلو ته لازم ځوابونه او حل لارې پيدا کړي او حقايقو ته پرې ځان ورسوي.

## د څېړنې پوښتنې

۱. د ولسي ادب په فورمونو کې د بېلابېلو وريانتونو منځ ته راتګ له څو لارو ممکن دی؟

۲. په ولسي ادبياتو کې د وريانتونو د منځ ته راتګ عام عوامل څه دي؟

۳. د ولسي ادبياتو د وريانتونو عامې ځانګړنې کومې دي؟

۴. د ولسي ادبياتو د ټولونې په وخت کې بايد کوم اصول په نظر کې ونيول شي؟

دا او دې ته ورته پوښتنې، په دې علمي - څېړنيزه مقاله کې مطرح شوي چې پر خپل ځای به ځواب شي.

## د څېړنې ميتود

په دې علمي - څېړنيزه مقاله کې تر ډېره بريده له تحليلي ــ تشريحي ميتود څخه کار اخيستل شوی دی. د څېړنې ډول کتابتوني او يادښتيز دی.

## اصلي متن

د ولسي ادبياتو د څېړنې په برخه کې به دا ډېره ګرانه وي چې ووايو، ولسي-ادبيات د لومړي ځل لپاره د چا له خوا او په کومه زمانه کې راپيل شول، خو که د ولسي ادبياتو په برخه کې ژوره مطالعه وشي، نو په پوره ډاډ سره ويلای شو چې دغه ادبيات د انسان له پيدايښت سره سم منځ ته راغلي دي. تر اوسه پوهانو او د ولسي-ادب څېړونکو د ولسی ادب ځينې عامې برخې(عام منظوم ادب او ولسي نثرونه) چا ته نه دي منسوب کړي او نه يې هم تاريخ څرګند کړی دی، بلکې د عام ولس مال

ګڼل کېږي چې د ولسي ادب همدغه اصل ته په کتو په ولسي- ادبیاتو کې ډېر وریانتونه رامنځته شوي دي.

لازمه بولم یادونه وکړم چې ولسی ادبیات مجرده او جامده پدیده نه ده، بلکې له نورو پوهو او علومو سره (ژبپوهنې، ارواپوهنې، تاریخ او...) سره نږدې تړاو لري. په ډېرو مواردو کې ولسي ادبیات د تاریخ مواد ګرځي او په ډېرو ځایونو کې بیا تاریخ د ولسي- ادبیاتو موضوع ګرځي، مثلاً: د آدم خان او درخانۍ په نکل کې د یوه دقیق تحلیل په اساس د وریانتونو د پرتلنې له مخې، د تاریخ ساحې ته ور داخلېدلای شو، تر دې چې زموږ سره داسې وریانتونه هم شته چې د آدم خان له مړینې کالونه وروسته په همدې ارتباط رامنځته شوي دي. په هر حال دا چې له موضوع نه لرې ولاړ نه شو، راګرځم خپلې موضوع ته، دا چې ولسي ادبیات په شفاهي بڼه خوله په خوله او سینه په سینه له یوه نسل څخه بل نسل ته انتقالېږي، نو په دې اساس په کې د وریانتونو د منځ ته راتګ احتمال ډېر وي. دلته به لومړی د وریانت په اړه څه ناڅه تم شوو:

## وریانت څه ته وایي؟

وریانت انګلیسي کلمه ده چې معنا یې نوعه، ډول او بېلابېل شکلونه دي. په ولسي ادبیاتو کې د وریانت کلمه هغه وخت کارول کېږي، کله چې د ولسي- ادبیاتو کوم فورم د محتوا او منځپانګې له مخې په لږ او ډېر بدلون سره بېلابېلې محتوایي بڼې ولري. یوه پوښتنه چې تل د ځینو لیکوالو او څېړونکو مخې ته درېږي او زه هم د فولکلور او شفاهي ادبیاتو ځانګې ته له راتګ وروسته ډېر ځله له دغسې پوښتنو سره مخامخ شوی یم، دا ده چې د ولسي ادب اکثره فورمونه ثابت شکل نه لري؛ نو ایا د یوه ځانګړي فورم په حیث یې پېژندلی شو او که نه؟ هو! د دې خبرې اساسي علت دا دی چې ولسي ادبیات لیکلې بڼې نه لري او کله چې دغه ولسي- ادبیات له یوه شخص څخه بل شخص ته او یا له یوې سیمې څخه بلې سیمې ته په شفاهي ډول انتقالېږي، نو دغه وخت  د ولسي ادبیاتو په محتوا کې ځینې بدلونونه د دې باعث ګرځي چې په دغو ولسي فورمونو کې نوي وریانتونه منځ ته راشي. د ولسي- ادبیاتو د دغو فورمونو محتوا اصلاً یوه وي، خو په بېلا بېلو سیمو کې یې د شهرت له امله د خلکو په خولو کې معناګانې، اصطلاحات او مفاهیم تغییر شوي وي چې دا چاره د ولسي ادب په فورمونو کې د څو بېلا بېلو وریانتونو د منځ ته راتګ باعث کېږي.

د ولسي او ليکني ادب د فورمونو تر ټولو لوی توپير هم په دې کې دی چې د ليکني ادب فورمونه د محتوا له مخې ثابت وي او نور وريانټونه نه لري، ځکه چې له پنځونې سره سم د کاغذ مخ ته رسول کېږي او له لاسوهنو څخه په کې مخنيوی کېږي، خو ولسي ادب بيا تر ډېره بريده دغه ځانګړنه نه لري، خوله په خوله او سينه په سينه له يوه شخص څخه بل شخص ته او له يوې سيمې څخه بلې سيمې ته لېږدول کېږي، ځينې يې د زمانې د ناخوالو له کبله له منځه ځي او ځينې يې بيا په لړ او ډېر بدلون سره خوندي کېږي چې دا چاره د ولسي ادب په زياترو فورمونو کې د څو بېلابېلو وريانټونو د منځ ته راتګ سبب ګرځي چې په کلياتو او جزئياتو کې خورا توپيرونه لري، دا توپيرونه هغه وخت لوستونکو ته جوتېدای شي چې د يوې کيسې بېلابېل وريانټونه سره پرتله کړي. دلته به د بېلګې په ډول د خبرې د ښه وضاحت لپاره د ادم خان او درخانۍ د ثبت شوي نکل ځينې اختلافي ټکي چې د يوې کيسې په بېلابېلو وريانټونو دلالت کوي، په درې ثبت شوو آثارو ( د غوټۍ خاورې «د ننګرهار نکلونه»، د محمد ګل نوري «ملي هينداره» او د ميراحمد ګربز «د ګربزو نکلونو» کې سره پرتله کوو:

د ننګرهار او ملي هيندارې په نکلونو کې ميروګی او بلوګی د آدم خان مريان دي، د ګوربزو په نکل کې راغلي دي چې ميروګی او بلوګی د خروشکي پادشاه زامن وو چې دا خبره ځانته بيا جلا څېړنه غواړي.

د ننګرهار د نکلونو دويم توپير د ملي هيندارې او ګوربزو نکلونو سره دا دی چې د ننګرهار په نکل کې آدم خان له درخانۍ سره واده کوي، آدم خان توتيا او درخانۍ درې واړه د عمر تر پايه پورې خوږې شپې او ورځې تېروي، خو د ملي هيندارې او ګوربزو په نکلونو کې بيا د آدم خان او درخانۍ د مينې نتيجه مطلقه ويرجنه ناکامي او تراژيدي ده. (۱: ۸مخ)

بل مهم توپير يې دا دی چې په درېواړو ثبت شوو نکلونو کې د اړوندو سيمو د ولسونو لهجې ساتل شوې دي چې ځينې وخت ورڅخه د مطلب اخيستل سخت وي.

د آدم خان او درخانۍ د پورته ثبت شوو درېواړو نکلونو ترمنځ خورا زيات توپيرونه ليدل کېږي، خو په همدغو درېوو عمده توپيرونو يې بسنه کوو چې د يوه ځانګړي

نکل څو بېلابېل وریانټونه يې منځ ته راوړي، دا چې ولې؟ په لاندې کرښو کې يې لوستلای شئ.

## په ولسي ادبیاتو کې د وریانټونو د منځ ته راتګ عوامل

په ولسي ادبیاتو کې د بېلا بېلو وریانټونو منځ ته راتګ له درېوو لارو شونی دی:

### ۱ـ په شعوري(آګاهانه) ډول

په آګاهانه او ارادي ډول د شخصي سلیقو استعمال، د وریانټونو د منځ ته راتګ یو ډول دی چې د ولسي ادب په ځینو فورمونو( نکل، کیسه، داستان او ...) کې د نوو وریانټونو د منځ ته راتګ باعث ګرځي، مثلاً: ځینې وخت یو څوک د خپل ذوق له مخې نه غواړي د نکل، کیسې یا داستان ځینې برخې بیان کړي او کله نا کله، خو پرې زیاتونې هم کوي چې دا چاره د ولسي ادب په ځینو فورمونو کې د یوه نوي وریانټ د منځ ته راتګ سبب ګرځي. که چېرې موږ د ولسي ادب یوه ټکي او کلمې ته هم تغییر ورکړو، نو دا کار د علمی نوښتونو او موازینو پر خلاف عمل دی.

څېړنپوه محمد صدیق روهي په خپل اثر «د ادب او فولکلور په باره کې» کې یو ځای د شخصي سلیقو د نه استعمال په اړه داسې کښلي دي: په فولکلور ټولونه او څېړنه کې دا مهمه نه ده چې یوه نظریه یا عقیده سمه ده یا ناسمه؛ بلکې مهمه دا ده چې ایا څېړونکي هماغه نظر په سم ډول را اخیستی او که له ځانه یې وربانده ځینې شیان ورګډ کړي دي.(۳: ۹۵مخ)

### ۲ـ ناشعوري(نا آګاهانه، نا خبره) ډول

اکثره نالوستي او بې سواده خلک په ناپوهۍ سره ځینې وخت د ولسي- ادب په ځینو فورمونو( نکل، کیسه او ...) کې د راغلو پېښو، نومونو او نورو خواوو په بدلون، سره په یادو فورمونو کې په غیر ارادي ډول نوي وریانټونه منځ ته راوړي چې د ولسي ادب په غنامندۍ دلالت کوي چې په همدې لیکنه کې به پرې بحث وشي.

### ۳ـ د ولسي ادبیاتو د ټولونې پر وخت د ټولوونکو له خوا ناغېړي

د ولسي ادبیاتو په ټولونه کې لږه ناغېړي او بې پروایي هم کولای شي چې د یاد فورم یو بل وریانټ منځ ته راوړي چې د علمي اصولو خلاف کار دی، نو د ولسي-

ادبیاتو ټولوونکي باید د دغو ادبیـاتو د ټولـونې پـر وخـت لـه بشـپړ دقـت او ځیرکتیـا څخه کار واخلي.

څېړنـوال نصرـالله «نـاصر» پـه خپـل اثـر « د پښـتني فولکلـور د چـاپي مجموعـو څېړندود» کې دغې موضوع ته داسې نغوته کـوي: ((کلـه چـې مـوږ فولکلـوري مـواد راټولوو، هغه باید په خپله اصلي بڼه او بې له هر ډول لاس وهنې راټول او دغه امانت راتلونکي نسل او راتلونکو څېړونکو ته، لکه څرنګه چې په ټولنـه کـې موجـود دي، ور وسپارو ... دغه ادبیات په هغه صورت کې د علمـي خپرونـو او څېړنـو لپـاره د بـاور وړ بلل کېدای شي چې د هغې د لیکلو وخت، ځای، راوي او حتی د ثبتوونکي په بـاب معلومات موجود وي.)) (۵: ۶۳مخ)

دغه راز نوموړی لیکوال یو بل ځای د ولسي ادبیاتو ټولـوونکي دې ټکـي تـه هـم متوجه کوي: د فولکلوري ژانرونو د ټولوونکو لپاره دا اړینه ده چې د فولکلور پـه معنـا او ځانګړنو پوره پـوه وي او د فولکلـوري پدیـدو خصوصـیات او بریدونـه بایـد وپېژنـي، سربېره پردې د فولکلور ټولونې له میتود سره اشنایي ولري.( ٦: ٧١مخ)

د ولسي ادب په فورمونو کې د بېلا بېلو وریانتونو موجودیت او منځ ته راتـګ نـور ډېر عام عوامل هم لري چې ځینې مهم یې په دې ډول دي:

۱. کله کله د ولسي ادبیاتو په فورمونو، په ځـانګړې توګـه پـه کیسـو او نکلونـو کـې د کرکټرونو(پرسوناژونو) د نومونو په تغییر سره هم نوي وریانتونه منځ ته راځي.

۲. د ولسي ادب په کوم فورم کې د راغلـو پېښـو پـه بـدلون سره هـم یـو جـلا او بېـل وریانت منځ ته راتلای شي.

۳. د ولسي ادبیاتو ځینې فورمونه د خاصو مکاني او جغرافیایي شرایطـو تـابع کـول، یعنې کله چې یو څوک په یوه سیمه کـې کـوم نکـل یـا کیسـه زده کـوي، د هماغـې سیمې د جغرافیایي نومونو پر ځای د خپلې سیمې جغرافیایي نومونـه وراچـوي چـې په نتیجه کې یو نوی وریانت منځ ته راځي.(۲:نولسم مخ)

۴. په یوه ژبه کې د ډېرو لهجو موجودیت هم دې ته لار هـواروي چـې د ولسـی ادب په ځینو فورمونو کې نوي وریانتونه منځ ته راشي، ځکه چې ځینې وخت عام خلک د نورو لهجو لغات او اصطلاحات په سم ډول نـه شي درک کـولای، نـو پـر ځـای یـې د

خپلې لهجې  لغات او اصطلاحات وراچوي چې په پایله کې د یوه نوی وریانټ  د منځ ته راتګ سبب کېږي.(۱۷۷:۸مخ)

ښه به وي چې دلته هغه لنډۍ د بېلګې په ډول راوړو چې د ماسترۍ برنامې په لومړي سمستر کې مې د خپل یوه ټولګیوال له خولې اورېدلې وه چې پورته خبره به څه ناڅه نوره هم روښانه کړي.

معیاري یا ادبي لهجه:

راځه! چې دواړه سره تښتو
وروستۍ خبرې به سپین ږیري خلاصوینه

د منګلو لهجه:

روځه! چې دووړه سره تښتو
تر څټ خبرې بو سپین ږیري خلوسوینه

پورته دوه لنډۍ چې په عام ولس کې په دغو شکلونو سره رامنځته شوي دي، اصلاً د یوې لنډۍ دوه بېلابېل وریانټونه دي چې دغه چاره په ولسي- ادب کې د لاسوهنې په معنا نه ده.

یا دا بېلګه، لومړی وریانټ:

څوک چې له یاره وفا غواړي
ماته کیسه د صنوبر را یاده شینه

دویم وریانټ:

څوک چې له ښکلي وفا غواړي
ماته کیسه د صنوبر را یاده شینه

نوټ: په دې بېلګه کې د «یاره» او «ښکلي» کلمو په راوړلو سره، په یوه لنډۍ کې دوه بېلابېل وریانټونه رامنځته شوي دي.

په هر حال، که موږ د ولسی ادب د هر فورم د بېلابېلو وریانټونو په اړه خبرې وکړو، موضوع به را څخه ډېره اوږده شي؛ نو له ډېرو بېلګو څخه یې تېرېږو، یواځې په لنډو ټکو کې به دومره ووایو چې:

که نالوستي او بې سواده خلک په ناپوهۍ سره په غير ارادي ډول، د ولسي- ادبياتو په کوم فورم کې محتوايي تغييرات راولي او نوي وريانتونه رامنځ ته کړي، زما په اند دا د ولسي ادبياتو غنامندي او بډاينه ګڼلی شوو، مګر لوستي او با سواده خلک، د ولسي ادبياتو ټولوونکي او څېړونکي بايد د ولسي ادبياتو د ټولونې پر وخت له بشپړ دقت څخه کار واخلي، په دغه برخه کې هېڅ ډول ناغېړي و نه کړي او د شخصي سليقو له مخې د يوه نوي وريانټ د منځ ته راتګ هڅه هم ونه کړي، ځکه په شعوري لحاظ دا ډول کړنه ادب زيانمنولی شي. څېړنپوه محمد صديق روهي په دې اړه په خپل اثر « فولکلور پېژندنه» کې يو ځای داسې ليکي: که يو ليکوال ولسي- ادبيات په اصلي شکل او لهجه و نه ليکي، نو د هغې فولکلوريک او د ولسيتوب خاصيت ته صدمه رسېږي. (۴: ۱۲۷مخ).

مطلب د ولسي ادبياتو د ټولونې په وخت بايد دغه ادبيات په خپل اصلي شکل(څنګه چې په ولس کې موجود وي) وليکل شي. هيله ده چې د شفاهي ادب ټولوونکي په پوره امانتدارۍ له لاسوهنې پرته، په دقيق ډول شفاهي ادبيات راټول، خوندي او وڅېړي. دغه راز، د ولسي- ادبياتو ټولوونکي بايد د ولسي- ادب بېلابېل وريانتونه هم په نظر کې ولري او د څېړنې په ترڅ کې هغه وښيي او په يوه وريانټ بسنه ونه کړي. (۷: ۴۲مخ)

اوس به راشو دې ته چې د ولسي ادب د وريانتونو ځانګړنې کومې او ارزښت يې په څه کې دی. دلته به لومړی په لنډ ډول دا روښانه کړو چې خپله «ارزښت» څه شی دی او په ټوله کې د ولسي ادبياتو په فورمونو کې د محتوا له مخې د بېلابېلو وريانتونو ځانګړنې او ارزښتونه په څه کې ليدل کېږي.

ارزښت: چې جمع يې ارزښتونه دي، يو لړ اصول او قواعد دي چې د هغو په مرسته کولای شو، د ځينو شيانو کيفيت (څرنګوالی) پيدا او معلوم کړو.

هر څه ځان ته خپل ځانګړي ارزښتونه لري، مثلاً: ادبي ارزښتونه، ټولنيز ارزښتونه، ملي ارزښتونه، نړيوال ارزښتونه او داسې نور، دغه ارزښتونه په لومړي سر کې په دوو برخو وېشل کېږي: مادي ارزښتونه او معنوي ارزښتونه. (۹: د انعکاس راډيو وبپاڼه)

الف) مادي ارزښتونه مثلاً، پولي واحد افغانی، زموږ ملي مادي ارزښت دي.

ب) معنوي ارزښتونه مثلاً، ملي سرود زموږ ملي معنوي ارزښت ګڼل کېږي.

خبره له دې ډېره نه اوږدوو او په لنډ ډول به په ولسي ادبیـاتو کـې د بېلابېلـو وریـانټونو، په ځینو عامو ځانګړنو او ارزښتونو لنډ بحث وکړو او د مقالې لمن به راټوله کړو.

۱. د ولسي ادبیاتو وریانټونه که له یوې خوا د یوه فولکلوري اثر پـه پېژندنـه او ټاکنـه کې رول لوبوي، نو له بلې خوا د وریانټونو ډېرښت او پراخوالی د هماغـه اثـر ارزښـت هم ټاکي.

۲. د ولسي ادبیاتو د وریانټونو ډېرښـت د یـوه فولکلـوري اثـر پـه شـهرت او عمومیـت دلالت کوي.

۳. هغه فولکلوري پدېدې(ښکارندې) چې وریانټ ونه لـري، تـر ډېـره لـه عمومیـت او شهرت څخه بې برخې شوي او د لېږد چانس نه شي ترلاسه کـولی، همـدا لامـل دی چې دغه ډول آثار او پدیدې(ښکارندې) یو مخیزه له منځـه تللـي او یـا د ورکېـدو پـه حال کې دي.

۴. په ولسي ادبیاتو کې د وریانټونو ډېرښت د دې سبب کېږي چې د یـوې ځـانګړې اصطلاح لپاره په کې مختلفې تاریخي پېښې، ریښې او وییونه استعمال شي.

## پایله

ولسي ادبیات په پښتو ژبه کې ځانته ځانګړی ځای او مهم ارزښت لري، نو ځکـه دا خبره په پوره ډاډ سره کولای شو چې زموږ ولسي ادبیات د پښتو ادبیـاتو د بنسـټ حیثیت لري.

کله چې د ولسي ادبیاتو د یوه لاروي په صفت وغواړو، ولسي ادبیات راټول کـړو، هغه باید په خپله اصلي او آره بڼه پرته له هر ډول لاس وهنې څخه راټول کړو او دغـه امانت راتلونکي نسل او راتلونکو څېړونکو ته، لکه څرنګه چـې پـه ټولنـه کـې موجـود دی ور وسپارو، تر څو د ارزونې پر وخت یې هر اړخیزه څېړنه تر سره شي.

د ولسي ادبیاتو ټول فورمونه او د هغو بېلابېلـې محتـوایي خواوې(وریانټونـه) کـه هغه منظوم وي یا هم منثور، باید له لاسوهنې پرته په پوره ځېرتیا او دقت سره راټـول او خوندي شي، ځکه د ولسي ادب د ټولوونکـو لـه خـوا لـږه نـاغېږي، تېروتنـه او بـې پروایي کېدای شي، په دغه ادب کې نوی وریانټ منځ ته راوړي چې د ولسي ادب د مسخې په معنا دی، نو لازمه ده چې د ولسي ادبیاتو ټولوونکي او څېړونکي، پـه ډېـر احتیاط او زیات غور سره ولسي ادبیات راټول، خوندي او وڅېړي.

## مأخذونه


۱. خاورې، غوټی. د ننګرهار نکلونه( لومړی ټوک)، د ژبو او ادبیاتو مرکز، د پښتو ټولنې انستیتوت، د شفاهي ادبیاتو دیپارتمنت: کابل، دولتي مطبعه، ۱۳٦۸ل، ۸ مخ.

۲. پورتنی اثر، نولسم مخ.

۳. روهي، محمدصدیق. د ادب او فولکلور په باره کې، د خپرونو او چاپ دولتي کمېټه: ۱۳٦۵ ل، ۹۵ مخ.

۴. روهي، محمدصدیق. فولکلور پېژندنه، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، پښتو ټولنه: کابل، دولتي مطبعه، ۱۳٦۵ل، ۱۲۷مخ.

۵. ناصر، نصرالله. د پښتني فولکلور د چاپي مجموعو څېړندود، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز: کابل، د آزادی مطبعه، ۱۳۸۳ ل، ٦۳ مخ.

٦. هماغه اثر، ۷۱مخ.

۷. ناصر، نصرالله. د فولکلور ټولونې لارې چارې، په افغانستان کې د فولکلور پېژندنې اړتیا، د سیمینار د مقالو ټولګه، د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست: ۱۳۹۸ل، ۴۲ مخ.

۸. یاسر پاچا. »ولسي نکلونه او د هغو ادبي او ټولنیز ارزښتونه«، کابل (مجله)، لومړی ګڼه، د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست: څوارلسم صنعتي مطبعه، ۱۳۹۸ل، ۱۷۷مخ.

۹. امید، سید امرالله. «ټولنیز ارزښتونه څه دي؟»، انعکاس راډیو، ۲۰۱۵/۲۹/۸،لاسرسی: http://www.enikassradio.com [۲۰۱۹ /۲۵/٦].

څېړندویه خاطره شینوارې

# په کاکړیو غاړو کې د ناز نومونه
# The names of Coquetry (Nāz) in Kakari

**Researcher Khatera Shinwari**


## Abstruct

In addition to an introduction to the Kakari side, this article will briefly discuss the thematic diversity in this poetic folk literary genre and show that the Kakari side can cover all kinds of concepts and topics in its scope, one of which is There are coquetry names that are used in social life for each other according to different relationships and needs, here he will use coquetry names that men use for women as well as women for men based on kinship and friendship and love relationships. Be presented with appropriate explanations throughout the examples.

## لنډیز

په دې لیکنه کې به د کاکړیو غاړو پر پېژندنې سر بېره په دغه منظوم ولسي- ادبي ژانر کې په موضوعي تنوع لنډ بحث وشي او دا به جوته شي چې کاکړۍ غاړې په خپله لمنه کې هر ډول مفاهیم او موضوعات رانغاړلی شي چې یوه له دغو موضوعاتو څخه د ناز نومونه دي چې په ټولنیز ژوند کې یې یو بل ته د بېلابېلو اړیکو او اړتیاوو له مخې کاروي، دلته به هغه د ناز نومونه چې نارینه یې ښځو او همدا رنګه

ښځې یې نارینه وو ته د خپلوۍ او دوستۍ او مینې د اړیکو له مخې کاروي، د بېلګو په ترڅ کې له مناسبو تشریحاتو سره وړاندې شي.

## سریزه

ولسي ادبیات د هر ټولنېز او هرې ټولنې په ادبي تاریخ کې ډېره له ارزښته ډکه ونډه لري چې له یادونې او ورته پوره پاملرنې څخه پرته د هغه ټولنېز او خلکو ادبي تاریخ نیمګړی ګڼل کېږي. دغه ادبیات معمولاً شفاهي بڼه لري او په ټولنو کې زیات او پیاوړي وي چې د لیک او لوست خپرېدنه په کې ډېره نه وي عامه، زموږ پښتني ټولنه چې د همدغسې ټولنو په کتار کې راځي، نو ځکه په کې د لیکلو ادبیاتو په پرتله د ولسي ادبیاتو پانګه ډېره درنه ده.

کاکړۍ غاړې د پښتو ولسي ادبیاتو په وېش کې په عامو ولسي سندرو کې راځي چې اصلي وینا وال یې نه دي معلوم او لکه د پښتو لنډیو د ټول ولس ګډ مال ګڼل کېږي. دغه منظوم ولسي ادبیات چې د پښتنو یوې ځانګړې قبیلې ته منسوب دي، په کې د دغې قبیلې او خېلونو د خلکو د ټولنېز ژوند ډېر مسایل او کره وړه په عام ډول هیلې، ارمانونه، خوښۍ، رنځونه، مینې او کرکې او داسې نور موضوعات خوندي دي چې په دې لیکنه او څېړنه کې هغه د ناز نومونه چې له مینې یې یو بل ته کاروي، په بېلګو کې په لنډ ډول درپېژنو.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

دا چې په پښتو منظومو فولکلوري ادبیاتو کې زموږ د خلکو ټولنېزو مسایلو انعکاس موندلی، کاکړۍ غاړې چې د دغو ادبیاتو یو ځانګړی فورم دی، هم له دغسې مطالبو او مفاهیمو څخه ډک دي. د دې لیکنې او څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې په دغو خاصو شعرونو کې هغه د ناز نومونه راپېژني چې په ټولنه کې یې ښځینه او نارینه یو بل ته د ټولنېزو اړیکو، خپلوۍ او مینې د احساس او عاطفې او انساني خوا خوږۍ له مخې په خوږه او رنګینه ادبي ژبه کاروي.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې هدف دا دی چې کاکړۍ غاړې او په هغو کې د ځینو ناز نومونو د احساس او عاطفې له مخې د شعر په خوږه او رنګینه ژبه کارول وپېژنو.

## د ځېړنې پوښتنې

۱. کاکړۍ غاړې کوم ډول ولسي ادبي ژانر دی؟
۲. په کاکړیو غاړو کې د ښځینه وو له خوا کوم او څنگه د ناز نومونه کارول کېږي؟
۳. په کاکړیو غاړو کې د نارینه وو له خوا ښځینه وو ته کوم د ناز نومونه کارول کېږي؟

## د ځېړنې میتود

د دې ځېړنې میتود تشریحي - توضیحي دی.

## اصلي متن

غاړې د پښتو په منظومو شفاهي ادبیاتو کې هغه ژانر دی چې د پښتنو په لویې قبیلې کاکړو پورې اړه لري، یعنې په لومړیو کې کاکړو دغه غاړې جوړې کړي او ویلې دي، بیا وروسته د پښتنو په نورو قبیلو او نورو سیمو کې هم ویل شوي دي.

غاړې د شکلي جوړښت له مخې د پښتو لنډیو په څېردوه بیته لري او ټوله موضوع په همدې دوه بیتونو کې بشپړوي. د غاړو ویونکي هم د نورو شفاهي فورمونو په څېر تر اوسه معلوم نه دي. « هره غاړه ځانته یو ځانگړی انځور او موسیقیت لري. زیاتره غاړې د مضمون له مخې عشقي، مذهبي، ټولنېزې او حماسي خواوې لري.» (۱)

مینه او عشق یوه داسې جذبه ده چې د هر ژوندي مخلوق په وجود کې له هستۍ سره یې یو ځای پیدا کېږي.« مینه یوه داسې خوږه او په زړه پورې کلمه ده چې له پخوا زمانې څخه ومور ته خوله په خوله په میراث راپاتې ده. پښتنو تل مینې ته د مینې په سترگه کتلي دي»(۲) او مینې یې کړي دي، له دې کبله مینه په پښتو شعر او ادب کبېه ځانگړي ډول په غاړو کې ډېره ستایل شوې او د مینې حقیقي څېره او روح په کاکړیو غاړو کې څرگند شوی دی، یعنې په کاکړیو غاړو کې نه یوازې اخلاقي، دیني، مذهبي او ټولنېزموضوعات وینو، بلکې ډېرې داسې غاړې دي چې موضوع یې په مینه او محبت راڅرخي او د دوه مینانو له خوا یو بل ته ویل شوي دي.

کـاکړۍ غـاړې د مینــې، محبــت، پښــتني ننــګ او غیــرت او پښــتني شــهامت ښـکارندویې دي. ، د پښـتني فولکلـور پـه دغـه خونـدوراو پـه زړه پـورې ډول کـې د ګرانښت او خپلې مینې څرګندولو لپاره ښځمنې او نارینه یو د بل نومونـه نـه اخلـي. دوی یو پر بل د نازاو ګرانښتنومونه ږدي. هغه داسې چې یو محبوب خپلې محبـوبې ته ځانګړي القاب او نومونه لري او په مقابل کې یـوه محبوبـه هـم خپـل محبـوب تـه ځانګړي القاب او نومونه لري  چې په کاکړیو غاړو کې یې یو بل ته یادوي او یو د بـل درناوی کوي. په کاکړیو غاړو کې  د نـاز ډېـر زیـات نومونـه خونـدي شـوي دي. دغـه ښکلي نومونـه د کـاکړۍ غـاړو زېـور دي او د پښـتني فولکلـور دغـه خونـدور ډول پـه همدې فولکلوري زېور ډېره ښکلی او په زړه پورې برېښي.

«په غاړکې یوه ښـځینه خپـل محبـوب سـتایي او د اصـلي نـوم پـر ځـای یـې پـه نـورو فولکلور نومونو یادوي. لکه نازک، سپین، ګران، لویال، ګل، سروبن،لالی او داسې نور...

دغه راز نارینه په کـاکړۍ غـاړو کـې خپلـه محبوبـه  پـه بېلابېلـو خونـدورو نومونـو یادوي چې د سـاري پـه ډول ځینـې ښـکلي فولکلـوري نومونـه پـه دې ډول وړانـدې کېږي:

ګرانو، ژړو، سره، بوره، نرۍ، لېونو، او داسې نور... دغه راز زموږ د کاکړۍ غاړو پـه سمسـوره لمـن کـې د ښایسـته او خونـدورو نومونـو پـه مقابـل کـې د (حریـف) لپـاره ځانګړي نومونـه لیـدلای سـو، لکـه: ګـرجن، زولـن( ژاولـن) ښـوور، مـوذي، سـخن او داسې نور...»(۳)

څرنګه چې په پورتنیو کرښو کې  هم نغوته وشوه، په غاړو کې محبوب او محبوبـه ځانته ځانګړي د نازاو ستاینې نومونه لري چې په لاندې توګه به واضح شي.

## د ښځینه وو له خوا نارینه ته د ناز نومونه

**ګران:** «ګران» هغه د ناز نوم دی چې زیاتره په عشقي کاکړیو غاړو کـې راغلـی دی. دغه د ناز نوم د یوې محبوبې له خوا خپل محبوب ته د هغه د نوم  اخیستلو پر ځـای اود خپل محبوب د نازولو په خاطر ویل کېـږي. بېلګـې یـې ډېـرې دي، د نمـونې پـه ډول څو کاکړې غاړې چې پورتنی  د ناز نوم په کې راغلې وي،

دلته راوړو:

« د اوښانو غړغړې دي

مورکۍ ځم د ګران نارې دي

سپوږمۍ وکه رڼا یې

ګران په ازغیانو کې راځي»(۴)

«ناسته یم پرټیلفون

د ګران درک نه دی معلوم» (۵)

**نازک:** «نازک» هم د ګران په څېر هغه د ناز نوم دی چې د یوې محبوبې له خوا خپل محبوب ته په کاکړیو غاړو کې ویل کېږي. په دې اړه ډېرې کاکړۍ غاړې شته؛ د نمونې په ډول څو کاکړۍ غاړې دلته راوړو:

« د هلک مینه دی وکه

زه دې هیره کړم نازکه

په پردي وطن کښې ورک

ستړی ستومانه دی نازک»(٦)

**لویال:** «لویال»هغه د ناز نوم دی، چې د ګران او نازک په څېر د یوې محبوبې له خوا خپل محبوب ته ویل کېږي او د دغه نوم په واسطه یوه محبوبه خپل محبوب ته خپل د زړه راز او نیاز په ګیلو وړاندې کوي.د بېلګې په توګه لاندې کاکړۍ غاړې وینو:

«لویال څنګه په زړه تور دی

پر ما بل ناروا ورور دی

پر لویال مې اېښکی وي

سرې ډوډۍ نه قبلېدې

ته چې بل وطن ته ځې

لویاله ما چا ته پرېږدې»(۷)

## د نارینه له خوا خپلې محبوبې ته د ناز نومونه

په کاکړیو غاړو کې د ولسي- او کلیوالي مینې انځور ډېر ساده، عامیانه او د خلکواو ټولنې له شرایطو سره سم انځورېږي، ځکه محبوب او محبوبې یو پر بل

ښکلي د ناز نومونه ايښې دي، دغه د ناز نومونه نـه يـوازې ښـځينه وو پـه خپـل مـين ايښې، بلکې نارينه وو هم د خپلې محبوبې لپاره ځينې ځانګړي د ناز نومونه ايښــې، چې څو بېلګې يې په لاندې توګه وړاندې کېږي.

**ګرانو:** په کاکړيو غاړو کـې ګرانـو داسـې د نـاز نـوم دی چـې د يـوه مـين لـه خـوا د خپلې محبوبې لپاره کارول کېږي. دغه د نـاز نـوم پـه کـاکړيو غـاړو ډېـر د اسـتعمال مورد لري او په دې اړه په زرګونو کاکړۍ غاړې شـته چـې دلتـه بـه د نمـونې پـه ډول ځينې غاړې راواخلو.

« په قدم يې روپۍ ارزي
چې راولاړه ګرانو سي
جار دې سم تر سپينو پښو
د سهار پرښه ده ګرانو
عاشقي مرض د زړو
په ما دې پورې کئ ګرانو» (۸)

**ژړو:** ژړو هغه د ناز نوم دی چې د نارينه له خوا په کاکړيو غاړوکې د خپلې محبـوبې لپاره ويل کېږي. دغه د نازنوم په زياترو کاکړيو غاړو کې راغلی، دلته بـه دنمـونې پـه توګه څو کاکړۍ غاړې راوړو:

« زما او ستا تر ميان وياله ده
ژړو لاس راکه تياره ده»(۹)
«مازيګر دی ځم به کور ته
ژړو سر نه کئ راپورته»(۱۰)

**بوره:** بوره هغه د ناز نوم ديچې د نارينه له خوا د خپلې محبوبې د ناز لپـاره کـارول کېږي. دغه د ناز نوم هم په ډېرو کاکړيو غاړو کې راغلی. دلته بـه د نمـونې پـه ډول ځينې راواخلو:

« ما لنډۍ ورته کولې
بوره ناسته وه ژړلې
ستا د لاسه پر ما غم دی

بورې ستا د پلار وطن دی
بوره نه ده بوره ګۍ ده
بوره خاصه لېونۍ ده» (۱۱)
«زه چې تلم بورې ژړل
ډېره وهلې وه ژاولن»(۱۲)

**لیونو:** «لیونو» هغه د ناز نوم دی چې زیاتره په عشـقي کـاکړۍ غـاړو کـې راغلـی او دغه نوم هم محبوب خپلې محبوبې ته له ډېرې مینې او نازه وایي. د نمـونې پـه ډول به څو هغه غاړې راوړو چې دغه د ناز نوم په کې راغلی وي:

« د دنیا لذت پر غاښ دی
ستا پر خوله لیونو لاس دی
تل به نه وي خوشالي
یوه ورځ به غم لیونو وي
له همزولو دې جلا کم
زه ملنګ لیونو تا کړم»(۱۳)

**نرۍ:** «نرۍ »هغه د ناز نوم دی چې پـه کـاکړیو غـاړو کـې د محبـوب لـه خـواخپلې محبوبې ته ویل کېږي. دغه د ناز نوم په ډېرو کاکړۍ غاړو کې راغلی او زیاتره وخـت یو محبوب د خپلې محبوبې د ښکلا او ښایسـت سـتاینه او صـفت پـه دغـه نـوم سره کوي، کېدای شي د هغه محبوبه نرۍ هم نـه وي او پـه ظـاهري لحـاظ چاغـه وي. د بېلګې په توګه لاندې کاکړۍ غاړې وینو:

« ګوتې راکه د ښي لاس
نرۍ یارۍ ده په اخلاص
خولګۍ راکه تکه سپینه
نرۍ ډېره مه ستا مینه
خلک ویده دي خوب به ورسي

پرما اورد نری بل سي»(۱۴)

« د نری پر مینه رالم

بې بارانه ګلان شنه وو» (۱۵)

## پایله

غـاړې د پښـتومنظومو شـفاهي ادبیـاتو هغـه  پـه زړه پـورې ډول دی چـې اکـثره پښتني ښځې او نارینه خپـل احساسـات ، ژور عواطـف، د ژوندانـه نـاخوالې، د ژونـد ستونزې او مشکلات ، خپله مینه او محبت  په کې په منظـوم ډول بیـانوي، پـه غـاړو کې د ښځو برخه ډېره زیاته ده. په حقیقت کې په کـاکړیو غـاړو کـې فولکلـوري هـنر اود ولسي خلکو ژور احساسات په ډېره ساده ژبه بیان شوي دي.

غاړې زیاتره دیني او مذهبي، اخلاقي، ټولنیزې خواوې لري چـې هـره برخـه یـې جلا خوند او رنګ لري. یعنې دیني او مذهبي غاړې پـه دینـي موضـوعاتو راڅرخـي، اخلاقي غاړې په اخلاقي موضوعاتو، ټولنېزې غاړې په ټـولنېزو موضـوعاتو او عشـقي غاړې بیا مین او محبت په موضوع باندې راڅرخي. په عشـقي غـاړو کـې بیـا مـین او مینې د یو بل لپاره د ډېرې مینې او محبت له مخې ځینې ځانګړې فولکلـوري د نـاز نومونه ایښې دي او دغه د ناز نومونه په بېلابېلو کاکړیو غاړو کـې راغلـي چـې دغـو د ناز نومونو د کاکړیو غاړو خوند او رنګ لاپسې زیات کړی دی.

## وړاندیز

څرنګه چې کاکړۍ غاړې د ولسي خلکو مـال دی او پـه ډېـرو پښـتنو سـیمو کـې شـته، نـو وړانـدېز کېـږي چـې د هېـواد لـه ټولـو پښـتنو سـیمو څخـه دې د مختلفـو موضـوعاتوپه اړه کـاکړۍ غـاړې راټـولې او پـه کتـابي بڼـه دې ثبـت شي، تـر څـو لـه متروکېدو او ورکېدو څخه یې مخنیوی وشي.

## مأخذونه

۱- ازمون، لعل پاچا. پښتو فولکلوري ادبیـات، پکتـویس خپرندویـه ټولنـه: ۱۳۹۵هــ ش کال،۱۲٦مخ.

۲- کــــاکړ، ســــیال. پخــــوانۍ غــــاړې، پښــــتو فولکلــــوري اکېډمي:کوټــــه، ۲۰۰٦زکال.۱۱۴مخ.

۳- کــاکړ، ســیال. فولکلــوري انځــور، پښــتو فولکلــور سوســایټي: کوټــه، ۲۰۱۱ز کال،۵۳مخ.
۴-پورتنی مأخذ، ۱۱۹،۲۲۸،۲۲۹ مخونه.
۵-وفا، محمد داوود. د فولکلور پېژندنې لاربنود، ختیځ اکاډمي: ننګرهـار، ۱۳۹۲هــ ش کال، ۵۴مخ.
٦-صاحب زاده حمیدالله. کاکړۍ لنډۍ، پېښور، ۱۹٦۷ز کال، ۵۵،۷۸مخونه.
۷-رفیع، حبیب الله. د خلکو سندرې، دویم چاپ، سهر مطبعه: ۱۳۹۷هــ ش کـال، ۲۰۵مخ.
۸- کاکړ، سیال. کاکړۍ، اسلامیه پرس کوټه، ۱۹۷۳زکال، ۱۰۲مخ.
۹- کاکړ، سیال. کاکړۍ،۹۷مخ.
۱۰- صاحب زاده حمیدالله. کاکړۍ لنډۍ، ۷۱، ۷۸مخونه.
۱۱- مخکینی مأخذ، ۵۲، ۵۳، ۵۴، مخونه.
۱۲-هېوادمل، زلمی. د پښتو ادبیاتو تـاریخ، درېـیم چـاپ، دانـش خپرندویـه ټولنـه: ۱۳۹۳هـ ش کال، ۷مخ.
۱۳- کاکړ، سیال. کاکړۍ، ۹٦مخ.
۱۴- پورتنی مآخذ، ۹۷- ۹۸مخونه.
۱۵- ژړک، محمد صادق. کاکړۍ غاړې،پښتو ادبي غورځنګ:کوټه، ۲۲مخ.

څېړنيار حمايت الله ښاد

# سعيد د خپل ديوان په منځپانګيزه او جوليزه دايره کې

# Saeed in the circle of content and form of his Dewan

**Research Assistant Hemayatullah khad**

**Abstract**

In our classic history of literature, we had excellent writer's poets that unfortunately till now their different side of lives are unclear and, also there is no accurate information about their place and time of living and their tribe. As we said that periods of literature we had outstanding writer and poet whom wrote many books and impression(books) but we just know their names or we know about simple of their work. In classic history of Pashto literature Saeed is also one of excellent and prominent poet because of social disorders, we do not have accurate source without his Dewan to know about him.

Every literatures researcher who talk about Saeed is not able to talk without his poetry.

In this article in addition of his life we will discuss about his style, Pashto Dewan, totally form and content of his poetry, in mean while we will clear Saeed academic and literary personality.

**لنډيز**

بدبختانه زموږ د کلاسيکو ادبياتو په تاريخ کې ډېر داسې پياوړي شاعران او ليکوالان تېر شوي چې د هغوی د ژوند ډېرې خواوې تر اوسه ناڅرګندې دي او د

ډېرو د ځای، قام، او مهال په اړه مستند معلومات نشته دی، د ادبیاتو په دغه پېر کې ډېر پیاوړي شاعران او لیکوال تېر شوي چې ډېر آثار یې لیکلي؛ خو موږ ته یې د آثارو تش نومونه راپاتې دي او یا د ځینو شاعرانو او لیکوالو د لیکنو یا شاعرۍ ځینې نمونې. سعید هم د کلاسیکو ادبیاتو په تاریخ کې یو پیاوړی او نومیالی شاعر تېر شوی؛ خو د ټولنیزو ناسمو حالاتو له امله یې موږ د ژوند له ډېرو برخو ناخبره یو. د سعید په اړه  د ده له دیوان پرته موږ بله مناسبه سرچینه نه لرو، هر ادبپوه او څېړونکی چې د سعید په باب څه وایي، د ده له شاعرۍ پرته نه شي غږېدلای.

په دې لیکنه کې به د سعید پر ژوند لیک سربېره د ده پر سبک، پښتو دیوان، د اشعارو په شکل او منځپانګې ټولیز بحث وشي او د سعید علمي او ادبي شخصیت به ترې تر یوه بریده ښه روښانه شي.

## سریزه

د سعید زوی لیکي: "زما د پلار دا هیله وه چې داسې شعرونه ولیکي چې راتلونکو نسلونو ته ګټه ورسوي او کله چې به د هغه کوم شعر خوښ نه شو، و به یې سوځاوه او یا به یې څېرې کړ."

سعید د پښتنو د ښوونې او روزنې او غوره ټولنیزو اخلاقو لپاره په شعوري ډول شاعري کوله او په دې پوهېده، که چېرته پښتانه د تورتم او ناپوهۍ له جالونو څخه راووځي، په ډېرې چټکۍ سره به پرمختګ وکړي او بیا به څوک د دې توان و نه لري چې د دوی په منځو کې د ځانځانۍ کرښې کېکاږي.

سعید د پښتو او دري ژبو یو عارف، صوفي او اخلاقي شاعر و چې په شعرونو کې یې د ژوندانه بېلا بېل اړخونه رانغاړلي دي، خلکو ته د ټولیز ژوند چارې ښایي او ځوانو نسلونو ته د پند او نصیحت نارې وهي؛ نو د داسې فرهنګي او ټولنیز شخصیت پېژندنه او آثار یې زموږ اوسني نسلونه ډېر ښه هڅولی شي او په دوی کې د دغسې ادبي او فرهنګي خدمتونو ملاتړ راژېړولی شي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د پښتو د کلاسیکو ادبیاتو په تاریخ کې پر خوشحال خان خټک سربېره ډېر پیاوړي شاعران او لیکوالان تېر شوي دي چې موږ یې له ژوند او د آثارو له

منځپانګې څخه په بشپړه توګه خبر نه یو، د دغې دورې ډېر قېمتي لعلونه تر اېرو لاندې پټ دي، چا یې لا اېرې سمې نه دي څنډلي چې ځلاوې یې ټولنه رڼا او د پښتو ژبې خوږې وړانګې یې د اولس سترګې رڼې کړي. د دې موضوع اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې موږ د پښتو د کلاسیکې دورې د یوه پیاوړي لیکوال او شاعر د دیوان له داخلي جوهره خبروي.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه دا ده چې د سعید پېژندنه، د هغه د پښتو د دیوان بېلا بېل اړخونه، د سعید دیوان خطي نسخې، د سعید د شاعرۍ سبک او په ټوله کې به د سعید د دیوان محتوایي او شکلي اړخونه روښانه شي.

## د څېړنې پوښتنې

۱. سعید څوک و؟
۲. سعید د کوم پېر شاعر او لیکوال او د چا پیرو و؟
۳. د سعید د دیوان عمده مسایل او موضوعات څه دي؟
دا او دې ته ورته کوچنۍ پوښتنې په دې څېړنه کې ځواب شوې دي.

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې له تشریحي ـ توضیحي او تحلیلي مېتودونو څخه کار اخیستل شوی دی.

## د سعید د دیوان منځپانګیزه او جولیزه شننه

مخکې له دې چې د سعید د پښتو دیوان په منځپانګې او بڼې وغږېږو؛ اړینه ده چې لومړی د سعید بابا د ژوندانه له احوالو هم ځان خبر کړو:

**د سعید پېژندنه:** له بده مرغه د پښتو ژبې د پیاوړي لیکوال او شاعر سعید د ژوند ډېرې خواوې تر اوسه د څېړنو په تورو اوبو کې ناڅرګندې پرتې دي چې له دیوان پرته یې موږ د سپینولو او فیلټرولو بله لاره او چاره نه لرو، ځکه د سعید له دیوان پرته موږ د ده په اړه نورې سرچینې نه لرو.

د ده له دیوان او د همېش خلیل د څېړنو له مخې، سعید خټک د خوشحال د کورنۍ یو فرد و، ژوند یې تر ۱۱۲۴ هـ ق کال پورې یقیني دی.(۷: ۱۶۳مخ)

سعید په خپل دیوان کې ځانته له سعید پرته بل نوم او تخلص نه دی غوره کړی؛ خو د ادبپوهانو او څېړونکو د سعید، بابا سعید، سعدالله خان، سعید خټک په نومونو یاد کړی دی، د ده دیوان په خپل وخت کې د بابا چوچه په نامه شهرت درلود، مگر دا چې دی څوک و؟ کله زېږېدلی و؟ او په کومه دوره کې یې ژوند کاوه، تر اوسه پورې یې د ژوند د گڼو اړخونو په اړه پوهان او څېړونکي نه دي بریالي شوي. دکتور عارف عثمان په یوه لیکنه کې وایي چې:« ما د سعید په باب د پښتو د کلاسیکو ادبیاتو له نامتو لیکوالو پوهاند حبیبي، عبدالرؤف بېنوا، ارسلان سلیمي او نورو څخه پلټنې وکړې؛ خو د مستندو معلوماتو په راټولولو بریالی نه شوم.»( ۵: ۱۸۷ مخ)

د همدغې لیکنې په وړاندې کرښو کې د پوهاند رښتین نظر رااخلي او وایي: رښتین صاحب په دې موضوع ډېر زور اچوي چې سعید یا سعدالله خان د افضل خان خټک زوی او د خوشحال خان خټک د ادبي مکتب له پیروانو څخه دی. ( ۵: ۱۸۷ مخ)

د سعید په اړه همېش خلیل د ده د یوان په مقدمه کې دوه ډوله نظریات وړاندې کوي: د سعید د اشعارو له مخې سعید د خوشحال د کورنۍ یو شاعر بولي او وایي، د ده د ادبي مکتب لاروی دی. د دوهمې نظریې پر بنسټ چې دغه قضاوت د سعید د یوې قصیدې له مخې کوي، داسې تخمینوي چې سعید د شېرشاه سوري د دربار یو شاعر دی.

پوهاند رښتین د دغه شک له منځه وړلو لپاره یوه بېله مقاله ولیکله او هغه یې د ورمې په مجله کې چاپ کړه چې په دغه لیکنه کې استاد رښتین د همېش خلیل له لومړۍ نظریې سره همغږي کېږي او وایي چې سعید هغه سعد الله خان دی چې د خوشحال خان کړوسی او د افضل خان زوی و او یوازې شعري نوم یا تخلص یې سعید دی. پوهاند رښتین د خپلې نظریې د ثبوت لپاره څو دلیلونه هم راوړي چې زه به یې دلته په لنډ ډول راوړم:

د افضل خان په زامنو کې ټولو تاریخ لیکونکو سعدالله خان راوړی دی، حیات محمد خان په حیات افغاني په ۱۲۸۱ مخ کې وایي چې د افضل خان په زامنو کې یو سعدالله خان نومېده چې په سعیدخان مشهور و، دا روایت دا نظریه ښه قوي کوي چې دغه شاعر هماغه سعید خان یا سعدالله خان خټک دی چې د سعید نوم یې د شعري اړتیا له مخې غوره کړی دی.(۵: ۱۸۸ مخ)

سعید بابا د زده کړو په اړه هم معلومات نیمګړي دي او دا نه ده څرګنده چې له چا او چېرته به یې زده کړې کړې وي؛ خو له دیوان، فارسي او پښتو اشعارو څخه یې جوتېږي چې د وخت په دودیزو علومو پوه او پوره برلاسی و. سعید پر پښتو ژبه سربېره په فارسي او عربي ژبو کې هم پوره مطالعه او پوهه درلوده چې په فارسي ژبه کې یې بشپړ دیوان هم پرېښی دی. سعید بابا خپلو زده کړو ته یو ځای داسې نغوته کوي:

دا لږ لږ علم دانش چې زه لرم
هېڅ مدانی ده جهل څه نه لرم
په څنګ مې یاس دی ډېر خجلتونه
چې بې له یاره په زړه څه نه لرم
(۴: ۲۴۵ مخ)

د سعید د علم او پوهې په باب همېش خلیل یو ځای وایي سعید د عربۍ او فارسۍ عالم و چې علمیت یې په شاعرانه فن کې له ورایه برېښي. ( ۳: ۳۱۹ مخ) د سعید په علم او پوهه کې هېڅ شک نشته، دی له شک پرته په پښتو، عربي او فارسي ژبو کې د پراخې مطالعې خاوند او عالم شخص و چې الهي مینې او مطالعې ته یې له هر څه ډېر ارزښت ورکاوه لکه چې وایي:

چې یې کار مطالعه د زړه کتاب شه
د کتو فراغ یې کله د کتاب شته
( ۴: ۱۵۰ مخ)

له لوړ بیت څخه څرګندېږي چې سعید له الهی مینې سره د خپل زړه مطالعه تړلې وه او د عامو کتابونو مطالعې ته یې وخت نه درلود.

د سعید د ژوند ګڼ اړخونه په تیارو کې ورک دي، په ټول دیوان کې د ده د ځای، نسب او د کور کلي په اړه هېڅ نه دي ذکر شوي؛ خو موږ یې د ځینو شعرونو له مخې د خوشحال خان همعصره ګڼلی شو. سعید په لاندېنیو شعرونو کې د خټکو او یوسفزیو تر منځه د جنګونو، د شهباز خان د ننګ، غیرت په اړه داسې وایي:

خټک خوراک شه د یوسفزیو
چې یې هم مال خوري هم یې سرونه

میرخي له ننگ د نام خبر کا
د گوربندي شول د ننگ مړونه
یو خان شهباز بل د ننگ پگړی
چې یې پښتون کا په نام فخرونه
(۴: ۲۸۱ مخ)

که پورتنیو بیتونو ته ځیر شو، د ختکو او یوسفزو ترمنځ ډېر جنگونه زموږ سترگو ته دروي، د ختکو او یوسفزیو ترمنځ ډېر جنگونه شوي چې ډېر ځله به کامراني د ختکو په برخه وه. سعید همدغه جنگونه لیدلي او بیا یې د نظم په ژبه کښلي دي؛ نو ویلای شو چې پر دې بنسټ سعید د خوشحال همعصره او د هغه د کورنۍ نږدې غړی دی.

پورته قطعې او د پوهاند رښتین نظر ته که ځیر شو، موږ ته ځینې پوښتنې راپیدا کوي، رښتین سعید د افضل خان زوی گڼي او وایي چې دا سعید هماغه سعدالله خان د افضل خان زوی دی او د خوشحال کړوسی دی؛ خو که موږ د خوشحال ژوند ته نظر وکړو، خوشحال په ۱۰۲۲ هـ. ق کال زېږېدلی دی، په اتلس کلنۍ (۱۰۴۰)کې یې واده کړی، لومړی زوی یې چې اکبر نومېده، وفات شوی، ورپسې اشرف خان هجري په (۱۰۴۴هـ. ق) کال پیدا شوی. اشرف خان هجري لا بلوغ ته نه و رسېدلی چې نیکه یې شهباز خان په ۱۰۵۰هـ. ق کې وفات شو، یعنې اشرف خان ختک په دغه عمر کې واده نه و کړی، همدارنگه افضل خان په ۱۰۷۵ هـ. ق کال زوکړی دی، بیا به افضل خان څومره وخت وروسته واده کړی وي چې له هغه به یې زوی سعید پیدا شوی وي؛ نو که سعید د افضل خان ختک زوی وگڼو، نو په دې یقیني یو چې په دغه مهال شهباز خان له دنیا رحلت کړی او پر ځای یې خوشحال خان د خپلې سیمې او قام سردار او خان دی؛ خو که پورتنۍ قطعې ته ځیر شو، سعید د شهباز خان یادونه داسې کړې، گوندې سعید د خپلو سترگو لیدلی حالت بیانوي چې بیا موږ د سعید په اړه په تیارو کې پرېږدي. له بلې خوا که موږ ووایو چې سعید د خپل غور نیکه یادونه وروسته کړې، نو بیا خو له شهباز خان څخه خوشحال خان خپله هم ښه خان، زړور جنگیالی، شاعر او د خپل قام مشر و؛ نو ولې یې د هغه د کارنامو یادونه او ستاینه نه ده کړې.

په هر حال، له لاندېنیو بیتونو څخه یې د خوشحال خان او د هغه له اولادونو سره ژورې او نږدې اړیکې ښې څرګندېږي او د دغو اړیکو او نورو څرګندونو پر بنسټ ویلای شو، ښایي سعید د خوشحال خان وراره او یا یې د کورنۍ بل نږدې غړی وي. سعید بابا د خوشحال کورنۍ ته دومره نږدې پاتې شوی و چې د خوشحال او عبدالقادر خان خټک په خوی بوی او طبیعت باندې پوه و، خان روښانه زړه او د ښه طبعې خاوند و او همدارنګه به د عبدالقادر خان حلوا ډېره خوښېده چې سعید یې داسې یادونه کړې ده:

د حلوا خبیص لړ دی
پخونی هم اکل
نان پزان اکل یې ډېر وي
دا پټ نه دی له عاقل
دلته یو عبدالقادر دی
د خبیص حلوا مایل
شریکان وو که اوس دي
په دا اکل کې داخل
خان دویم څوک اسماعیل وه
رسا طبع روشن دل
(۴: ۲۸۷ مخ)

له بده مرغه د سعید د پیدایښت او مړینې نېټه د ده له دیوان څخه هم نه ده څرګنده؛ د ده له ډېرو شعرونو جوتېږي چې تر سپین ږیرتوب پورې ژوندی و چې عمر یې تر ۷۰ کلونو پورې یقیني دی او ښایي چې له دې وروسته به هم ژوندی و:

قریب شه عمر مې اویا کلونه
زړه مې له بدو ګوره چې ستون نه شو
(۴: ۲۸٦ مخ)

که موږ د سعید په اړه څومره پلټنه وکړو؛ نو دې پایلې ته رسېږو چې سعید د خوشحال خان خټک همعصره پیاوړی شاعر او لیکوال تېر شوی چې موږ یې د ژوند په اړه له بشپړو او کره معلوماتو څخه عاجز یو.

**د سعید آثار او ادبي لار:** سعید ته د ده دیوان د عینکو له مخې اړینه ده چې له لارې او سبک یې هم خبر شو، هر شاعر او لیکوال د خپل شعر او خپلې لیکنې لپاره ځانته لیکلاره او تګلاره لري؛ خو د ځینو شاعرانو او لیکوالو په اشعارو او لیکنو کې شکلي او موضوعي ورته والی ډېر لیدل کېږي او په زیاتره مواردو کې یو شاعر د بل شاعر د افکارو او خیالاتو پیروي کوي او خپل اشعار یې د بل شاعر د سبک په پیروي وایي او د شاعر د سبک له شکلي خوا یا موضوعي، معنوي او بدیعي ښکلاوو او داسې نورو اړخونو څخه اغېزمنېږي او په خپل شعر او لیکنه کې یې دې ډول اړیکو ته ځای ورکړی وي چې کېدای شي د دغه ډول اشعارو او لیکنو اړیکې د کورنۍ او چاپېریال یا استادۍ او شاګردۍ او د شخصي تمایل او داسې نورو ملحوظاتو پر بنسټ منځته راغلي وي. (٦: ١٠٢ مخ) که څه هم زموږ موضوع د سعید د سبک او لارې پېژندنه نه ده؛ خو دلته یې یوه لنډه یادونه اړینه ګڼم:

لومړی شخص چې سعید یې د خوشحال د ادبي مکتب پیرو وګاڼه، هغه ستر څېړونکی او خوشحال پېژندونکی دوست محمد کامل مومند و چې سعید یې د خوشحال د سبک لاروی وباله چې ورپسې ډېرو څېړونکو دغه لار ونیوه او د کامل مومند پر پل لاړل.

د پښتو ژبې نوموتی لیکوال او څېړونکی زلمی هېوادمل د سعید د سبک په اړه لیکي: «د دې دیوان پر غزلو او ځینو قصیدو د خوشحال د سبک اغېزې او اثرات لیدل کېږي؛ دا سړی هم د دې کورنۍ په غړو او د خوشحال د سبک په پیروانو کې درولای شو.» ( ٧: ١٦٣مخ) استاد هېوادمل یې د ثبوت لپاره د سعید هغه بیت راوړی چې د شهبازخان یادونه په کې شوې ده. پر استاد هېوادمل سربېره پوهاند صدیق الله رښتین، څېړنپوه سید محي الدین هاشمي، عارف عثمان او یو شمېر نورو لیکوالو او څېړونکو د یوې څلوریزې له مخې سعید د خوشحال د سبک پیرو او د کورنۍ نږدې شخص ګڼلی دی.

که موږ د سعید پښتو دیوان وپلټو، نو د خوشحال خان او خټکو له کورنۍ څخه پرته په کې د نورو شاعرانو او قبیلو ذکر نه دی شوی، ده په دیوان کې د خان او د هغه له کورنۍ پرته د بل چا یادونه نه ده کړې، نو د ده په دیوان کې د راغلو بېلګو له مخې ویلای شو چې سعید د خوشحال په کورنۍ پورې اړه درلوه او د هغه

(خوشحال) د زامنو په څېر و، د دغې ادبي لارې پیرو او د زمانې په لحاظ د هغوی هم مهالی دی، ځکه سعید د خوشحال خان او ځینو نورو شاعرانو شعرونه لوستي و او پوره ترې اغېزمن هم و؛ نو ځکه یې موږ د خوشحال په کورنۍ پورې تړو او د خان د ادبي مکتب لاروی یې گڼو. د دې خبرې د اثبات لپاره دا لاندې څلوریزه راوړم:

خان که اطلس د اشعارو ودلی دی
د یو دریو رونو توکی هم ښکلی دی
لږ په دیوان د سعید نظر کړه
په ریسمان د شړۍ گنډلی دی
(۴: ۲۵۳ مخ)

له لوړې څلوریزې څخه څرگندېږي چې سعید د خوشحال د زمانې شاعر او لیکوال و، همدارنگه یې په دوهمه مسره کې د درې ورونو یادونه هم کړې ده. همېش خلیل دغه درې ورونه اشرف خان هجري، عبدالقادر خان او سکندر خان ښودلي دي چې هغه مهال له خوشحال وروسته د نوم او شهرت خاوندان وو. هېره دې نه وي د دوی تر څنگ صدر خان او گوهر خان هم د خوشحال د کورنۍ ښه شاعران وو؛ خو په پښتو ادب کې لوړ مقام لومړنیو درې ورونو ته حاصل دی، نو ویلای شو چې سعید د خوشحال له اشعارو پوره اغېزمن دی؛ د خوشحال شعرونو ته د اطلس او خپلو شعرونو ته د شړۍ له تشبیه یې ښکاري چې د خوشحال شاعرانه قوت او لوړوالي ته لومړیتوب ورکوي او د خپلې لارې اظهار هم کوي. که د سعید دیوان ولټول شي، له خوشحال سره د نږدیوالي ډېرې نمونې به په کې راڅرگندې شي، زه یې دلته یوه کوچنۍ بېلگه راوړم چې د سعید لاره او سبک ترې څرگندېدای شي.

خوشحال د ننگ په اړه وایي:

دنیا واړه نام و ننگ دی
که دا نه وي جهان ړنگ دی
(۲: ۲۱٦ مخ)

سعید خټک د خوشحال په څېر د ننگ په اړه وایي:

څو چې وتلی د ننگ و نام نه یې
خطا له تا دی له مرد امېد
(۴: ۲۳۵مخ)

## د سعید په اشعارو کې د فورم او منځپانګې شننه

د سعید نظم که نثر دی هر دواړه
عنا دل به يې د زړونو ګوشواره کا
(۴: ۲۹۳ مخ)

له لوړ بيت څخه جوتېږي چې سعيد د پښتو ادب د کلاسيکې يا منځنۍ دورې پیاوړی شاعر او ليکوال و چې موږ ته يې يوازې اوس د پښتو ژبې چاپي ديوان او د فارسي ژبې ناچاپ ديوان راپاتې دی، ښايي د نثر په برخه کې يې هم آثار ليکلي وي؛ خو د زمانې د تاړاکونو له امله ترې موږ اوس بې برخې یو.

مخکې له دې چې د سعید د اشعارو فورمونه وشنو، اړينه بربښي چې د ديوان په اړه يې هم لږه رڼا واچوو: د سعيد د ديوان د قلمي نسخو په اړه ما د اړوندو ډېرو ځايونو فهرستونه وپلټل؛ بدبختانه په دغو ټولو مشهور کتابتونونو کې يې د خطي نسخې کوم څرک نه ليدل کېږي. د خطي نسخو په دغو لاندې فهرستونو کې د سعيد د ديوان خطي نسخه نشته دی: بلومهارت فهرست، د مکيزي فهرست، د رښتين فهرست، د پښتو ۱۰۸ قلمي نسخې، د حبيب الله رفيع فهرست، د هند د کتابتون فهرست، د روسيې د کتابتون فهرست، د ارشيف فهرست، د حنيف خليل فهرست، د هېوادمل د چور شوي کتابتون فهرست، فهرست مخطوطات او د علومو اکاډمي فهرست.

د سعيد اوسنی چاپ شوی ديوان د يوې قلمي نسخې له مخې ترتيب شوی چې هغه هم همېش خليل د دارالعلوم رفيع الاسلام بلا مانړۍ پېښور مهتمم صاحبزاده سيد فضل صمداني څخه تر لاسه کړې ده. همېش خليل د دغې قلمي نسخې په اړه وايي: « دا نسخه دوه برخې ده، وړمبۍ برخه يې فارسي او دوهمه برخه د پښتو ده، د فارسي ټولې ورقې يو سل يو اويا(۱۷۱) او د پښتو صرف اتيا دي چې دا موجوده ديوان ترې مرتب شوی دی. (۴: مقدمه (ټ) مخ)

د سعيد ديوان د دې قلمي نسخې ترڅنګ زموږ ځوان څېړونکي عبدالرحمن حبيب زوی د خطي نسخو د څېړنو په بهير کې د سعيد د ديوان قلمي نسخه په اسلام اباد کې موندلې چې داسې يې راپېژني:

لیکوال: سعید، د خطاطۍ کال: نامعلوم، خطاط: نامعلوم، خط: نستعلیق، کاغذ: هندي، د مخونو شمېر: ۳۱۴ ، د هر مخ کرښې: ۱۷، پوښ: څرمن، د کتابخانې نمبر: ۹۴۳۱.

د دیوان په ځانګړنو کې یې زیاتوي چې دا دیوان په فارسي او پښتو اشعار لري، پیل یې چې ۷۵ مخه دی، ټول فارسي اشعار او په حاشیو کې ځینې پښتو شعرونه لري. همدارنګه د فارسي اشعارو په منځ کې یو یو مخ پښتو شعر هم تر سترګو کېږي؛ خو بشپړ پښتو اشعار یې ۱٦۵ مخه کېږي چې خپله خطاط ورته په سور رنګ له ۱ تر ۱٦۵ پورې په انګلیسـي شمېرې ورکړې او فارسي برخه یې بیا هېڅ شمېرې نه لري. شعرونه یې د سور رنګ جدولونو په منځ کې لیکل شوي دي. ( ۱: ۲۷۲ مخ)

د سعید د پښتو او فارسي دیوانونو خطي نسخو پرتلنې ته که ځیر شو، د دواړو ترمنځ جوت توپیر لیدل کېږي. همېش خلیل چې د سعید د دیوان خطي نسخه په پېښور کې راپیدا کړې، د پښتو شعرونو مخونه ۸۰ ښیي چې د فارسي د اشعارو په پرتله کم دي؛ خو عبدالرحمن حبیب زوی چې د سعید د دیوان خطي نسخه لیدلې او تشریح کړې، د سعید پښتو شعرونه په کې تر فارسي شعرونو ډېر راښیي؛ نو ویلای شو چې د سعید اوسنی پښتو چاپ دیوان د مخونو له مخې نېمګړی ښکاري، که د سعید د پښتو دیوان د دغو دوو قلمي نسخو له مخې ترتیب او اماده شي؛ له یوې خوا به د ژبې او ادب د مینه والو تنده خړوبه کړي او له بلې خوا به مو د متن څېړنې د میتودولوژۍ له مخې بشپړ دیوان ترتیب او چاپ کړی وي.

اوسنی چاپ شوی دیوان یې چې د همېش خلیل په سریزه او زیار ترتیب شوی، لومړی وار ۱۹۵۸ زېږدیز کال او دوهم ځل په ۱۹٦۴ زېږدیز کال د دارالتصنیف بابوحیدر له خوا په پېښور کې په ۳۰۸ مخونو کې چاپ او خپور شوی دی، اوسمهال درېیم ځل هم چاپ شوی، خو زه یې په اړه معلومات نه لرم. زه یې دوهم چاپ په لاس کې لرم چې (۱۹۲) غزلې، شپږ قصیدې، (۲۷۱) څلوریزې او (۳۲) قطعې لري. د دیوان لومړۍ برخه یې په غزلو پیل شوې چې ځای ځای په کې قصیدې هم سر راښکاره کوي او وروسـې د څلوریزو او قطعو برخې راځي. د قطعو په برخه کې شپږ غزلې هم راغلې دي. د سعید دیوان که د نورو خطي نسخو له مخې ترتیب شي، ښایي د شعرونو د شمېر په باب یې شکونه په سیند لاهو کړي.

دا چې په پورتنیو توضیحاتو کې د سعید د ژوند، دیوان او د اشعارو د شکل او بڼې په اړه څه نا څه پوهه شو، اوس به یې د دیوان له جواهرو هم ځان خبر کړو چې د سعید دیوان منځپانګه په ځان کې څه رانغاړي؟

سعید د خپل وخت او دور یو پیاوړی او نومیالی شاعر دی، په شعرونو کې یې د ټولنیز ژوند بېلابېل مسایل شته چې په یوه مقاله کې د هغه د اشعارو ټوله منځپانګه پېژندنه او شننه سمندر په کوزه کې ځایول دي چې دا یو ناشونی کار دی او د دې مقالې له حوصلې وتلې خبره ده. زه یې دلته د بېلګې په توګه د اشعارو ځینې لویې او مهمې برخې، لکه: ستاینې، غندنې او نیوکې، اخلاقي ښوونیز او روزنیز مسایل، دیني، تصوفي او عرفاني مسایل، د مینې سوز او ګداز شعرونه له بېلګو او لنډو څرګندونو سره وړاندې کوم:

سعید په خپلو اشعارو کې د ژوندانه بېلا بېل اړخونه روښانه کړي دي، خو اخلاقي، دیني او تربیوي موضوعات یې د شاعرۍ د منځپانګې زړی جوړوي. د دیوان په سریزه کې د شاعرۍ په باب همېش خلیل داسې کښلي: «هسې خو د سعید خټک په دیوان کې د عشقیه شاعرۍ نه علاوه صوفیانه او چرته قومي شعرونه هم شته، ولې په مجموعي حیثیت د سعید په شاعرۍ اخلاقي اثر زیات غالب دی.» (۴: مقدمه(ش) مخ)

په هر حال موږ به لومړی د منځپانګې له مخې د سعید په دیوان کې په راغلو مهمو موضوعاتو او مسایلو رڼا واچوو او هره برخه به یې په لنډ ډول د بېلګو په راوړلو سره وشنو.

**ستاینې، غندنې او نیوکې:** که چېرته د یوه کس مدح او ستاینه د هغه د علم، پوهې، شاعري، لیکوالي، ښو اخلاقو او خدمتونو په نظر کې نیولو سره وشي او هغه په ښه نوم یاد شي، دې ته ستاینه وایي. ستاینه په دوه ډوله ده چې یوه برخه یې د افرادو ده او بله برخه یې داسې ستاینه ده چې د شخص تر سرلیک لاندې نه راځي او هغه ته د الله (ج) ستاینه وایي. سعید چې یو مذهبي او دینداره شخص و، د ده په دیوان کې الهي مینه او د الله(ج) د ستاینې ډېرې بېلګې شته او پر دې موضوعاتو یې دیوان بداینه دی چې دلته به یو څو بېلګې راوړم:

که رهبر نه وي د خلق ستا صفات
رسېدل نه و د هیچا ستا تر ذات

معرفت چې يې د تا په تا حاصل شه
هم هغو وته جلوه شول ستا آيات
(۴: ۳۵مخ)

همدارنګه بل ځای د الله(ج) ستاينه دا رنګه کړي:

ته قادر په قدرونو يې مطلق
تحت و فوق له تا موندلی دی رونق
نه جدار نه يې ستون چې پرې قايم دی
په خپل امر دې اسمان کړه معلق
( ۴: ۸۴ مخ)

د افرادو د ستاينې په برخه کې سعيد د مشخص شخص ستاينه او يادونه نه ده کړې؛ خو په عام مفهوم يې لايق او د کارې خلک ستايلي او يو باهمته کس ته يې له سلو کسو زيات ارزښت ورکړی، لکه چې وايي:

تر يوه قابل زرګونه ناکس ځار شه
خدايي د يو لايق هرګز په سله نه کا
(۴: ۲۵ مخ)

غندنو او نيوکو هم د سعيد ديوان ته ښکلا ورکړې ده، خو د سعيد نيوکې ټولنيزې دي، له دغو ټولنيزو نيوکو څخه يې موخه د اخرت او هاغې دنيا ښه ژوند دی. د سعيد نيوکې او غندنې د انسانيت، اخلاقو او انساني کردارونو د روزنې لپاره دي چې دلته به يې په يوه بېلګه بسنه وکړو:

د سړي په نام سړی نه سړی کېږي
څو جوهر يې تمام نه وي د انسان
چې په زيان د عقبا سود د دنيا اخلي
له هغو سړيو ډېر ښه دي سګان
(۴: ۱۱۹ مخ)

اخلاقي، ټولنيز، ښوونيز او روزنيز مسايل: ښوونيز شعرونه هغه دي چې د پنځوونکي موخه په کې نورو ته د اخلاقو او غوره ديني، مذهبي، عرفاني او نورو علومو او فنونو ور زده کول وي، په ښوونيزو او روزنيزو شعرونو کې ډېر وخت شاعران

خلک د ښوونې لاسته راوړنې او پرې عمل کولو ته تشویقوي، کله چې یو کس په ښوونې عمل وکړي، تربیه هم په کې راپیداکېږي، په ټوله کې په اخلاقي شعرونو کې د شاعر موخه نورو ته د ښو اخلاقو او غوره خصوصیاتو ښوونه وي.

سعید په ټولنه کې د ښوونې او روزنې پلوی و چې په دې اړه یې زوی د دیوان په مقدمه کې داسې لیکلي: « زما پلار دا هیله درلوده چې داسې اشعار ولیکي چې راتلونکو نسلونو ته ګټه ورسوي.» له دغې وینا څخه څرګندېږي چې سعید به په شعوري ډول د پښتنو د ښې روزنې لپاره ډېر داسې شعرونه ویلي وي. د سعید دیوان له داسې شعرونو څخه مالامال دی چې دلته به یې یو څو بېلګې راواخلو. د ښو اخلاقو په باب داسې وایي:

په بد خوی به دې دوستان دشمن د ځان کا
سر به خپل تر تا دشمن په احسان ځار کا
د هر چا سره دې نیت خواږه باید وي
ګڼې ژبه دې په دا کار کې په کار کا
ته ترخه له ژبې واخله عقد له لاسو
چې سرونه دې په سر خلک نثار کا
د اهن په جذب ګوره مقناطیس ته
خوږ الفاظ په زړو د خلکو هسې چار کا
(۴: ۳مخ)

بل ځای د ټولنیزو اخلاقو په باب داسې وایي:

که جوهر د عقل هر چاته موجود وی
په دانش به مشهور نه و لقمان
د سړي په نام سړی نه سړی کېږي
څو جوهر یې تمام نه وي د انسان
چې په زیان د عقبی سود د دنیا اخلي
هغو سړیو ډېر ښه دي سګان
(۴: ۱۱۹مخ)

سعید د دنیا ټولې چارې فاني ګڼلې، تل یې په خپلو شعرونو کې د خلکو ټولنیز ژوند ته پام کړی او له یو بل سره یې ښېګڼو ته رابللي، هغوی ته یې نړی د راتلونکي

ژوند يوه کرونده پېژندلې او د ښو اخلاقو او اعمالو او کمينی درسونه يې ورښودلي. دلته په ټوليزه توگه پښتنو ته وعظ و نصيحت کوي:

په زړه حواس واعضاء سليم اوسه
مه د چا دوست شه مه يې غليم اوسه
متوجه شه درست و خپل خدای ته
همېش جويا د ناز و نعيم اوسه
(۴: ۲۲۵ مخ)

ارزومند دی ډېر عام د دست بوسو
دغه لاس چې د محتاج سره مدد کا
(۴: ۲٦مخ)

که فاخر غواړې لباس پرهيز پيشه کړه
تر دا ښه په جهان نشته بل قماش
(۴: ٦۵مخ)

له هغو په جهان مه غواړه نادان نور
دل بسته چې په مالونو په اولاد شول
(۴: ۹۹ مخ)

**ديني او عرفاني افکار:** ديني او عرفاني افکار او شعرونه هغه دي چې د الله تعالی توحيد، د دين د بزرگانو احوال او اقوال، ژوند پېښې، عبرتناکې کيسې او په دين او مذهب پورې نور تړلي مسايل په کې شامل وي. سعيد سني مسلمان او د امام اعظم(رح) د مذهب پيرو و، د ده په ديوان کې ديني برخه هم ډېره راغلې ده او د ديني او مذهبي موضوعاتو بيان ته يې ځانگړې پاملرنه کړې ده. دلته يې د ټولو بېلگو راوړل ناممکن دي؛ خو د اسلام د دين په اړه يو څو بېلگو ته به يې تم شو:

چې مې وليدو قرآن عالي جناب
را معلوم يې شه په فيض د ايمان باب
هر هر حرف يې بېشک عروة الوثقی دی
چه په ديد يې د تحقيق گورې طلاب

د اسلام د دین تفوق په نورو دا دی
چې د ده شه په ادیان کې انتخاب
(۴: ۳۲ مخ)

دا چې سعید په خپله یو دیني او مذهبي شخص و او په دې لاره کې د امام عظم (رح) د مذهب لاروی هم و، په لاندې بیتونو کې د اسلام د سپېڅلي دین په اړه داسې وايي:

که دې رسي ورته لاس په رسوخ نیسه
د امام اعظم لړ کلک کا په یدین
چې د دین په زیان یې خوښ د دنیا سود کړ
شرمنده دی په عالم کې په دارین
(۴: ۱۱۷ مخ)

د سعید په دیوان کې تصوفي او عرفاني شعرونه هم شته، د ده له شعرونو څرګندېږي چې نوموړی په یوې روحاني کورنۍ کې زېږېدلی دی او د وخت په جوماتونو او مدرسو کې یې زده کړې کړي دي چې په شعرونو کې یې عرفاني او تصوفي رنګ هم ډېر غالب دی. تصوف د نفس د پاکولو طریقې ته وايي، له نفساني غوښتنو څخه د ځان ژغورلو او د الهي اخلاقو اختیارولو ته وايي، د تصوف په واسطه زړه تزکیه کېږي او د الله تعالی او بنده ترمنځ اړیکه پیدا کېږي.

عارف پوه، هوښیار او د الله تعالی پېژندونکي ته وايي.د سعید په دیوان کې د عرفان او تصوف بېلګې شته چې دلته به یې یو څو راواخلو: په دغو لاندې بېلګو کې سعید یو عارف او خدای پېژندونکی دی او هغه څوک الله(ج) ته نږدې ګڼي چې له شیطاني وسوسو پاک او الهي مینه کې غرق وي:

چې دې خلک د نفس هوا له لاسه واخلي
د زړه مخ به نور له نورو په معبود کا
(۴: ۴ مخ)

چې یو ځل مطالعه مخ د جانان کا
څرنګ بیا نظر په ځان یا په جهان کا

همگي مغلوب د وهم دا عالم دی
چه په لید به د جهان لید د سبحان کا
(۴ : ۲٦ مخ)

همدارنگه په لاندې بېت کې يې هم د عرفان جلوې له ورايه ښکاري او هغه څوک عارف او خدای پېژندونکی گڼي، کله چې له ټولې دنيا څخه ځان راټول کړي، نو هله به د يو الله(ج) نور او پلوشې د هغه په زړه کې ځای ونيسي او له زړه څخه به يې د تورتم پردې لرې شي:

چې يې زړه له کاينات نه پاکيزه شو
د توحيد نور يې په زړه کې جلوه گر کا
(۴: ۲۹ مخ)

لکه څرنگه چې صوفي د نفس د پاکوالي په واسطه زړه صفا کوي او له الله (ج) سره يې اړيکې ټينگېږي، سعيد هم د صوفيت دې برخې ته ځير شوی او د صوفي جوړېدو لپاره يې د نفساني خواهشاتو پرېښودل اړين گڼلي دي، له لاندې بېلگو څخه ښه پوهېدای شو:

که هوس د ننداره د عجب سير ده
له هوا نه کا زړه پاک هم له هوس
(۴: ٦۳ مخ)

چې د مينې شلغه بله شي په زړه کې
واړه سيزي د هوا هوس خاشاک
( ۴ : ۸۸ مخ)

له فاني دنيا هغو يوړې ښادۍ
چې په زېرمه همېشه د هغه زاد شول
( ۴: ۱۰۰ مخ)

د يار حسن په ديدو د يار ليده شي
ننداره يې هغه څه کا چې بې ديد شه
(۴: ۱۲۷ مخ)

هغه وخت چې ستا جمال په جلوه راشي
خپل معبود به دې حیران په ننداړو شي
چې له ځان له جهان ونیسي نظر خپل
دغه پسته به یې دید ستا د کتو شي
(۴: ۱۵٦ مخ)

عارفان باده پرست په دا سبب شول
چې د یار د مخ جلوه ویني په جام کې
(۴: ۲۷٦ مخ)

د سعید مینه د یوه صوفي او عارف مینه وه، د ده ځینو پورتنیو بیتونو ته که ځیر شو، د خوشحال د دغه لاندې بیت ښه شرحه وړاندې کوي او د وحدت الوجود د فلسفي نظریه ترې له ورایه څرګندېږي:

په هر څه کې ننداره د هغه مخ کړم
چې له ډېرې پیدایه ناپدید شو

**د مینې سوز او ګداز انګازې:** د سعید په دیوان کې د عشقي شعرونو بېلګې هم پیدا کېږي. عشقي شعرونه هغو شعرونو ته وایي چې د انسان د احساساتو او عواطفو بیانوونکي او څرګندوی وي، دغه احساسات خامخا د انسان د مینې او محبت، دوستۍ، رنځونو او کړاوونو څخه متأثر یا اغېزمن شوی وي. د سعید د حقیقي عشق او مینې په اړه پورته بحث وشو، دلته یې د مجازي عشق هغه بېلګې راوړم چې ځای ځای یې د خپلې معشوقې په ستاینه کې کښلي دي:

چې باڼه یې په زړه عین کار د خنجر کا
قدمونه یې په زړو سیر په لیر کا
چې د یار د خط و خال نقش یې په زړه وي
د نجات په قیامت ښکاره محضر کا
(۴: ۷ مخ)

که باڼه له سترګو واخلې لړ په لور مې
د مجنون غوندې به پاتې شي دا کور مې
په یوسف پسې یعقوب سپینې کړې سترګې

لا په تا پسې سپین نه دي د دید تور مې
زه د تا لپاره بېل له ننگ و نام شوم
د جهان خلک دې واړه کا پېغور مې
څه عجب به په کې ښکلي مخ جلوه وه
که د زړه په مخ غبار نه وي دا نور مې
شور انگیز مخ راښکاره کړه تر پلو لړ
چې له خلک مې غوړ کاڼه کا د زړه شور مې
(۴ : ۱۱۵ مخ)

په لاندې غزل کې سعید د خپلې معشوقې ستاینه په څومره ښه انداز کوي چې موږ ترې د ده عشقي شاعري ښه درک کولای شو:

څه عجب په شیوه تله کا ښیوه گره
د عالم زړونه یې یوړه له نظره
له سرشک یې خلک په لارې آب پاشي کا
د مینو زړه یې قوت دی له جگړه
تمام حسن یې لا نغښتی په پلو دی
د فانوس غوندې یې نور ځي له څادره
د دلبرو صفت ډېر شي په جهان کې
څوک به نه وي په زړه وړه له تا ماهره
(۴: ۱۲۵ مخ)

د معشوقې په اړه یې دا څلوریزه هم د یادونې وړ ده:

چې یې په لوري د چا نظر شي
وینې اوبه یې تمام جگر شي
و خپل مشتاق ته چې التفات کا
باڼه یې هر یو په زړه خنجر شي
(۴: ۲۱۲ مخ)

د سعید دیوان د محتوا له اړخه ډېر مضامین درلودل چې پورته پرې بحث وشو.
د شکلي(جولیز) جوړښت له مخې د سعید دیوان په غزلو، قصیدو، څلوریزو او قطعو

کې رانغاړل شوی دی چې دلته یې یوازې دغه یادونه بس گڼم او له بېلگو راوړلو یې تېرېږم.

## پایله

سعید چا د شېر شاه سوري معاصر بللی، چا د افضل خان زوی سعد الله خان گڼلی...؛ خو د هغه د دیوان له مطالعې څخه معلومېږي چې پورته یادې څرگندونې ټولې ناسمې او په حواسیاتو بنا دي، بلکې واقعیت دا دی چې د خوشحال خان خټک د کورنۍ غړی دی، یا یې وراره او یا کوم نږدې خپلوان دی او د ژوند زمانه یې د خوشحال او په ځانگړي ډول د هغه له زامنو (اشرف خان، عبدالقادر خان او سکندر خان) سره برابره ده.

سعید د پښتو ژبې په کلاسیکه دوره کې د پښتو او فارسي ژبو پیاوړی شاعر او لیکوال تېر شوی، هغه د خوشحال خان د سبک پیاوړی شاعر و او همدارنگه د خان د کورنۍ نږدې غړی و. په آثارو کې یې د پښتو چاپ او فارسي ژبې ناچاپ دیوانونه راپاتې دي، د ده له شاعرۍ جوتېږي چې په پښتو نثر کې یې هم آثار پرېښي؛ خو د زمانې په تیارو کې تر ننه ورک دي.

سعید د غزل، قصیدې، څلوریزې او قطعې په چوکاټونو کې د ژوندانه بېلا بېل مسایل او موضوعات وړاندې کړي چې اخلاقي، دیني، تربیوي، تصوفي، عرفاني او عشقي برخې په کې تر نورو برخو ډېرې لیدل کېږي.

## مأخذونه


۱ـ حبیب زوی، عبدالرحمن. د گنج بخش د کتابخانې پښتو مخطوطات (تحقیقي او تنقیدي جایزه)، ناچاپ، پېښور اکیډیمي: ۲۰۲۰م کال.

۲ـ خټک، خوشحال خان. د خوشحال خان خټک کلیات، د عبدالقیوم مشواڼي په اوډنه، سمونه او وییپانگه، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۸۷ ل.

۳ـ خلیل، همېش. د پښتو شعري ادب، ډائریکټر پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي: پېښور، ۲۰۰۸م کال.

۴ـ سعید، دیوان سعید، د همېش خلیل په زیار، دارالتصنیف بابا حیدر: پېښور، ۱۹۶۳م کال.

۵- عثمان، عارف. خوشحال خان خټک او د ده ادبي مکتب، د افغانستان د علومو اکاډمي: کابل، ۱۳۶۱ ل.
٦ــ قیومي، عبدالشکور. په کلاسیکه دوره کې د پښتو ادبي مکتبونو د تاریخي پرمختیایي بهیر څېړنه ( ناچاپه علمي ـ څېړنیزه پروژه)، د افغانستان د علومو اکاډمي: کابل، ۱۳۹۷ ل.
۷- هېوادمل، زلمی. د پښتو ادبیاتو تاریخ، دانش خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۹۹۳ ل کال.